Download from:aghalibrary.cm



# د افغانستان د عدالت پروژه
# سرنوشت جوړونکي ناخوالي

### د کال ۱۹۷۸ څخه تر ۲۰۰۱ جنګي او بشري ضد جنايات

**په افغانستان کي د جګړي په دوران کي د ناوړو کړنو اخيستنو تحليل او تجزيه او د نوموړو جناياتو د ډولونو وړاندي کول .**

## د عدالت پروژه

په افغانستان کي د عدالت پروژه د ۲۰۰۱ کال په ورستيو کي جوړه شوه .او د يوه مستقل تحقيقي او حمايت ګر ارګان په ډول يي په کار پيل وکړ او هدف يي د جنګي او بشري ضد جناياتو چه په افغانستان کي دکورنيو جګړو په ترڅ کي تر سره شوي دي د اسنادو او مدارکو راټولول دي (۱۹۷۸ کال څخه تر ۲۰۰۱کال پوري). زمونږ کار د ځينو مهمو واقعاتو چه د محاکمي پرته ډله ايزو وژنو ، دوامداره شکنجه کولو ،ډله ايزو جنسي تيريو او په بي وسلو خلکو باندي بريدونو چه د جګړي په ترڅ کي تر سره شويدي متمرکز شويدي. زمونږ مستنطقينو د د يو ډير شمير وګړو سره مصاحبي کړيدي تر څو چه د لدي د لاري وکولاي شو چه د معتبرو اسنادو په لاس ته راوړلو وکولاي شو د افغانستان دولت او بين المللي مرسته کونکي ټولنه او سياست مداران د فشار لاندي راولي چه د مسوليت احساس وکړي او تير جنګي جنايات د تحقيق او تعقيب لاندي ونيسي .

د عذالت د پروژي کارکونکي اکثرا افغان او باندني وګړي دي چه د حقوقو په برخه کي پوره معلومات لري او زمونږ د پروژي کاري بخش په داوطلبانه ډول سره مخ ته پيول شوي دي . زمونږ ټول کار د افغانستان په دننه کي د دري کلونو په ترڅ کي تر سره شويدي . خو مونږ د ځينو افغانانو سره چه له هيواد څخه پهر اوسيږي هم ځيني مصاحبي کړيدي . زمونږ د پروژي اکثريت کارکونکي د جګړو په وخت کي په افغانستان کي دننه وسيدل .

د عدالت پروژه يو مستقل او غير وابسته ارګان دي چه د افغانستان د دولت او د دولت له کارکونکو او بين المللي سازمانونو سره کوم تړاو نلري . دايوه غير انتفاعي پروژه ده چه د ثبت او اکمال کار يي په بلژيك کي د تر سره کيدو په حال کي دي . زمونږ د پروژي په برخه کي د ډيرو معلومات د لاس ته راوړو په موخه زمونږ بريښنايي پټي ته مراجعه وکړي.www.afghanistanjusticeproject.org

په افغانستان کي د عذالت پروژه ۲۰۰۵ کال

Download from:aghalibrary.cm

د چاپ او نشر حق محفوظ دي

# د مطالبو لنډيز


۱. د اجرااتو او وړانديزنو لنډيز
.......................................................................................... ۴
۱.۱ د گذارش لنډيز
.....................................................................................................۴
۱.۲ وړانديزونه
.......................................................................................................
۶
د انساني حقوقو او بين المللي قوانينو څخه تيري د ۱۹۷۸ _ ۱۹۹۲ کال پوري : سياسي جوړښت
.................................... ۹
۱.۲ د خلق د گوند کودتا او د روسانو اشغال
........................................................................................ ۹
۲.۲ د روسانو په شاتګ او د داکتر نجيب الله حکومت د ۱۹۸۸ کال څخه تر ۱۹۹۲ پوري
........................................................................................ ۱۰

۳. د تره کي او امين په دور کي د نړيوالو او انساني حقوقو څخه تيري د ۱۹۷۸ کال د اپريل د ۲۷ نيتي څخه د ۱۹۷۹ دسمبر تر ۲۷ نيتي پوري
.................................................................................... ۱۱
۱.۳ د لويو او ډله ايزو سر کوپيو دوران........................................... ۱۱
۲.۳ ځغلنده گذارش د ډله ايزو نيونو ، ورکيدونو او ډله ايزو وژنو په باره کي .........۱۲
۳.۳ ورکيدني او نيوني . د مطالعي وړ مطالب د کابل او نورو ولاياتو څخه ............۱۲
۳،۴ په کندهار کي نيوني او ورکيدني .........................................................۱۶
۳.۵ يو ځغلنده گذارش د سرکوبنه عملايتو او جنگي جنايااتو په باره کي .................۱۷
۳.۶ د کرهالي ډله ايزي وژني ...................................................................۱۷
۳.۷ د هرات پاڅون د ۱۹۷۹ کال د مارچ په مياشت کي ....................................۱۹
۳.۸ بمباردمان ، ورکيدني او مقاومت په هزاره جات کي ۱۹۷۹ کال ....................۲۱
۳.۹ په کابل کي پاڅون ..........................................................................۲۳
۳.۱۰ د خلق د حزب تر قوماندي لاندي شکنجي د ۱۹۷۸ کال څخه تر ۱۹۷۹ پوري ....۲۵

۴. د بشري او نړيوالو قوانينو څخه تيري د روسانوز د اشغال او د کارمل او داکتر نجيب الله د حکومتونو په دوران کي د ۱۹۸۰ کال د فبروري څخه تر ۱۹۸۹ کاله پوري
.............................................................۲۶
۴.۱ سياسي پرمختگونه د روسانو د مداخلي وروسته ........................................۲۶
۴.۲ نيوني او شکنجي ...........................................................................۲۹
۴.۳ يو پوره گذارش د کورکورانه بمباردمانونو په باره کي .............................۵۳

Download from:aghalibrary.cm

۴.۴ د لغمان ولايت په کڅ عزيز خان کي عمليات کال ۱۹۸۴ ..............................۳۸

۵. د روسانو په شاتګ او دهغو پايلي ..........................................۴۱
۵.۱ په سياسي جوړښت کي تغيرات د روسانو له شاتګ څخه وروسته ..................۴۱
۵.۲ مليشي او قوانينو نه رعايتول ...................................................۴۱
۵.۳ د افغـــان وســـله وال پـــوځ او مليـــشو لخـــوا تـــاو تريخـــوالي د ۱۹۸۹ تـــر ۱۹۹۲ کـــال پـــوري ..........................................................................۴۶
۵.۴ د مقاومت د ځواکونو له خوا تاوتر يخوالي د ۱۹۸۹ تر ۱۹۹۲ کال پوري ........۴۸
۶. د انساني او نړيوالو قوانينو څخه تيرى د اسلامي حکومت په دوران کي د ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۶ کاله پوري او د متحـــــــدي جبهـــــــي لخـــــــوا د ۱۹۹۶ تـــــــر ۱۹۹۸ کالـــــــه پـــــــوري ..........................................................................۵۲
۶.۱ د کورنيو جګړو تاريخچه ( ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۶)..............................۵۲
۶.۲ په شمال صفحاتو کي جګړي ............................................۵۵
۶.۳ کورکورانه بمباري او په توغنديو ويشتني د کابل په ښار کي او د ډيرو ځواکنو څخه کټه اخيستنه د کابل په جګړو کي د ۱۹۹۲ کال څخه تر ۱۹۹۶ کاله پوري ....۵۵
۶.۴ د افشارو په سيمه کي ډله ايزي وژني او او جنسي تيرى ............................۷۰
۶.۵ د وحدت د ګوند لخوا د خلکو شکنجه کول ، وژني او نور جنايات د کابل او مزار شريف په ښارونو کي د ۱۹۹۲کال څخه تر ۱۹۹۸ کال پوري ..............................۷۶
۶.۶ د ملي جنبش د ځواکونو لخوا ډله ايزي وژني ، جنسي تيرى او شکنجه کول د ۱۹۹۱ _ ۲۰۰۱ کلونو په ترڅ کي ..............................................................۸۷
۶.۷ د کابـل پـــه جګـړو کـــي د نـــورو ډلـــو لخـــوا جنايـــات د ۱۹۹۲ _ ۱۹۹۶ کلونـــو پـــه تـــرڅ کـــي ..........................................................................۹۶
۶.۸ د طالب جنګيالو ډله ايزي وژني په مزار شريف کي ............................۱۰۰

۷.پـــه افغانـــستان کـــى د اســـلامي امـــارت پـــه دوران کـــي د بـــشري او نړيوالـــو قوانينـــو څخـــه تيـــرى ..........................................................................۱۰۳
۷.۱ تاريخچه ..................................................................۱۰۳
۷.۲ په مزار شريف کي ډله ايزي وژني ..........................................۱۰۶
۷.۳ د سر پل په ولايت کي اعدامونه د ۱۹۹۹ – ۲۰۰۰ کال په ترڅ کي ..........۱۰۸
۷.۴ په شمالي کي جګړي او اعدامونه د ۱۹۹۶ – ۲۰۰۱ کلونو په ترڅ کي .......۱۱۱
۷.۵ په رباطك کي ډله ايزي وژني ..............................................۱۱۳
۷.۶ پــه يکاولنـګ کــي اعدامونــه او ډلــه ايــزي وژنـــي د ۲۰۰۱ د جنـوري د ۷ څخــه تــر ۲۲ نيټــي پــوري ..........................................................................۱۱۵
۷.۷ په يکاولنګ کي بي مورده ورانول او مختلف جنايات د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر او فبروري په مياشتو کي ..........................................................................۱۳۰

۸. هغه درسونه چه تر اوسه ندي زده شوي ..............................۱۳۶
۸.۱ تيري اړيکي له نوي افغانستان سره ...........................................۱۳۶
۸.۲ مرګونه د شکنجو او بند په دوران کي ...........................................۱۳۷
۸.۳ بټي نيوني ...................................................................۱۳۹

## ۱. د اجرااتو او وړانديزونو لنډيز

### ۱.۱ د ګذارش لنډيز

د ۱۹۷۸ کـال د اپريل د مياشتي را پديخوا افغانستان پـه جګـړه کـي دي .د جګـړي پـه هـره پړاو کـي د اپريـل د انقلاب په پايله کـي د خلق ګوند واك تـه ورسيد او د بنيـادي اصـلاحاتو او د مخـالفو خيزشـونو د لـه منځـه وړلـو لپاره يي ډير ګامونه پورته کړل چه لـه هغي څخه وروسته د ۱۹۷۹ کـال د دسـامبر پـه مياشـت کـي د شـوروي اتحاد تيري په افغانستان ، د مقاومت د له منځه وړلو لپاره د جګړو په لاره اچول ، وروسته بيـا د شـورويانو پـه

شاتګ او د کورنیو جګړو پیل ، د طالبانو سرکوبګرانه واکداري او په اخر کي د امریکا د متحده ایالاتو مداخله چه د طالبانو د رژیم د سقوط سبب شوه .
پدي لړ کي مختلفي نظامي او سیاسي ډلي چه افغاني او خارجي ډلي پکښي شاملي وي د بشري ضد جنایاتو لامل وګرځیدي . چه په نوموړو جنګي جنایاتو کي ډیري لویي ډله ایزي وژني ، ډله ایزي ورکیدني ، د لس هاو زره افغانانو صحرایي اعدامونه ، بمباري و توغندي ویشتني چه په پایله کي یي په سلهاو زره افغانانو خپل ځانونه له لاسه ورکړل ، جنسي تیري په ډله ایزه توګه او داسي نوریي پیښي شاملي دي .
چه د ۲۷ کاله جګړي په ترڅ کي د هیڅ یوه ملي او یا نړیوالي ټولني له خوا د نوموړو جنایات د پوښتلو او روښانه کولو لپاره کوم ګام پورته شوي ندي .
کله چه ویل کیږي چه په افغانستان کي ټولو پوځي ډلو جنایات تر سره کړي دا پدي مفهوم نده چه چه هر جنګیالي په بشري ضد جنایات تورن دي . هغه څه چه په دغه رپوټ کي د عذالت پروژي مستند کړي دي د هغو پیښو افشا کول دي چه د مختلفو ډلو لوړ پوړو چارواکو خپلو د امر لاندي کسانو او پوځونو ته د نوموړو اعمالو د سر ته رسولو امر ورکړي او یا دا چه د نوموړو جنایاتو د سرته رسولو لارښونه کړي ده او د نوموړو جنایاتو د سرته رسولو په برخه کي یي خپلو پوځیانو ته هیڅ ندي ویلي .
د عدالت د پروژي هدف او مقصد د دغو ترخو او شومو اعمالو د سرته رسولو باندي د اعتراض په ډول ندي بلکه د یوي ناري پورته کول دي د عدالت غوښتني لپاره چه نوموړی اعمال په جنګي جنایاتو کي وشمیرل شي . چه دا موضوع د ډیرو افغانانو لپاره له اهمیت څخه ډکه موضوع شمیرل کیږي .
هغه رپوټ چه د افغانستان د بشر د حقوقو د کمسیون لخوا د روان کال په ترڅ کي خپور شو ( د عدالت لپاره لټون او پوښتني ) دا وښودله چه د ډیرو افغانانو د غوښتنو او حمایت لاندي راغله ولي چه ډیر افغانان غواړي چه تیر شوي اعمال باید یو ځل وڅیړل شي او د هغو د عاملینو څخه پوښتنه وشي . دا چه څرنګه دا کار پر مخ پوتل شي دا د افغانانو خپل تصمیم دي .
کله چه هغوي ته دا فرصت ورکړل شي چه خپله مفکوره تیرو پیښو په برخه کي د بحث لاندي ونیسي لکه چه د بشر د حقوقو د مستقل کمسیون په بررسي کي او د عدالت د پروژي په بررسي کي راغلي دي . پدي ډول هغوي خپل سیاسي ، ایدیالوژیکي او اجتماعي ملاتړ په څو کلیدي پړاونو کي بیان کړیدي چه لاندي ډولونه پکښي شامل دي:

۱ . د سیاسي پوستونو څخه د هغو کسانو لري کول چه د جنګي جرایمو مسولین دي . او د انسانیت پر ضد یي جرمونه تر سره کړي . او د بررسي د پروسه تامینول .
۲ . د حق د پلټني لپاره د داسي یو میکانیزم جوړول چه په محلي او ملي سطح کي د جنایاتواو جنګي جرایمو د اسناد و د لاس ته راوړلو تحقیق وکړي .
۳ . د هغو رنځونو او عذابونو پیژندنه او د هغوي د حق تصدیق چه د خلکو په عزیزانو چه دجګړي په ترڅ کي وژل شوي دي او یا ورك شوي دي .
هغه شمیر افغانانو چه د بشر د حقوقو له موسساتو سره مرکي کړیدي ویلي یي دي چه هغه قوماندانان او مسولین چه د نوموړو پر ضد یي له ناوړو کارونو څخه کار اخیستي دي اوس هم د هیواد په اکثرو سیمو کي د لوي ځواك خاوندان دي او په نوموړو سیمو د خلکو پر حقونو تیري کوي دا په ګوته کوي چه پورته یاد شوي مجرمین اوس هم د ښه امنیت او صلاحیت خاوندان دي خو په مقابل کي عادي خلك د هیڅ قسم امنیت څخه برخمن ندي .

د عدالت پروژي ځیني مهمي او کلیدي واقعات چه د جګړي په بیلابیلو پړاونو کي په افغانستان کي سر ته رسیدلي دي مستندي کړیدي چه د جرم د ښودلو او د هغو مجرمینو په برخه کي چه لاتراوسه پوري په واك کي دي د اهمیت وړ دي .
په دغه رپوټ کي مونږ یو شمیر پیښي شاملي کړیدي او هغه دوسیي چه په دغه رپوټ کي راغلي زمونږ د فعالیتونو یو برخه ده .خو مونږ په دي توانیدلي یو چه د نوموړو پیښو په برخه کي ډیر مفصل معلومات لرو او ډیري پوره دوسیي چه د مختلفو واکدارانو په دورو کي د جنایاتو د سرته رسیدلو شاهدي وایي په لاس کي لرو خو زمونږ په دغه رپوټ کي د هغو ټولو دوسیو څیړول ګران کار بریښي.
په هر قضیه چه مونږ په دغه رپوټ کي شامله کړیده ، د عدالت پروژي زیار ایستلي تر څو چه د عیني شاهد د سترګو لیدلي حال د پیښي په برخه کي سر بیره د نوموړي نظام د جنګیالو د سوق او اداري سیستم هم په ډاګه کړي .
هیڅ داسي یو انفرادي او مجزا رپوټ نشي کولاي چه ټولي هغه پیښي او خطرناکه جرایم چه د ۲۵ کلونو جګړي په دوران کي د مختلفو ډلو له خوا منځ ته راغلي مستند کړي .

خو هغه څه چه مونږ پدي رپوټ کي ځاي کړيدي يوه برخه د هغوجرمونواو جناياتو ده چه په مليونونو افغانان يي له خپل کور او ټاټوبي څخه تيښتي ته اړ ويستلي دي او په ترڅ کي يي ښارونه او د کرني ځايونه وران کړيدي او له يو مليون څخه ډير افغانان يي معيوبه کړي او يا وژلي دي .
په دغه رپوټ کي مو لاندي پيښي ځاي کړيدي :

- د خلق دموکراتيك ګوند دوره د ۱۹۷۸ د اپريل څخه تر دسامبر ۱۹۷۹ پوري .
- دخلکو نيوني ، لاپته کيدل ، صحرايي اعدامونه ، په کرهاله کي ډله ايزي وژني ۱۹۷۹ ، د هرات پاڅون ۱۹۷۹ د مارچ په مياشت کي ، بمباردمانونه ، ورکيدني ، په هزاره جات کي مقاومت په ۱۹۷۹ کال کي ، په کابل کي پاڅون .
- د خلق دموکراتيك ګوند دوره او د روسانو د اشغال دور ۱۹۸۰ څخه تر ۱۹۸۸ کال پوري .
- د خلکو نيوني ، بنديانول او شکنجي ، په خپل سر بمباردمانونه ، او د هيواد په سيو کي د غير پوځي وکړو څخه د انتقام اخيستنه .
- د داکتر نجيب الله د حکومت دوره د روسانو د وتلو څخه وروسته .
- د بمباردمانونو دوام او د دولت د حمايت لاندي مليشو لخوا زور زياتي ، په پاکستان کي په ميشتوا فغانانو بريدونه ، او د مجاهدينو په زندانونو کي شکنجي .
- د کورنۍ جګړي دور ۱۹۹۶-۱۹۹۲ کال پوري او د متحدي جبهي دوره ۱۹۹۶- ۱۹۹۸ کال پوزري .
- د کابل د ښار بمباردمان او توغنيو ويشتل ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۵ کال پوري ، په افشارو کي ډله ايزي وژني په ۱۹۹۳ کال کي ، شکنجه کول ، جنسي تيري ، ډله ايزي وژني د ، نظار شورا ، د وحدت ګوند او اتحاد اسلامي لخوا ، جنسي تيري او ډله ايزي وژني د جنبش ملي د ځواکونو لخوا په کابل او شمال کي ، د طالب اسيرانو ډله ايزي وژني په مزار شريف کي په ۱۹۹۷ کال کي .
- په سرپل کي ډله ايزي وژني ۱۹۹۹ کال کي ، په رباطك کي ډله ايزي وژني ۲۰۰۰ کال ، په يکاولنګ کي ډله ايزي وژني ۲۰۰۱ کال کي .
- په شمالي کي د خلکو کورنو او باغونو ته په قصدي ډول اور اچوني۱۹۹۹ ۲۰۰۰ کال کي او په باميانو او يکاولنګ کي ورته پيښي په ۲۰۰۱ کال کي .

په لومړي سر کي د عدالت پروژي دا دستور وچه جنګي جرايم د ۲۰۰۱ کاله پوري وڅيړي ، خو ځيني هغه پيښي چه په رپوټ کي راغلي دي د ۲۰۰۱ کال څخه ورسته هم تکرار شويدي دي . د نوموړی رپوټ په وروستی برخه کي مونږ دا خبره څيرلي ده چه څرنګه د امريکاد متحده ايالاتو ځواکونو له هغه شمير قوماندنو سره چه بدترين جنګي جنايات يي د کورنۍ جګړي په ترڅ کي سرته رسولي دي لاس يو کړي دي . هغوي دا کار ددي لپاره کړيدي چه يقيني و چه نوموړي قوماندنان به له هغوي سره مرسته وکړي او القاعده او طالبانو ته به ماتي ورکړي . د څلورو وروستيو کلونو په ترڅ کي نوموړي قومانداناني د تنظيم شويو جرمونو او د مخدره توکو د تجارت له امله ډيره شتمني لاس ته راوړي ده . د امريکا متحده ايلاتو او د ملل متحد ځينو غړو او ځينو دولتونو د نوموړو قوماندانانو څخه د وسلو اخيستنه په سيمه کي د حالاتو د خرابي لامل بللي او ويلي يي دي چه دا کار به په سيمه کي ثبات له خطر سره مخامخ کړي . د متحده ايلاتو ځواکونو د خپلو شريکان په څير اسيرانو ته په ورته ډول شکنجي ورکړي او په پټو بنديخانو کي يي وګړي ساتلي دي او د خپلو ملګرو د تجربو او دودونو تکرار يي کړيدي او پدي ډول يي د پلټون او پښتني لپاره چه د بازپرسي د اداراتو لخوا يي کار پر مخ بيول کيږي ستونزي پيدا کړي دي چه د قانون سره موافقي ندي .

د جنګي جرايمو اسناد په بيلابيلو دورو کي د جګړو په وختونو کي را منځ ته شوي دي او ځينو دورو کي يي د ډيرو مشکلاتو درلودل ښودلي دي . د مثال په ډول د روسان د اشغال پر وخت يو لږ شمير خلك او شواهد موجود دي چه په مشخصه توګه ووايي چه د بمباريو پر وخت پر دي پوه شي چه د نوموړو جناياتو مسولين د روسان پرته نور څوك دي . دا چه د روسانو له وتلو څخه تر اوسه پوري ډيره وخت تير شوي دي نو دا به ډيره مشکله وي چه د نوموړی وخت د جناياتو په هکله کليدي شاهدان پيدا کړو . او هغه تاريخي رپوټونه چه د نوموړی زماني څخه په لاس لرو ډير يي په سياسي پر مختګونو باندي تمرکز لري او د ساحوي عملياتو يوه عامه هينداره بيانوي .
د ژينو د مذاکراتو او د روسانو د وتلو په برخه کي هيڅ داسي اسناد نشته چه د مسوليت په برخه کي پري خبري شوي وي .
د روسانو آخري عسکر د افغانستان څخه ۱۹۸۹ کال د فبروري په مياشت کي ووت او د شوري اتحاد عالي محکمي د ۱۹۸۹ کال د نوامبر په ۲۸ نيټه دا اعلان وکړچه هغه شوروي پوځيان او کارپوهان چه په افغانستان کي يي عواماو ملکي خلکو په عمدي قتلونو او جناياتو لاس پوري کړي و د عفو وړ وګرځول .

د شوروي اتحاد په جګړي پوري اړوند اسناد په مشخص توګه پاتي کيږي او د نوموړو اسنادو راټولونه او د هغو دسته بندي او د واقعاتو د دقيق ثبت او افشا کول د افغانانو لپاره يو لوي ګام بلل کيږي او دا د افغانانولـه خوا د اسندو او مدارکو د راټولو لپاره يوځغلنده ګام شميرل کيږي .

له بلي خوا ډير لږ تاريخي ګذارشات د کابل د جګړو په وخت کي (۱۹۹۶-۱۹۹۲) د هيواد د نورو سيمو په هکله په لاس راغلي . له همدي امله د عدالت پروژي زيار ويستلي دي چه د تيرو نظامونو ماهيت د جګړو پر مهال ، سوق او اداره په مختلفو سيمو کي او ناوړه ګټه اخيستني چه په هغه زمانه کي منځ ته راغلي په ډاګه کړي .
له دي سره سره چه د طالبانو رژيم د نړيوالي ټولني لخوا د انتقاد لاندي راغلي ده خو بيا هم د طالبانو د رژيم په هکله د جناياتو مستند اسناد ندي برابر شوي هغه اسناد چه په ډاګه کوي چه طالبان د جنګي جناياتو لامل ګرځيدلي دي .
د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ څخه وروسته د نړيوالي ويري اچوني واقعاتو د طالبانو د جنګي جناياتو د لټون جريان کي کمي راوستي دي .

۱.۲ وړانديزونه
د ۲۰۰۵ کال د سپتمبر په مياشت کي په افغانستان کي پارلماني انتخابات تر سره کيږي . د هغو کانديدانو په منځ داسي کسان هم شته چه د هغو په برخه کي ډير معتبر اسناد چه دهغوي ښکيل والي په جنګي جرمونو کي ثابتوي وجود لري . د ځينو دغو کسانو نومونه په ريوټ کي راغلي خو داسي يو ميکانيزم د فعلا لپاره نشته چه نوموړي کسان د يوي چوکي د نيولو څخه په پارلمان کي محروم کړي . په افغانستان کي د عدالت پروژه هوډ لري چه دا رنګه کسانو سجل او سوانح چه ځانونه ييد پارلمان څوکي ته کانديد کړي دي د عامه خلکو په واك کي کښيږدي .
دغه ريوټ ديواځي د مجاهدينو پر ضد د تاو تريخوالي په برخه ندي ( زمونږپه ريوټ کي د ټولو دورو د جناياتو جاج شته) ، او زمونږ ريوټ هيڅکله سياسي ثبات په خطر کي نه اچوي . که د افغانستان سياست د دولت داري په ښواو شفافو وصولو سره پر مخ ولاړ شي نو د حقايقو د ښخولو لپاره هيڅ ضرورت نه ليدل کيږي .

زمونږ په لومړني ريوټ کي چه په ۲۰۰۴ کال کي نشر شو ، د عدالت پروژي او د افغانستان جمهور ريس او دولتي کارکونکو ټينګار کړي و چه په بشري ضد جناياتو باندي تورن کسان بايد په عامه دفترونو کي جذب نشي . او پر دي خبره تاکيد شوي و چه د هر يوه کس چه دولتي څوکيو ته نومول کيږي سوابق يي بايد د خلکو مخ ته کينودل شي چه د دغسو مقرريو مناسب ميکانيزم د جوړولو په حال کي دي .پداسي حال کي چه د بي وسلو کولو او د وسلوالو ټولول په يوه منظمه اردو کي جريان لري د افغان او نړيوالو سياسي ځيرونکو دنده ده چه د هغوقوماندانانو چه د هغوي په برخه کي د بشري ضد جناياتو د کړنو په باره کي معتبر اسناد موجود دي د مقرريدو مخنيوي وکړي .

په افغانستان کي د عدالت د پروژي لويه موخه داده چه د جګړي په وخت د ښکيلو خواوو د جناياتو تسجيل او تسنيد وکړي . دا څرنګه د نوموړو پيښو له مرتکبينو څخه بوښتنه وشي يوه داسي مسله ده چه د يوه سياسي جوړښت په چوکاټ کي بايد تصميم پري ونيول شي .
د عدالت پروژه په افغانستان کي د جنګي جرمونو د مرتکبينو د محاکمي امکانات په دي لنډ وخت کي نه ګوري خو بيا هم د يوي ستراتيژي جوړونه چه د افغانستان د انتقالي عدالت په چوکات کي د خلکو په غوښتنه د امنيت د راوستو لپاره د پوښتني لاندي راشي غنيمت شميري او د مجرمينو د قضايي محکمي په پروسه کي په راتلونکي کي مرسته کوي .

د هغو خلکو نظريات چه د عدالت پروژي راټول کړي دي د خلقيانو د حکومت څخه نيولي بيا د طالبانو تر مظالمو پوري يي ليدلي دي او يا دا چه هغو خلکو چه له نوموړو دورو څخه په سلامت پاتي دي د عدالت غوښتنه کوي . چه په عين حال کي ټول پوهيږي چه د نوموړو جنايات په برخه کي مناسب ځواب د وخت او شرايطو په بدلون سره فرق مومي .
د انتقالي عدالت ستراتيزي بايد ملي او نړيوال مسوليتونه د معافيت په برخه کي په نظر کي ونيسي يو جامع دستور العمل بايد لاندي ټکي ولري :
* د ډيروجنګي جرمونو اسنادو لاس راوړل د محاکمو د تحقيقاتو په شمول .

په افغانستان کې ډيري هديري شته چه په هغو کې د ډله ايزو وژنو قربانيان ښخ دي لکه د پلچرخي د زندان په ساحه کې چه د زرهاو زندانيان چه د خلق دموکراتيك گوند په دوران کې وژل شوي و پټښي ښخ دي .

- د هغو کسانو چه دولتي څوکيو ته کانديديږي د اسنادو مکمله بررسي .
- د واقعتونو د پيدا کولو لپاره د يوه اساسي ميکانيزم جوړول . د بشريت پر ضد د ډيرو سختو جناياتود مرتکيبينو عدلي تعقيب ضروري دي . خو د هيواد د مات قضايي سيستم او امنيتي شرايطو له سببه دا مکنه نده . د افغانستان دولت او نړيوال مرسته کونکي دي د قضاي پروسي د تقويه کولو لپاره چه وکولاي شي جنگي جرايم او د بشري حقونو څخه تيروتني په خپل وخت سره وڅيړي د اصلاحاتو په منظور پوره گامونه واخلي . د هغو افغانانو چه په پهر کې ژوند کوي ، او په جنگي او بشري ضد جناياتو تورن دي عدلي تعقيب دي حمايت شي .
- پالاخره د انتقالي عدالت د سرته رسولو لپاره هر ابتکار چه د قربانيان د غرامت برابرول او د مالونو جريمه چه د قومندانانو لخوا اخيستل شوي دي د جنگي جرايمو په کتار کې وشميرل شي .

د هغو اسنادو او مدارکو له مخي چه د عدالت پروژي را ټول کړيدي دغه لاندي توصيي او لارښوني د انتقالي عدالت د تامنولو په مورد وړاندي کوي :

## د استناد لپاره مبارزه

د تيرو جرمونو د مستند ولو لپاره په افغانستان کې ډيري ستونزي موجودي دي . چه د هغو ستونزو له ډله څخه يو هم د مدارکو کموالي دي ، د کليدي عيني شاهدانو موندل پداسي حال که چه هغوي د جنگي جرايمو د مجرمينو څخه هراس لري ولي چه هغوي اوس هم سياسي او دولتي واك لري ، د هغو ادارو د فشار لاندي واقع کيدل چه کولاي يي شول د حقيقت په ويلو او موندولو کې يي مرسته کړي واي .

نړيواله مرسته کونکي ټولنه بايد خپل تلاش ددي لپاره په کار واچوي چه د نوموړوپيښو د تسنيد او تحقيق لپاره زمينه برابره کړي . او د تحقيقاتو د پروسي د لوړ والي ملاتړ وکړي.

## د اوسنيو تيريو درول

ځيني باندينان او افغانان چه په افغانستان کې کار گوي د يوه جدي خطر سره مخ دي ولي چه د تجاوزات لاندي راتلاي شي ځکه چه وضعيت داسي اغفال کونکي دي چه دا ليدل کيږي چه هغه شمير قومندانان چه د مليشو کنترول په لاس که لري اوي هم تلاش کوي چه د افغانستان په سياسي راتلونکي کې ځانته ځاي ونيسي چه دا مطلب به يوه خطرناکه قوه منځ ته راولي چه د دغي ډلي ځيني غړي د زنجيره يي مجرمينو سره تړاو لري او د مخدره توکو د کر او قاچاق په کار کې د هيواد دننه لاس لري . نو پدي لحاظ هغه بانيان او افغانان چه د تحقيقاتو په پروسه کې کار کوي د هغوي ژوند له ډيرو ستونزو سره د نوموړو قومندانانو لخوا مخ کيدلي شي .

نو لدي امله د انتقالي عدالت لپاره کوششونه او هڅي د يوي جامع ستراتيژي درلودنکي بايد وي چه د تجاوزاتو او تيرو د پرمختګ لپاره يو خنډ واقع شي .دجګړو د جناياتو د مستندولو په جريان کې مونږ ډير رپوټونه چه په هغه کې د شکنجي ، قصدي توقيفونه ، ډله ايز اعدامونه ، چورتالان ،او د خلکو د ملکيتونو نيول شامل دي لاس ته راوړي دي چه د ۲۰۰۱ کال څخه وروسته تر سره شويدي . په بعضي مواردو کې شاهدانو داسي پيښي ښودلي دي چه لس کاله مخ ته تر سره شوي دي چه هماغه قومندانان اوس هم ورته جنايات تر سره کوي . د نوي دولت په لومړنيو دندو کې د جمهور ريس د ټاکني څخه وروسته بايد د وګړو د حفاظت لپاره يو معتبر سند ورکړي چه د پورته ذکر شويو جناياتو د تکرار مخنيوي وکړي شي . دا به داسي يوه کاري پروسه وي چه وکولاي شي د تيرو جناياتو له عاملينو څخه پوښتنه وکړي تر څو چه په آينده کې بيا تکرار نشي او دا به داسي يو عمل وي چه د دولت په قانوني کيدولو کې لويه مرسته کوي . د افغانستان نړيوال مرسته کونکي بايد د نوموړو تحقيقاتو او د هغو د ظرفيتونو د لوړيدو لپاره پوره مرسته او ملاتړ وکړي . خو د امريکا د متحده ايالاتو مسولين غواړي چه ددغه راز تحقيقاتو په تر سره کولو کې خنډ وګرځي .

## د څوکيو په ورکړه کې پوښتني او ګرويزني ( مقامونه)

په افغانستان کې د يوه قانوني دولت د جوړيدني لپاره اساسي شرط دادي چه جنگي مجرمين د دولتي حساسو څوکيو څخه ليري کړاي شي ولي دا چه اوس د يوه ناسم سيستم لاندي د جمهور ريس د خبرتيا پرته د افغانستان په ټولو سيمو کې داسي خلك په دولتي څوکيو کې مقرريږي چه د دموکراسي د اصولو څخه ډير ليري دي . جمهور ريس بايد خلکو ته دا تعهد ورکړي چه په دولتي ادارو کې جنگي مجرمين پرنږدي او په واضح ډول

باید د هغو کسانو د استخدام څخه ډډه وکړي چه په جنګي جنایاتو تورن دي .ددي لپاره نړیوالو مرستندویه ارګانونو ته لازمه ده چه دیوه شفاف او عادلانه سیستم په جوړښت کي لازمي مرستي وکړي .

د ټول ټاکنو څخه دمخه مهم معلومات

د افغانستان د موجوده قوانینو او د یوه معتبر قضایي سیستم د ندرلودلو له امله هیڅ داسي ځیز نشته چه د پارلماني کاندیدانو ، ولایتي او ولسوالیو ته د کاندیدانو په مورد که تحقیقات وکړي چه آیا هغوي په جنګي جرایمو تورن دي او که نه . خو نړیوالو د مدني تولني او مرستندویه ټولني ته لازمه ده چه دا تضمین وکړي چه د هغو کاندیدانو چه په بشري ضد اعمالو تورن دي د هغوي خاص معلومات له دوي سره شته او په راتلونکي کي د حقاق او تصفیي وخت راتلونکي دي . د افغانستان حکومت او چارواکي باید په پوره مسولیت د هغه خلکو حمایت وکړي چه پدي پروسه کي یي زیار ویستلي دي .

جنګي جنایتکاران د امریکایانو په بند کي

داسي اټکل کیږي چه امریکایانو په افغانستان کي یو ډیر شمیر کسان په خپل بند کي ساتلي دي خو دا چه د نوموړو بندیانو د شناخت لپاره لازمي هڅي ندي شوي داسي واقع شوي چه د طالبانو ډیر شمیر قوماندانانو چه په جنګي جنایاتو باندي تورن دي ، امریکایانو له بند څخه خوشي کړي دي .
خو د عدالت پروژه ددي توان لري چه د پخوانیو او اوسنیو مجرمینو پر ضد داسي اسناد او مدارك برابر کړي چه پکښي د نوموړو جنایاتکارانو د اعمالو ښودنه شوي ده د مثال په ډول د طالبانود یوه پخواني قوماندان (ملاشهزاده) په برخه کي چه د امریکایانو له بند څخه پداسي حال کي پریښودل شو چه په ډیرو ډله ایزو وژنو کي یي لاس درلود . وروسته له خوشي کیدو نوموړوي دوه ځلي له طالبانو سره یو ځاي شو او په یوه مخامخه جګړه کي د امریکایانو لخوا ووژل شو .
امریکایانو وروسته داسي وویل چه نوموړوي قوماندان یي د بند په دوره کي ندي پیژندلي چه دا د امریکایانو د استخباراتو ناکامي او یا بي پروایي په ډاګه کوي . چه د تروریستانو د عملکرد نو په برخه کي ناکام دي .
د طالبانو نور مهم قوماندانان هم د متحده ایلاتو په بند کي دي چه د هغوي له ډلي څخه د ملا فاضل نوم اخیستي شو چه نوموړي په ډیرو ډله ایزو وژنو تورن دي او د نوړي د ډله ایزو وژنو اسناد مونږ سره مستند دي . چه نوموړي باید د هغو جنایات د سرته رسولو په تور تورن شي . د تحقیق او استنطاق ناکامي د نیولو شو کسانو په مقابل کي چه هغوي په بشري ضد جنایاتو کي لاس درلود ، فقط د مجازاتو پرته عفو تقویت کوي او بس .

جنګي جنایتکاران په نورو هیوادونو کي

یو شمیر هغه افغانانان چه له هیواد څخه پهر اوسیږي او په بشري ضد اعمالو تورن دي د هالند او انګلستان په هیوادونو کي د تحقیق او استنطاق لپاره تر بند لاندي دي . دعدالت پروژه ددغو هڅوملاتړ کوي او د نړي نور هیوادونه هم دغو هڅو ته رابولي . دغه شان اتهام نامي او پوښتني جنایتکارانو ته دا په ډاګه کوي چه هغوي د نړي په هیڅ ګوټ کي په امان کي ندي .

په دغه ریپوت کي مونږ د هغه شمیر جنګي جنایتکارانو څخه نوم اخیستي چه او د پاکستان په هیواد کي هستوګن دي . او یا دا چه په دوامداره توګه پاکستان ته سفر کوي . د هغو په ډله کي د طالبانو ځیني مهم قوماندانان شامل دي لکه ملا داد الله چه په افغانستان کي د یو ډیر شمیر ډله ایزو وژنو مسولیت په غاړه لري . او نوریي داسي کسان چه پخواني جهادي قوماندانان و او په سیاسي قتلونو او ډله ایزو وژنو کي یي لاس درلود چه د هغوي په برخه کي هم ډیر شواهد او مدارك موجوددي .

## ۲. د نړیوالو بشري او انساني قوانینو څخه تیري د ۱۹۷۸ څخه تر ۱۹۹۲ کاله پوري

### ۲.۱ د خلق دموکراتیك ګوند کودتا او د شوروي اتحاد تجاوز

هغي جګړي چه په افغانستان کي د یوه قرن ځلورمه برخه کي جریان درلود د ۱۹۷۸ کال د اپریل له ۲۷ نیټي څخه پیل شو . دا پیښه هغه وخت منځ ته راغله چه د خلق دموکراتیك ګوند (PDPA ) غړو چه په مارکسیستي – لینینستي مفکوري سمبال وه یوه کودتا پع لاره واچوله او د محمد داود حکومت یي رنګ کړ او خپله محمد داود او د هغه د کورني ډیر غړي یي ووژل . له هغي وروسته د خلق دموکراتیك ګوندیوه نابرابره

مبارزه د افغانستان د سوسیالیستي کولو لپاره پیل کړه . چه دهغي په لړ کي د خلق دموکراتیك ګوند ځواکونو د اطلاعاتي سازمان (خاد) د پولیسو او اردو سر بیره د ډیرو جنایاتو لامل وګرځیدل . د خلق د دموکذاتیك ګوند هغه سرکوبګرانه اقدامات چه غوښتل یي د هیواد ټول خلك خپلو نظراتو ته راواړوي د مقاومت ډلګي یي د هیواد په لري پرتو سیمو کي را وپارولي . د خلق ګوند ځواکونو ډیر پاڅونونه وځپل خو دا چه دوي د خلکو په منځ کي ځاي ندرلود نو په ډیرو مشکلاتو اخته شول . چه وروسته له یوه کاله نوموړی رژیم د اردو په داخل کي د ډیرو شورشونو سره مخ شو .

د خلق ګوند داخلي فرقو په ویني تویدنو او وژنو کي لاس درلود . حزب په دوه ډلو خلق او پرچو وویشل شو چه د کودتا څخه وروسته د حزب رهبر چه د خلق د جناح څخه و د پرچم د جناح ټول حریفان وځپل چه پي لړ کي یي په سلهاو تنه ووژل او ډیر نور یي بندیان کړ او شمیر نور یي د هیواد څخه پهر سفارتونو ته ولیږل .

د خلق ګوند رهبرانو د اصلاحاتو لپاره یو لیست جوړ کړ چه په هغه کي د ټولو مخالیفینو لیري کول او د افغان ټولني د ټولنیز بدلون هڅي په نظر کي وي . چه د کودتا څخه وروسته سمدلاسه ډله ایزي نیوني او وژني پیل شوي او دولتي مامورین ، مذهبي رهبران ، قومي مشران ، معلمین او روشنفکران د مائویستانو سره ، اسلام غوښتونکي ، یي د هدف وړ وګرځیدل او په ښارونو کي نیوني پیل شوي . چه د ډیرو خلکو سرنوشت د پلچرخي په زندان کي مرګ و او یا دا چه په نورو سیمو کي د نیول کیدو وروسته وژل کیدل .
تر ۲۰۰۵ کال د هغو ډله ایزو قبرونو په برخه کي چه د خلق د ګوند د حاکمیت په دوران کي وژل شوي او د پلچرخي زندان ته نږدي په ډله ایزو قبرونو کي ښخ دي چا نه و کړي .

حفیظ الله امین د خلق ګوند د صدراعظم مرستیال په هغه وخت کي د یوي محرکي قوي په توګه د مخالفینو د ځپلو لپاره ګڼل کیده . له دي سره سره چه ۱۹۷۹-۱۹۷۸ کلونو په ترڅ کي ډیر وحشیانه اعمال د خلکو پر ضد اجرا شویدي خو ډیر لږ اسناد او مدارك د هغو جنایات په برخه کي په لاس راغلي دي .
د عدالت پروژي د نوموړی دوري د شنکنجو ، نیونو او وژنو په برخه کي مستقل تحقیقات کړیدي او همداراز د ځینو بي درکه شویو کسانو، سړي تښتوني او پټي نیوني چه د شکنجو او وژنو سره تړاو لري په برخه کي هم مونږ تحقیقات کړیدي . چه د نوموړي دوري دا کړني د انسانیت په خلاف جرم او جنایت بلل کیږي . د هغو ورك شویو کسانو چه د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتي څخه تر دسمبر د ۱۹۷۹ کال پوري نیول شوي و دقیقه شمیره یي نده معلومه خو داسي اټکل کیږي چه په لس هاو زره کسان پدغو پیښنو کي له منځه تللي دي . زمونږ په رپوت کي د نوموړي دوري ځیني د شکنجه کولو ، ورکیدنو او وژنو پیښي راغلي چه یوه کوچني نمونه د نوموړي دوري د جنایاتو په ډاګه کوي .

دغو سرکوب کولو ځانته بل شکل ونیو او د خلق ګوند لخوا د مخالفینو او د خلکو د هستوګني سیمي بمباري کیدلي چه په پیله کي ډیر غیر پو ځي وګړي وژل کیدل . د عدالت پروژي د خاق د ګوند د مبارزي کولو د مخالفینو پر ضد د لوګر ، ننګرهار او بامیانو په ولایتونو کي تر تحقیق لاندي نیولي دي . چه په ډیرو مواردو کي د جګړو پر مهال مخالفین د خلکو د هستوګني په ځایونو کي بمباردمان شوي دي . هغه شاهدان چه د عدالت پروژي له هغوي سره مرکي کړیدي د هغو عملیاتو چه د تلاشي او لټون په منظور په لاره اچول شوي دي چه پایله کي یي ډیر شمیر نارینه وګړي نیول شوي دي او وروسته د هغوي هیڅ درك ندي معلوم شوي .
نوموړو ظلمونو د افغانستان د اردو په داخل کي ځیني شورشونه راوپارول چه د رژیم لپاره د ثبات لپاره لوي خطر ګڼل کیده . زمونږ رپوټ کي د نوموړي دوري د ځینو پاڅونونو لکه د کنړ ، هرات ، کابل ، هزاره جات په سیمو کي او د نوموړو پاڅونونو د ځپلو په برخه کي پوره معلومات ورکړ شویدي . د د هرات پاڅون چه د ۱۹۷۹ کال د مارچ په میاشت کي تر سره شو ممکن دا زمینه برابره کړي وي چه شورویانو د ۱۹۷۹ کال د دسامبر په میاشت کي په افغانستان برید وکړ . خو د خلق دموکراتیك ګوند ځوابي کارروایانو ددغو پاڅونونو په مقابل کي په هغه وخت ډیر لوي بشري ضد جنایات پر ځاي پریښودل .

د شوروي برید د جګړي په تاکتیك کي یو بدلون راوړ او شورویانو امین وواژه او پر ځاي د رقیبي ډلي یعني پرچم څخه ببرك کارمل واك ته ورساوه . شورویانو د روشنفکرانو نیوني او عام قتلونه د خلق ګوند په حمایت بند کړل او د سیستماتیکو جاسوسي لارو یي خلك تر فشار لاندي راوستل . او پټ پولیس یا خاد یي د شوروي د KGB د سیاست سره سم سمبال کړل . چه له هغي وروسته خاد په ډله ایزو بي له محکمي څخه وژنو او عامو نیونو او د مجاهدینو د پلویانو د تعقیب کار کي زیاتي راوست . د ښارونو په شاوخوا کي هوایي بمباردمان یو معمولي کار ګرځیدلي و او ډیر غیر پو ځي وګړي د نوموړي عمل په پایله کي ووژل شول . د ۱۹۸۰ کال په

لومړيو كي هغه شمير مهاجرين چه پاكستان ته راغلي و ټولو يي د هوايي بمپاردمانونو څخه شكايت درلود چه دا نا مشخص بمباردمانونه د نړيوالو حقونو په ګورستان بدل شول .
د عدالت پروژي يو شمير نوموړې پيښې پخ خپل ريپوټ كي راوستي دي خو دغه لړ مثالونه چه مونږ په رپوټ كي ځاي كړيدي بايد د هغه وخت د ډيرو جناياتو د كولو په حيث ومنل شي چه په ډيرو سيمو كـي د ورانيـو او د لس هاوزرو خلكو د وژنواو د پنځه مليونه خلكو د بي كوره كيدلو سبب ګرځيدلي دي .

## ۲.۲ د شورويانو په شاتګ او د داكتر نجيب الله حكومت د ۱۹۸۸ ۱۹۹۲- كلونو په ترڅ كي

د شورويانو د شاتګ په ۱۹۸۹-۱۹۸۸ كال كي او د نجيب الله د حكومت په دوران كي تر ۱۹۹۲ دټولو ښكيلو اړخونو د جنايات په نوعيت تغيرات را منح ته شول . د نجيب دولت بعضـي اصلاحات پـه خپلو قوانينو كـي ومنل تر څو وكولاي شي په سيمه باندي خپل مطلق واك ټينګ كړي . پداسي حال كي چه نوموړې اصلاحات ډير په زړه پوري و چه په لږ كي يي نيوني لږ شوي خو له منځه نه ولاړي ، د مخالفينو د سيمو بمباردمان لږ نشو او دوام يي پيدا كړ او په پايله كي يي ډيرشمير غير پوځي خلك ووژل شول .

پدي وخت كي د مخالفينو (مجاهدينو) فرقـي دير ځـواكمني شـوي ولـي چـه هغـوي د كابل د حكومت ړنګيدل پيشبيني كړي و . په نوموزړي دور كي قومي مليشو د ډيرو صلاحيتونو واك درلود او ظاهرا يي د رژيم څخه دفاع كوله خو په اصل كي يي پيسو د ټولو لپاره زيار ويسته او پـه نتيجـه كـي يي په غير پوځي وګړو ډير ظلمونه وكړل او د هغوي مال او حال چور تالان كړل .

## ۳. د بشري او انساني حقونو څخه تيروتني د تره كي او امين په دور كـي د ۱۹۷۸ كـال د اپريـل د ۲۷ څخه د ۱۹۷۹ كال د دسامبرتر ۲۷ نيټي پوري

### ۳.۱ د لويو ځپلو دور

نوموړي شل كلنه دوره چه د ثور انقلاب څخه پـه ۲۷ د اپريل د ۱۹۷۸ كـال پيل شوه د ډيرو نـاوړه جنايـاتو شـاهده وه . نورمحمد تره كـي د ۱۹۷۹ كـال د سپتامبر تـر مياشـتي ريـس جمهـور و چـه د حفيظ الله امـين لخـوا ووژل شو چه امين هم د خلق د جناح څخه و . چه وروسته امين ريس جمهور شو . د نومـوړي دوري پـه ټولـو پړاونو كي امين د اصلاحاتو تر شا ولاړ و خو د هغهاصلاحات د زور زياتي سره يو ځاي پر خلكو تحميليدل .
چه په ډيره لنډه موده كي د يو سلسله پاڅونونو لامل وګرځيدل . همداراز د خلقد ګونـد مشرانو دا ثابتـه كـړه چـه هغوي جكړه او ظلم ته متمايله خلك دي چه په پايله كي يي ډير كسان ونيول اووي وژل او ځانته يـي پـه هيـواد كي ډير دوښمنان جوړ كړل . د كودتا څخه وروسته لويي نيوني او د مخالفانو وژني پيل شوي او هغه كسان چه د خلقي حكومت لخوا په دولتي څوكيو كي مقرر شوي و هر يوه يي د روشنفكرانو ، پخواني دولتـي كـاركونكو ، مذهبي مشرانو ، قومي مشرانو ، معلمينو پر ضد فعاليت پيل كړ او همداراز د اطراف كـي هم د دغو وګـړو نيوني رواني وي .
د ډيرو جناياتو په كيدلوسره سره بيا هم د نوموړو جناياتو د تر سره كيدلو دير اسناد او مدارك نشته ولـي چـه پـه هغه دور كي افغانستان له نړي سره په جلا واټن كي پروت وه او باندني او كورني خبرنګارانوتـه دا اجـازه نـه وركول كيده چه د پيښو له ځايونو څخه ليدنه وكړي . او هغه خبرونه چه د پيښو په اړه د كابل شار څخه دباندي پيښدل ډير جعلي و او ډير معلومات له هغو مهاجرينو څخه لاس ته راتلل چه له هيواد څخه يي تيښته كوله . چه د هغو له ډلي څخه هغه چا چه توان درلود اروبا او امريكا ته وتښتيدل او نـورو چـه وس نـدرلود پـه پاكستان او ايران كي ميشت شول .
د انقلاب څخه وروسته تره كي هم ريس جمهور او هم د انقلابي شورا ريس شو او هم صدراعظم شو . دوه تنـه پخواني منشيان يي هر يو ببرك كارمل او حفيظ الله امين خپل مرستيالان وټاكل . ترهكـي پـه هغـه وخـت ډګـر جنـرال عببـدالقادر د دفـاع د وزيـر پـه توګـه او نوراحمـد نـور يـي د كورنيـو چـارو د وزيـر پـه توګـه وټاكـل . د ۱۹۷۸ كال د جولاي په مياشت كي په ګوند داخلي جكړي پيل شوي او په پايله كي يي پرچميان د ګونـد لـه ليكـو څخه وشړل شول ډير پرچميان د خلقيانو لخوا ووژل شول پداسي حال كي چه د هغوي مشران باندني هيوادونـو ته د استازو په توګه وليږل شول .
د كودتا څخه وروسته يو استخباراتي سازمان سمدلاسه جوړ شو چه AGSA نوميده او د اسدالله سرورسـي لـه خوا د تره كي د مستقيمي لارښوني لاندي يي كار كاوه . د تره كي له وژلو وروسته امين د نوموړي سازمان نو په KAM بدل كړ او په پيل كي يي عزيزاحمد اكبري او وروسته يي اسدالله امين د نوموړي اداري د ريس پـه

توګه وټاکل چه امین په نوموړي سازمان کي خپل نږدي خپلوان مقرر کړ او د شرقي المان او شوروي لـه خـوا يي حمايت کيده .
جنرال نبي عظيمي يو پخواني پرچمي چه د دفاع وزارت مرستيال هم و د داکتر نجيب الله په دور کي په خپل کتاب کي ليکي چه د امين رژيم يو ډير شمير وګړي چه روشنفکران پکښي شامل و ونيول او وروسته يي بيا د پلچرخي په زندان کي د محکمي پرته په تورو شپو کي تر خاورو لاندي کړل . همدارازنوموړي په خپل کتاب کي ليکي چه AGSAځانته مخصوص تشکيلات درلودل او د پخواني سيستم په ا ساس جوړ شوي و . چه اسدالله سروري لومړني د KAM ريس و او فقير محمد فقير د کورنيو چاور وزير شو البته د امين د قدرت په دور کي او د پلچرخي د زندان قوماندان سيد عبدالله نوميده .

په ۲۰۰۵ کال کي اسدالله سروري دNDS په انګړ کي چه صدرارت سره خوا کي دي او د دا د صدارت يوه بندي خانه ده د نړيوالو قوانينو سره سم ساتل کيږي . چه د نجيب د حکومت د سقوط څخه وروسته اسدالله سروري د پنجشير په دره کي په يوه زندان کي ساتل کيده .

## ۳.۲ يو ځغلنده رپوټ د نيونو ، وركيدنو او بي محاكمي وژنو په برخه كي

غير مسولانه نيونو د هيواد په ټولو برخو کي دوام درلود . په ډيرو مواردو کي د ا AGSA KAMجاسوسانو نيوني کولي چه ذا د لومړنيو سرکوبيو نښي نښاني وي . د زرهاو زندانيان په منځ کي داسي کسان او کورني شاملي وي چه د رزژيم لپاره بالقوه دښمنان شمير کيدل او د سياسي او مشرانو ډلي ، مسلکي کسان د هر يوه بخش څخه او همداراز د زدکړي له بخش څخه کسان . پدي همدي ډول ډير مذهبي مشران ، اسلام غوښتونکي ، مائويستان ، په لوديځ کي روزژل شوي استادان د نوموړي رژيم د کړنو متضررين شول .

کله چه د خلق ګوند خپل اصلاحي پروګرامونه پيل کړل په اطراف کي د خلکو د کلك غبرګون سره مخ شول . چه رژيم د نوموړي غبرګون د له منځ وړلو لپاره پداسي اقداماتو لاس پوري کړ چه د ډيرو مذهبي مشرانو او با نفوذه خلکو د نيولو کيدو سره تمامه شوه او د هغو خلکو د مړيني باعث ګرځيده چه د نوموړو په سيمه کي بيا هم کوم مقاومت پيدا کيده پدي لړ کي ډير شمير د ځمکو مالکان ، د ښونځيو معلمان چه د اصلاحاتو مخالفت يي کاوه .
د نوموړو خلکو چه په هغه دور کي ورك شوي او يا په زندان کي اچول شوي او وروسته بيا په زندانونو کي وژل شوي دي لس هاو زرو ته رسيږي ( البته په شل مياشتني دوره کي ) .

اګر چه داسي رپوټونه چه نوموړې پيشي مستندي کړي ډير لږ لاس ته راغلي . چه د نوموړو رپوټونو يوه برخه د بشر د حقوقو د کمسيون په رپوټ کي راغلي دي . د نړيوالي عفو سازمان ويلي دي چه په نوموړي دوره کي د پوهنتونونو ډير محصلين په کابل کي نيول شوي او همداراز په دغه دوره کي په سلهاو پرچميان هم د رژيم له خپل نيول شويدي .
د عدالت د پروژي په تحقيقاتو کي چه پدي هکله تر سره شويدي اکثريت شاهدانو د رژيم لخوا د هغوي د کورنيو د غړيو د نيولو علت ندي روښانه کړي او همداراز د هغوي د نيولو شويو عزيزانو په مورد کي يي کوم معلومات ندي ورکړي . په ډيرو پيښو کي هغه کسان چه د رژيم لخوا نيول شوي د کوم ځنډ پرته وژل شويدي . په ځينو پيښو کي د نيول شويو کسانو کورني پدي بريالي شويدي چه خپلو عزيزانو سره ملاقات وکړي دا هم ددي لپاره چه نورو ته ووايي چه هلته نور زندانيان نشته .

له ټولو څخه لوي او مهم زندان د پلچرخي زندان و ، نوموړي ځاي يوه څرخ ته شباهت لري چه تر ۱۹۷۸ کال پوري لا سم نه و جوړ شوي دا چه د نوموړي زندان د ساختمان کار لانه و بشپړ شوي او د زندان دننه د زندانيان لپاره د اوبو نلونه او تشنابونه موجود نه و نو يوه ډيره وحشتناکه فضا يي منځ ته راړي وه . نوموړې زندان د ۵۰۰۰ زندانيانو د ساتلو لپاره جوړ شوي و خو د کودتا څخه وروسته هلته له ۱۲۰۰۰ څخه ډير کسان ساتل کيدل . چه دا ښيي چه په نوموړي زندان کي يو ډير شمير زندانيان چه شميره زرهاو تنو ته رسيږي وژل شويدي او ډير يي هم د ناروغيو له امله مړه شويدي . له دي بغير د هيواد په نورو سيمو کي هم زندانيان ساتل کيدل چه په هغو ځايونو کي شرايط يو څه ښه و نسبت د پلچرخي په زندان کي .

## ۳.۳ نيوني او وركيدني : د كابل او ولاياتو څخه د مطالعي وړ پيښي

د عدالت پروژي له يو شمير هغو کورنيو سره مرکي کړيدي چه په نوموړې وخت کي يي د کورني يو او يا څوتنه په غير مسولانه توګه نيول شويدي او وروسته له نيولو څخه ورك شوي دي . دا ډيري يو بل ته ورته قصي دي چه د افغانانو په ذريعه په داخل او خارج کي نقل شويدي .

احمد شاه احمدزي چه د مجددي او رباني په دولتونو کي وزير پاتي شوي دي (۱۹۹۶-۱۹۹۲) او په ۲۰۰۴ کال کي د جمهوري رياست څوکي ته کانديد و . د خپلي کورني د ۱۶ تنو غړو د نيول کيدو او ورکيدو شاهدي ورکړيده چه د ثور کودتا څخه وروسته واقع شويدي . نوموړي وايي چه په کال ۱۹۷۸ کي د رژيم استخباراتو د نوموړی ورور اکبر خان ، زوم آدم خان ، او تره زوي خان آقا چه ټول يي د خاك جبار د ولسوالي د ملنګ د کلي اوسيدونکي و ونيول او په لومړي سر کي د هغوي ساتنه د بيرك شينواري چه د ځوانانو د سازمان مشر و په غاړه وه او وروسته له څو ورځو هغوي دري کسان ورك شول . چه زمونږ کورني د هغوي په پيدا کولو او لټون کي پاتي راغله ، او دي پايلي ته ورسيدل چه نوموړي دري تنه پلچرخي ته بيول شوي او هلته وژل شويدي .

په همدي دور کي د رژيم استخباراتو د احمد شاه احمدزي ۱۳ تنه نور ملګري د خاك جبار له سيمه څخه ونيول چه وروسته يي درك ورك شو چه نومونه يي دادي :

- حاجي شادولا خان – حاجي خيالي خان – حاجي محمد صديق ( د ملنګ دکلي يو سپينږيري) – حبيب الله د محمد صديق زوي – جلندر د محمد صديق زوي – ملك عبدالخالق- مير آقا – شهزادمير – محمد صديق – تورن محمد عمر د جمعه ګل زوي – معلم جليل د ضياالدين زوي – داوود د نادر زوي – محمد رحيم د ظريف ګل زوي

د عدالت پروژي دشاهي دوري د پخواني قاضي والقضات له زوي ن سره مرکه کړيده چه داسي يي ويلي دي :

له هغي وروسته چه تره کي واك ته ورسيد د نوموړي پلار د دولت د جاسوسانو چه په راس کي يي سروري و ونيول شو او د پلچرخي زندان ته پوتل شو . ن له هغي وروسته چه د هغه پلار د رژيم جاسوسانو ورڅخه پوته نور معلومات نلري چه پلار يي څه شو خو دومره وايي چه پلار يي د پلچرخي په زندان کي د رژيم د چاروکو لخوا وژل شويدي .

محمد ګز يوه پيښه بيان کړيده چه د نوموړي د کورني غړي د مجاهدينو څخه د پلوي په تور نيول شويدي دا پيښه د تره کي د واك په وخت کي پيښه شويده له هغي وروسته د استخباراتو کارکونکو يو پوځي افسر چه داود خان نورستاني نوميده د اسلامي ګوند سره د اړيکو پدرلود په تور ونيوه او له هغه سره نور صاحبمنصبان او د مشهور سړي وکيل نورستاني ټوله کورني بنديان کړل شول . د هغو څخه پاتي شوي خپلوان وايي چه هغوي د هغو کسانو لخوا چه پخوا نيول شويد و ممکن په ګوتو ورکول شوي وي . کله چه امين واك تر لاسه کړ له هغي وروسته محمد ګ يوه شو چه د هغه ټول کسان چه نيول شوي و د رژيم لخوا وژل شويدي .

يوه ښځه د ن په نامه چه د کابل په تهيه مسکن کي اوسيږي وايي چه د نوموړی خاوند د شپي له خوا نيول کيږي خو نوموړي دقيقه نيټه ونشواي ښودلاي او ويل چه د امين د واکداري دور و . کله چه هغي غوښتل د خپل خاوند په مورد کي معلمات لاس ته راوړي نو د دولت کسانو هغي ته هيڅ کوم ځواب ورنکړ . خو هغي د غير رسمي طريق دا معلومه کړه چه خاوند د حکومت د استخباراتو له خوا نيول شويدي . هغه بيا هيڅکله پدي ونتوانيدله چه خپل خاوند ويني او يا يوه شي چه د هغي خاوند څه وخت او چيرته وژل شوي دي .

ش چه د کابل اوسيدونکي ده ( يوه ښځه) او پخوا په غزني ولايت کي اوسيده د عدالت پروژي ته داسي ويلي دي : د نوموړي دوه ورونه د حيات الله او عبدالحميد په نومونو د رژيم لخوا ونيول شو او د پلچرخي زندان ته پوتلل شول خو وروسته د هغوي هيڅ درك معلوم نشو او نوموړي ښځه وايي چه هغه باور لري چه هغوي د پلچرخي په زندان کي وژل شويدي او په هماغه ځاي ښخ دي . اګر چه ش د پيښي دقيق تاريخ ونشواي ويلاي خو ويل چه د تره کي د واکداري په دور کي نوموړی پيښه منځ ته راغلي وه . حيات الله د اردو يو تورن و چه په ۱۴ فرقه کي يي کار کاوه او عبدالحميد د غزني ښار په يوه مدرسه کي سبق لوسته . ش وايي چه هغوي ددي لپاره بنديان شول چه د پخواني جمهور ريس محمد داود پلويان و .

ي . د کابل ښار د باراني دسيمي اوسيدونکي د عدالت پروژي ته ويلي دي چه د نوموړي د تره زوي چه سيد بشير نوميده د رژيم د استخباراتو لخوا چه اسدالله سروري رهبري کول ونيول شو اوبيا ورك شو نوموړی ويلي دي چه :

سيد بشير چه پلار په پخوا وخت کي مالي مدير ز د حقوزقو د پوهنځي څخه فارغ شوي و او کومه رسمي دنده يي ندرلوده او د وخت د ظالم حکومت پر ضد يي سياسي مبارزه کوله . په لومړي ځل نوموړی د ظاهرشاه په وخت کي ۱۳ کاله په بند کي و او د دهمزنګ په زندان کي ساتل کيده چه بيا خوشي شو . وروسته بيا چه کله تره کي واك ته ورسيد او اسدالله سروري د استخباراتو مسول و نوموړی د يوه ميتنګ څخه ونيول شو . په

لومړي سر کي معلومه نه وه چه هغه [یرته بندي دي خو وروسته مونږ ته معلومه شوه چه د پلچرخي په زندان کي دي او داچه نوموړي يو سياسي زنداني و نو هغه سره د ملاقت اجازه هم نـه ورکول کيده . د نوموړي چه په انقلابي محکمه کي يي کار کاوه ويويل چه کله هغه د سيد بشير دوسيه وموندله وي ليدل چه هيڅ کوم سند چه دهغه جرم ثابت کړي په دوسيه کي موجود نه وه او دا پدي معني چه له هغه څخه هيڅ تحقيق هم نه وه شوي او کله چه د نوموړي په برخه کي کوم جرمي سند پيدا شوي نه و نو هغوي سيد بشير اعدام کړي و . د نوموړي د اعدامولو دستور د تلويزيون له لاري خپور شو او د نوموړئ خپلوانو د هغه جنازه ونليدلـه. پـه هغـه ميتنګ کـي چه سيد بشير ونيول شو نورو ۸ تنو ګدون درلود چه هغوي هم په هماغه ورځ نيول شوي و او د يو څو ورځو په ترڅ کي اعدام شوي و .

آ . يوه ښځه نوميږي او د خپلي کورني د بندي کيدلو په برخه کي يي د ۱۹۷۹ کي داسي ويلي دي :
نوموړو د کابل ښار د قلعه شاده د مسجد سفيد تر څنګ ژوند کاوه . آ چه په هغه وخت کي لس کلنه وه د کورني په پنځو ماشومانو کي مشره وه . پلار يي په هغه نانوايي کي چه د نوموړي د تره د زوي وه او په کوته سنګي کي يي موقهيت درلود کار کاوه . هغوي دواړو يوځاي کار کاوه .
وضعيت پـه هغـه وخت ډير خراب و او حکومتي مسولينو خلکو تـه مختلفي پهاني جوړولي او هغوي بـه يـي زورول . د مثال په ډول هغوي به ځيني کسانو ته ويل چه ته ملا او يا جاسوس يي او لـه هغي وروسـته بـه يـي زنداني کول . او خلکو نشواي کولاي د خپلو دوشتانو پوښتنه وکړي .
د حکومت استخباراتو زما پلار او زمونږ اته تنه دوستان ونيول او بنديان يي کړل او زما د پلار د تره زوي چه يوسف نوميده او د پلار نوم يي نيك قدم او په سيلو کي يي کار کاوه هم ونيو او بندي يي کړ . هغوي د مونږ يو بل تن خپلوان چه حبيب نوميده اودوکاندار و ونيو او لـه ځانـه سره يـي پوتـه . هغوي يو بـل سړي چـه حـاجي عوض نوميده او د دولت کارکونکي و او زمونږ د خپلوانو له ډلي څخه و ونيو ستخباراتو نوموړي کسان زمـا د پلار له نيولو څخه مخکي نيولي و . هغوي دوتنه ورونه چه زمونږ خپلوان و او د قلعه شاده په سر کاريز سيمه کي يي دوکان درلود ونيول چه د يوه نوم يي سهراب او د بل نوم يي محراب و . د نوموړو دوه تنـو ښـځي اوس هم کونډي او بي سرپرسته دي . يو سړي د حاجي صفر زمـا د پـلار او دهغـه د تـره د زوي سره يـو ځـاي پـه هماغه شپه ونيول شول . زما پلار او د هغه د تره زوي د کار څخه وروسته کور خواته روان و چه يو پـوځي جيپ د هغوي مخته دريږي او هغوي دي ته اړ باسي چه په نوموړي مؤتر کي سپاره شي . زمونږ يـوه خپلـوان چه په هماغه سيمه کي يي يو رستوران درلود ليدلي دي چه هغوي په زوره نوموړي موټر تـه پورتـه شـوي دي . زما پلار او د هغه د تره زوي له نوموړو کسانو څخه دوامداره دا سوال کاوه چه د هغوي ګناه څه ده خو هغو وسلوالو هغوي ووهل او هغوي ته يي ته يي د خبرو کولواجازه ورنکړه .

- له هغه وختـه بيا زما پلار او د هغه د تره زوي کور تـه رانغلل . موږ پـه لومړي سر کـي د خپل پـلار پلټنـه ونکړه ولي چه مونږ دا فکر کاوه چه هغه د خپل د تره زوي کور ته تللي دي . خو کلـه چـه مونږ لټون پلـي کړ ځينو خلکو بـه مونږ تـه ويل چه هغوي د صدرات په زندان کي بنديان دي او ځينو بـه ويل چه د پلچرخي په زندان کي دي . مونږ څو ځايونو ته عريضي ورکړي خو هغوي بـه مونم ته ربښتيا نـه ويل او ويل بـه يـي چه ستاسي دوستان دلته ندي راوړل شوي . له هغي وروسته بيرك کارمل واك تر لاسه کړ زومنږ دوستانو بـه ويل چـه حکومت بدلون وموند او ستاسي پلار او دوستان بـه لـه بند څخـه آزاد شـي خـو هغـه تـر اوسـه هـم لادرکه دي . له هغي وروسته زما مور کونډه شوه او ډيري ستونزي زمونږ په لويولو کي وليدي .
- يوه بله ښځه داسـي شـاهدي ورکـوي زمـا نـوم ز دي او د بـادغيس د قلعـه نـو څخـه يـم . نوموړي د عدالت پـروژي تـه داسـي وويـل چـه پـلار يـي پـه ۱۹۷۹ کـال کـي پـه يـوه ښـونځي کـي ښـوونکي و او د رژيـم د استخباراتو مسولينو نوموړئ له مکتب څخه ونيو او له ځانه سره يي پوته . ز دنوموړئ پيښي په وخت کـي ماشومه وه او دا قصه يي د خپلي مور څخه اوريدلي ده . په ۱۵ لومړيو ورځو کـي چـه هغـه بنـدي و مـونږ هغه ته د ډوډي وړلو اجازه ندرلوده خو بيا وروسته مونږ پدي وتوانيدلو چه هغه وګورو . وروسـته بيـا چـه کلـه د پـلار ملاقـات تـه ولاړل مسولينو ورتـه وويـل چـه هغـه يـي د فرامـرز خـان بـاغ تـه وړي دي کلـه چـه هغوي هلته ولاړل نو هيڅ کوم اثر د خپل پلار هلته پيدا نکړو او وروسـته هغـوي پـوه شـول چـه د نومـوړئ پلار سره د ۷ تنو نورو معلمانو وزل شوي و .
- س . د خپلي کورني د غړيو د ورکيدني قصه چه په ۱۹۷۸ – ۱۹۷۹ کلونو کي پيښه شـوي وه داسـي بيـان وي :

زمونږ د کورنی دوه تنه غړي د حکومت د استخباراتو لخوا په ۱۹۷۸ کي ونيول شـول چـه يـوه زمـا د اکـا زوي نورمحمد د درويش زوي او بـل زمـا کاکـا محمـد اصـغر د رحمـدل زوي چـه دواړه د پنجشير اوسيدونکي و . نورمحمد د درويش زوي د پنجشير د دوهمي برخـي اوسيدونکي او يـو سـاتونکي و . او محمـد اصـغر د رحمـدل زوي د پنجشير د الا قادري د کلي چه د پنجشير په دوهمي برخي پوري اړه لري اوسيدونکي و او دريـوري يـي کوله چه د استخباراتو لخوا په ۱۹۷۸ کي د پنجشير له دري څخه ونيول شول .

د پنجشیر د دوهمي برخي ولسوال او په کابل کي د استخباراتو مرستیال د عبد الخلیل په نام په هغه وخت کي په سیمه کي نیوني کولي . چه د نوموړو استخباراتي کسانو د پنجشیر په دوهمه برخه کي څو کسان ووژل . د پنجشیر څخه تر چاریکاره پوري خلکو هغوي پیژاندل او وروسته هغوي کابل ته د پلچرخي زندان ته پوتلل شول چه هلته یي بیا پته معلومه نشوه . د هغه سیاسي کړکیچونه په پایله کي چه په پنجشیر کي موجود و هغوي ونیول شول او د هغوي په شان دوه تنه نور هم ونیول شول چه یو یي د وکیل قوچقار په نامه او بل یي د فخرالدین خان په نامه یاد یدل .

محمد د لوګر ولایت د محمد آغي د ولسوالي یو تن اوسیدونکي دي او د عدالت پروژي سره یي په مرکه کي داسي ویلي دي :
نوموړي وایي چه د هغه د کورني پنځه تنه په ۱۹۷۹ کال د رژیم د استخباراتو لخوا ونیول چه مړي او ژوندي یي ورك شول او نومونه یي دادي :

- محمد فاروق د محمد ابراهیم زوي (زده کونکي) د نوموړي ورور.
- مولوي عبدالغني د جان محمد زوي . د محمد د ماما زوي .
- دګرمن عبدالمنان د جان محمد زوي. د محمد د ماما زوي .
- دوهم بریدمن محمد عالم د فرامرز زوي . د محمد د تره زوي .
- محمد اسماعیل د فرامرز زوي ( زده کونکي ) .د محمد د تره زوي .

پورتني کسان ټول د استخباراتو لخوا ونیول شول او بیا د ۱۵ – ۲۰ ورځي په زندان کي وساتل شول چه له هغي وروسته له زندان څخه ویستل شول او ووژل شول . محمد همداراز څلور تنه نور کسان هم پیژني چه د پورتنیو کسان په شان نیول شوي بیا وژل شویدي چه نومونه یي دادي :

- ډګرمن بازمحمد د لوګر ولایت اوسیدونکی.
- محمد برات په جلالآباد کي د طب محصل .
- ډګروال محمد عظیم د لوګر د ولایت اوسیدونکی.
- مامور عبدالسلام د لوګر د ولایت اوسیدونکي .

محمد پدي خبره باوري دي چه د نوموړي خپلوان د استخباراتو لخوا ونیول شول او بیا ووژل شول .ځکه چه نوموړي کسان مسلمانان و او په سیمه کي یي ډیر نفوذ درلود . د ۱۹۷۹ کال د اپریل په میاشت کي د لوګر ولایت کي یو د دولت د اصلاحاتو پر ضد پاڅون وشو( په لاندي کي یي لوستي شي ) چه چه په پایله کي یي دولت په سلهاو تنه ونیول او وي وژل .

و . د لوګر د زرغون شهر د سیمي اوسیدونکي عدالت پروژي ته داسي وویل :
د هغه دولتي ضد پاڅون څخه وروسته چه د ۱۳۵۸ کال د ثور په میاشت کي (۱۹۷۹ مارچ- اپریل) په لوګر کي تر سره شو .وروسته د دولت عسکر راغلل او د مونږ له سیمي یي ۴۵ کسان ونیول چه په هغو کي زما خاوند حاجي صفي الله هم شامل و په هغي شپي کي یي زما خاوند د کور څخه پهر ونیو او له نورو سره یي یو ځاي د محمد آغي ولسوالي ته پوته. ژما خاوند په سیمه کي یو سر شناس سړي و . په هغي شپه د دولتي ځواکونو سره د محمد آغي د ولسوالي ولسوال هم راغلي و او ما نور نه پیژاندل . نوموړي کسان هغوي یوه اوني په ولسوالي کي بندیان کړ چه وروسته یي د هغوي له ډلي څخه شپږ کسان خوشي کړل او نور یي کابل ته واستول . چه له هغي نیټي څخه وروسته هغوي هیڅکله کورته رانه غلل .

د بشر د حقوقو سازمان او ځینو خبرنګارانو هم د ځینو پیښو رپوټ ورکړي دي
اګر چه د نیول شویو کسان دقیقه شمیره نده معلومه ، ځکه چه د بشر د حقوقو سازمان په ټولف هیواد کي امکانات ندرلودل خو بیا هم د عفو نړیوال سازمان د ځینو مهمو خلکو نومونه نشر کړیدي چه په هغه وخت کي د دولت لخوا نیول شویدي . په هغه یوه رپوټ کي چه په ۱۹۷۹ کال کي نشر شو د ډګرجنرال شاپور احمدزي او د نوموړی د کورني د یو نامشخص تعداد کسانو د نیوني ، داکتر میر علي اکبر د جمهوریت د روغتون ریس په کابل کي چه د ۱۹۷۹ کال د اګست په ۱۷ نیټه نیول شوي و راغلي دي . نوموړی دواړه کسان د دولت پر ضد د توطیي کولو په تور نیول شوي و . د ثور د کودتا څخه وروسته په لنډ وخت کي انجنیر عبدالتواب آصفي د کانو او صنایعو وزیر له کوره څخه ونیول شو او پلچرخي ته واستول شو او همداراز انجنیر کریم عطایي د مخابراتو وزیر او د رادیو افغانستان پخواني ریس ، د کندهار ولایت پخواني والي ایوب عزیز د کودتا څخه وروسته سمدلاسه ونیول شو خو دا معلومه نشوه چه هغوي چیرته بندیان شول .

ملل متحد د پشر د حقوقو په ارتباط یو ځانګړي کمسیون په افغانستان کي د بشري حقوقو څخه د تیروتنو د څیړلو لپاره تر ۱۹۸۴ پوري ټاکلي و. چه وروسته له هغه یو اتریشي پرفیسر د فیلیکس ارماکورا په نامه په

دي دندي وګمارل شو او په يوه رپوټ کي چه په ۱۹۸۶ کال کي خپور شو نوموړي د تيرو شپږ کلونو پيښي څيرلي وي .

يوه مخصوص کمسيون د خلکو د ورکيدني په ارتباط داسي اطلاعات تر لاسه کړي و چه ګواکي د ۱۹۷۸ کال د دسامبر د ۲۷ نيټي څخه دمخه ۹۰۰۰ تنه وژل شوي دي . اګر چه د عفو نړيوال سازمان يو ۴۸۴۵ تنيزد وژل شويو کسانو ليست خپور کړي و. لکه څرنګه چه عمومي مجموعي ته په يوه رپوټ کي راغلي و(A/40/843:para.50 ) هغه شميره چه د ورکو شويو کسانو په برخه کي تر ۱۹۸۰ کال پوري خبره شوي ده په حقيقت کي له هغه څخه ډير دي چه پخوا خپاره شوي و . په آخرر کي نوموړي کمسيون د پلان وزارت د پخواني کارکونکي اظهارات لاس ته راوړل چه نوموړي په هغه وخت کي دنده درلوده چه د ورکو شويو خلکو يو مکمل لست د هغوي د دوستانو څخه د معلوماتو د اخيستلو له مخي ترتيب کړي چه د دري اونيو په ترڅ کي نوموړي د ۲۵۰۰۰ تنو لست برابر کړي و چه عمرونه يي د ۱۸ او ۶۰ کلونو تر منځ و چه د نوموړو ورك شويو کسانو په منځ کي ډير تحصيلکرده خلك د داکترانو ، دولتي مامورينو ، افسرانو ، مذهبي مشرانو په ګډون و . د شاهدانو په وينا چه د نوموړي دوري په جريان کي ممکن تر ۲۷۰۰۰ ورك شويو او وژل شويو خلکو لست برابر شوي وي . که چيري د ثبت او راجستر پروسه درول شوي نه واي نو دا به په ډاګه شوي واي چه د نوموړی شميري څخه ډير کسان په نوموړی دوره کي وژل شوي دي .

### ۳.۴ نيوني او ورکيدني په کندهار ولايت کي

د عدالت پروژي د کندهار په ولايت د نيونو او وژنو يوه پيښه د تحقيق او بررسي لاندي نيولي ده چه ممکنه ده د تره کي – امين د حکومت په وخت او يا د روسانو د راتلو سره د کندهار ولايت د ډنډ په ولسوالي کي تر سره شويده .

د سيمي د اوسيدونکو په وينا چه دولتي چاراواکو د سيمي خلك په يوه ښونځي کي را ټول کړ او وروسته يي له هغوي څخه وغوښتل چه هغه کسان په ګوته کړي چه د دولت د ارضي سياست په خلاف دي . او نوموړو خلکو ته وويل شول چه ځمکو مالکان ورپه ګوته کړي . او هغه کسان چه هلته په ګوته شول ټول ووژل شول هغو خلکو چه له نوموړي پيښي ژوندي پاتي شوي و دا مشخصه کړيده چه په نوموړی پيښه کي انجنير محمد ظريف چه وروسته بيا د کندهار والي شو ، محمد ويس د ډنډ ولسوالي ولسوال ، او د خلق دموکراتيك ګوند يو لوړ پوړي چاراوکي د آقا محمد په نامه ګډون درلود .

حاجي م. چه په هغه وخت کي د محلي کوپراتيف ريس و په هغي ورځ د کرز په کلي که و او خپل د سترګو ليدلي حال داسي بيانوي :

زه سيند سره نږدي وم چه د ډنډ ولسوال راغي او ماته يي وويل چه د کلي مشران خبر کړم چه په ښونځي کي د ميټنګ لپاره راټول شي . کله چه زه ښونځي ته ولاړم مي ليدل چه د کلي ټول خلك هلته راټول شوي و چه د لنډي مودي وروسته ښونځي د ټانکونو او عسکرو لخوا محاصره شو . دري تنه چه والي ، ولسوال او آغمحمد د خلق ګوند لوړ پوړي چاراوکي ستيژ ته وختل . او له ناستو خلکو يي وغوښتل چه هغه کسان چه د ځمکي د توزع مخالف دي بايد په ګوته شي . ډيرو خلکو ځيني کسان پدي تور متهم کړل او هغوي يي ويستل . بيا هغوي سوال وکړ چه کومو کسانو ويلي دي چه ښځي بايد پوړني پر سر کړي چه بيا هم ځيني کسان په دي تور ورپه ګوته شول او هغوي يي له نورو خلکو جلا کړل . او وروسته يي نوموړی متهمين په دري لاري موترو کي سپاره کړل او د والي دفتر ته يي بوتلل . ۲۹ تنه د هغوي له ډلي په هماغه شپه ووژل شول ، ځيني يي خوشي شول او نور پاتي کسان هلته پاتي شول چه د څو ورځو په موده مونږ کولاي شول چه هغوي ته خواړه وروړو . خو کله چه امين واك ته ورسيد نوموړی کسان له هغه ځايه څخه ويستل شول او مونږ بيا هيڅکله بريالي نشو چه هغوي ووينو .

آ.ځ. يوه تن د ډنډ ولسوالي د کرز د سيمي اوسيدونکي عدالت پروژي ته د نوخموړی پيښي په اړه داسي وويل : ددولت کسانو اعلان وکړ چه د سيمي وګړي دي ټول په ښونځي کي را ټول شي . او وروسته هغوي د خلکو له ډلي څخه ۳۵ تنه ونيول . چه په نوموړی پيښه کي زما دوه ترونه د محمد حسن او محمد هاشم په نومونو ورك شول . هغوي يو څه وخت په کندهار کي بنديان و خو وروسته زه پوه شوم چه هغوي وژل شويدي . چه جنازي يي هم مونږ ته رانکړل شوي . او د نيوني وروسته ما هغوي بيا ونيدل . زما ترونو ډيري ځمکي درلودي .

ن.م . د هغو کسانو له ډلي څخه و چه په نوموړی ورځ کي په هغي ښونځي کي د نورو خلکو سره يوځاي و او له هغه ځايه نيول کيږي او په يوه لاري کي د ولايت انګړ ته چه هلته يو زندان و يوړل شول . نوموړی وايي : آقا محمد د دروازي په خوله کي ولاړ و او نمونه يي لوستل . او ځيني کسان يي د لين څخه ويستل يوه سړي چه خداي داود نوميده د نوموړی له زوي سره له لين څخه ويستل شول او مونږ وروسته له هغي نيټي هغوي ونليدل هغوي د مخالفينو سره داړيکو درلودلو په تورنيول شوي و . هغه خلك چه له مونږ څخه جلا کيدل د يوه ديوال شاته بيول کيدل او فقط مونږ د هغوي غږ اوريده چه وهل ټکول کيدل . هغوي مونږ هم ډير ووهلو او زه يي ډير ووهلم چه ځيني عضلات مي له هماغه وخته په زندان کي عيبي شوي دي . د وهلو ټکولو په وخت کي هغوي زما څخه د نورو په اړه معلومات اخيستل او ويل چه زه بايد خپلي لورګاني ښونځي ته وليږم . زمونږ له ډلي څخه ۳۵-۳۰ تنه ووژل شول . په هغه وخت دولت فيصله کړي و چه د لويو زميندارانو ځمکي نورو ته توزيع کړي چا به چه نوموړي فرمان نه منلو نو نيول کيده او بيا به ووژل کيده . زما زوم هم ماسره يوځاي نيول شوي و چه ما د زندان په يوه کوټه کي د نوموړي دستمال او بوټونه وموندل خو پخپله د هغه درك معلوم نشو او هغو ظالمانو هغه وژلي و .

سيد . د ډند د ولسوالي يو بزګر د عدالت پروژي ته ويلي دي چه نوموړی خپل يو وروړچه فدا محمد نوميده په نوموړی قضيه کي له لاسه ورکړيدي . هغوي فدامحمد د ښونځي څخه ونيول او کندهار کي يي بندي کړ خو وروسته زه پوه شوم چه هغوي فدامحمد وژلي . ما فدامحمد بيا هيڅ ونليد او د هغه جنازه هم مونږ ته چا رانکړه . نوموړي د نورسپينږيرو سره د کرز ښونځي ته تللي و چه هلته والي .او د ډنډ ولسوال ويس هم موجود و او زما وروريي د هماغه ځايه ونيو . زما ورور يو بزګر و .
محمد ۀ. د کرز اوسيدونکي وايي چه په نوموړو پيښنو کي هغه خپل دوه ورونه چه يويي حسن او بل يي امير محمد نوميده له لاسه ورکړي دي .

غ. چه د کرز وسيدونکي دي وايي چه په نوموړی پيښه کي يي خپل دري تنه عزيزان له لاسه ورکړي دي چه په هغو کي پلار يي غلام سرور دوه ترونه يي غلام فاروق او غلام صديق چه هغوي ټول زمينداره و هغوي هم د کرز له ښونځي څخه ونيول شول او غ وايي چه بيا هيڅکله ده هغوي ونليدل .

ا.ك. چه د ډند د ولسوالي اوسيدونکي دي وايي چه نور کسان د کورونو څخه ونيول شول چه پدي لړ کي يي خپل پلار امان الله او ورور عبدالرزاق له لاسه ورکړي دي . وروسته د هغي چه په نوموړی پيښه کي ونيول شول .نوموړي وايي چه د ولايت څخه يوه پوځي قوه زمونږ کلي ته راغله او زما پلار او ورور چه مزدوکاران و د ښونځي له نږدي سيمه څخه ونيول شول له هغي وروسته مونږ هغوي هيڅکله هم ونليدل او جنازي يي هم مونږ ته رانکړي شوي او زه داسي معلومات هم نلرم چه په هغوي څه راغلل .
ي. د کرز د سيمي يو دوکاندار وايي چه د نوموړی پلار او د هغه تره چه د ځمکي خاوندان و په نوموړی پيښه کي ونيول شول او هغوي هيڅکله بيا ونليدل .

د هغو اظهاراتو چه د شاهدانو څخه د عدالت پروژي را ټول کړيدي دا معلومه شويدي چه يو پوځي ځواك سيمه ته راغلي و او د پوځي عملياتو په ترڅ کي يي نوموړی خلك نيولي دي هغه پوځي مسولينو چه په نوموړو عملياتو کي اشتراك درلود د شاهدانو په وينا دادي :
د فرقي قوماندان نورمحمد سرروضه وال، د محلي پوليسو مشر قوماندان حيدر .

## ۳.۵ يو ځغلنده رپوټ د شورش ضد عملياتو په وخت کي د بشري ضد جناياتو په اړه

د تره کي او امين د حکومتونو په دور کي د مقاومت د ځپلو په مقصد له ټولو تاکتيکونو څخه ګټه اخيستل کيده . په هغه رپوټ کي چه ۱۹۸۵ کال کي خپور شو په هغه رپوټ کي فيلکس ارماکورا ويلي دي چه پوځي عمليات په هغو سيمو کي پر مخ بيول کيدل چه هلته د خلکو مخالفت د دولت د اصلاحاتو پر ضد پيل شوي و چه په خاصه توګه د کنړ ، نورستان ، پکتيا ، پروان او اورزګان ولاياتو کي په نوموړو عملياتو کي يو ډير شمير غير پوځي وګړي پهډله ايزه توګه نيول شوي ، په ډله ايزه توګه وژل شوي او په خاصه توګه په هغه وخت کي د هوايي نامشخصو بمباريو له امله يو ډير شمير غير پوځي وګړي وژل شويدي . چه د نوموړو پيښو ځيني رپوټونه د هغو ژورناليستانو او د بشر د حقوقو د فعالينو لخوا په پاکستان کي د نوموړو خلکو سره د مرکو په ترڅ کي اخيستل شويدي چه نوموړی پيښي پکښي تشريح شويدي .

## ۳.۶ په کرهاله کي ډله ايزي وژني

د ۱۹۷۹ کال پـه لومړیو کـي د خلق دموکراتیك گوند مخـالفینو د کنړ ولایت کـي ډیره سیمه تر خپل کنترول لاندي راوستي وه . د نوموړي کال د مارچ په میاشت مخـالفین چـه د مجاهدینو پـه نامـه یادیدل پـه دي وتوانیدل چه د کنړ د ولایت د ولسوالیو مراکز ونیسي او فقط د ولایت مرکز تـه د اسعد آباد ښـار د حکومـت پـه واك کـي پـاتي و . ډګـروال شـهنواز شـیواني چـه د پکتیـا اوسیدونکي و پـه هغـه وخـت کـي د کنـړ والـي و . د مجاهـدینو ځواکونو د کنړ په مرکز اسعد اباد باندي خپل درانده برید پیل کړل . هغه شمیر حکومتي کسان چه په سیمه کـي کلابند شوي و د مخابري په ذریعه یي د کابل څخه د نوي پوځ غوښتنه وکړه . هغه پوځونـه چـه د مجاهـدینو د مقابلي لپاره له کابل څخه کنړ ته راواستول شول دادي : د کوماندو ۴۴۴ لوا چه قوماندانـي د صـدیق عالمیـار پـه لاس و ه او د ننګرهار د ۱۱ فرقي ځیني ځواکونه .

د شاهدانو د وینا سره سم چه د عدالت پروژي پدي اړوند ورسره مرکـي کړیدي د ۱۳۵۷ کـال د کـب د میاشـتي په ۱۵ شپه ( ۶ مارچ ۱۹۷۹ ) د مجاهدینو هغه لوي ځواك چه د پیچ د دري لخوا راغلي و په اسعدآباد باندي یي برید وکړ نوموړي ځواکونـه د اسعد آبـآد پـه ختیځ کـي د کرهالي د کلـي لـه استقامت څخـه ښـار تـه را ننوتل . همداراز مجاهدین د ښار څخه باندي پـه دولتـي پوستو بریدونـه وکـړل پداسـي حـال کـي چـه مجاهدین پـر دولتـي پوستو د برید په لړ کي بریـالي نـشول او د سـهار خواتـه لـه سیمي څخـه پـه شـا ولاړل . پـدي حـال کـي حکومتي ځواکونو غوښتل چه د مجاهدینو ځواکونه د محاصري په حاقه کي راولـي او غوښـتل یـي چـه هغـوي د کرهـالي په کلي کي کلابند کـړي چـه پـدي لـړ کـي صـدیق عالمیـار او د هغـه نـورو انـډیوالانو د غـچ اخیستلو یـو کړنـدي عملیات په نوموړی سیمه کي پیل کړل .

رپوټونـه مختلف دي چه څه وخت دغه بریدونه تر سره شول خو له هغو کسانو سره چه د عدالت پروژي مرکـي کړیدي او له نومـوړو پیښو ژونـدي پـاتي دي هغـوي دا خبـره تایـدوي چـه عملیات سمدلاسـه د مجاهدینو د برید څخه وروسته پیل شول . هغه رپوټونه چه یو کال وروسته په مطبوعاتو کي خپاره شول پکښي ویل شـویدي چـه نوموړي ډله ایزي وژني د ۱۹۷۹کال داپریل په ۲۰ نیټه تر سره شـویدي خـو پـه نومـوړو رپوټونـو کـي دا نـدي ویل شوي چه مجاهدینو په کومه نیټه په اسعد آباد برید کړي و . چه د ډیرو نورو تحقیقـاتو بغیـر د نومـوړی ډلـه ایزي وژني دقیقه نیټه معلومول ګران بریښي .

دولتي ځواکونو کـور پـه کـور لټون پیل کړ او خلك یـي یـویي لـویي غونډي تـه د سیند غـاړي تـه را وغوښـتل . نوموړی غونډه د کرهالي او اسد آباد تر منځ د نښلونکي پلـه تـه نـږدي جـوړه شـوه . ډلـه ایـزه وژنـه پـه همـدغي غونډه کي را منځ ته شوه ځکه صدیق عالمیار خپلو ځواکونو ته امر کړي و چه نوموړی سیمه کلابنده کړي او وروسته یي نوموړو ځواکونـو تـه ویلـي و چـه پـه نومـوړی جمیعت بانـدي ډزي وکـړي . شـاهدان دا بیـانوي چـه څرنګه د وژنو وروسته صدیق عالمیار بولدوزر ته امر کوي چه د وژل شویو کسان لپاره یو خندق وباسـي چـه نوموړی خندق د کرهالي پله ته نږدي جوړ او وژل شوي کسان پکښي واچول شول . د شاهدانو په وینا چـه ډیـر کسان په دغو ډله ایزو وژنو کي نه و مړه شوي خو ټپیان شـوي و خـو نومـوړي کسان ژونـدي و او تـر خـاورو لاندي شول . اصلي قبـر پـدي سیمه کـي تـر اوسـه هـم د لیدلو وړ دي او معلومیږي . د نومـوړو وژنـو وروسـته امنیتي ځواکونو د لټون عملیات پیل کړل او نوموړو ته ذاسي ویل شوي و چه د کورپه کور لټون پـه وخـت کـي چه هر څوك مخي ته ورځي په ګولیو دي وویشتل شي چه دا عملیات د ډیرو د وژل کیدو باعث وګرځیدل او په خاصه توګه د غیر پوځي وګړو د تلفاتو باعث وګرحیدل . شـاهدان وایـي چـه پـه نومـوړو وژنـو کـي ډیـر شمیر ښځي ، کوچنیان او سپین ږیري هم وژل شوي دي . د نوموړو عملیاتو د متضرر ینو دوه ډله ایز قبرونـه پـه دغـه سیمه کي موجود دي . رپوټونه د نوموړو وژنود قربانیانو شمیره له ۱۰۰۰ تنو څخه پورته ښیي . نومـوړو ډلـه ایزو قبرونو تر اوسه لاس ندي څوړلي او په همـاغه حال پاتي دي . د پیښي څخه وروسته د سیمي اکثرا ژوندي پاتي شوي کسان پاکستان ته وتښتیدل .

هغو شاهدانو سره چه د عدالت پروژي مرکي کړیدي دا جوته کړي چه لاندي کسانو د نومـوړو ډلـه ایـزو وژنـو پلانګذاري او امر کړي دي :

- جګړن صدیق عالمیار د ۴۴۴ کوماندو قطعي قوماندان . ګومان کیږي چه نوموړي تـر ۲۰۰۵ کالـه پـوري په هالند کي ژوند کاوه .
- جګړن بهرام الدین دننګرهار د ۱۱ فرقي یو افسر چـه د نومـوړي فرقـي د ځواکونـو قوماندانـي پـه عملیـاتو کي پر غاړه و. وروسته پیا په ننګرهار کي په یوه پیښه کي ووژل شو .
- جګړن ګلرنګ د ننګرهار د ۱۱ فرقـي یـو افسر . نوموړي تر ۲۰۰۴ کالـه پـوري پـه پیښـور او کابـل کـي ژوند کاوه اوس ویل کیږي چه مړ شویدي .

شاهدانو ویلي دي چه د ولایت والي په نوموړي پیښه کي دخالت ندرلود او والي یي د نوموړی جرم څخه جلا بللي . هغه لوي عامل چه نوموړو افسرانو ته یي د دومره لویو وژنو اجازه ورکړیده د هغوي سیاسي ارتباطات دي . دا ځکه چه صدیق عالمیار د حفیظ الله امین خاص کس و او د نوموړي ورور پـه کابینـه کـي د وزیـر دنده درلوده . په هغه وخت ډیر واړه افسرانو په لویو څوکیو کي ګمارل شوي و او هغوي به د مسولیت د لـري کولـو لپاره په دغسي کارونو لاس پوري کاوه .

## ۷.۳ د هرات پاڅون د ۱۹۷۹ کال د مارچ په میاشت کي

د هرات پاڅون د جګړي په وضعیت کي لوي بدلون راوست . ولي چه د رژیم د ضعیفي عوامل یي وښودل او خلکو ته د لویو عقیدوي مخالفتونو اود هغوي د راټولیدني تر یوه مقصد لاندي امکانات برابر کړل . د نوموړي پاڅون د کرارولو په منظور د شوروي اتحاد د هوایي ځواك څخه ګټه اخستنه ( چه دا موضوع هیڅ وخت هم شورویانو تاید نکړه ) ددي لامل وګرځیده چه د شوروي واکدارانو کي دا تشویش پیدا کړي چه په افغانستان کي اوضاع ورځ تر ورځي په خرابیدو ده .

د نوموړی پاڅون د پیل په مورد کي مختلف رپوټونه تر لاسه شوي . داسي معلومیږي چه نوموړي باڅون د حکومت لخوا څخه په ډیر خشونت سره محکوم شو . خو په هغه وخت کي په هرات کي نـه کومـه ورځپاڼـه وه او نه کوم باندني خبریالان چه د نوموړی پیښي سپیناوي وکړي . دورانسورا د هرات پا څون داسي تحلیل کړي او ویلي یي دي چه نوموړي پاڅون د خلقي دولت لپاره د خطر یو زنګ بلل کیده ولي چه خلقي واکداران پدي وپوهیدل چه د هغوي په مقابل کي یواځي په اطراف کي اپوزیسیون نه بلکه په ښاورونو کي هم را ولاړ شوي دي . د ځمکو ویشل د نوموړو پیښو اصلي لامل نـه ګڼل کیده خو د مذهبي مشران ، علما و او د خلکو د مځکښانو نیولو د نوموړي پاڅون اساسي علت شمیر کیږي . د هرات لـه عمومي پـاڅون څخـه دمخـه پـه ځینو کلیو او بانډو کي ورته پاڅونونه تر سره شوي و .

د مارچ په ۱۵ نیټه خلك د ولسوالیو په جوماتونو کي را ټول شول او د ملایانو پـه فتوا د ښار د پـاڅون کونکو سره یو ځاي شول . شورش پیل شو او د هرات ۱۷ فرقي منسوبینو د حکومت له امر څخه سر غړونـه وکړه او پاڅون کونکو سره یو ځاي شوه او شورشیانو ته یي وسلي او مهمات برابر کړل . د یوي ورځي پـه اوږدو کـي شورشیانو د ښار د مهمو سیمو کنترول په لاس کي واخیست او د یوي اوني په جریان کي یي ځیني مهم حزبي کسان لکه عبدالحي یاثمین ووژل . د هرات ولایت ټولي ولسوالي د اوبه او پشتون زرغون څخه بغیر نوري د پاڅون کونکو لاس ته ورغلي . په نوموړي پاڅون کي چورتـالان هم تر سره شو او دولتي ځواکونو پـه هغو سیمو چه هلته خلك په دولتي ضد والي باندي مظنون و بریدون کول . د پاڅون پـه ترڅ کـي دوه قوماندانانو د ۱۷ فرقي په تسلیمي کي اسماعیل خان سره مرسته وکړه چه یویي سردار خان او بل یـي غلام رسول خان نومیدل .

دولت د ایران حکومت په دي پاڅون کي تورن کړ . کابل لـه کندهاره څخه یو قوماندان د سید مکرم پـه نامـه د پاڅون د ځپلو لپاره هرات ته واستاوه . کله چه د نوموړي ځواکونه د هرات ښار ته ورسیدل د شیندند لـه هوایي ډګر څخه طیارو د هرات ښتر بمبارد اوه . د څو ورځو پرلپسي بمباري او کور پـه کـور جګړو څخـه وروسته پاڅون کونکو ماتي وخوړه . یوي کوماندو قطعي د انجنیر ظریف پـه رهبري چه لـه کندهار څخـه راغلـي و د پاڅون کونکو پر ضد عملیات پیل کړل . په خلورمه شپه ( د کب دمیاشتي ۲۹) ډیر مړه شوي کسان په ډله ایزو قبرونو کي د تخت صفر او باغ ملت سیمه کي ښخ کړل شول . د هرات د یوه پخواني اوسیدونکي پـه وینـا چـه خلکو د نوموړی ځاي نو ( مکان شهداي ګمنام ) کیښود .

کله چه د دولت ځواکونو بیا د ښار کنترول تر لاسه کړ نو ډیري لویي نیوني یي د خلکو تر منځ ترسره کړي چه په پایله کي یي ډیر نیول شوي کسان ورك شول او دا احتمال شته چه د محکمـي کولـو پرتـه بـه وژل شوي وي د بشر د حقوقو د استازي ارماکورا په وینا :
هغه اصلي معلومات چه نوموړی په لاس راوړي ویل یي دي چه د نوموړو ورځو په جریان کي د ۱۰۰۰ تنو څخه ډیر کسان د دولتي ځواکونو ۱۹۷۹ کال د اپریل تـر میاشـتي پـه هرات کـي د پاڅون څخـه وروسته نیول شوي دي . په ډیرو مواردو کي داسي شوي چه د سیاسي بندیانو کوچنیان او ښځي هم نیول شویدي. د نوموړو نیوني لمن ډیره لویه شوه او پدي جریان کي ډیر مذهبي کسان او د چپي ډلو غړي ، د دولت کارکونکي ، متعلمین ، تجاران ، دیپلماتان ، علمي څیري ، ونیول شوي .

د . د شیندند د ولسوالي یوه بزګر د عدالت پروژې ته ویلي دي چه د ۱۹۷۹ کال د مارچ د میاشتې په ۱۵ نیټه نومورې خپل پلار او یو ورور له لاسه ورکړل او وایي چه پلار مي په ښار کي هوټل درلود او ورور مي هم ورسره کار کاوه . ما د خپل پلار جنازه د هغه د هوټل تر څنګ د بازار پر سر وموندله خو زما د ورور جنازه معلومه نشوه ولي چه نوموړۍ یې ژوندي نیولي و . زما د پلار نوم نظر محمد او زما د ورور نوم شیر آغا و دا چه زه د دولت څخه ډیر ډار شوي وم نو د هغوي هیڅ لټون مي ونکړ .

ا. د هرات د ښار یو دوکاندار وایي چه په نوموړو پیښنو کي یې خپل ورور چه له ده سره اوسیده له لاسه ورکړي دي نوموړۍ محمد ابراهیم نومیده . آ . وایي چه د هغه ورور په جګړه کي نه وه شامل خو د خپل دوکان مخي ته د کب د میاشتي په ۲۴ نیټي د طیاري په ډزو کي وویشتل شو او مړ شو . زه له کمونیستانو څخه ډاریدم او ما له ویري څخه حتي یوه عسکر سره هم خبري نشواي کولاي . خلك مسلمانان و او دولت د کمونیستانو په واك کي و او هغوي له خلکو سره دښمني درلوده له همدي کبله دا وضع پیښه شوه . زما ورور د بابو شاه آغا په زیارت کي ښخ کړل شو خو نورو خلکو خپل مړي په نورو هدیرو کي خاورو ته وسپارل .

ف. یوه د کاندار د جغاري د کلي څخه د عدالت پروژې ته داسي وویل : دولتي ځواکونو د ښار د څلور خواوو څخه پر ښار باندي برید وکړ او ډیر خلك یې ووژل او ډیر هم ونیول . نوموړۍ پیښه د بادك شهدا په سیمه کي منځ ته راغلي ده . عبدالحي یاثمین د هرات والي او سید مکرم د فرقي قوماندان ، او زمري زمریار د امنیه قوماندان په هغه ځاي کي و . ډیر خلك د کندهار په دروازه، د ملك په دروازه کي ، د زنګیني د پله سره او د عراق په دروازه کي ووژل شول.

س . یوتن ښوونکي د پل رنګیني د کلي اوسیدونکي د خپل ورور د نیولو په اړه په نوموړو شورشونو کي یې داسي وویل :
نوموړۍ د ښونځي په دولسم ټولګي کي و کله چه عمومي پاڅون پیل شو دولتي ځواکونو هغه د ښونځي څخه ونیو او زه نه پوهیږم چه له هغي وروسته په هغه څه راغلل. د پولیسو قوماندان خلك نیول . زه والي او د خاد ریس ته ولاړم او هغوي ته مي عریضه وکړه هغوي ماته ځواب راکړ چه د جواد په نامه بندي دوي سره نشته زه څو ځلي د هغوي دفتر ته ولاړم خو په پاي کي هغوي ماته نوموړو دفترونو ته د ننوتلو اجازه نه راکوله دا ددي په خاطر و چه خلکو له هري خوا په دولتي دفترونو بریدونه کول . د کب په ۲۴ نیټه هغه شمیر خلك چه د خپلو کورنو څخه بهر و ددولتي ځواکونو لخوا د دښمنانو په عنوان نیول کیدل ځینو خلکو د خپلو خپلوانو جسدونه وموند ل او بیا یې خاورته وسپارل او هغه خلك چه وژل شوي و وروسته بیا دولت د شهیدانو په غونډي کي ښخ کړل .

په ۱۹۹۲ کال کي د یوه رپوټ له مخي په هرات کي یو ډله ایز قبر وموندل شو چه قابو ۲۰۰۰ کسان پکښي ښخ و .

د بشر د حقوقو کمسیون د نوموړو پیښنو د قربانیانود خپلوانو سره په مرکو کي د هغو ورکو شویو کسانو په مورد ځیني معلومات لاس ته راوړي دي چه د نوموړو کسانو یو کوچني لست یې برابر کړیدي چه وړاندي کیږي :

د یو شمیر هغو کسانو نومونه چه په هرات کي د ۱۹۷۹ کال د مارچ د میاشتي په پاڅون کي ورك شویدي :
* حاجي عبدالاحد.
* حاجي داد محمد .
* حاجي امین الله .
* وکیل احمد د مرتضي زوي.
* حاجي محمد جان د ملا برات زوي .
* حاجي حفیظ الله د حاجي نورالدین زوي .
* حاجي صدیق .
* نجیب الله د حبیب الله زوي .
* امرالله د عبدالله زوي .
* اکبر جان د حبیب خان شکیبا زوي .
* ذبیح الله د حاجي نصرالدین زوي .
* غوث الدین د ګلستان زوي .

* حاجي يار محمد د سيد محمد زوي .
* عبدالحكيم د حبيب الله زوي .
* ارباب عزيز د شكيبان مروي زوي .
* نورالدين د شكيبان مروي زوي .
* محمد امين د شكيبان مروي زوي .
* سعدالدين د شكيبان مروي زوي .
* اكبر ځان د شكيبان تاجكي زوي .
* عبدالشكور د معلم شكيبان زوي .
* غلام سخي .
* محمد هاشم .
* حاجي بسم الله د محمد هاشم ورور .
* عبدالله ناصح.
* عبدالمجيد دوكاندار.
* غلام غوث ښوونكي .

د بشر د حقوقو د مستقل كمسيون خبري ځانګه د هرات زون .

## ۳.۸ بمباردمانونه ، وركيدني او مقاومت په هزاره جات كي د ۱۹۷۹ كال په اوږدو كي

په هزاره جات كي پاڅون هغه لومړني بريالي او ناڅاپه باڅون و چه د خلقي رژيم په وروستيو كي تر سره شو . نوموړی پاڅون د ۱۹۷۸ كال په اكتوبر كي پيل شو او د ۱۹۷۹ كال پوري يي د هزاره جات ډيري سيمي د باميانو له مركز څخه بغير د مجاهدينو په ذريعه ازادي كړي . دولت د نوموړو سيمو بمباردمان تـه تر ۱۹۸۰ كال دوام وركړ او ټولي ازادي شوي سيمي د اتفاق شورا چه د هزاره رهبرانو يوه شورا وه اداره كيدلي . د نوموړو سيمو ازادي د هغي سيمي د ليري والي او غرني والي له كبله و . او د خلق ګوند ځواكون په سيمه ډير لږ و او هغوي نشواي كولاي چه د سيمي خلكو سره رابذئ ټينګي كړي ولي چه د ژمي لخوا هلته ټولي لاري تړل كيدلي او د پوځي عملياتو كول يي پدغه سيمه كي محدودول .

په باميانو كي جګړو تر راتلونكي لسيزي پوري دوام وكړ .
يوه ښخواني استاد چه د باميانود ولايت د دشت عيسي د سيمي اوسيدونكي د عدالت پروژي تـه د خپلو د خپلوانو د وركيدو په مورد كي په ۱۹۷۹ كال د اپريل په مياشت كي داسي معلومات وركړيدي :

محمد حسين د خادم حسين خان زوي د دشت عيسي د سيمي اوسيدونكي په باميانو كي د يوه دفتر كاركونكي و په ۱۹۷۹ كال كي د خلق ګوند غړوز نوموړی د كار له ځاي څخه ونيو او له ځانه سره يي بوته نوموړي يي د شورشيانو سره د تړاو لرو په تور نيولي و او تر او سه پوري د هغه كوم درك نشته او مونږ نـه پوهيږو چه هغه مړ دي كه ژوندي .

خادم حسين د غضنفر زوي د باميانو ولايت د دشت عيسي د سيمي اوسيدونكي چه په هغه وخت كي د خلق كوندځواكونو نوموړي نيولي و او تر اوسه پوري يي هيڅ پته نشته نوموړي هم پدي تور متهم و چه ګواكي د مخالفينو سره تړاو لري او نوموړو ځواكونو د هغه په كور بريد وكړ او نوموړی يي ځان سره بوته او بيا ورك شو .

ياسين د سيد رجب زوي د باميانو د ولايت د دشت عيسي د سيمي اوسيدونكي چه په ۱۳۵۸ كال كي نوموړی د خلق ګوند د ځواكونو لخوا د هيل كور څخه ونيول شو او بيا لادركه شو نوموړي يو تجار و او حكومت هغه د شورشيانو سره د تړاو په درلودلو سره له كوره ونيوه او بيا يي وواژه .

حسين خان د سيد آقا زوي د دشت عيسي اوسيدونكي
نوموړی په ۱۳۵۸ كال كي د خلق د ګوند د ځواكونو لخوا په خپل كور كي ونيول شو او بيا باميانو تـه راوستل شو چه د نوموړی كورني تر اوسه هم نه پوهيږي چه هغه ژوندي دي او يا مړ.
م . د دشت عيسي د سيمي اوسيدونكي وايي چه په ۱۹۷۹ كال كي د حكومت يوه لوي ځواك په سيمه بريد وكړ .

د خلق ګوند ځواکونو خپل عملیات د ۱۳۵۸ کال څخه پیلکړل او د بامیانو له مرکز څخه تر دره فولادي او شیدانو پوري بمباري کړي او په نورو سیمو یې هم بمباري کولې . زمونږ په سیمه دشت عیسې کې د نوموړو بمباریو په ترڅ کې ۴۰۰ کورونه وران شول او ۱۰۰ تنه په دغو پیښو کې ووژل شول . عملیاتو یوه ورځ دوام وکړ چه پوځیانو هر ي خواته بمباري او ډزي کولې . کورونه د بمباریو او درندو وسلو د ډزو په پایله کې اور واخیست او وسوځیدل . هغوی په درندو وسلو کورونه ویشتل او اور یې اوراچاوه او بیا یې لوټ تالان کاوه چه زمونږ له سیمي په هغه وخت ۶۰ کورني له سیمي څخه پاکستان او ایران ته وتښتیدي . د خلق ګوند د پوځونو قوماندان ډګروال نصرالله نومیده او په اتمي فرقي پوري اړوند و . زه خپله په هغه وخت کې عسکر وم او پدي پوهیدم چه نوموړي د کندك قوماندان و او د هغه ځواکونه د هوایي ډګر په شاوخوا کې ځاېر ځاي شوي و .
هغوی ۳۰ تنه د دره فولاي ، دشت اخندان او سر آسیاب څخه ونیول او د پلچرخي زندان ته یې انتقال کړ ل چه تر اوسه پوري لادرکه دي او مونږ نه پوهیږو چه هغوی ژوندي دي او که مړه شویدي . هغوي زه مجبوره کړم چه عسکري ته ولاړ شم او ماددري کاله د قرغي په فرقي کي عسکري وکړه چه پدي موده کې ما نشواي کولاي چه له عسکري وتښتم .
زما د عسکري په موده کي یو ډیر شمیر خلك د تحقیقاتو په دوران کي ووژل شول او یا لدرکه شول .

س. د دشت عیسې د سیمي اوسیدونکي د عدالت پروژي ته وویل چه خلقیانو د ۱۹۷۹ کال په اوږدو کې خلیفه عوض د هغه له کوره څخه ونیوه او نوموړی یې د هغه له وروه سره چه بوستان نومیده غیر لدي چه په پښو باندي ټپي کړي و بیا یې په ګولیو وویشتل . نوموړی یې د مخلفینو سره د تړاو په درلودلو سره متهم کړي و او هغه ۳۵ کلن و او شپږ اولاده یې درلودل . ما هم په دغه سیمه کي ژوند کاوه او د هغه له کور سره لنډ وم او ددغي پیښي په وخت کي هلته حاضر وم . د دولت کسان د هغه کورته پدي بهانه ورننوتل چه ګواکي نوموړی د مخالفینو سره لاس لري او هغه وخت چه هغوی له کور څخه بیرته ووتل نو د خلیفه عوض مړي د کور مخي ته پورت و چه بیا د کلي خلکو خاوروته وسپاره .
د بامیانو په ولایت کي د هغه وخت د عملیاتو څخه د یوه خلاص شوي تن سره په مرکه کي نوموړي د عدالت پروژي ته وویل چه دولت د خپلو سیمو د پرخوالي لپاره د پغمان د خلکو د پوځ څخه کار واخیسته او نوموړی شاهد وایي چه په هغه وخت کي د ښونځي په ۱۲ ټولګي کي و .
زه په هغي ورځ کي په سیمه کي وم او د خپلو سترګو لیدلي حال تاسي ته وایم . په ۱۹۷۹ کال کي د لومړي ځل لپاره دولت د اژدهار په غرخ باندي پوځي عملیات تر سره کړل او د پغمان خلك سیمه ته د غلا ، سوځولو او وژلو لپاره سیمي ته رااستول شوي و . هغوی نه یوځاي چه د خلکو کورونو ته اور اچاوه بلکه څه یې چه له لاسه راتلل هغي وکړل . په سیمه کي یو ډیر شمیر خلك ونیول شول او ووژل شول چه تر اوسه پوري هم لادرکه دي . چه له هغي وروسته د سیمي خلك بامیانو ، بهسودو او کابل ته راوتښتیدل .

## ۳،۹ په کابل ښار کي پاڅون

په ۱۹۷۹ کال کي د دولت پر ضد اعتراضونه د خلکو اعتراضونه پیل شول او د هغو لامل د مذهبي شخصیتونو نیول په هرات ښار کي د پاڅون څخه وروسته و د عدالت پروژي د یوه عیني شاهد سره مرکه کړیده چه نوموړي په هغه وخت کي د اعتراض کونکو د نیونو ، په ګولیو ویشتلو پیښي لیدلي دي نوموړي شاهد س-د. نومیږي او د کابل د پغمان د ولسوالی اوسیدونکي دي . نوموړی چه په هغه وخت کي نهه کلن هلك و په یاد لري چه څرنګه د نوموړي پلار ورك شو .
د ۱۳۵۸ کال د روژي د میاشتي دریمه ورځ وه او حفیظ الله امین د واك چاري په لاس درلودي او زما پلار په یوه ګلخانه کي چه د کرهني د وزارت او جاپان لخوا جوړه شوي وه کار کاوه . مونږ دوه وروڼه او یوه خور وه چه په هغه وخت ټول واړه او زه د ښونځي په پنځم ټولګي کي وم . یوه ورځ سهار چه مونږ چاي وخوړل پلار مي د وظیفي خواته روان شو او په هغه ورځ کورته راستون نشو او زه د هغه د کار ځاي ته ولاړم او پوښتنه مي وکړه چه زما پلار چیرته دي خو هلته چا ماته ځواب رانکړ او بیا راته وویل چه کوم ځاي ته تللی دي . په دا بله ورځ هم زه هلته ولاړم خو پلار مي هلته نه و زما د پلار څخه سر بیره نور هغه کسان چه هلته یي دنده درلوده هم د حکومت لخوا نیول شوي او حتي د ښوونځي محافظ یي هم نیولي و هغوی د جومات خادم او یوتن بل چه په باشي مشهور و او د سیمي وکیل و هم نیولي و .

د ۱۹۷۹ کال د کب د میاشتي په دریمه نیټه مونږ د کابل په ده دانا سیمه کي ژوند کاوه په همدغه شپه د خپلو کورونو د بامونو پرسر پورته شوي و او الله اکبر یي ویل او د ورځي په اوږدو کي لارو او کوڅو ته راووتل او په دله ایزه توګه یي ناري وهلي چه مونږ کمونیستان او روسان په خپل هیواد کي نه غواړو او سیمه

وروسته د وسلوالو ځواکونو لخوا کلابنده شوه او په خلکو يې ډزې وکړې . په نومـوړو پيښو کې زما د عمه خاوند د دولتي ځواکونو لخوا ونيول شو چه وروسته يې جنازه کورته راوړل شوه . چه وروسته له څه مودې د نوموړي لور او ښځه هم د دولتي ځواکونو لخوا نيول شول او بيا ورك شول چه خلکو ويل چه هغوي هم وژل شوي دي .

س.م د چنداول د پاڅون ښينه داسي بيان کړيده :
د ۱۹۷۹ کال د جولاي په مياشت کي د چنداول خلکو چه اکثريت يې هزاره وګړي و يو پاڅون پيل کړ چه په پايله کې يې د پوليسو پر پوستي حمله وکړه او دولتي ځواکونو په غبرګون کې په زرهاو تنه ونيول . د نوموړي پاڅون لامل د هغو شيعه، هزاره او قزلباش مشرانو نيول و چه د نوموړو مطاهرو د په لاره اچولو باعث وګرځدي چه د ۱۹۷۹ کال د جولاي په دريمه نيټه تر سره شوي او دا موضوع د بشر د حقوقو د کمسيون په رپوټ کي ويل شويده .
جنرال نبي عظيمي پدي اړه په خپل کتاب کي يو لست خپور کړي دي چه د ځينو هزاره ، شيعه او قزلباش مشرانو او وروسته د هغوي د ورکيدنو په برخه کي يې معلومات ورکړي دي او په نوړي يادداشت کي د سيد واعظ ، شيخ محمد امين افشار ، شيخ محمد علي ، محمد اسماعيل مبلغ، سيد ابراهيم علمشاهي ، محمد يوسف بينش ، نادر علي جاغوري ، سيد عبدالحميد ناصر و يو تن د عالمي په نامه نومه ليکلي دي .
نوموړي وايي چه دغه نيوني له هغي وروسته پيل شوي چه د سرطان په ۲ د ۱۳۵۸ کال کي د چنداول خلکو په امنيتي حوزي بريد وکړ . او د هغو وسلو په ذريعه يې چه د امنيتي حوزي څخه يې لاس ته راوړي وي د ميوند د جادي پخوا مارش وکړ چه هلته نور خلك هم دي بهير ته ورګډ شول او د دولت پر ضد يې شعارونه ورکول .

د بشر د حقوقو د کمسيون په وينا :
د ۲۰۰ تنو په شاوخوا کي خلك د ملي بيرغ شين ، سور او تور رنګ او شنو بيرغونو سره لارو کوڅوته راووتل او د حکومت پر ضد يې شعارونه ورکول او وروسته له هغي د کابل د ښار په زرهاو کسان چه په لرګيو ، چاقوګانو او زړو تورو باندي سمبال و د نوموړو ډلي ته ورګډ شول .
د ورځي په ۱۲-۱۱ بجو نوموړي اعتراض کونکي د حکومتي د غاښو پوري وسلوالو کسانو د ډزو لاندي راغلل او ډير شمير يي پدغو ډزو کي ووژل شول . او هغو کسانو چه ځان د نوموړو پيښو څخه خلاص کړي و وروسته د امنيتي چارواکو لخوا ونيول شول چه بيا هيڅکله ونليدل شول او ورك شول .

ش. د چنداول يوه اوسيدونکې د عدالت پروژي ته داسي وويل :
د ۱۳۵۸ کال د سرطان په مياشت کي دامين د دولت لخوا په يوه ډيره شميره ملا يان او دانشمندان بنديان شول چه ماته يي دقيقه شميره نده معلومه .
هغوي زما دوه وروڼه د آغيي احسان زامن له تکيه خاني څخه ونيول . هغوي د شپي په يوه بجه زمونږ کورته راغلل او دروازه يي ووهله کله چه زما خاوند دروازه ورخلاصه کړه دغو وسلوالو ورته وويل چه ته مونږ سره د ښاروای دفتر ته ولاړ شه او هلته نور بنديان وګوره او بيا يي ورته وويلي چه پلار ته دي هم غږ کړه او دواړه يي له ځانه سره پوتلل چه له هغي نيتي بيا تر ننه پوري يي درك نشو معلوم . زما خاوند حسين نوميده او خسرمي سيد جعفر نوميده . مونږ کوشش کاوه چه هغوي پيدا کړو خو د دولت اداري مقاماتو مونږ ته ربښتيا نه ويلي . مونږ خپلي عريضي د عظمي صدرارت او د خاد رياست ته وسپارل خو کومه نتيجه يي ورنکړه او په اخر کي يي مونږ ته وويل چه زما خاوند او د هغه پلار دواړه تبنتيدلي دي مګر مونږ له هغو څخه تر اوسه هم کوم احوال تر لاسه نکړ . نوموړې وايي چه زمونږ يو خپلوان چه سيد علي شاه نوميده او په کارته سخي کي يي درملتون درلود هم د نوموړي له درملتون څخه ونيو او د نوموړي ورور سيد محبوب او د هغه پلار سيد احمد شاه هم نيولي و چه وروسته يي هيڅ پته معلومه نشوه .

يوه عيني شاهد ويلي دي چه په چنداول کي نيوني د پاڅون لامل وګرځيدي .
نوموړي وايي چه په ۱۳۵۸ کال کي کله چه امين د واك پر سر و . دولتي ځواکونو د آقايي احسان دوه زامن ونيول د شپي په يولسو بجو د عسکرو څخه ډك يو موټر راغي او هغوي يي له کور څخه ونيول . چه يو يي سيد مظفر شاه نوميده او يو با نفوذه روحاني شخصيت و او بل يي سيد عسکر شاه نوميده چه د بيهقي په ښوونځي کي ښوونکي و او د ګذر وکيل هم و .
مونږ چه څومره تلاش وکړ د هغوي درك مو پيدا نکړ او دولتي مسولينو به مونږ ته ويلي چه مونږ هغوي ندي ليدلي . چه وروسته هغوي د مونږ له سيمي څخه يو تن ملا ، پهلوان عبدالحسن ، حاجي علي احمد چه يو با

نفوذه مذهبي شخصيت و ، آخند كاظم ، آقاي بينش ، او آقاي فضيلت ونيول چه د هغو د نيول كيدو لـه املـه د سيمي خلك ډير په قهر شول او د دولت پر ضد پاڅون پيل كړ .

د سهار په اته نيمو بجو خلكو د سمت پر ماموريت بريد وكړ او د هغه ځاي ميزونه او څوكي يي ماتي كړي چه بيا د دولت د وسله والو لخوا پر خلكو ډزي وشوي او ډير كسان ووژل شول چه يو تن د محمد عباس پـه نامـه د پاڅون په نوموړيو شيبو كي ووژل شو .
هماغه ورځ سهار خلك لارو او كوڅو ته راووتل او د اسمايي په جاده كي د روسانو يو موټر ونيو او كسان يـي په چاقوګانو ووهل او دويم موټر يي له سيمي څخه وتښتيده

په ټولو سيمو كي وحشت حكمفرما و او كمونيستانو په خلكو ډزي كولي او خلك له سيمي څخـه تښتيدل او مړي په لارو او كوڅو كي پراته و . وروسته بيا خلك راټول شول چه وژل شوي كسا ن خاورو ته وسپاري مـا پخپلـه ۲۱ تنه د شاه نجف په جومات كي ښخ كړل دا چه وضعيت ډير خراب و نوموړي وژل شـوي كسان مـا د جـامو سره ښخ كړل او هغوي ته مي غسل هم ورنكړ .
ټولو خلكو په يوه غږ ويلـي چـه مونږ كـافران نـه غواړو او پـه داخلـي او خـارجي كمونيستانو دي مـرګ وي او ويلي يي چه مونږ فقط اسلام غواړو . خلك پـه ډير بـد حالـت كـي و ځكـه چـه د ډيـرو كسانو د كـورنـي غړي او خپلوان وژل شوي و . وروسته سيمه د دولت تر كنترول راغله او خاد هري خواته خپلي ګزمي پيل كړي او چا ددي جرات ندرلود چه څه ووايي او يا وګرځي .
خلكو د كوته سنګي ، قلعه شاده او كارتـه سـخي پـه سيمو كـي هم شـورش كړي و او هغـه كسانو چـه نومـوړي شورش په سيمه كي پيل كړي و ډير تاوانونه وورورسيدل .
د پاڅون څخه وروسته هم د دولت كسانو ډير خلك د هغوي له كورنو څخه ونيول او شپي لخوا د خلكو كورونـو ته ننوتل او خلك يي له ځانه سره بيول او د هغوي كورونه يي پر ډير ذقت سره لټول . خلكو پـدي وخـت كـي د څه ويلو جرات ندرلود خو وروسته يودبل څخه خبريدل چه څوك ونيول شول .

همداراز كمونيستانو يو ډير شمير ځوانان ونيول چه د نوموړو پـه ډلـه كـي مامـا ميـر آغـا ، اسلم ، سيد مختـار ، هاشم د آخند ابراهيم زوي چه زما د مكتب د دوري همصنفي و ، سيد اسماعيل ، رسول ، ابراهيم د پلچرخي پـه زندان كي اعدام شول او يو شمير يي خوشي شول خو هغوي د خوشي كيدو وروسته د شكنجي لـه املـه دا وس ندرلود چه خبري وكړي . د نوموړي وخت ډير څه د ويلو لرم خو ټول مي اوس په ياد ندي دومره ويلي شم چه ډيري ترخي شپي او ورځي وي .

د ۱۹۷۹ كال د اګست په مياشت كي په كابل كي يو ډير شمير ناراضـه زده كونكو ، پوځيانو او نورو ناراضيانو په يوه پاڅون لاس پوري كړ او غوښتل يي چه د كابل راديو ونيسي او نوموړو شورشيانو د بالاحصار پـه كـلا باندي بريد وكړ او هلته يي ډيري وسلي او ټانكونه ونيول . وروسته بيـا دولـت د بالاحصار كـلا بمپاردمـان كـړه او پـه سلګونو شورشـيان يـي ووژل او هغـه كسان چـه هلتـه ونـه وژل شـول دولـت هغـوي ونيـول او بيـا يـي د پلچرخي په زندان كي ووژل .

۳.۱۰ د خلق د ګوند تر فرمان لاندي شكنجه كول د ۱۹۷۸ كال څخه تر ۱۹۷۹ كال پوري
د تره كي و امين تر رهبري لاندي اداري د هغو په شكنجه كولو چه د مخالفت يي كـاوه ډيـر زيـاتي كـاوه او دا د تحقيق كولو يوه مناسبه لاره د هغوي لپاره . له دي څخه سربيره هغوي بنديان پـه ډير كثيف او وړو ځـايونو كي ساتل چه نهوموړو بنديانو ته ډير لږ خواړه وركول كيدل او د هغوي د روغتيـايي حالت پـه برخـه كـي هيڅ كوم سهولت نه و برابر شوي .او هيڅوك نـه پـوهيږي چـه د نـاروغيو لـه كبلـه پـه بند كـي پـه سـا هـاو او زرهـاو زندانيان مړه شويدي . د ارماكورا په لومړني رپوټ كي چه پـه ۱۹۸۶ كـال كـي خپور شـوو د ۱۹۷۸ كـال پـه ترڅ كي ۷۹ داسي پيښي خپري شويدي .

څو تنو زندانيانو په يوه مخصوص رپوټ كي ويلي دي چه د بند په موده كي هغوي سره ډير بـد رفتـار شـوي او په نوموړي وخت كي هغوي رنګارنګ سزاوي وركړشويدي چه په لاندي كي ورڅخه يادونه كوو :
بيخوبي وركول ، د نوكانو ايستل ، د بدن د ځينو غړو سوځول ، بـرق وركـول او پـه ځينـو مواقعـو كـي د برقـي شوكونو وركول شامل دي .

عزيز الله لودين د افغانستان ددولت يو جګ پوړی چارواكي په ۲۰۰۵ كال كي پروفيسور ارماكورا ته ويلي دي چه نوموړي ته په هغه وخت پورتني سزاوي وركړ شويوي او همداراز وايـي چـه د هغـه سره سيد عبدالله د

اقتصاد فاکولتې پخوانی ريس هم د دولتي ضد جرمونو په تور بندي و او هغه ته يي هم ورته سزا ګاني ورکړي دي .

ښاغلي لودين د ۱۹۷۸ کال د جون په مياشت کي نيول شوي و او د ۱۹۸۰ کال د جنوری تر مياشتي پوري د پلچرخي په زندان کي بندي پاتي شوي دي . او وايي چه ښاغلي کاظم هم حضور درلود چه د رژيم کسانو په هغه وخت زما د لاس پر ګوتو د څوکي پايه ايښي وه او دوه تنه پري ناست و .

د عفو نړيوال سازمان په هغه وخت کي رپوټ ورکړي و چه اکثريت بنديان په سياسي تور نيول شوي دي او د شکنجي لاندي راغلي دي . چه د نوموړو زندانيانو څخه يو ډير شمير يي فلج شوي دي او يو ډير شمير په هماغه وخت کي له منځه تللي دي . يو شمير عيني شاهدانو د عفو نړيوال سازمان ته ويلي دي چه يو پخواني وزير پداسي حال کي پلچرخي ته پيول شو چه خوله يي له وينو څخه ډکه وه . او د عفو نړيوال سازمان دا جوته کړي ده چه په هغه وخت کي سياسي زندانيان د شکنجه کولو په وخت کي مړه شويدي او د شکنجي سيستيم عبارت و له :
وهل ټکول ، په قمچينو وهل ، د نوکانو ويستل ، د سر د ويښتانو سوځول او ويستل ، بي خوبي ورکول او ځيني رپوټه شته چه پکښي راغلي دي چه سياسي زندانيانو ته برقي شوکونه هم ورکول کيدل .

د عدالت پروژي پدي لړ کي د ځينو کسانو سره مرکي کړيدي چه په نوموړي دوره کي بنديان و او شکنجه شوي و . په يوه پيښه کي X چه د کابل پخواني اوسيدونکي دي او په ۱۹۸۰ کال د سپټامبر په ۱۱ نيټه کي زنداني شوي و ويلي دي چه نوموړی په هغه وخت کي د چپي مقاومت سره تړاو درلود د نوموړي د وينا په اساس چه :
د خاد دريم رياست د غير اسلامي احزابو په مقابل کي خپل فعاليتونه کول او زه يي ونيولم او پر ما داسي اتهام و چه ګواکي زه د ضد انقلاب په ډله کي يم او د يوه مسول کس چه نوموړي فعاليتونه مي تنظيمول معرفي شوي وم .

ښاغلي X وايي چه له نوموړي سره يي داسي يو کارت نيولي و چه هغه د کابل څخه د باندي د دولت د مخالفينو څخه لاس ته راوړي و او هغوي په يوه اسلامي تنظيم پوري اړه لرله .

په هغه وخت کي ما ضرورت درلود چه کليو ته د ځينو ملاقاتونو لپاره ولاړ شم ددي لپاره هغه مکارت ما ته هغو سيمو ته اجازه راکوله او د هغه ځاي خلکو داسي نه ګڼله چه زه هم يو ښاري کافر يم ی. او بل دا چه ما د حزب وحدت يو کارت هم درلود ځکه چه ما د کابل پداسي يوه برخه کي ژوند کاوه چه هلته د هزاره ګانو تسلط و .

د خاد د مستنطقينو د تحقيق روش د وهلو ټکولو او شکنجه له لاري و او زما د هغه وخت د خاد مستنطقين په ياد دي چه يو يي قيوم صفي نوميده چه ما اوريدلي دي چه په جرمني که ژوند کوي او بل يي عبدالروف ليوال نوميده او نه پوهيږم چه چيرته ژوند کوي .

زه په هغهډله کي اخرين کس وم چه خاد ونيولم او زما د تحقيقاتو وخت ډير کم يعني يوه مياشت و خو ماته يي برقي شوکونه رانکړل ( خو په نظر کي و) . د تحقيقاتو په وخت مختلفو مستنطقينو زه ډير ووهلم او وْټکولم ( او دي روش ته يي تحقيقاتي فوتبال ويلي ) همداراز د تحقيق په جريان کي فحش ويل ، د زنګانه څخه لاندي قسمتونو کي وهل ، د سر د ويښتانو شکول او سر په ديوال وهل او په څاپيړو وهل شامل و . هغوي زه په ډير بد رقم شکنجه کولم ولي چه هغوي غوښتل چه پدي ذريعه زه هغوي ته زمونږ د حلقاتو پورتني او ښکتني کسان وروښيم او همداراز د هغي کميتي چه مونږ هغوي ته رپوټ ورکاوه . خو ما هيڅ هم افشا نکړل او دا زما په ګټه و او هغوي داسي نتيجه واخيسته چه ګواکي زه په کوم سياسي جريان کي نه يم .

په اختصاصي انقلابي محکمه کي څارنوال فقط زمونږ په هکله اتهام نامه ولوستله او ولاړ او دري تنه نور څارنوالان پاتي شول چه د ۲۳ تنو بنديانو په هکله تصميم ونيسي . شپږ مياشتي وروسته مونږ ته د محکمي فيصله واوريدل شوه او په هغي کي زمونږ له ډلي ۶ تنه په اعدام محکوم ګڼل شوي و زه او زما دوه تنه نور په ۱۶ کلونوبند محکوم شوي و او نور کسان له ۱ څخه تر ۱۲ کالو پوري په بند محکوم شوي و .X پدي باور دي چه د هغه د محکوميت علت په دومره اوږده بند د هغه پوهيدل په ډيرو ژبو و( په هغه وخت هغه کولاي شول چه په شپږ ژبو خبري وکړي ) او دا چه نوموړي د يوه خارجي تلويزيوني استيشن سره مرکه کړي وه دي

موضوع هم هغوي ته دافرصت ورکاوه چه ما ته د یوي ډلي د رهبر او يا يوه خارجي جاسوس په سترگه وگوري . هغه شپږ تنه چه په اعدم محکوم شوي و هیڅ کله د ابلاغ پارچي تر لاسه نکړي او د ۱۹۸۱ کال د جولاي په میاشت کي اعدام شول .X وروسته بیا د اعداموشويو کسانو د کورنیو د غړیو څخه اوریدلي و چه د نوموړي د اعادمولو اعلان د افغانستان درادیو- تلویزیون له لاري خپور شوي و .

X د ۱۹۸۰ کال د سپتامبر څخه د ۱۹۸۷ کال تر دسمبر پوري تقریبا اته کاله بند د خپلي ۱۶ کلني دوري څخه تیره کړه او وروسته بیا د نجیب الله د ملي مصالحي د پروگرام په ترڅ کي د نورو سلهاو تنو بندیانو سره آزاد شو . نوري وایي چه نوموړي آزاد شوي بندیان په څو ډلو کي خوشي شول چه زه یي په لومړي ډله کي خوشي شوم .

د بشري او انساني حقوقو څخه تيري د شوروي اتحاد د اشغال او د کارمل او داکتر نجیب الله د حکومتونو په دور کي ( د خلق دمکراتیك گوند تر رهبري لاندي ) د ۱۹۸۰ کال د جنوری څخه د ۱۹۸۹ کال تر فبروري پوري

### ۴،۱ سیاسي انکشاف د شوروي مداخلي څخه وروسته

د ۱۹۷۹ کال د دسمبرد میاشتي په ۲۵ نیټه شوروي اتحاد افغانستان اشغال کړلو او څو ورځي وروسته د شوروي کوماندوگانو امین ووژه او ببرك کارمل یي د پرچم له ډلي څخه واك ته ورساوه . د افغان پوځ په منځ کي دا مهال تیښتي ډیري شوي او د ي کار شورویان دي ته اړ ویستل چه خپل ډیر مشاورین او عسکر افغانستان ته ولیږي د نوموړو عسکرو شمیره له ۱۰۵۰۰۰ تنوڅخه تر ۲۰۰۰۰۰ تنو پوري رسیده چه په نوموړي وخت کي د افغان پوځ د پوځیانو شمیره ۳۰۰۰۰ تنوته رسیده . د شوروي مشاورینو د دولت او د خلق د گوند د مقاماتو چه ظاهرا په څوکیو ناست و تصمیمونه نیول او پلانونه جوړول .

په نوموړي دور کي د بشري ضد جنایاتو چه منځ ته راغلي پړه د شوروي افسرانو او د افغان لوړپوړو چارواکوچه د شورویانو فرمانبرداري یي کوله په غاړه ده . د نوموړي دوري تر پایه پوري دواړو هیوادونو کي داسي یو سیستیم حاکم و چه ټولي فیصلي به ( د شوروي د کمونیست گوند سیاسي بیرو \ او خلق گوند سیاسي بیرو چه وروسته د وطن گوند ونومول شو) کولي . د افغانستان په دولت کي په هغه وخت کي مهم کسان دا و:

- ببرك کارمل د خلق دموکراتیك گوند رهبر ، د سیاسي بیرو مشر او د ۱۹۸۰ – ۱۹۸۶ کلونو په ترڅ کي صدراعظم .
- نوراحمد نور د جمهور ریس مرستیال او د سیاسي بیرو او مرکزي کمیټي غړي .
- داکتر نجیب الله د ۱۹۸۰ – ۱۹۸۶ پوري د خاد ریس . د گوند رهبر او صدراعظم او په ۱۹۸۷ کال کي جمهور ریس ( ۱۹۸۶ – ۱۹۹۲ ).
- غلام فاروق یعقوبي د خاد د ریس مرستیال په ۱۹۸۰- ۱۹۸۶ کلونو کي او وروسته د ۱۹۸۶ – ۱۹۹۲ د خاد ریس . نوموړي سازمان په کال ۱۹۸۶ کي د واد په نامه ونومول شو.
- شهنواز تني ، نظر محمد ، عبدالقادر او محمد رفیع د دفاع وزیران ( نوموړی وزارت مدام د پرچمیانو او خلقیانو تر منځ لاس په لاس کیده ).
- بابه جان ( مړ شویدي) او آصف دلاور د لوي درستیزپه څوکیو دنده سرته رسولي.
- سید محمد گلابزوي د کورنیو چارو وزیر ۱۹۸۸-۱۹۸۰ پوري او په ۱۹۸۸ کي په ماسکو کي د سفیر په توگه .
- اسلم وطنجار د کورنیو چارو وزیر د ۱۹۹۲-۱۹۸۸ پوري .
- مانوکي کنگل د کورنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال او د داکتر نجیب الله خاص راز دار او ملگري.

لاندني جدول د شوروي اتحاد د سیاسي بیرو د غړو دي په نوموړي وخت کي

| |
|---|
| د شوروي اتحاد د امورمسولین چه په افغانسستان کي یي مسولیت درلود . د ۱۹۷۹ کال څخه تر ۱۹۹۱ کال پوري |
| * د مرکزي کمیټي عمومي منشي لیونید ایلیچ برژینف د ۱۹۶۶ کال د اپریل له ۸ نیټي څه تر ۱۰ د نوامبر د ۱۹۸۲ کاله پوري . |
| • یوري ولادیمیرویچ اندروپوف د ۱۹۸۲ کال د نوامبر له ۱۲ نیټي څخه تر ۹ د فبروري د ۱۹۸۴ |

کالپوري.

- کنستانتین اوستینویچ چرننکو د ۱۹۸۴ کال د فبروري له ۱۳ څخه تر ۱۰ د مارچ د ۱۹۸۵ کال پوري.
- میخائیل سرګیویچ ګورباچف د ۱۹۸۵ کال د مارچ له ۱۱ څخه تر ۲۴ د اګست د ۱۹۹۱ کال پوري .

د باندنیو چارو وزیران

* آندره آندریویچ ګرومیکو د ۱۹۵۷ کل د فبروري ۱۵ څخه تر ۲ د جولاي د ۱۹۸۵ کال پوري .
* ادوارد امروسویچ شواردنازي د ۱۹۸۵ د جولاي ۲ څخه تر۱۵ د جنوري ۱۹۹۱ کال پوري.
* الکساندر الکساندرویچ بیسمرتنیخ د ۱۹۹۱ کال د جنوري له ۱۵ څخه تر ۲۳ د اګست د ۱۹۹۱ کال پوري .
* باریس دمیتریویچ پانکین د ۱۹۹۱ کال د اګست له ۲۸ څخه تر ۱۴ د نوامبر د ۱۹۹۱ کال پوري

د دفاع وزیران

* دمیتري فیودرویچ اوستینوف د ۱۹۷۶ کال د اپریل ۲۹ څخه تر ۲۰ د دسامبر د ۱۹۸۴ کال پوري.
* سرګس لیونیدویچ سکلوف د ۱۹۸۴ کال د دسامبر له ۲۲ څخه تر ۳۰ د مي د ۱۹۸۷ کال پوري.
* دمیتري تیموفیویچ یازوف د ۱۹۸۷ کال د مي د ۳۰ څخه تر ۲۲ د اګست د ۱۹۹۱ کال پوري .
* میخاییل الکسیویچ مایسیف د ۱۹۹۱ کال د اګست له ۲۲ څخه تر ۲۳ د اګست د ۱۹۹۱ کال پوري .موقت.
* یفګیني ایوانویچ شاپشنیکوف د ۱۹۹۱ کال د اګست له ۲۳ څخه تر ۲۶ د دسامبر د ۱۹۹۱ کال پوري .

د استخباراتو د کمیتي ریسان (KGB)

* یوري ولادیمرویچ اندروپوف د ۱۹۶۷ کال د مي ۱۸ څخه تر ۲۶ د مي د ۱۹۸۲ کال پوري .
* ویتالي واسیلویچ فیودر چوك د ۱۹۸۲کال د مي ۱۸ څخه تر ۱۷ دسمبر د ۱۹۸۲ کال پوري .
* ویکتور میخاییلویچ چبرکوف د ۱۹۸۲ کال د دسمبر له ۱۷ څخه تر۱ اکتوبر د ۱۹۸۸ کال پوري .
* ولادیمیر الکساندرویچ کریچکوف د ۱۹۸۸ کال د اکتوبر له ۱ څخه تر ۲۲ د اګست د ۱۹۹۱ کال پوري .
* یوري نیکلایویچ شبریشین د ۱۹۹۱ کال د اګست ۲۲ څخه تر ۲۳ د اګست ۱۹۹۱ کال پوري .موقت .
* وادیم ویکتورویچ بکاتین د ۱۹۹۱ کال د اګست له ۲۳ څخه تر ۲۲ د اکتوبر د ۱۹۹۱ کال پوري .

د کورنیو چارو وزارت (MVD)

* نیکولاي آنسیمویچ شکولوف د ۱۹۶۸ کال د نومبر د ۲۵ څخه تر۱۷ دسمبر ۱۹۸۲ کال پوري .
* ویتالي واسیلیویچ فدروچوك د ۱۹۸۲ کال د دسمبر د ۱۷ څخه تر ۲۴ جنوري د ۱۹۸۶ کال پوري .
* الکساندر ولادیمیر یوك وسلف د ۱۹۸۶ کال د جنورۍ د ۲۴ څخه تر ۱۰ د اکتوبرد ۱۹۸۸ کال پوري .
* وادیم ویکتورویچ بکاتین د ۱۹۸۸ کال د اکتوبر له ۲۰ څخه تر ۱ دسامبر د ۱۹۹۰ کال پوري .
* باریس کارلویچ پوګو د ۱۹۹۰ کال د دسمبر له ۱ څخه تر ۲۲ د اګست د ۱۹۹۱ کال پوري .
* واسیلي پترویچ تروشین د ۱۹۹۱ کال د اګست له ۲۲ څخه تر ۲۳ د اګست د ۱۹۹۱ کال پوري .موقت .
* ویکتور پالویچ بارانیکوف د ۱۹۹۱ کال د اګست ۲۳ څخه تر ۲۶ د دسامبر د ۱۹۹۱ کال پوري .

د شوروي هغو مسولانو چه د افغانشتان په برخه کي یي مسولیت درلود ( ۱۹۷۹ – ۱۹۹۱ کلونو )

د مرکزي کمیټي او سیاسي بیرو غړي ( تول یي )

- میخایل اندریویچ سوسلوف د ۱۹۵۵ کال د جولاي له ۱۲ څخه تر ۲۵ د جنورۍ د ۱۹۸۲ کال پوري .
- لیونیو ایلیچ برژنیف د ۱۹۵۷ کال د جون له ۲۹ څخه تر ۱۰ د نومبر د ۱۹۸۲ کال پوري .
- الکسي نیکلایویچ کاسیګین د ۱۹۶۰ کال د مي له ۴ څخه تر اکتوبر د ۱۹۸۰ کال پوري .
- آندري پالویچ کرولینکو د ۱۹۶۲ کال د اپریل له ۲۵ څخه تر ۲۲ د نوامبر د ۱۹۸۲ کال پوري .
- آروید پالویچ پلشي د ۱۹۶۶ کال د اپریل له ۸ څخه تر ۲۷ د مي د ۱۹۸۲ کال پوري .
- ویکتور واسیلویچ ګریشین د ۱۹۷۱ کال د اپریل له ۹ څخه تر ۱۸ د فیظوري د ۱۹۸۶ کال پوري .
- دینمحمد احمدویچ کونایف د ۱۹۷۱ کال د اپریل له ۹ څخه تر ۲۸ د جنورۍ د ۱۹۸۷ کال پوري .
- ولادیمیر واسیلي ویچ شیر بیتسکي د ۱۹۷۱ کال د اپریل له ۹ څخه تر ۲۰ د دسمبر ۱۹۸۹ کال پوري .

- یوري ولادیمیرویچ اندروپوف د ۱۹۷۳ کال د اپریل له ۲۷ څخه تر ۹ د فبروري د ۱۹۸۴ کال پوري .
- اندري نریویچ گرومیکو د ۱۹۷۳ کال د اپریل له ۲۷ څخه تر ۳۰ سپتامبر د ۱۹۸۸ کال پوري .
- گریگوري واسیلویچ رومانوف د ۱۹۷۶ کال د مارچ له ۴ څخه تر جولا ي د ۱۹۸۵ کال پوري .
- دیمیتري فیودرویچ استینوف د ۱۹۷۶ کال د مارچ له ۴ څخه تر ۲۰ د دسمبر د ۱۹۸۴ کال پوري .
- نیکلاي الکساندرویچ تیتونوف د ۱۹۷۸ کال د نوامبر ۲۷ څخه تر ۱۵ د اکتوبرد ۱۹۸۵ کال پوري .
- کنستانتین استینویچ چرننکو د ۱۹۷۸ کال د نوامبر د ۲۷ څخه تر ۱۰ د مارچ د ۱۹۸۵ کال پوري .
- میخایل سرگیویچ گرباچف د ۱۹۸۰ کال د اکتوبر له ۲۲ څخه تر ۲۴ د اگست د ۱۹۹۱ کال پوري .
- حیدر علي رضا گلي علیف د ۱۹۸۲ کال د نواږیر د ۲۲ څخه تر ۲۱ د اکتوبر د ۱۹۸۷ کال پوري .
- میخاییل سرگیویچ سولومنتسف د ۱۹۸۳ کال د دسمبر له ۲۶ څخه تر ۳۰ د سپتمبر د ۱۹۸۸ کال پوري .
- ویتالي ایوتنویچ ورتنیکوف د ۱۹۸۳ کال د دسمبر له ۲۶ څخه تر ۱۴ د جولاي د ۱۹۹۰ کال پوري .
- ویکتور میخایلویچ چبریکوف د ۱۹۸۵ کال د اپریل له ۲۳ څخه تر ۲۰ سپتمبر د ۱۹۸۹ کال پوري .
- ایگور کوزمیچ لیگاچف د ۱۹۸۵ کال د اپریل له ۲۳ څخه تر ۱۴ د جولاي ۱۹۹۰ کال پوري .
- نیکولاي ایوانویچ ریژکوف د ۱۹۸۵ کال د اپریل له ۲۳ څخه تر ۱۴ د جولاي د ۱۹۹۰ کال پوري .
- ادوارد امروسویچ شواردنادزي د ۱۹۸۵ کال د جولاي د ۱ څخه تر ۱۴ د جولاي د ۱۹۹۰ کال پوري .
- لف نیکولایویچ زایکف د ۱۹۸۶ کال د مارچ له ۶ څخه تر ۱۴ د جولاي د ۱۹۹۰ کال پوري .
- ویکتور پترویچ نیکونوف د ۱۹۸۷ کال د جولاي له ۲۶ څخه تر ۲۰ د سپتمبرد ۱۹۸۹ کال پوري .
- نیکلاي نیکیتیویچ سلیونکف د ۱۹۸۷ کال د جولاي له ۲۶ څخه تر ۱۴ د جولاي د ۱۹۹۰ کال پوري .
- الکساندر سرگیویچ یاکولیف د ۱۹۸۷ کال د جولاي ۲۶ څخه تر ۱۴ د جولاي ۱۹۹۰ کال پوري .
- وادیم اندریویچ مدودف د ۱۹۸۸ کال د سپتمبر له ۳۰ څخه تر ۱۴ د جولاي د ۱۹۹۰ کال پوري .
- ولادیمیر الکساندرویچ کریچکوف د ۱۹۸۸ کال د سپتمبر ۳۰ څخه تر ۱۴ د جولاي د ۱۹۹۰ کال پوري .
- یوري دیمیتریویچ ماسلیکوف د ۱۹۸۹ کال د سپتمبر له ۲۰ څخه تر ۱۴ جولاي ۱۹۹۰ کال پوري .
- ولادیمیر انتونویچ ایواشکه د ۱۹۸۹ کال د د سامبر له ۹ څخه تر ۲۴ د اگست د ۱۹۹۱ کال پوري .

د شورویان اشغال د جنگ په تاکتیکونو کي ابر هرخیر بدلدونه راوستل او د خلق د گوند د حمایت لپاره شورویانو د روشنفکرانو او مذهبي مشرانو له ډله ایزو وژنو څخه لاس واخیست او د هغو پر ځایي یو سیستماتیکه جاسوسي لاره غوره کړه او د مقاومت د لړوالي لپاره یي ډیري نوي اهداف غوره کړل . او د خپلو بمباردمانونو په تر څ کي یي چه په کلیو ، لارو او سرکونو ، او نورو ځایونو باندي تر سره کولي ډیر کسان پکښي ووژل شول .

کله چه کارمل د چارو واك په لاس واخست سمدلاسه یي ۲۰۰۰ تنه بندیان یي د پلچرخي له زندن څخه خوشي کړل او د جنوري ۱۳ نیټه یي د تره کي او امین د دوري د شهیدانو شویو خلکو په نامه ویادوله . د امین د وخت پټ پولیس لغو شول او ځیني کارکونکي یي ووژل شول خو بیا دي هغه پر ځاي شورویانو یوه نوي اداره د نوي کاري صلاحیت سره منځ ته راوړه .
د دولتي اطلاعاتو خدمتونه یا خاد د شوروي د KGB څخه په تقلید سره منځ ته راغله . چه نوموړي سازمان د اتو کالونو په ترڅ کي د لویو نیونو او د مجاهدینو د پلویانو د شکنجه کولو ، او د هغوي د ډله ایزو نامعلومو وژنو او د محکمي څخه دمخه وژني په افغانستان کي تر سره کړي .
هغه مظاهري چه د خلکو لخوا د شورویانو د شتون پر خلاف په لاره اچول کیدي د دولتي او شوروي ځواکونو لخوا په ډیر جدیت سره چپیدلي . چه په یوه مشهوره پیښه کي په کابل کي د ښونځی د نجونو چه شوروي ضد مظاهري کولي په گولیو ویشتل شوي . د ۱۹۸۰ کال د اپریل په میاشت د ښونځی په زرهاو تنو نجونود شوروي او دولت ضد تظاهرات په لاره واچول . د حقوق بشر د کتونکو په وینا چه دولتي ځواکونو د اپریل او مي په میاشتو کي په مظاهره کونکو ډزي کړیدي او په زرهاو تنه زده کونکی یي نیولي دي او له ۵۰ تنو څخه ډیر چه له نیمایي څخه یي زیاتي نجوني وي پدغو مظاهرو کي په ډزو ووژل شوي . د ۱۹۸۱ کال د سپتمبر په میاشت کي د کابل د ښارد نجنو ښونځیو لو لږ مظاهري په لار واچولي چه د هغوي مخه یو شمیر شوروي او افغاني تانکونو ونیوله پدي اړه یو پخواني دولتي کارکونکي داسي وایي :

له يوي خوا څخه يو تانك چه پر سر باندي يو لودسپيكر نصب شوي و را پيدا شو او مظاهره كونكو ته يي اعلان كاوه چه مظاهري ودروي او خپلو ټولګيو ته ولاړ شي او كنه نو مونږ به په تاسو باندي ډزي وكړو . همداراز په يوه لنډ بيان كي يي دغو خلكو ته ويل چه تاسي د يوه هيواد درلودنكي ياست او دا ټولي دسيسي د امپريا ليزم لخوا څخه دي او تاسي بايد احمقان نشي او د امپر ياليزم دغو خبرو ته غوږ ونه نيسي . روسان زمونږ هيواد ته د مرستي او زمونږ په اجازي راغلي دي . خو نجونو به مقابل كي ويل چه اي روسانو مونږ تاسو پيژنو چه د لينين زامن ياستي ، مونږ پوهيږو چه تاسي د ډيرو خلكو قاتلين ياست مونږ به خپلو ټولګيو ته ولاړ نشو او دا غوره ګڼو چه همدلته مړي شو . مونږ غواړو چه تاسي روسان زمونږ له هيواد څخه ووځي او داسي نوري ناري چه هغوي وهلي .له هغي وروسته روسي تانكو ډزي پيل كړي او پدي لړ كي شپږ تنه نجوني ووژل شوي . ما پخپله دا په سترګو وليده چه شپږ جنازي پر ځمكي پرتي وي و ورسته حكومتي كسان يوه جيپ موټر ته وپورته كړي .

## ۴.۲ بنديانول او شكنجه كول

د ملل متحد استازی فيلكس ارماكورا ويلي دي چه په نوموړي دور كي پوليسو (خاد) په منظمه توګه خلك شكنجه كول . د خاد يو پخواني كاركونكي په يوه مركه كي وايي چه دري تنه حرفوي شكنجه كونكي و چه نومونه يي هغه داسي وښودل :
محمد رحيم ، صمد اظهر ، عبدالغني ، او فاروق ميخايل .

د خاص استازي په وينا چه نوموړي شكنجي د كورنيو چارو په وزارت ، د كابل په زندانو نو كي او د خاد په ټولو بنيخانو كي تر سره كيدي . او په خاصه توګه نوموړي د خاد له اتو توقيفي مراكزو څخه نوم اخيتي دي چه په خاد پوري مربوط و چه له هغي ډلي څخه لوي مركز د نوموړی استازي په وينا د صدرات په انګړ كي و . او نوموړي دا هم ويلي دي چه د خاد د تحقيقاتو او نيونو يو بل لوي مركز په ششدرك كي موقعيت درلود . خو دي ته دي پام وشي چه د كورنيو چارو وزارت ځانته خپل ځواكونه درلودل .

يو عيني شاهد چه آ نوميري او د ۱۹۸۰ څخه يي تر ۱۹۸۵ كال پوري د خاد په دوهم رياست كي دنده درلوده د هغو شكنجو او بي عدالتيو چه د خاد لخوا د خلكو په مقابل كي تر سره كيدي داسي وويل :

په ۱۳۶۴ كال كي د كابل د هوايي ډګر په ترمينل كي يو انفجار وشو چه پدي تور خاد لس تنه وګړي ونيول چه د هغوي د ځينو نومونه زما په ياد دي نه د ټولو چه دادي :

- ابراهيم د كابل د قلعه قاضي د سيمي څخه .
- ادريس د پنجشير رخي د ولسوالي اوسيدونكي .
- سراج الدي د ادريس ورور . هغوي سيدان و .
- شعيب او وحيد چه هغوي هم ورونه و او د پنجشير د رخي د ولسوالي اوسيدونكي و .
- و . چوچه د پنجشير د رخي د ولسوالي اوسيدونكي .

لس واړه نيول شوي كسان په اعدام باندي محكوم شول خو د هغوي په منځ كي چوچه ۱۷ كاله عمر درلود اونشواي كيدي چه په اعدام محكوم شي .چه په ۱۸ كله بند محكوم شو . نوموړي كسان په وضح توګه په ششدرك كي د خاد په اووم رياست كي د محاكمي لاندي ونيول شول او څارنوال حشمت قاييني د نوموړو څخه پوښتني كولي او د انقلابي څارنوالی خاص استازي و . شادان د انقلابي اختصاصي محكمي ريس و او يو قاضي چه سكندر بنوال نوميده . كله چه هغه لس تنه تحقيق ته بيول كيده د تحقيق مسوول حميدالشمال نوميده . نور مستنطقين داسي نوميدل :

- حليم د پكتيا له ولايت څخه چه په بي خدا باندي مشهور و ولي چه ډير ظالم و .
- عارف د هرات ولايت اوسيدونكی چه ويل كيږي اوس په ماسكو كي ژوند كوي .
- عنايت جوش چه اوس په جرمني كي ژوند كوي .
- غفور د هرات ولايت څخه چه د نوموړی د اوسيدو ځاي ندي معلوم .

د پير ګيلاني كور چه د دولت لخوا نيول شوي و او د نقيب صاحب باغ كي د هند سفارت خوا كي موقعيت لري د شكنجه كولو ځاي و . نوموړی ځاي د نظامي خاد مركز و . حميد الشمال به بنديان شكنجه كول او د نظامي خاد ريس حسام الدين حسام او مرستيال يي حبيب الله به نوموړي صحني لخ نږدي كتلي .

هغوي به په يوه مخصوص لرگي نوموړي بنديان په پښو وهل . او لاس نوكان به يي د پلاس په ذريعه ويستل ، او د فانتا بوتل به يي د زندانيانو په شرم ځايې كي ننويستل او همدارا ز زندانيانو ته به يي بيخوبي وركوله .

په همدي وخت كه يوه بليه اداره چه ۱۰۵ اداره نوميده تشكيل شوه چه د نظامي خاد څخه په يو جلا تشكيل كي د تخنيكي وسايلو د برابرولو په برخه كي مسوليت درلود .نوموړي رياست دنده درلوده چه د شكنجي وسايل د شوروي څخه اكمال كړي چه په هغو كي :
برقي خولي چه سري ته به يي په سر كوله او سرته به يي شوك وركاوه او د هغو په څير به د لاس گوتو او په تناسلي اله كي هم نښلول كيدل او برق بـه يـي وركـاوه . د نوموړي څانگي ريس صفت الله نوميده چه د پروان د ولايت څخه و او اوس د جرمني په هيواد كي دي. د نوموړي د ۱۰۵ اداري مرستيال نصير احمد نوميده . وايي چه نوموړي اوس د جرمني په ميونيخ كي دي خو زه پخپله دقيق نه پوهيږم چه نومړی چيري دي . نوموړو دواړو به د ځينو كسانو څخه تحقيق كاوه او هغوي به متهم تر هغو شكنجه كول چه چه اعتراف يي كړي واي څه چه هغوي ورڅخه غوښتل .

حسام الدين و حبيب الله به هم هلته حاضر و . ځيني وخت بـه هغوي زندانيانو ته ښكنځل كولي او كله به يي وهل ټكول . هغو اصلي كسانو چه تحقيق كولو د حميد الشمال ، حليم او عنايت جوش و هغوي د مستنطقينو په منځ كي ډير فني كسان و او په واقعيت كي ډير ظالم كسان هم و .

زه د استخباراتو يو كاركونكي وم . كله به چه كومي نيوني كيدلي مونږ به په خپل دفتر كي اماده و او كله به يي چه نيول شوي كسان راوستل مونږ به د هغوي د امنيت ساتلو چاري په لاس درلودي . زه د تولو صحنو شاهد وم . دغو دري تنو د تحقيق پروسه پر مخ بيوله تر هغو چه متهمين به محاكمه شول او زندان ته به واستول شول . تر دي دمه به زه لكه يو عيني شاهد حاضر وم خو له هغي وروسته زه هم نه پوهيدم چه په نوموړو بنديانو څه راتلل . خو دا بايد ووايم چه نوموړي بنديان د روسانو لخوا ساتل كيدل چه په دوهم قدمه كي مونږ مسوليت درلود او مونږ به نوموړي جريانات له كړكي ليدل . هغه وخت به چه زندانيان شكنجه كيدل مونږ به د هغوي چيغي ناري اوريدي او هلته به مو د كړكي څخه وركتل . مونږ خپله دنده ددي لپاره چه زندانيان پر تحقيق كونكو باندي بريد ونكړي هلته به ولاړ و .
د نمبر يك احضاراتو په وخت كي بايد تول عسكر او افسرانوبايد اماده شوي واي .چه كله به تحقيق دوام درلود مونږ به په درجه ۱ احضاراتو كي و .
د اصلي وداني نقشه كي داسي معلوميږي چه د اصلي وداني په انگړ كي د حبيب الله دفتر د تحقيق د اتاق څنگ ته او د هغه تر څنگ د پنجرو لورونكو اتاقون و د بنديانو لپاره واقع و .
زندانيان به په نوموړي ځاي كي د ۳۷ ورځو په ترڅ كي د تحقيق لاندي نيول كيدل او په نوموړي موده كي احتمالا د هر تحقيق په دوره كي له ۵ څخه تر ۱۰ واري پوري شكنجه كيدل چه دا د ورځي او شپي لخوا پيښيدل . د ډيرو زندانيان لپاره يو مستنطق موجود و او هغه به هميشه ا پوښتنه كوله چه ماين دي چيري ښخ كړيدي . او وروسته به يي نوموړي سوال له بل تن زنداني چه په بل اتاق كي بندي و كولو او بيا به يي تولو ته ويل چه كه دقيق ونهواياست بيا هغه وخت زه پوهيږم چه څه وكړم او بيا به يي وهل ټكول پيل كړل . هغوي به نوموړي زندانيان هره ورځ شكنجه كول . په لومړي سر كي به يي چه څوك زندان ته راوستل ښه صحت به يي درلود خو وروسته له شكنجو به ډير دنگر او ناتوانه شول .
داسي يوه ورځپانه او د اسي اسناد هم شته چه د نوموړو اعمالو د سرته رسونكو د تقديرولو په مورد كي په مډالونو حسام الدين حسام د هغوي په ټترونو ورتمبلي چه په اوس حال كي د هغسي اسنادو پيدا كول گران كار دي .ولي ډير اسناد سوځول شوي دي . خو بيا هم يو سند په لاس راغلي او په هغه كي هغو عسكرو او افسرانو ته چه مډالونه وركړل شويدي يو يوځايي عكس اخيستي دي او نوموړي سند اوس په كابل كي دي .

د شكنجه وركول په وخت كي حسام الدين او حبئپ الله د پنديانو هر اتاق ته راتلل . دري تنه په عمده توگه د نيونو صلاحيت درلود چه حسام الدين ، حبيب الله او له ټولو څخه يي ظالم عبدالله فقيرزاده .......... چه نه پوهيږك هغه يي ولي ندي نيولي .نوموړي د حسام الدين او حبيب الله په نسبت ډير قتلونه كړي دي . حسام الدين يو پوځي افسر و چه په ۱۷ فرقه كي يي دنده درلوده چه وروسته بيا خاد ته راغي خو عبد الله فقيرزاده له هماغه سر څخه د خاد غړي و .
حسام الدين د پوځي استخباراتو ريس و او اداري كار يي مخ ته بيوه او امر به يي كاوه . عبدالله فقيرزاده د نوموړي اوپراتيفي مرستيال او د امرونو د اجراكولو مسوليت درلود او عملا يي د نيولو او شكنجه كولو

پروکرامونه مخ بیول نوموړی ډیر ظالم سړي و او په کبرا مار باندي مشهور و . لدي دندي وروسته د کندز والي په حیث مقرر شو .

په خاد کي دوه ډلي موجودي وي یوه یي د خاد معمولي شکنجه کونکي او بله ډله یي د ۱۰۵ اداري هغه شکجنه کونکي چه په روس کس تربیه شوي و . که چیري متهمینو د لومړنیو معمولي شکنجو په وخت کي اعتراف نه واي کړي نو بیا به دوهم گروپ خپل اجراات پیلول . ډیر خلك و چه په لومړي ورځ به یي اعتراف وکړ خو داسي کسان هم و چه هیڅکله یي اعتراف ونکړو خو هغو به د نورو د ویلو په اساس محکومیدل .

د ۱۹۸۵ کال د جون په ۱۴ نیټه چه ۱۳۶۴ کال د جوزا د ۲۴ سره سمون خوري آ. د مخلفینو سره د تړاو په تور ونیول شو او د ۱۹۸۸ ( ۱۳۶۷ تر میزان) پوري د خاد لخوا شکنجه شویدي دي نوموړي د عدالت پروژي ته داسي وویل :

حسام الدین او حبیب الله زه ونیولم او د استخباراتو د نیولو لوي مرکز ته یي تسلیم کړم . زه ۶ میاشتي او ۷ ورځي تر تحقیق لاندي وم . د تحقیق په لړ کي هغوي حتي زما غاښ مات کړ خو دا چه ما اعتراف ونکړ نو زه یي خوشي کړم . خو هغوي ته ډیره شرم خبره وه ځکه چه هغوي نشواي کولاي زما څخه اعتراف واخلي .

یو شاهد د ل. په نامه چه د افغانستان په هوایي ځواك کي د هلیکوپټر پیلوت و د خپلي نیوني څخه یي د خاد له خوا په ۱۹۸۹ کال کي د عدالت پروژي ته داسي وویل :

د ۱۳۶۷ کال د کب په ۲۲ نیټه چه د ۱۹۸۹ کال د مارچ ۱۳ نیټي سره سمون خوري د داکتر نجیب الله په دوران کي . د هوایي حواکونو د استخباراتو لخوا چه د پوځي استخباراتو یوه څانگه وه ونیول شول . په نوموړي وخت کي زه یو فعاله پیلوت اود ۳۷۷ غند د یوه کندك قوماندان وم .
یو تن چه آصف نومیده اود هوایي ډگر په استخباراتو کي دنده درلوده زما ملاقات ته راغي او ماته یي وویل چه ځوك غواړي تاسو د هوایي ځواك په قرار گاه کي وویني . زه له نوموړی سره په موټر کي سپور شوم او هغه زه د استخپاراتو دفتر ته بوتلم . آصف زه مرکزي دفتر ته بوالم او هلته یي خپل ریس چه وحید نومیده ور معرفي کړم . او هغه زه مسولو کسانو ته وروسپارلم او زه یوي توري تیاري کوټي کي بندي کړم او زه نه پوهیدم چه زما جرم څه دي . هغوي زما څخه تحقیق پیل کړ او په دوامداره توگه یي پوښتل چه زه له کومي ضد انقلاب ډلي سره ( چه هغوي اشرار ورته ویل ) تړاو لرم . له همدي امله زه هلته ۴۵ ورځي پاتي شوم .
هغوي د تحقیق په جریان کي د انسان شرف او عزت ته هیڅ احترام نکاوه هغوي زه په ډول ډول شکنجه کړم برقي شوکونه ، وهل ټکول او بیدار خوابي ماته راکړي . مونږ ډیر خراب حالت درلود ولي چه ژمي و او زمونږ اتاقونه د هیڅ شي په وسیله نه تودیدل او بل دا چه هغوي په ورځ کي مونږ ته نیم ساعت د لمر اخیستلو لپاره باندي ویستلو . ددي لپاره چه مونږ ډیر په عذاب کړي د ماښام له مخي به یي کله چه مونږ ته ډوډي راکوله نو بریښن به یي قطع کړه .
د پلچرخي په زندن کي داسي مستنطقین و چه په هغو باندي د انسان نوم کښیښودنه یوه لویه اشتباه ده ولي چه هغوي پر خپلو همنوعانو بندي هیڅ ډول رحم ندرلود . هلته د شکنجي مختلف وسایل موجود و چه په لومړي سر کي لرگي و چه بندیان به یي پړي وهل ټکول او زه یي هم ډیر وهلي یم . د بریښنا ورکولو مختلف الات چه د هغو په ذریعه یي مونږ ته برقي شوکونه راکول . همداراز هغوي مونږ ته داسي خبري کولي چه د هغو یادونه ډیره د شرم خبره ده . ما ټول هغه څه چه وموېلي په سترگو ولیدل او په وجود مي احساس کړل .

هغوي به مدام زما څخه دا یو سوال کاوه چه د اپوزیسیون له کوم گوند سره تړاو لرم ؟ د ۴۵ ورځو تحقیقاتو وروسته یي زه د پلچرخي زندان ته بوتلم او د ۷۵ نمبر اتاق د ۲ بلاك کي بندي کړي شوم . زه هلته څلور میاشتي پاتي شوم خو ډیر بد شرائط بکښي حاکم و . وروسته چه زه آزاد شوم خپلي پوځي قطعي ته ولاړم او هلته د پوځي استخباراتو د ریاست لخوا د هوایي ځواك قوماندانی ته یو مکتوب استولي و چه ماته په هلیکوپټر کي د پرواز کولو اجازه وذنکړي .
زه د دوهم ځل لپاره د ۱۳۶۹ کال د قوس په ۱۵ نیټه ونیول شوم ( ۱۹۹۰ کال د دسمبر په ۶ ) د خاد د منسوبینو لخوا په هوایي ډگر کي ونیول شوم او دري ورځي د هوایي ځواکونو د خاد په وداني کي بندي پاتي شوم او له هغي وروسته یي د تحقیقاتو لپاره صدرات ته واستولم او هلته په ۱۲ نمبر اتاق کي چه په دوهم پوړ کي واقع و زنداني وم . هماغه پخواني پوښتني او هماغه پخواني سزا گاني . خو یو فرق موجود و هغه دا چه فاروقي د خاد وزیر و او حسام الدین حسام د پخوا په شان د پوځي استخباراتو ریس و او وروسته له ۴۶ ورځو

شکنجي او تحقيق۵ څخه خوشي شوم خو هغوي دا وار ماته د کار کولو اجازه را نکړه ځکه چه زه پدي تورن وم چه د انقلاب ضد ډلو سره ارتباط لرم.

م . يو تن چه ۵۰ کاله عمر لري او د ننګرهار ولايت د هسکی مينې د ولسوالي د شارمخي د کلي اوسيدونکي دي . نوموړي وايي چه کله اتلس کلن و د تحصيلاتو لپاره د هيواد څخه بهر د مصر هيواد ته د راکت د زدکړو لپاره وليږل شو . نوموړي په کال ۱۹۷۷ کي د تحصيل له ختم څخه وروسته هيوادته را ستون شو او د راکت د انجنير په توزګه يي د وزارت دفاع په چوکات کي په کار پيل وکړ .
م. وايي چهه هغه وخت د افسرانو په منځ کي ډير لوي رقابت موجود د هغو افسرانو چه په شوروي کي يي درس لوستي و او د هغو په منځ کي چه په نورو هيوادو کي تربيه شوي و او هم دا چه روسي مشاورينو په اوني کي يو ځل مسلکي درسونه مونږ سره مخ ته وړل .
په ۱۹۷۸ کال کي چه کله کودتا وشوه نو نوموړۍ د په شپږمه پوځي قطعه کي د مرنجان په غونډي که دنده درلوده او دهغوي قطعه د کارته نو سيمي ته د مرنجان د غوندي شاته نتقال شوه .پدي وخت هغو افسرانو ته چه په مصر کي ي درس لوستي و د سادات زامن ويلي .
ما د خلق ګوند غړيتوب ندرلود او هغوي پدي وخت کي ګوند ته د شامليدو لپاره دعوت کړم ما څو ځلي د هغوي دعوت يوڅه وځنډاوه ددي لپاره چه ماته ډيره توجه ونکړي خو دي کار ګټه ونکړه . ما هغوي سره هيڅ ډول مذهبي مشکلات ندرلود ولي چه زه کوم افراطي مسلمان نه وم او په سياسي ګوند کي مي هم ګډون ندرلود . خو د نوموړو خلقيانو رفتار مي په خپله قطعه کي نه خوښيده او د روسانو هم په همدي ډول . يوه ورځ يوه انجنير ماته اخطار راکړ او وويل چه زه بايد د يوي ايديالوژي خاوند ووسم اود خلق دموکراتيك ګوند په ليکو کي شامل شم هغه به ويل چه د ثور انقلاب له منځه تلونکي ندي خو ما د هغه دعوت ونمانه . له هغي وروسته ماته کار کول ډير ګران شول ځکه چه له يوي خوا د روسانو د مداخلت له امله په کاري برخه کي او د خلقيانو او پر چميان رقابت او داسي هم کيدل چه کله ناکله ما داسي مخابروي پيغامونه اخيستل چه په هغو کي به ويل کيدل چه ځيني پرچميان د انقلاب ضد عناصرو سره لاس لري او خاد به زما په کارونو کي ډيره مداخله کوله.او زما لپاره يي مشکلات پيدا کول.
د ۱۳۶۰ کال د جدي په ۱۰ نيټه چه د ۱۹۸۱ کال د دسمبر له ۳۱ سره سمون خوري زه د خپلو نورو ملګرو سره په وظيفه کي وم . ۲ بجي دي شپي وي چه دري تنه افسران زمونږ کوټي ته راغلل او غوښتل يي چه زما سره خبري وکړي . ما هغوي ته وويل چه اوس نشم کولاي خو په ۸:۳۰ بجو به سره وګورو او هغوي چيرته نږدي منتظر و .زه وروسته پوه شوه چه په هغي شپي په اتو بجو زما کور او ماشومان تلاشي کړي و او کوم سند يي نه و موندلي پدي همدي خاطر ماپسي راغلي و . د سهار په ۶ بجو د نوکريوالي څخه ماته په تيلفون وويل شول چه نوموړي کسان د وزارت دفاع افسران دي او غواړي چه تاسو سره ووينې . ما له هغوي سره وليدل او پوه شوم چه د خاد غړي دي ما ځان سره داسي فکر وکړ چه هغوي ممکن ددي لپاره راغلي وي چه يوه ورځ مخته ما د قطعي د خاد مسول ته ويلي و چه د کار په وخت کي دي زمونږ مزاحمت نکوي او زمونږ په کارونو کي دي مداخلت نکوي .
هغوي ماته وويل چه ټول قوماندانان په ارګ کي راټول شوي دي او تتتاسي هم بايد هلته ولاړ شي زه يي په جيپ موټر کي کښينولم خو زه پوهيدم چه هغوي ما چيرته بيايي هغوي له ماسره ډير مودبانه او ښه رفتار وکړ .کلهچه مونږ د دفاع وزارت د ساتونکو قطعي ته ورسيدولو د هغوي رويه تغير وموند او زما څخه يي زما د افسري خولي واخسته چه دا پيښه زه په ټول عمر کي نشم کولاي چه له ياده وباسم.
پدي حال يوه تن چه روسي جاکت او پتلون يي درلوزد له دغو افسرانو څخه پوښتنه وکړه چه هغه تن مو راوسته دغو افسرانو ورته وويل چه بلي صاحب هغه له يوي کوچني کړکي څخه ماته راوکتل او ما وپيژاند چه داکتر نجيب الله د هغه وخت د خاد ريس و . د نوموړي کوټي بلي خواته يو ميز ايښي و چه سپينه روجايي پري اواره وه او څو قطري ويني هم هلته ليدل کيدي او همداراز هلته يو پلاس ، يو تلسکوپ ، او څو د نوکانو لوي او کوچني وسايل هم پراته و . خو شيه راورسيده او زما اصلي مستنطق چه لالا نوميده راغي د پوښتني وروسته هغه ماته يو کاغذ راکړ چه خانه پوري يي کړم چه په هغه کي بايد ما خپل ټول مشخصات ليکلي واي .هغه وروسته زما څخه پوښتنه وکړه چه زه د خلق ګوند غړي يم او کنه چه ما ورته وويل چه د ګوند غړي يم ، بيا يي وويل چه د کوم بل ګوند غړيتوب لرم او که نه ؟ چه ماورته وويل چه صرف د خلق ګوند غړيتوب لرم . چه د ميز د يوي خوا څخه يو سړي را پورته شو او پر ما يي ګذار وکړ چه زه وروسته هيڅ پوه نشوم چه له هغي وروسته يي زه ډير ووهلم او ډير ښکنځلي يي راته وکړي يو بل تن راغي او وويل چه دي بايد په مرمي په سر کي وويشتل شي او بيرون کي سپو ته واچول شي ما هيڅکله داسي خبري نه وي اوريدي او له مرميو څخه پر ما بدي لګيدلي .
وروسته يي زه يوه بل اتاق ته چه تياره او نمجن و بوتلم او هلته داسي ځاي و چه اصلا زه د شپي او ورځي په راتلو نه پوهيدم . زه يي د تحقيق اتاق ته راوستم او مستنطق له ما څخه په ډيره مهرباني سوالونه پيل کړل او

د خلق گوند په لوړ والي او د دښمنانو په خيانت باندي يې ډيري خبري وکړي او زما څخه يې وغوښتل چه ورسره مرسته او همکاري وکړم . خو وروسته يې ماته وويل چه هغوي خبر دي چه زه يوه مخالف گوند سره تړاو لرم او عسکر زما په وهلو ټکولو پيل وکړ او وروسته يې ماته يو عکس راوښود او وويل چه دا پيژني ما چه د نوموړي عکس خاوند نه پيژاندو چه وروسته يې له همدي امله په لوڅ بدن د ژمي په يخني کي بيرون ودرولم او څو ساعته يې وځورولم حتي دا چه وجود مي بې حسه شو کله چه ما خپلو پښو ته ټکان ورکاوه داسي فکر مي کاوه چه زما ندي او وروسته زه پر ځمکه ولويدم او يوه عسکر زه په زورهځ ودرولم کله چه هغه راڅخه ليري شو زه بيا ولويدم او بې هوشه شوم وروسته زه هغوي يوه گرم ځاي ته بوتلم تر څو چه په هوش راغلم.
تحقيقات معمولا د شپي له مخي سر ته رسيدل او کله چه زه هغوي د تحقيق اتاق ته پوتلم عسکرو ته يې وويل چه د ورځي له مخي ما پرنږدي چه ويده شم . په يوه شپه کي چه زه ډير پيخوبه وم هغوي د تحقيق اتاق ته بوتلم او زما څخه يې پوښتنه کوله چه فلاني کس پيژني پداسي حال کي چه هغه سړي ما نه پيژانده نو هغوي ماته اشاره وکړه چه پر هاغي څوکي کشينم چه هغوي دغه ځاي ته نوي راوړه . يو ځل بيا يې هغه عکس را وښوده او وويل چه ووايم چه نوموړی پيژنم او دا وعدع يې وکړه که چيري زه ووايم چه پيژنم يې نو هغوي به ماته هيڅ نوره سزا رانکړي او ما به خوشي کړي . هغوي ويل چه زمونږ صرف دغه سړي پکار دي او ما نشواي کولاي چه هغوي ته دروغ ووايم ولي چه ما نوموړی سړي نپيژاند .

ځيني وختونه مستنطقين نه پوهيدل چه زما څخه څه پوښتنه وکړي خو د پردي شاته به څوك ناست و او هغوي ته به يې شودل چه زما څخه څه پوښتني وکړي . له هغي وروسته مستنطق ماته امر وکړ چه پر مخ پر ځمکه پريوځم او عسکر ته يې امر وکړ چه زما سر پوري کښيني . او زما په وهلو ټکولو باندي يې پيل وکړ او کله چه ما ناري کړي نو يوه عسکر زه په يوه څوکي باندي پر شا ووهلم چه تر اوسه پوري يې هم نشاني زما پر وجود کي شته دي .

زه د ۳۵ ورځ لپاره په صدرات کي بندي وم او وروسته يې د پلچرخي زندان ته انتقال کړم هغوي په نوموړي زندان کي د دوم بلاك څلورم پوړ ته بوتلم او په يوه اتاق کي چه فرش يې ندرلود او يو چيرکټ پکښي ايښي و وغورځولم . او دري ورځي يې ماته ډوډي رانکړه او نوموړي اتاق تياره و . ما ناري او فريادونه کول خو نخوك نه و چه زما ږغ واوري . په څلورمه ورځ يې ماته يوه عسکري کمپله راکړه او عسکرو ته يې دنده ورکړه چه يوه شپه اوبله شپه ماته يوه ډوډي او يو جك اوبه راکړي . ما په ورځ کي يو ځل د پنځو دقيقو لپاره اجازه درلوده چه تشناب ته ولاړ شم . او ما ۱۵ ورځي په نوموړي ځاي کي په همدي حالت سره تيري کړي .

هغوي زه په ضد شوروي او ضد انقلاب باندي تورن کړي وم او ما خپله دفاعيه وليکله او بله ورځ يې زه محکمي ته وغوښتلم په هغه محکمه کي چه زه محکمه شوم د ب. د دفتر په نامه ( د ب . محکمه) يادیده چه ريس يي قاضي عبدالاول حجت نوميده( چه د نجيب الله په حکومت کي وزير د حج او اوقافو مقرر شو) .

نوموړي قاضي زما دفاعيه ونلوسته او ماته يې وويل چه نوم دي څه دي او د کوم ځاي يې ورته ومي ويل چه د شينوارو يم اوپه کومه سياسي ډلي پوري تړاو نلرم اود کوم جرم مرتکب هم نه يم وروسته له هغه يې ماته وويل چه باندي ولاړ شم او متهمينو ته به يې کاتب ږغ کاوه چه يو ساعت وروسته يې ماته هم ږغ وکړو او هر متهم به چه ورتلو نو ضرور يې بايد په يوه ليکل شوي ورقه باندي د خپلي گوتي نشان ايښي واي چه ما د نوموړي تن سره ونمنله او ورته ومي ويل چه زه يې لومړي وايم چه هلته څه ليکل شوي او بيا يې امِا کوم چه هغه ماسره جنجال وکړو او کاتب راغلو او نوموړي ورقه يې ماته داسي ويله تاسي ښاغلي م. په اوه کاله زندان د نيولو له لومړي ورځي څخه د ضد انقلاب سره د مرستي کولو په تور محکوم شولي . ما کاتب ته وويلي چه زه دا نه منم او د مشاجري په ترځ کي دروازه خلاصه شوه او قاضي را پيدا شو او وي پوښتل چه څه خبره ده ؟
ما ورته ويل چه زه دا قيد نه منم ولي چه تا زما دفاعيه هيڅ ونلوستله ، هغه راته په ورو وويل چه بچيه له دي مودي که مي کمه سزا درکړي واي زما لاسونه هم پري کيدل چه بل سوال تري ونکړ.
ما د پلچرخي په زندان کي پنځه کاله او اته مياشتي تيري کړي خو د يو نيم کال په موده کي ما د خپلي کورني هيڅوك ونليدل ولي چه هغوي ته يې اجازه نه ورکوله چه ما سره وگوري . کله چه زه ونيول شوم زما زوي د څلورو مياشتو و او کله چه ما هغوي بيا وليدل زما ورور او زما زوي چه همزولي و ما ونپيژاندل . د يونيم کال څخه وروسته زما کورني تا دا امکانات برابر شول چه په هرودريو و مياشتو کي ما د ۱۵ دقيقو لپاره وگوري او دا به پداسي حال کي تر سره کيدل چه د خاد يو غړي او يو عسکر به زما سره موجود و . د نوموړي دولت خاد زما د نيولو څخه وروسته زما پلار چه يو عادي مستري و نيولي و او په گوليو يې ويشتلي و او هغه ته يې

ويلي و چه زوي دي اشرار دي . له دي امله زما كورنى له اقتصادي ستونزو سره مخ وه چه زه به يي ډير ځورولم او دا ټول د ما د بندي كيدلو په لړ كي منځ ته راغلي او زه واقعاددغو عواملو له مخي په دوه زندانونو كي وم .

په زندان كي وضعيت ډير خراب و او داسي وضعيت و لكه چه د نجيب الله د حكومت څخه وروسته منځ ته راغي . ولي چه د مجاهدينو تر منځ خورا ډير اختلافات موجود و اول دا چه د هر تنظيم زندانيانو ځانته جماعتونه درلودل لكه د مثال په ډول په عين ځاي كه به د اسلامي حزب اړوندو ځانته مونځونه كول د جميعت اسلامي ځانته او د سلفيان ( پنج پيره ) ځانته او د هغي گروه چه هيڅ يوه تنظيم پوري ېياړه نلرله ځانته عبادت كاوه . د نومو‌ړو تر منځ ډيري جگړي پيښي شوي او هغوي به يو بل په بي ايماني ، رياكاري او جاسوسي متهمول او دا تولو يي د خپلو گټو لپاره كول .

بالاخره زه د پنځو كلو او اته و مياشتو څخه وروسته د داكتر نجيب الله د عفو په لړ كي له زندان څخه خوشي شوم . او له هغي وروسته جلا ل اباد ته ولاړم او هغه وركشاپ چه له پلاره راته په ميراث پاتي پكښي مي په كار پيل وكړ او تر اوسه هم هلته مصروف يم .

۴.۳ پر ښارونو د بمباريو د كولو په برخه كي يو اجمالي نظر
كله چه روسانو په ۱۹۸۰ كال كي افغانستان اشغال كړ نو دهغوي عمده كار د لارو د امنيت په ليرو پرتو سيمو كي د دولتي حاميت خپرول و ، خو په مقابل كي مجاهدينو هميشه د لويو لارو په نږدي ځايونو لكه كورونه ، باغونو او نورو داسي ځايونو څخه پر روسانو او دولتي ځواكونو دبريدلپاره كار اخيسته . په هغه وخت كي د روسانو او دولتي ځواكون تر بريد لاندي هغه سيمي راتلي چه داسي معلوميدي چه گواكي دا د مجاهدينو د تگ او راتگ سيمي پاكستان او ايران ته دي همداسي له هغو ځايونو چه پر روسانو بريدونه كيدل د روسانو لخوا د نومو‌ړو سيمو نږدي كليو باندي هم په اخطاريه توگه ډزي كيدلي . نومو‌ړو بمباردمانونو ټولو خلكو ته دا وريگوته كوله چه كه څوك د مقاومت له هستو سره مرسته كوي انجام به يي دا وي

په افغانستان كي د ښارونو بمباردمان تر ۱۹۸۰ كال پوري د بشر د حقوقو د سازمان په رپوټ كي راغلي دي . او داسي ويل شوي دي چه نومو‌ړي كوركورانه بمباردمانونه هره ورځ تكراريدل او ډير كسان يي په ترڅ كي ووژل شول .
نومو‌ړوي بمباردمانونه ددي لامل وگرځيدل چه د خلكو يو ډير شمير پاكستان ته وتښتي او مهاجر شي .او نومو‌ړي بمباري د بشر د حقوقو خلاف يو عمل گڼل كيده چه د عامو خلكو ژوندانه ته يي خطرونه پيدا كړي و
.
په ۱۹۸۵ كال كي د ملل متحد په عمومي شورا كي د ارماكورا هغه رپوټ ولوستل شو چه د نومو‌ړو بمباريو په برخه كي يي ليكلي و . او پكښي ويل شوي و چه د عامو وگړو په مقابل كي له څلورو قسمو غير انساني اعمالو كار اخيستل شوي و :

۱. د پوځي ځواكونو لخوا د بيرحمي او قساوت څخه ډك كارونه .
۲. د غچ اخيستني ډله ايزي وژني او بمباردمانونه .
۳. د پرسونل ضد ماينونو څخه گټه اخيستنه او د نومو‌ړو ماينونو جوړول د ماشومانو د لوبو په ډول .
۴. د بمباردمانونو نور تاثيرات .

ښاغلي ارماكورا داي وايي چه نومو‌ړي ته عيني شاهدانو ويلي دي چه باندنيو ځواكونو (روسانو ) په ټولو عملياتو كي د انتقام يا غچ اخيستني په څير غبرگون درلود او په مختلفو ولاياتو كي يي په مختلفو ډولونو له خلكو غچ واخيسته .

د ښاغلي آرماكورا د ۱۹۸۶ كال په رپوټ كي هغه موضوعات شامل دي چه په پاكستان كي ميشت مهاجرو سره يي پدي هكله مركي سر ته رسولي دي . پدي لړ كي د بمباردمان خاصي پيښي ثبت شوي او ويل شويدي چه داسي بمونه استعمال ليدل چه ۴۰ نور بمونه پكښي كي و او د ۲۴ ساعته وروسته به يي انفجار كاوه . همدارا‌ړ ويل شويدي چه روسانو د يوه بل ډول توپ څخه هم كار اخيسته چه دٌي ام ۵۴ ا ۸۷ توپونو په نامه ياديدل . او د هغوي بي ام ۴۱ او او بي ام ۳۱ تر اوسه هم د استفادي وړ دي .

د ۱۹۸۵ کال په رپوټ کي چه د ښاغلي آرماکورا لخوا خپور شو ویل شوي دي چه د سکاد راکټونه هم هرورځ په خلکو میشتو سیمو باندي د یوي دقیقي نشانګیرۍ پرته چه ۱۰۰۰ کیلوګرامه سر ګلوله یې درلوده فیریدل او په مداوم توګه د لغمان ، ننګرهار ، پکتیا ، او زابل په ولایتونو کي د اکمالاتي لارو په اوږدو کي فیر یدل .
په ۱۹۸۵ کال کي آرماکورا وویل چه بمباردمانونو یوه قصدي اړخ درلود او ددي لپاره سر ته رسیدل چه خلك له کلیو او بانډو څخه وباسي .
د نومورو بمباردمانونو د سرته رسولو ستراتیژي ته که ځیر شو نو دا په ډاګه کوي چه هغوي غوښتل له دي لاري وکړاي شي تر ځو په سرحدي سیمو کي میشت خلك یعني د پاکستان او ایران په سرحداتو کي دي ته اړ باسي چه خپلي سیمي خوشي کړي . او هغوي وکولاي شي چه په نومورو سیمو کي یو امنیتي کمر بند جوړ کړي .

د ۱۹۸۶ کال د اپریل په ۱۲ نیټه د یوه ضربتي عملیاتو په ترڅ کي د اندخوي په ولسوالي کي له ۸۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ تنو پوري ووژل شول او همدارار په متقابلو عملیاتو کي چه د جون په ۵ نیټه د ۱۹۸۶ کالد افغان پوځ او مخالفینو تر منځ تر سره شول د سیمي ۱۰۰ تنه بیګناه وګړي ووژل شول .

د بشر د حقوقو سازمان له هغو بمباردمانونو چه ۱۹۸۴ کال کي په هزاره جات کي تر سره شوي و هم رپوټ ورکړي دي او یو عیني شاهد داسي ویلي دي :
زه لس ورځي دمخه له جلریز څخه راغلم او هلته د هر راز الوتکو لخوا بمباردمانونه کیدل . او پدي ترڅ کي یي د خلکو کورونه ، باغونه او د کرني ځمکي هم ویشتلي او زمونږ کلي دوه ځلي بمپاري شو . هغو غوښتل چه پر مجاهدینو بمونه واچوي خو هغوي نشواي کولي او د هغه پر ځاي یي د خلکو پر کورونو ، بازار باندي بمونه اچول چه ډیر غیر پوځي وګړي پکښي ووژل شول .
۲۰ ورځي دمخه دغه راز بریدونه د جاغوریو د سیمي په کلیو ، د راسته او دره تنګي په سیمو کي هم تر سره شول . او هره ورځ به هلیکوپټرونو د نومورو سیمو په اسمان کي الوتني کولي . لدي څخه یوه نیمه میاشت دمخه د بهسودو په سیمه کي هم یوه ورته برید وشو چه په پایله کي یي ۵۰۰ تنه ماشومان او ښځي ووژل شوي . چه د دولت پلي پوځ هم دره ته داخل شوي و خو د توپونو د ډزو له کبله ډیریي ووژل شول .

د ملل متحد رپوټ ورکونکي وایي چه د روسانو د وتلو څخه دمخه او د وتلو په ترڅ کي روسانو د خپلو ځواکونو محافظت د ډیر درانه بمباردمان په ذریعه کاوه. اونوموړي رپوټ ورکونکي داسي ویلي دي :
د شورویانو د ځواکونو د وتلو نښته هره ورځ د مخالفینو د بریدونو له کبله اوږدیده او پدي تر څ کي عامو خلکو ته ډیر تاوانونه وررسیدل . پدي لړ کي د یوي ډیر لویي پیښي یخلي کوي او وایي چه په ۱۹۸۹ کال کي د جنوري په اخر کي شورویانو د سالنك په سیمه کي د توپونو او توغندیو په ګذارنو ۶۰۰ تنه وګړي ووژل . چه شوروي منابعو دا عمل د خپلو پوځیانو د ساتلو او محافظت لپاره یوه ښه لار وښوده او دا یوه دفاعي لار وه او بل څه نه . همداسي ویلي شو چه پدي شان نور بریدونه هم د هیواد په بیلابیلو سیمو کي تر سره شوي دي چه په عمده توګه د د کنړ ، پنجشیر ، پروان ، بامیان ، وردګ ، ننګرهار او میدان کي تر سره شویدي .

د بشر د حقوقو د سازمان د رپوټ په اساس شورویانو دغیر پوځي خلکو پر ضد په نومورو پیښو کي د فاسفورس داره او اور اچونکو بمونو څخه هم کار اخیستي دي .
نوموړي رپوټ ورکونکي د زهري ګازونو د استعمال څخه هم ویلي دي . په یوه رپوټ کي چه په ۱۹۸۵ کال کي خپور شویدي ویل شویدي :
الف ) رپورترانو داسي خلګو سره د پیښور او کویټي په ښارونوپه روغتونونو کي مرکي کړیدي چه هغوي ویلي دي چه د زهري ګازونود استعمال په پایله کي داسي شویدي.
ب ) څو نور رپوټونه د هغوکسانو شاهدي خبري کړیدي چه وایي روسانو په اوبو ، میوجاتو او خوړو کي د کیمیاوي موادو د استعمال نښي وایي او د داسي بمونو استعمال یادوي چه اور اچونکی خصوصیت یي درلود .

په یوه بل رپوټ کي ویلي شویدي چه د هغو مخالفینو پر ضد چه په کاریزونو کي پټیلدل د ځینو قسمونه ګازونه په هغه وخت کي استعمالیدل چه د رپوټ مطابق نوموړي ګازونو ډیر وګړي ټپیان کړل .
ددغسو کیمیاوي وسلو د استعمال د څلور مورده په دغو ولایاتو کي رپوټ ورکول شویدي : د کندز ولایت ، پکتیا ، کابل ، وردګ .
په یوه مرکي کي چه د عدالت پروژي د یوه عیني شاهد سره کړیده ویل شویدي دي چه ګاز د هغو خلکو پر ضد هم استعمال شویدي چه په غارونو کي پټ شوي و . ج.ر د اچین د ولسوالي د سپیني خولي د کلي

اوسيدونكي عدالت پروژي ته داسي وويل په يوه پيښه كي په ۱۹۸۵كال په اوړدو كي روسانو د هغو خلكو پر ضد گاز استعمال كړلو چه له ډار څخه په غارونو كي پټ شويڅ و .
د شواهدو څخه داسي معلوميږي چه په نوموړي پيښه كي مجاهدين د روسانو د محاصري لاندي راځي او د مجاهدينو سره گډ د كلي بيگناه خلك او د گاونديو كليو ځيني كسان هم په غارونو كي ددي لپاره ځان پټ وي چه ځان د روسانو له شر څخه خلاص كړي خو روسانو پر هغو گاز استعمال كړلو او له ۱۰۰ تنو څخه ډير كسان په نوموړې پيښه كي تلف شول .

د ۱۹۸۳ كال د كب د مياشتي په ۲۷ نيټه د اچين د ولسوالي د سپيني خولي د كلي په شاوخوا باندي د روسانو ځواكونو بريد و كړ په لومړي سر كي هغوي د هليكوپترو په ذريعه كوماندو عسكر د كلي شا وخوا كي كوز كړل او وروسته يي الوتكو ، تانكونو او نورو زرهي وسايلو په كلي بريد وكړ . د اسلامي حزب ځواكونو د انجنير سيال فقير په مشري له دغو ځواكونو سره يو څه مقاومت وكړ او وروسته وتښتيدل ( شاهد ندي ويلي چه د اسلامي حزب ځواكونه هم غار ته ننوتل خو بيگناه خلك پكښي ډير و ) په همدي ډول د كلي اوسيدونكي چه پكښي ښځي ، كوچنيان ، نارينه شامل و د ځان د مصونيت لپاره يوه غار ته چه د حاجي گل رحمن د غار په نامه ياديږي پناه يووړه نوموړي غار ۷۰ متره اوږدوالي لري . ځينو خلكو چه د نازيانو او بندر د كلي څخه و هم د خپل ځان د خوندي كولو لپاره نوموړي غار ته پناه وړي وه . په هماغه ورځ سهار وختي د روسانو هليكوپتري راغلي او له بالونو څخه يي د گل رحمن عار باندي گاز خوشي كړ . هغه خلك چه لدي پيښي ژوندي خلاص شويدي وايي چه نوموړې گاز هومره ډير تاثير ندرلود فقط له سترگو څخه يي اوښكي بهولي او سترگو كي يو ډير بد سوزش پيدا كاوه .
د مازديگر په پنځو بجو روسانو يو لوس بالون د غار خولي ته راوړ او هغه يي د غار په خولي كي كنفجر كړ چه وروسته له ډير ژور غږ څخه د غار په خولي كي اور بل شو او وروسته له څو دقيقو د غار څخه ښځي ، كوچنيان پداسي حال كي راووتل چه ټولو د سترگو له درد ، نفس تنگي ، استفراغ څخه شكايت درلود .
روسانو د نوموړو خلكو انتظار د غار په خولي كي كاوه او په يوه سطل كي يي د اوبو په منځ كي تابليت اچولي و او هغه كسان چه له غار څخه را وتل هغوي ته يي وركول چه وروسته له څو دقيقو هغوي بيرته عادي حالت ته راتلل . او هغه كسان چه د غار په دننه كي پاتي شول ټول مړه شول . مجموعا په غار كي ۱۰۰ تنه و چه د هغوي له ډلي ۵۲ تنه مړه شول او ۴۸ كسان چه له غاره څخه راووتل او اوبه يي وڅښلي روغ پاتي شول .
د نوموړووژل شويو په ډله كي زما ورونه سيال ، سيد فقير ، غلام فقير او ښځي او ماشومان هم شامل و . او يو مختصر لست د هغو كسانو چه د اچين په ولسوالي كي په غار كي مړه شويدي زما سره موجود دي :

۱ . منگل د مير اكبر زوي د ننگرهار ولايت د اچين د ولسوالي د سپيني خولي د كلي اوسيدونكي.
۲. عرفات د منگل زوي د ننگرهار ولايت د اچين د ولسوالي د سپيني خولي د كلي اوسيدونكي.
۳. احسان الله د عرفات زوي د ننگرهار د اچين د ولسوالي د سپيني خولي د كلي اوسيدونكي.
۴ . نقره د صديق الله لور د منگل ميرمن .
۵ . بازار .
۶ . انجنير سيال رحمن د گل رحمن زوي .
۷ . سيد فقير د گل رحمن زوي .
۸ . گل فقير د گل رحمن زوي .
۹ . فانوس د قلندر شاه زوي .
۱۰ . اوزي گل د حاجي شريف زوي .
۱۱ . ميوه گل د حاجي شريف زوي .
۱۲ . نازولي د امير گل زوي .
۱۳ . نازيه د عبذالقادر لور .
۱۴ . د گل فقير ځوانه لور .
۱۵ . سجانه د امير جان لور .
۱۶ . حسن پري د حاجي ئاغي لور .
۱۷ . سيد كبير د محمد كبير زوي .
۱۸ . نياز مير د گل بيران زوي .
۱۹ . پيسار د زرياب زوي .
۲۰ جان پري د ملا منگ لور .
۲۱ . نظر خان د خان عزيز زوي .

۲۲ . یار جان د سید امین زوي .
۲۳ . پاپوش د شازو زوي .
۲۴ . دیدار د علیم جان زوي .
۲۵ . سلطان محمد د دین محمد زوي .
۲۶ . ابي گل د پاپوش لور .
۲۷ . اختیاره د وزیر لور .
۲۸ . الله نظر د عبدالخالق زوي .
۲۹ . د اختیاري د وزیر د لور کو]ني زوي .
۳۰ . اسرار د تاج محمد خان زوي .
۳۱ . حاجي میرام د شیرین خان زوي .
۳۲ . فیل محمد د رحمن زوي .

هغه نور کسان چه په نوموړي پیښه کي مړه شوي و او دنورو کلیو و د هغوي د خپلوانو په دریعه خپلو سیمو ته وړل شوي او هلته خاورو ته سپارل شویدي .
د سپیني خولي د کلي هغه اوسیدونکي چه له غار څخه راوتلي و او اوبۀ یي څښّي وي او ژوندي نومونه یي دادي :

۱. شاد بیٔ بي د خټك لور د سپیني خولي د کلي اصلي اوسیدونکی .
۲. بي بي حاجي سپوږمي د میرزا محمد لور .
۳. حاجي رحمن الله د منگل زوي .
۴. سارا د باغ لور .
۵. مامور د سید رحمن لور .
۶. تاج مینا د حسین گل لور .
۷. خاتول د منگل لور .
۸. زیتوار د منگل لور .
۹. د منگل یوه کوچني لور .
۱۰ . بینظیره د سور لور .

لس تنه پورته ذکر شوي کسان له لومړي سر څخه په غار کي و او کله چه د روسانو له خوا کاز استعمال شو او د هغوي وضعیت خراب شو نو بیا مجبوره شول چه له غاره څخه راووځي .او ټولي پیښي یي په خپلو سترگو لیدلي دي . ۳۸ تنه نور چه له غار څخه ژوندي راوتلي و د نورو کلیو و او یا دا چه روسته بخه مړه شوي وي . قوماندان سیال فقیر ویلي دي چه د گازو د استعمال څخه وروسته زمونږ وسلي له کاره څخه ولویدي او په هغه وخت نو کوم داسي با تجربي کس او نه کوم لابراتوار موجود و چه دا گوم ډول گاز و . پدي لړ کي تقریبا ۳۰۰ پسونه او غوایي هم مړه شول . روسانو زمونږ کورونو ته اور واچاوه و مونږ ته یي هیڅ شي پرنښودل . د روسانو د تلو څخه وروسته بیا د غني خیلو ، د اچین د ولسوالي ، نازیانو او دریاب د سیمو څخه خلك راغلل او نوموړی مړي یي خاورو ته وسپارل . پدي لړ کي ما هم یو مړي له غار څخه راویسته او خلکو د نورو سیمو مړي له ځانه سره یوړل او وروسته بیا مونږ هغه ځاروي چه مړه شوي و خاورو کي ښخ کړل .

له هغي وروسته د کلي د محلي شورا او سپین ږیرو لخوا یو لیك د شویو جنایاتو په برخه کي د وخت حکومت او د مجاهدینو تنظیمونو ته پاکستان را واستول او په هغي کي مو له هغوږ څخه غوښتنه کړي وه چه راشي او وگوري چه څه جنایات زمونږ په سیمه کي تر سره شویدي خو چا زمونږ پوښتنه ونکړه چه له هغي وروسته ما هم خپله گډه پاکستان ته راوسته .

## د لغمان په کڅ عزیز خان کي پوځي عملیات د ۱۹۸۴ کال په ترڅ کي

د لغمان ولایت د روسانو داشغال په دور کي ډیر د غچ اخیستني عملیات تجربه کړي دي او په لړ کي یي ډیر غیر پوځي وگړو ځانونه له لاسه ورکړي دي . په هغه وخت کي به د روسانو ځواکونه په دوامداره توگه د کابل _ جلال آبآد په لویه لار په تگ او راتگ کي و او نوموړی ځواکونه به د مجاهدینو لخوا د کمینونو سره

مخ کیدل . چه د ۱۹۸۴ _ ۱۹۸۵ کلونو په اوږدو کي مجاهدینو خپل عملیات د درونټه له بند څخه تر پلچرخي پوري پر مخ بیول . او په مقابل کي د کارمل د حکومت پوځونو او شورویانو تلافي کونکي عملیات تر سره کول .
د عدالت پروژي ته ځیني عیني شاهدانو داسي ویلي دي چه د ننګرهار د ولایت د استخباراتو ریس داکتر ضمیر میهن پور او د ختیځ زون مسول داکتر خدایداد بشرمل د خپلو شوروي ملګرو په مرسته ۱۹۸۴ ۱۹۸۵- کال کي د عزیزخان کڅ په سیمه کي تصفیوي عملیات تر سره کړل ، او عبدالملك د خاد د پنځم ریاست ریس هم په نوموړو عملیاتو کي سهم او ګډون درلود . عیني شاهدان وایي چه کله دولتي او شوروي ځواکونو د عزیز خان :خ کلي محاصره کړ پدي وخت کي مجاهدین په کلي کي نه وه ( هغوي ټول تښتیدلي و) او هغوي د مجاهدینو لټون د کلي په کورو کي پیل کړ او یو مجاهد یي هم پیدا نشواي کړاي ، بیا یي د کلي خلکو ته امر وکړ چه ټول سره غونډ شي او وروسته چه هغوي راټول شول هغویي د هغوي د ځارویو سره یو ځاي په ګولیو وویشتل چه په نوموړي پیښه کي ۷۲ تنه ووژل شول چه د هغوي په منځ کي سپین ږیري ، ماشومان او ښځي شاملي وي چه له نوموړي پیښي وروسته د عزیز خان د کڅ د کلي خلکو دغه سیمه پریښوده او پاکستان او نورو سیمو ته مهاجر شول .

ج. د عزیز خان کڅ یو پخواني اوسیدونکي وایي چه د شورویانو او حکومتي پوځونو لخوا د ۱۳۶۲ کال د دلو د میاشتي په ۲۴ نیټه کلي محاصره شو او سهار وختي نوموړو ځواکونو د کلي د کورونو په تلاشی پیل وکړ .چه عبدالملك د خاد د پنځم ریاست ریس هم د هغوي په ډله کي و . چه داکتر ضمیرمیهن پور د ننګرهار د هغه وخت د استخباراتو ریس او داکتر خدایداد بشرمل د نوموړي پیښي مسولین ګڼل کیږي .چه خلکو په هغه ورځ هلته لیدلي دي چه عبدالملك هم ورسره و .
هغوي د کورونو د تلاشي په جریان کي ۷۲ تنه کلیوال له کورونو راویستل او کله یي چه په کلي کي وسلي لاس ته ورنغلي نو بیا دا ۷۲ تنه په ګولیو وویشتل چه د نوموړو وژل شویو کسان په ډله کي هیڅ یو مجاهد نه و نوموړي خلك ټول له کورونو څخه راویستل شول او د نوموړو د کروندو خوا کي ووژل شول . زما یو زوي چه آصف خان نومیده هم د وژل شویو کسانو په ډله کي و . او نوموړي یي د کور مخي ته په یوه ویاله کي ویشتلي و . او کله چه ما د زوي جنازه ومونده هغه مي د عزیزخان کڅ په هدیره کي خاورو ته وسپارله . کله چه دولتي پوځونه ولاړل نو د کلي سپین ږیرو د وژل شویو کسانو جنازي په هدیره کي خاورو ته وسپارلي . نوموړي ځاي د کابل – [لا ل آباد د لویي لاري په اوږدو کي ددرونټي د بند په لس کیلومتري کي واقع ده چه په هغه وخت کي به مجاهدین د شپي له مخي کلي ته د ډیر کم وخت لپاره راتلل او د دولت له ویري به بیرته تلل .

ا.ك. د عزیز خان کڅ یو ه پخواني اوسیدونکي نوموړي پیښه په همدي ډول بیانت کړي ده :
په ۱۹۸۴ کال کي مونږ په لغمان کي و یوه ورځ د شوروي ځواکونو لخوا زمونږ کلي محاصره شو . هغوي د سهار له مخي وختي د کورونو تلاشي پیل کړه او زمونږ کورته راغلل زما پلار چه یو عادي بزګر و هغوي له کوره څخه وویست او وروسته له څو دقیقو زمونږ تر غوږو د ډزو غږونه شول . ما او زما مور په ډیره عجله له کوره څخه ووتو چه وملیدل چه زما د پلار جنازه پرته ده او په ګولیو سوري سوري شوي دي . په نوموړي پیښه کي زما د پلار په ګډون ۷۲ تنه ووژل شول . مونږ د خپل پلار جنازه د عزیز خان کڅ په هدیره کي خاورو ته وسپارله او خپله مو پاکستان ته کډه وکړه . که مونږ وختي پوه شوي واي چه شورویان سیمي ته راځي مونږ لا وختي دا سیمه پریښودلي واي چه زمونږ پلار نه واي وژل شوي .

م.س . د عزیزخان کڅ یو بل اوسیدونکي داسي وایي :
زه په هغه وخت کي ۴ کلن وم چه روسانو د شپي لخواپه خپلو ټانکونو سپاره زمونږ کلي ته راننوتل او د هغوي هلیکوپترونو پر سر ورته ګزمه کوله . زما مور ماته وویل چه دغو پوځونو په هماغه ورځ سهار وختي د کورونو لټون د مجاهدینو د موندلو لپاره پیل کړ خو یو مجاهد یي هم په ګوتو ورنغي ځکه چه هغوي لا وختي خبر شوي و او له کلي څخه تللي و او وروسته بیا نوموړو پوځیانو د کلي ۷۲ تنه په ګولیو وویشتل او ویوژل .
هغوي زما پلار زمونږ د کور په انګړ کي په ګولیو وویشت زما پلار مختار نومیده او یو بزګر و . د پلار د ښخولو څخه وروسته مونږ د جلا ل اباد ښار ته د خپل ماما چه عبدالهادي نومیږي کورته راغلو او سیمه مو پریښوده . زما فقط دومره په یاد دي چه زما د پلار جنازه پر ځمکه پرته وه او دکلي سپین ږیري راغلل او هغه یي پورته کړه او د نورو جنازو سره یي یو ځاي په هدیره کي خاورو ته وسپارله . زما د پلار نه بهُیر ۷۱ تنه نور هم په همدي ورځ وژل شوي و . زما مور راته ویلي دي چه د نوموړو کسان په منځ کي ډیر بزګران او چوپانان او حتي ښځي شاملي وي . نوموړي هدیره د کابل – جلا اباد په لویه لاري کي واقع ده او تاسي کولاي

شي چه هغه وګوري او پدي سر بيره د نوموړي پيښي په برخه کي د عزيز خان کڅ د سپين ږيرو څخه هم پوښتنه کولاي شي .

ط . د عزيزخان کڅ يو اوسيدونکي داسي وويل :
د شورويانو او حکومت پوځونو د عزيزخان کڅ کلي تر خپلي محاصري لاندي راوستي و او د مجاهدينو او مخالفينو په لټون کي و خو هلته مجاهدين نه و او هغوي د کلي عادي وګړي ونيول . ددغو پوځونو سره يو تن د عبدالملك په نامه لاربښونه کوله چه د خاد د پنځم رياست ريس و او شورويانو د کلي ۷۲ تنه ونيول او هغوزي ټول په ګوليو وويشتل چه په هغو کي سپين ږيري ،ښځي ، ماشومان شامل و . او کله چه روسان ولاړل بيا خلکو نوموړی وژل شوي کسان ښخ کړل . زما ورونه په هغه وخت کي عادي بزګران و او په کوم پوځي فعاليت کي برخه ندرلوده په همدي اساس زه وايم چه زما د ورونو د وژني مسوليت د روسي او حکومتي ځواکونه پر غاړه دي . په هغي ورځ چه کله روسان ولاړل مونږ ټول اجساد راټول کړل او د عزيز خان کڅ په هديره کي مو خاورو ته وسپارل .

پروفيسور آرماکورا د دغه راز وژنو يو بل رپوټ هم ورکړي چه د ۱۹۸۵ کال د مارچ د مياشتي له ۱۱ څخه تر ۱۸ پوري کابو ۱۰۰۰ تنه غير پوځي کسان په انتقام اخيستونکو عملياتو کي چه د قرغه يي د ولسوالي په ۱۲ کليو کي د روسانو لخوا تر سره شوي و وژل شوي دي . د همدي عملياتو په ترڅ کي د خلکو څاروي تلف شول او د خلکو کورنه لوټ شول او اور ورته واچول شو ، ښځي د جنسي تيري لاندي واقع شوي او يا په وحشيانه توګه ووژل شوي او ماشومان په بندو کورو کي وسوځول شول .

د ځينو هغو کسانو نومونه په لاندي ډول دي چه په نوموړی ډله ايزه وژنه کي وژل شويدي :

| ګڼه | نوم | دپلار نوم | د اوسيدو اصلي ځاي | د اوسيدو اوسني ځاي |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ګل رحمن | | عزيز خان کڅ | کچه کړي |
| ۲ | محمد نبي | عبدالرسول | ~ | کچه کړي |
| ۳ | محمد علم | عبدالرسول | ~ | کچه کړي |
| ۴ | ګلالي | حفيظ الله | ~ | نوي کارته کابل |
| ۵ | ګل جيبه | علام دستګير | ~ | پاکستان |
| ۶ | زينبه | غلام دستګير | ~ | پاکستان |
| ۷ | ملا عبذالوهاب | | ~ | هريپور |
| ۸ | بي بي خديجه | ملا عبد الوهاب | ~ | هري پور پاکستان |
| ۹ | ويس خان | محمد امين | ~ | پاکستان |
| ۱۰ | اشرف | محمد امين | ~ | پاکستان |
| ۱۱ | کوثر | محمد امين | ~ | پاکستان |
| ۱۲ | رحيم خان | غلام محمد | ~ | عزيز خان کڅ |
| ۱۳ | کمال الدين | | ~ | کچه ګړي |
| ۱۴ | هاشم | ښايسته خان | ~ | کچه ګړي پيښور |
| ۱۵ | عبدالمنان | شير محمد | ~ | پيښور |
| ۱۶ | مختار | عبدالقدوس | ~ | انګور باغ |
| ۱۷ | امين | | ~ | مجبور آباد _ جلا ل اباد |
| ۱۸ | صلاح الدين | حاجي لونګ | ~ | ~ |
| ۱۹ | هرات خان | شينواري | ~ | ~ |
| ۲۰ | زر ګل | رحمن | ~ | عزيز خان کڅ |
| ۲۱ | رويدار | | ~ | عزيز خان کڅ ـ لغمان |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | عمرا خان | | ~ | پاکستان |
| ۲۳ | محمد انور | | ~ | پاکستان |
| ۲۴ | | | | |

## ۵. د شوروپانو په شاتګ او له هغي وروسته دوره

### ۵.۱ په سیاسي اوضاع کي بدلونونه د شوروپانو د په شاتګ څخه وروسته

د ۱۹۸۶ کال د مي په میاشت کي داکتر نجیب الله چه د خاد ریس و د خلق دموکراتیك ګوند د عمومي منشي په توګه مقرر شو همداراز نوموړي د ببرك کارمل پر ځاي د انقلابي شورا ریس هم وټاکل شو او ببرك کارمل شوروي ته ابعید کړاي شو . د ۱۹۸۸ کال په وروستیو کي ګورباچف تصمیم ونیوه چه شوروي ځواکونه له افغانستان څخه وباسي .

د ۱۹۸۷ کال د جنوري په میاشت کي د خلق ګوند لوړ پوړي رهبران په ماسکو کي د يوي غونډي پهترڅ کي پدي یوه شول چه شوروپان نور غواړي له افغانستان څخه خپل پوځونه وباسي . له هغي وروسته جمهور ریس نجیب الله د ملي پخلاینې اعلان وکړ او نورو احزابو ته يي په واك کي د مشارکت بلنه ورکړه او د زندانیانو عمومي عفو يي اعلان کړه او همداراز يي یو اوربند اعلان کړ.

د ژینو د معاهدي مطابق چه د ۱۹۸۸ کال د جون د میاشتي په ۱۴ نیټي د شوروپانو د وتولو په برخه کي له افغانستان څه د پاکستان ، متحده ایالاتو او شوروي لخوا امضا شوي وه او په هغي که ویل شوي و چه دواړه خواوي به د جګړي کونکو اړخونو سره مرستي نه کوي خو دغو مرستو تر ۱۹۹۰ کال پوري دوام وموند .

داکتر نجیب الله د خپل ګوند نوم د حزب وطن په نامه ونوماوه او په رسمي ډول د افغانستان نوم د افغانستان جمهوري دولت کښیښود.

### ۵.۲ ملیشي او د هغوي سر غړونې د قوانینو څخه

د شوروي ځواکونو برعلاوه حکومت د ملیشو ځواکونو د ډیرولو لپاره جدي کوشش کاوه چه د هغوي د وفاداری له کبله دهغوي مصارف د شوروپانو لخوا ورکول کیدل . نوموړی ځواکونه د شوروپانو د موجودیت او له هغه څخه وروسته د یوه غیر رسمي ځواك په ډول اجراات کړي و او تر اخره پوري په واك کي پاتي شول . او دا چه د ملي اردو ځواکونه چندان پیاوړي نه و نو حکومت په دغوملیشو ډیر اعتماد درلود . او نوموړو ملیشو د مخالفینو په مقابل کي یو لوي ځواك جوړ کړي و .

د۱۹۸۰کال په روستیو کي د حکومت لخوا عسکري ته خلکو نیولو خلك دي اړ ویستل چه خپلو محلي ملیشو کي ځان داخل کړي او داکتر نجیب الله د ملیشو پراخیدنه د مصالحي د پروګرام یوه برخه ګڼله . او د رژیم لخوا اپوزیسیون ته یوه ډیره ښه لاره د تسلیمي ګڼل کیده ځکه چه د ملیشو ډیر ځواکونه د پخوانیو مجاهدینو څخه جوړ شوي وي او د ملي امنیت وزارت د نوموړو ملیشو سره داسي پروتوکولونه امضا کړي و چه په سیمه باندي د پوره واك څخه علاوه هغوي ته يي ډیري پیسي او وسلي هم ورکولي . اګر دغو ملیشو د اردو د دستوراتو څخه پهر اجرات کول او د خپلو تر کنترول لاندي سیمو کي يي خپل حکومتونه درلودل . دولت ددغو ډلو د کنترول په برخه هیڅ عملي ګامونه وانخیستل او اردو هم وروسته نشواي کولاي د نوموړو د خلاف عملونو مخه ونیسي . اګر چه د ځینو اعمالو د اجرا کولو امر له پاسه ورته کیده او خو د نړیوالو قوانینو له مخي دغه ملیشي د اردو لوه برخه شمیرکیده او د مسولیت په کتار کي راتله .

په واقعیت کي نوموړو ملیشو هیڅ دسپلین ندرلود او د هیڅا فرمان يي په ځان نه مانه . دغو وسله والو پخپلو سیمو کي خپل حکومتونه درلودل او د قوانینو په ماتولو کي يي شهرت درلود .

نوموړي ملیشي د خلکو په لارو کي کمینونه کول ، د مهاجرو لاري به يي نیولي او د هغوي شتمني به يي غلا کوله ، د تجارانو سرمایه او دارایي به يي غضبولي ، د خلکو ځمکي به يي په زوره نیولي ، په ناقانونه توګه د ماینونو په کښینولو کي او بداسي نورو غیر انساني اعمالو تورن دي . په ۱۹۹۰ کال کي داکتر نجیب الله له دي کبله ټولو ملیشو ته له کابل ښار څخه د وتلو امر وکړ ولي چه د نوموړو ملیشو د مختلفو ګروپونو تر منځ به نښتي کیدلي .

یوه له توانه ډکه ملیشه ځواك په شبرغان کي د جوزجان ولایت په مرکز کي د عبدالرشید دوستم لخوا رهبري کیده . دوستم د ۱۹۷۸ کودتا په وخت کي یو عادي کارګر و خو وروسته بیا ملیشو ته راغي او د خلق دموکراتیك ګوند غړي او د پرچم ډلي پوري يي اړه لرله . هغه وخت چه پرچمیان د خلقیانو په ذریعه وځپل

شول ، دوستم هم خپل کار پرېښود او د بېرك د راتلو سره سم يي خپله مليشه قطعه سمبال کړه چه وروسته د ۵۳ فرقي په نامه ياديده او د دوستم لخوا رهبري کيده . خو د دفاع وزارت له خوا يي خپل د کارونو رپوټ مستقيما داکتر نجيب ته ورکولو . د ټولو مليشه ځواکونو په منځ کي دا يواځيني ځواك و چه د خپلي سيمي څخه يي پهر هم عمليات تر سره کول . کله چه شورويان له افغانستان څخه په شا شول نو دغه مليشي کندهار ته واستول شوي . خو په ۱۹۹۰ کال داکتر نجيب دغه ځواکونه له کابل څخه له دي کبله وويستل چه هغوي د خلکو په تښتونو ، چور تالان ، او د نورو ډلو سره د جګړو کولو کي متهم شول .

## د جوزجاني مليشو او نورو مليشه ډلو د پيدايښت تاريخچه تر ۱۹۹۲ کال پوري

نوموړي سياسي او پوځي جوړښت چه بيا وروسته د جنبش په نامه ويادول شو د کارمل _ نجيب په دور کي اساس گزاري شو او مقصد يي په سيمه کي د يوه نوي ډول پوځي ځواك او قدرت ښودنه وه. خو دغسي يو جوړښت د مجاهدينو د لښکرو په منځ کي هم وجود درلود چه هغوي هم د منطقوي او قومي مسايلو پر بنسټ او د نورو سازمانونو د ضهور چه د نژادي تعصب پر بنياد ولاړ و . او د نوموړو مليشو جوړيدنه زمونږ جامعه عمدا د قومي او ژبنيو تعصباتو خواته پوتله .
د جنبش اصلي مرکز په ۱۹۹۲ کي را پيدا شو او د هغو ځواکونو له خوا اداره کيدل چه د نجيب الله په اردوکي يي رسميت درلوده . د دوستم او په مشخصه توگه د ازبك ځواکونو چه د دوستم په شاوخوا کي يي ايتلاف کړي و په دغي تاريخچي کي يو اساس موقعيت لري او دوستم د نوموړو ځواکونو د يواځيني قوماندان په توگه په ۱۹۸۰ کلونو کي ډير لوي شهرت ته ورسيد .
د نوموړوي مليشي جوړښت ته ورته نور وسلوال مليشه ځواکونه هم د اردو او پوليسو تر څنگ د افغانستان په ډيرو برخو کي جوړ شول . چه په هغو کي يو څه ييي په کمونيستي گوند پوري اړه لرله ونورو د محلي او قبيلوي مشران لخوا جوړي شوي وي . چه د څو کلونو په تيريدو د نوموړو شمير ډيرشو . د هغوي له ډلي څخه ډير د خپلو له سيمو څخه نورو سيمو ته د دفاع کولو لپاره ووتل او په هغه جلب او جذب چه دوي به کاوه کاملا يوي پوځي قطعي ته ورته و .

کله چه په هغه وخت يو شمير د مجاهدينو قوماندانان دولت ته تسليم شول نو هغوي هم خپله سيمه کي په مليشه جوړولو اخته شول او پدي ډول يي وکولاي شول چه د خپل تر واك لاندي سيمه او وسلوال په خپله ولکه کي وساتي او ځينو يي داسي فعاليتونو کي ونډه واخيسته چه ددوي له سيمو څخه ليري و او نوموړي مليشه ځواکونه د ثور انقلاب په دفاع کي ډير موثر تمام شول

په شمال کي اکثرا پخواني پښتانه مجاهدين چه په پيښور کي منځ ته راغلي و د دولت ليکو ته واوښتل او ځانته يي ددي لپاره چه خپل هويت په نوموړو سيمو کي خوندي وساتي مليشه يي ځواکونه جوړ کړل . او نورو لرکيو هم يا د پيسو او وسلو په ورکولو د دولت لخوا په نوموړي عمل پيل وکړ.

د داکتر نجيب الله د حکومت په اخر کي په شمال کي هغه مليشي پاتي وي او حاکمي وي چه صرف د نجيب څخه به يي اطاعت کاوه . د دغو مليشو په ډله کي ځيني د وسله وال پوځ لخوا ،حيني د خاد لخوا او ځيني هم د کورنيوچارو وزارت لخوا اکماليدلي چه وروسته د نوموړو ځواکونو په قوماندانيانو کي ځيني بدلونه را په گوته شول چه د ډيرو اختلافاتو لامل وگرځيدل .له دي څخه به غير نوموړو مليشو په مختلفو سياسي ډلو او مختلفو مذهبي فرقو پوري اړه لرله چه هر چا د خپل سياسي تگ لاري لپاره ډير هڅي کولي . په ټيټه سطحه کي په لومړيو کلونو کي د مجاهدينو د بريدونو پر ضد دريدل اصلي دنده شميرل کيده خو بيا وروسته دا کار هم د ستونزو سره مخ شو .

پداسي حال که چه نوموړي مليشي د هغه څه چه اټکل يي کيده په ډيره توگه سمبال شوي او د يوي منظمي اردو سره يي مقايسه کيدلي شواي . د هغو د جګړو په وخت دا سي کارنامي وښودي چه لکه يوه منځ پوځ چه پوره ښونه او روزنه يي ليدلي وي . د نوموړو مليشو په ډله کي د سيد منصور نادري او دوستم قطعات په دايمي توگه د اردو په ليکو کي تنظيم شوي و او ځانته يي فرقي درلودي او د داکتر نجيب الله د حکومت تر اخري پوري يي د هيواد په ډيرو سيمو کي خدمت کاوه . نورو مليشو خپلو سيمو کي د امنيت د ټينگښت لپاره څه گامونه پورته کړي و او د هغوي شتون هم پدي کي و او هغوي يونيفورم هم درلود .

د دوستم د قطعي د پراختيا تاريخچه د يوي منظمي پوځي قطعي د پراختيا په څير وه . اگر چه نوموړي د خپلو ځواکونو په منځ کي د مجاهدينو ډير شمير لکه د نورو مليشو په شان ندرلود .

دوستم خپله د عسکري دوره د پراشوت په یوه قطعه کي په ۱۹۷۰ کال کي پاي ته رسولي وه او هلته یي ټول لازم پوځي تمرینات زده کړي و .چه له هغي وروسته یي ترخیص اخیستي و . اووروسته یي د شبرغان د ګازو او نفتو په پروژه کي ځانته کار پیدا کړ او د ثور تر انقلاب پوري یي هلته کار کاوه .
د دفاع انقلاب په نامه داسي ډلي جوړي شوي چه په خپلو مربوطه موسساتو کي د امنیت چاري په لاس درلودي چه دوستم هم په دغو ډلو کي ګډون درلود کله چه د شبرغان په شاوخوا کي د ګاز د تاسیساتو امنیت د کوانړ سره مخامخ شو نوموړي د دفاع انقلاب ډلي د ملي امنیت تر مسقیمي لاربښوني لاندي راغلي او د دوستم مربوط ځواك د ټولي مرتبه ته په ۱۹۸۰ کال کي ورسید او په ۱۹۸۷ کال د هغه د غند منظوري ورکړل شوه اوپه ۱۹۸۸ کي د لوا سطحي ته ارتقا وکړه چه ۷۳۴ لوا په نامه یاددیده پدي وخت کي په ټول جوزجان ولایت کي عسکري خدمت ته عسکر را ټولو . د دوستم ډیر لومړني عسکر او قوماندانان د نوموړي د کلي څخه و چه د خواجه دو کوه په نامه یادیږي . او ددوستم وسلوالو په هغه کلي کي قرار ګاه درلوده او په ډیرو بحراني شرایطو کي یي هغه ځاي غوره کړي وه .
وروسته له هغو کلونو د دوستم واك او وسله وال ورځ په ورځ ډیریدل .

عبدل چریك ( د سرپل د سیدآباد دکلي اوسیدونکي ) د نوموړو خلکو یو غوره مثال دي . نوموړي هم په لومړي سر کي د ګازو او نفتو په فابریکه کي د کارګر په صفت کار کاوه او وروسته د دفاع خودي په ډله کي شامل شو او له یوبي کوچني ډلي څخه یي ټولي او کندك ته ارتقا وکړه . او وروسته بیا د ۵۳ فرقي د کشف د کندك قوماندان شو او جنرالي رتبه یي واخیسته او وروسته یي ځانته یوه ځانګړي قطعه جوړه کړه چه د غند ۵۶۴ په نامه یادیده او د عبدل چریك لخوا اداره کیده ( خو بیا هم نوموړي ۱۹۹۷-۱۹۹۶ کي ۵۳ فرقي ته راغي ) او د خپل مرګ تر ورځي پوري یي یعني تر ۱۹۹۹ کال پوري یي هلته دندي تر سره ورسولي .

د ۱۹۸۰ لسیزي په پاي کي یو شمیر جهادي قوماندانان مستقیما دوستم ته تسلیم شول چه نومونه یي دادي :
رسول پهلوان (ازبك) د فاریاب د ولایت څخه او غفار پهلوان (ازبك) د سر پل د ولایت څخه . ددوي مختلفي انګیزي وي ځینو غوښتل چه د ځان د مړولو او هوسا کولو لپاره د ي کار ته حاضر شي خو د ځینو اساسي موخه سیاسي ستراتیژیك تفکر و چه غوښتل یي د ازبکانو واك په افغانستان کي باوري کړي . چه د هغوي په منځ کي یوه قوماندان د سیدي په نامه په دي لړ کي د ټولو ازبکو ځواکونو د یوالي لپاره ډیر کار پر مخ بوته .

هغه وخت چه د افغانستان د شمال ځواکونه په ټول افغانستان کي خواره شول نو پدي وخت کي دوستم دا حق درلود چه خپله د خپلو سیمو څخه ځانته عسکر جذب کړي پدي لړ کي هغه وکولاي شي چه د خپلي قطعي د پیشرفت لپاره په خپلو ازبك میشتو سیمو کي ځانته حمایتي مراکز جوړ کړي او نوموړو خلکو حمایت لاس ته راوړي چه دي کار وروسته خلك دي ته اړ کړل چه داکتر نجیب الله څخه وغواړي چه دوستم ځواکونه د فرقي تشکیل ته لوړ کړي . او پدي توګه د جوزجان ولایت څخه ډیر استازي کابل ته راغلل او د دوستم لپاره یي د ۵۳ فرقي د تشکیل د منظوري امر له نجیب څخه واخیست .

په ۱۹۸۹ کال کي چه کله شوروي ځواکونه ولاړل نو دوستم لوا فرقي ته ارتقا وکړه او په ۵۳ فرقي ونومول شوه چه د دفاع وزارت لخوا یي وړاندیز یي نجیب ته وړاندي شو او منظور شو . او ورسته لیدلي د نوموړو ځواکونو د ګډون په عملیاتو کي د دولت په وړاندي د هغوي د اعتماد کچه لوړه کړه . او د ۵۳ فرقي او شخصا د دوستم ستاینه د داکتر نجیب الله له خوا کیدله . د ۵۳ فرقي او ۸۰ فرقي فعالیتون یو بل ته ورته و ولي چه دواړه وسله وال ځواکونه د امنیت د وزارت لخوا ایجاد شولي او بالاخره یي د دفاع وزارت په مربوطاتو کي فرقي جوړي کړي . نورو دوي ته ورته ملیشو دومره پر مختګ ونکړ خو دغو دوه ملیشو دا چه په خپله سیمه کي یي د خلکو تر منځ پراخ ملاتړ درلود نو ډیر پر مختګ یي وکړ . ډیر هغه د ازبکو ، عربو ، او تاجیکانو ډلو چه د خاد سره یي دنده درلوده ددوستم خوا ته راواوښتل او د نوموړي د ځواکونه یوه نه جلا کیدونکي برخه وګرځیدل .

د مزار شریف د ښار په شاوخوا لکه چه په نورو سیمو د ملیشو د جوړیدني کار پر مخ تللو خو ( نورو ملیشو ونشواي کړاي چه د دوستم د ملیشو په څیر منظم شکل ځانته غوره کړي اووکولاي شي چه د امنیت ملي د وزارت له چوکاټ څخه د دفاع وزارت په چوکات کي فرقه ولري ) .
د ۱۹۸۰ لسیزي په پاي کي اتو ګروپونو یا ډلو د ملي امنیت د وزارت سره ترویکي لرلي چه هري ډلي خپل مسولیت د ښار د امنیت په ساتلو کي درلود د نوموړو ډلو قوماندانان اکثرا د مجاهدینو پخواني قوماندانان ، فیودالان ،( د وکیل عبدالوهاب په شمول ) او د خلق د ګوند واقعي او خالص پلویان ( د قاري انور ، او رحمت پهلوان په ګډون چه وروسته بیا شیر عرب له هغه سره دنده درلوده ) او مسلکي افسران ( قادر کارګر )

نوموړي خلك د قوميت لـه پلوه تاجيكان او عربان و .او همداراز د نوموړو پـه ډلـه بلوڅان او هزاره ګان هم شامل و لكه مامور امان الله ( ګليم جم) نوموړي د ښونكي و او د بلخاب د ولسوالي د امرخ د كلي چه د بلخ پـه جنوب كـي واقـع دي د نومـوړي كـورنی د كورنيـو جكـړو پـه وخـت كـي د مجاهـدينو لخـوا وژل شـوي وه او نوموړی د كلي يو ډير شمير اوسيدونكو سره د مزار ښار ته مهاجر شو اګر چه نوموړي د جميعت اسلامي د ګوند غړي و خو د نوموړی كورني د تنظيمي جكړو په ترڅ وژل شوي وه .
امان الله ګليم جم د ملي امنيت وزارت لخوا جذب شو او نوموړی يوه قطعه جوړه كړه چه په نوموړی قطعه كي د نومـوړي خپل خپلـوان او كليـوال سـره راټـول شـوي و چـه پـه هغـي كـي ( محلـي فيـودالان نبـي بـاي او وكيـل عصمت الله خان ) هم ګډون درلـود نومـوړي قطعـي وروسـته پرمختـګ وكړ او يو بدنام نـوم يـي د افغانـستان د خلكو تر منځ وكاټه چه په ګليم جم باندي مشهور شول . او روسته په شمال كي ټولي مليشي په همدغه نـام يعنـي ګليم جم ياديدي او تقريباًلكه يو قومي نوم په ځير مشهور شو دغه نوم اكثرا د جوزجاني كلمـي سـره هم ياديـدي خو په دولتي او نورو مطبوعاتو كي مجاهدينو د شمال د قطعات لپاره نوموړی نوم ياد اوه .
د ګيلم جم د نوم ريشه د اهميت وړ ده . ګيلم جم اضلا د ګيلم ټولو په مفهوم او معنـي دي او پـه لومړي ځل دغـه اصطلاح خپله د امان الله ګيلم جم لپاره استعمال شوه دا لـه هغـوي پيښـي وروسـته چـه د نومـوړی د كـورنـی ټـول غړي په ګوليو وويشتل شول ( په هماغه وخت كي هغه ته وويل شول چه ګليم دي ټول شو ) دا پدي معني چه د نوموړي كار تمام شوي و . دا چه نوموړي پيښه څه وخت او خرنګه منځ تـه راغلـي وه تراوسـه پـوري معلومـه نده .
خو وروسته دغه اصطلاح د معينو جملات په مفهوم ياديږي او دا پـه ډاګـه كـوي چـه د شـمال مليشه ځـواكونـو د خلكو سره څرنګه رفتار كاوه ،مثلا هغوي د خلكو هرڅـه غلا كـول ( چـه د هيـواد پـه نـورو سيمو كـي د مليشو سيستيم د شمال سره فرق درلود ) .
د ګليم جم ځواكونو اصلا د نوموړی د قومي قرار ګاه څخه وسعت وموند او په اخر كي د بلخ په ولايت كـي تـر ټولو لويه او ځواكمنه قطعه جوړه شوه چه حتي پښتانو ته يي هم بلنـه وركـړه چـه پـه نوموړي قطعـه كـي شـامل شي . خو هغوي په دي هكله كوم پوخ دريځ ونښود.

## ۵.۲.۲ په مزارشريف كي مليشي

هغه ستراتيژيكي او آګاهانه انګيزي او د ملي مخالفتونو او تضادونو د ريشي اخستلو په هكله مو پورته ډير څـه وليكل . د مجاهدينو د قومانـدانانو د تـصميم نيوتـو د مليشو د جوړولـو پـه برخـه كـي د دولـت ځـواكـون او ليكـي ضعيفي كړي . د نجيب الله د حكومت په وروستيو كي د مجاهدينو په منځ كي د سياسي صلاحيتونو او په جكړو ككي د ګډون صلاحيت اكثرا د پښتنو په لاس كي و چه ډيرو مجاهدينو له دغي وضعي څخـه د خلاصـون لپـاره دولت سره اړيكي ټينګي كړي او د مليشو كيدو لپاره يي دولت سره نومونه وليكل .
همداراز د يوه ستراتيژيك تفكر لـه مخـي د خليفه رجب د زوي پـه قضيه كـي چـه د هزارو يـو قومانـدان و او د مزار شريف د پولمرب د سيمي و چه وروسته د حركت انقلاب اسلامي يوه قومانـدان د چـار كنـت پـه ولـسوالي كي چه سيد اسد نوميده تسليم شو او وروسته له هغي سيد په ۱۹۸۹ كال كي په مزار شريف كـي د خـاد رياسـت ته تسليم شو . د ۵۳ فرقي د جوړيدو سره سم د بغلان او سمنګانو پـه ولايتونـو كـي هم د مليشو د جوړولـو يـو تحرك پيل شو . په نوموړو سيمو كي د اسماعيليه ډلي اصلي مقر هم و . اسماعيليه هغـه قومي او مذهبي اقليت دي چه د نوموړو پر خلاف ټولو ميشتو خلكو د تبعيض څخه كار اخيسته او د اقتصادي پلوه خـورا غريـب خلـك و نوموړی قومي –مذهبي اقليت د كابل مزار د سړك په نږدي كي د سالنګ د تونل شمال ته پراته و . او هغـوي خپله مرسته د هغو قافلو د تاو او راتلو لپاره چه په دغي لاري تله راتله حتمي كړه .

وروسته د يوه كورني تاوتريخوالي د نوموړي ډلي رهبري سيد منصور نـادري پـه غـاړه واخيسته چـه د دولـت څخه يي ملاتړ كاوه .

چه په لومړي سر كي د ملي امنيت لخوا د سيد منصور دزوي سيد جعفر پـه قومانـدانی يـوه د اسماعيلي د ډلـي پوځي قطعه جوړه شوه . چه نوموړی قطعه د وخت پـه تيريـدو سـره ډيـره اوچتـه شـوه او پـه هغـي كـي د سيمي تاجكان ، هزاره ګان، ازبكان او پښتانه چه په بغلان ولايت كي ميشت و وركډ شول . هغو مجاهدينو چـه خپـل كورونه خوشي كړي و لـه دي ورسته د پلخمري ښار ته راغلل او په نوموړي مليشه قطعي كي يي ثبت نام وكړ . پخپلـه سيد جعفيړ نـادري د نومـوړو قومانـدانانو سـره توافقات امضا كړل او هغوي يي د مـالي لحـاظ څخـه اكمالول او پدي توګه يي وكولاي شول چه يو څه امنيت په نوموړي سيمه كي راولي .

د ۱۹۸۰ کلنو په پاي کي ځيني نور قطعات هم د ۸۰ فرقي په تشکيل کي ورګډ شول او مرکز يي د کيله ګي په دشته کي چه د پلخمري په جنوب کسي واقع ده وګرځول شو او ۵۴ فرقه( چه يوه منطمه فرقه وه ) او د کندز څخه سمنګانو ته استول شوي و او ۲۰ فرقه چه له نهرين څخه پلخمري ته استول شوي وه هم د ۸۰ فرقي په تشکيل کي ورکړي شوي . او د نادري د کورنی اکثرو غړو ته په نوموړې فرقه د قوماندانيو پوستونه ورکړل شول . نوموړي فرقه تر پايه پوري يوه ځواکمنه فرقه پاتي شوه اود شمال له مليشو سره يي هم خپل روابط ښه وساتل .

د شوروي ځواکونو د په شاتګ خخه وروسته د مليشه ځواکونو باندي د اعتماد کړي وسيع شوي او د دفاع وزارت د تشکيل څخه باندي مليشي جوړي شدي . دنوموړو مليشو د جوړښت پلان لا وختي جوړ شوي و او کله چه شورويان په وتلو شول نو په شمال کي په کافي اندازي مليشي د دفاع لپاره چمتو شوي وي .او شورويانو هم غوښتل چه نوموړي مليشي تقويه کړي .
پدي لړ کي د نوموړو مليشو د فعاليتونو سيمي د دوي د مسوليت له سيمو څخه پهر ووتي او نوموړي مليشي د جناياتو د کولو په تور ډيري بدنامي شوي . او کله چه دولت ددوي د فعاليتونو ستاينه وکړه هغوي لا هم د خلکو د درايانو په چورتالان او د بشري حقونو څخه تيري پيل کړل . په ۱۹۸۰ کلونو کي د مليشو او منظمو پوځونو تر منځ نښتي منځ ته راغلي او دولت د نوموړو پيښو په مخ نيوي کي عاجز پاتي شو . چه نوموړي مليشي اکثرا د شمال څخه وي خو په کندهار کي د عصمت مسلم مليشي هم يو ډير لوي مثال دي ز چه د نوموړي مليشي او نوري مليشي د ۱۹۸۰ کلونو په اخر کي د کندهار ښار په ښاوخوا کي ځاي پر ځاي شوي په ۱۳۶۶ کال (۱۹۸۷) کي د دوستم ۷۳۴ لوا او د قادر کارګر ۷۳۳ لوا د کندهار په ښار کي ځاي پر ځاي شوي . او د امان الله ګليم جم ۷۳۲ کندك هم په دغه ډله کي شامل و . چه دغو او د هغوي پوري نورو وړو قطعاتو په کندهار کي ډيري سختي جګړي وکړي او ډير تلفات يي وليدل .

دهغه څخه وروسته بيا د مليشه ځواکونو قطعات چه ۵۳ فرقه او ۸۰ فرقه هم پکښي شاملي وي د افغانستان په ډيرو برخو کي دندي تر سره کړي او د جوزجانيانو مليشي د هر لحلظ ډير مجهز شوي و او د ۸۰ فرقي په نسبت يي ډيري وظيفي اجرا کولي خو ۸۰ فرقي په خپل وار د لوګر ،' پغمان او همداراز د سالنګ د لويي لاري په دواړو خواوو کي ځواکونه درلودل ، خو ۵۳ فرقي د فعاليت سيمه ډيره لويه وه حتي دا چه د رحمت پهلوان او امان الله ګيلم جم مليشه ځواکونو چه د ۵۳ فرقي په چوکات کي يي فعاليت درلود په ختيځو سيمو يعني خوست کي دندي ترسره کولي چه په پايله کي يي هلته ډير تلفات وليدل .او هغه هم د خوست په نابريالي دفاع په وخت کي .
همداراز د ۵۳ فرقي ځواکونو د عبدل چريك په قومانداني په کندهار ،لوګر ، غزني ، ګرديز ، کوه صافي ، او د کابل په شاوخوا کي جکړه ايزي او امنيتي دندي تر سره کړيدي.
همدارازد جوزجاني مليشو ځواکونو په تخار ، بدخشان او هرات کي هم شتون درلود . دولت په هغه وخت کي د مليشو په اعمالو انتقاد کوه خصوصا په هغي بدنامي پيښي کي چه د يوي فاحشه خاني څخه په ۱۹۹۰ کال مليشو ښځي وتښتولي . چه ددي په اړه د خلکو انتقادونه پيل شول او په پايله کي دولت مجبور شي چه نوموړې مليشي د کابل له ښار څخه دباندي وباسي .

لکه څرنګه چه په هغه وخت کي ليدل کيدل د داکتر نجيب الله دولت د خپلي سياسي پايښت لپاره نوموړي مليشي تقويه کولي او د هغوي ځاي پر ځاي کول يي د مخالفين پرضد يو لازم ګام شميره چه پدي لړ کي د مليشو ځاي پر ځاي کول او تقويه کول په ټول هيواد کي پيل شول. خصوصا په شمال کي نوموړي پروسي ته ډيره توجه وشوه . د نزادي او قومي پلوه دولت د يوه قوم خلك په بله سيمه د بل قوم خلکو پر ضد استعمالول او په مشخصه توګه د شمال مليشي يي د پښتنو مجاهدينو پر ضد کارولي .
د شمال مليشو ته د سياسي او پوځي واك ورکولو نور اقليتونه ناراضه کړي و . چه دغي پروسي د جوزجاني مليشود انکشاف زمينه برابره کړه . او همخدارازد هغو مليشو قوماندانانو تر منځ داسي روابط منځ ته راغلل او يا دا چي جوړ يي کړل چه هغوي وروسته په دوه ډلو وويشل شول او د ګوند د خلقي او پرچمي خواوو د کشمکش يوه ښه وسيله وګرځيدل . چه پدي ډول قومي او نژادي روابط د يوي ايديالوژي د مفکوري بدلون راوست او ديوي ايديالوژي خلك يي هم په قومي او نژادي ډلو وويشل او نوموړو پيښو په ۱۹۹۲ کي د داکتر نجيب الله د حکومت په سقوط کي مستقيمه مرسته وکړه .

### ۵.۳ د افغانـان پـوځي ځواکونـو او مليشو لـه خـوا د خـشونت او بـدرفتاري پيـښي د ۱۹۸۹ څخه تر ۱۹۹۲ کال پوري

په ۱۹۸۹ کال کي د داکتر نجيب الله دولت يو لړ تـصفيوي عمليات د پغمـان ، لـوګر ، ميدان ښـار پـه سيمو کـي تنظيم کړل . د عيني شاهدانو په وينا چه د عملياتو اصلي موخه د اسلامي حزب د قرار ګاو له منځه وړل و خـو د عملياتو په جريان کي چه جوزجاني مليشو هم د دولتـي ځواکونـو پـه ملاتړ سيمه کـي شـتون درلـود د جګـړي تاکتيك بـدل کـړ او د خلکو د کرونـدو د سوځـزلو ، بـي تشخيصه بمباردمانونـه او د کليـو ورانـول او سـوځول باندي يي لاس پوري کړ . په هغه رپوټ کي چه آرماکورا په ۱۹۹۰ کال کي خپور کړي دي ددي خبري پخلـي يي کړي چه د دولتي ځواکونو هغه ميزايل چه د دښمن پخوا توغول کيدل هدف يي د دښمن د مواضـعو لـه منځ وړل و خو دا چه دقيقه نشانګيري نه کيده نو دي امله نوموړي ميزايل د خلکو په کورونو لګيدل چه د ورانـي او وژنو سبب ګرځيدل او د غير پوځي خلکو تر منځ يي يوه لويه ويره پيدا کوله .
د نوموړو عملياتو په دولسمه ورځ د دولت ځواکونه د پغمان د زرګر په دره کي د دښمن مقاومت سره مخ شول او د دولت اساسي ځواك چه د پښه يي په دره کي ميشت و د لسمس فرقس ۲۶ غند و . د عدالت پـروژي سـره د نوموړي غند اړوندو افسرانو مرکي کړيدي او ويلي دي چه د نوموړي غند پياده پوځ شپږ تنه مجاهدين د ميدان ښار په سيمه کي ونيول او هغوي يي اعدام کړل چه د اعدام شويو کسانو ديوه نوم يي محراب الدين او دبل يـي داود و .

يوعيني شاهد چه نوم يي (و) دي اود نوموړي سيمي اوسيدونکي دي داسي وايي :

د ( ۱۹۹۰ کال د سپتمبر-اکتوبر) په مياشتو کي مونږ په خپل کورکي و کله چه دولتي ځواکونـو پـه سيمي ډزي پيل کړي . په پيل کي مونږ داسي خيال وکړ چه هغوي د بي ام ۲۱ ، دي س توپونـو او اورګـان بانـدي زمونږ سيمي تر اورلاندي نيولي دي خو وروسته مو وليدل چه نوموړي وسلس له نورو سره فرق درلـود . او مـا خپل ورور ته ويل چه ولاړ شـه او وګوره چـه لـه کـوم ځـاي څخـه ډزي کيږي . ورور مـي د کلـي جومـات تـه ولاړ زمونږ د کلي جومات يوه ډيره ښه زير زميني درلوده چه خلك بـه د درنـدو وسلو د ډزو پـر وخـت هلتـه پټيدل . نوموړي لړ څه ناوخته راغي او ويل چه خلګ وايي چـه دولـت د لـوګر د ولايت د محمدآغي پـه ولسوالی بريد کړيدي .
مونږ پدي خبره باور درلود چه دولت د محمدآغي پر ولسوالي داسي ژر بريد نشي کولاي ولـي چـه هغـوي تـه د لاري په اوږدو کي د مامور سلام د هوټل او کتب خيلو په سيمه کي ډير مجاهدين ميشت دي . خـو پـه نومـوړي سيمه کي هره ورځ د دواړو خواوو تر منځ جګړي رواني وي .
د جګړي په لومړي يوه مياشت کي مونږ په خپل کلي کي ژوند کاوه خو وروسته هلتـه اوسيدل نـاممکن شـول او مونږ د پل علم سره ن؟دي د پـورك کلـي تـه ولاړو او هغـه زمـونږ اخري ځـاي د تګ لپـاره و .کلـه چـه مـونږ نوموړي کلي ته ولاړو زما مشر ورور د کور د کاليو او ضـروورياتو لپـاره د محمد آغـي ولسوالي تـه ولاړ خـو متاسفانه چه د دوستمي او دولتي ځواکونو د درندو وسلو د بريد له املـه ووژل شـو . نومـوړي پيښه پـه د ميزان مياشت کي ۱۳۶۹ (۱۹۹۰ ) کال کي پيښه شوه . جګړو د نوموړي کال د ثور تر مياشتي دوام ومونـد او دولتـي او دوستمي ځواکونود محمد آغي ولسوالي ټول کلي په اور کي وسـوځول او د نومـوړي ولـسوالي خلکو تـه هيڅ شي آباد پرينښودل . په نوموړو جګړو کي مجاهدين يو خواته او دولتي ځواکونه د نبي عظيمي ، دوستم ، عظيم زرمتي په بله خواکي واقع و .
په نوموړئ جګړه کـي نبـي عظيمـي د دفـاع وزارت لخـوا ، عظيم زرمتـي د کورنيـو چـارو وزارت لخـوا ، او د قومي مليشو ډلـي د دوستم . همـايون فـوزي ، اسد مـارخور ، جـوره بيګ ، عبـدال چريـك ، او نـور لکـه سيد منصور نادري او امان الله ګليم جم ګډون درلود .
د محمد آغي ولسوالي له ۱۲۵ څخه تر ۱۲۷ پوري لوي کلي لـري چـه نومـوړي تـول کلـي د دولتـي ځـواکونـو لخوا په درندو وسلو وويشتل شول او په پايله کي د نوموړي ولسوالي نورو سيمو تـه مهاجرت تـه اړ شـول . مـا په نوموړئ جګړه کي خپل يو ورور چه بسم الله نوميده له لاسه ورکړ او هغوي زمونږ ټولـه شتمني لوټ کـړه چـه زه يـي عـاملين د دوستم او ددولـت پوځونـه ګڼم . هغـوي زمـونږ کورنـه لـه خـاورو سـره يـو کـړل او زه د نوموړو پيښو شاهد و م.

يو بل شاهد د ( ف ) په نامه هم راکتي بريدونه د نجيب د دولت لخوا پر لوګر ولايت باندي داسي تـصديق کـړي دي :

مونږ د دولت د راکټي بریدونو او بمباردمانونو له یوري دي تـه مجبور شو چـه خپل کورونـه پرېږدو او د پل علم سیمي تـه مهاجر شو . دمونږ د پل علم د کنجك کلـي تـه ولاړو د ۱۹۹۰ کـال د دسمبر پـه میاشت کـي یو راکټ د هغه کور په مخ کي چه مونږ پکښي ژوند کاوه ولګید چـه پـه پایلـه کـي یـي زمـا دوتنـه ماشومان او نـور دکلي اوه تنه ماشومانپداسي حال کي چه پـه لوبـو اختـه و ووژل شـول . چـه څـو ورځـي ورسـته خلکـو لـه دغـي سیمي څخه د زرغون شهر سیمي ته ګډه وکړه . د نوموړو جګړو له امله په زرهاو تنـه ټپیـان او یـا ووژل شـول دولتي ځواکونو زمونږ ونې قطع کړي ، زمونږ کورونه ، جوماتونـه او ښوونځـي یـي وسـوځول او د اوبـو خلـور ذخیري یي چه اوو کلیو ته یي اوبه ورکولي ونړولي .

د محمد آغي په ولسوالي کي د اسلامي حزب یوه لوا چه د لشکر ایثار په نامه یادیده ځـایپر ځـاي وه .دولـت ددي لپاره چه نوموړي لوا له دغي سیمي څخه وباسي ټوله د محمد آغي ولسوالي وسوځوله . په نوموړو پیښو کـي د دولت مسولین دادي : جنرال نبي عظیمي ، جنرال دوستم ، او جنرال عظیم زرمتي .
نور ځواکونه لکه د منصور نادري ، دګروال محمد ګل د ۱۰۰ قهرماني قطعي مسول ، او امـان الله ګلیم جم هم په نوموړو عملیاتو کي ونډه درلوده . د عملیـاتو څخـه دمخـه پـدي ولسوالي کـي تقریبـا ۱۳۰۰۰۰ تنـه اوسیدل . نوموړي ولسوالي ۱۲۵ لوي کلي لري چه پـه ځینو کوچنیو کلیو ویشل شوي دي . پـه هغـي جګـړه کـي چـه پـه ۱۹۹۰ کال کي پیل او تر ۱۹۹۲ کال پوري یي دوام وموند د نوموړي ولسوالي ټول د اوسیدو ځاینونـه ونـړول شول او وسوځول شول . مونږ د محمد آغي ولسوالي څخه د پل علم اړوند د کنجك کلي تـه مهـاجر شـولو . او د عملیاتو لړي تر پل علم پوري هم راورسیده . د ۱۹۹۰ کال د دسمبر په میاشت کي دولت د درندو وسلو ډزي د کنجك په کلي پیل کړي چه په نتیجه کي زما دوه زامن چه یو یـي بشیر احمد نومیده او ۷ کلن و او بـل یـي چـه محمد جواد نومیده او ۹ کلن و ووژل او زمونږ ټوله شتمني له لاسه څخـه ولاړه چـه دا ټـول مـا پـه خپلـو سترګو ولیدل . زما د زامن سره یو ځاي ۴ تنه نور ټپیان او ۹ تنـه نـور ووژل شـول چـه خلـور تنـه یـي زمـونږ دکلـي او نور یي د کنجك د کلي اوسیدونکي و .

د یوه عیني شاهد چه ( الف ) نومیږي او د خپلي کورني سره یي یـو ځـاي د پغمـان د ولسوالي د برجك پـه کلـي کي ژوند کاوه داسي وایـي : دولـت د ۱۹۹۰ کـال پـه لومړیـو کـي خپـل پوځونـه د چمتلـي چـه د قرغـي لار وه ، مهتاب قلعي ، باغ داود او چوك ارغندي په سیمو کي ځـاي پـر ځـاي کـړل . او دشپي لـه مخـي پـر پغمـان بانـدي خورا شدید برید وکړ چه د نوموړو بریدونو په لړ کـي د پغمـان ولسوالي ټـول کلـي د خواجـه مسافر څخـه بیـا د پغمان تر اخري سر پوري زیانمن شول د شاهد په وینا چه په هغه وخت د مجاهدینو مختلفي ډلـي پـه پغمـان کـي میشتي وي .
( الف) وایي :

چه د سیمي ټول خلك د ژمي په هماغه یخني کي د خپلو کورونو په لومړي پوړ او یا زیر زمینیو کـي کښیناستل . یوه ورځ وروسته د سهار له مخپي ټولو خلکو د ځان د خوندي توب لپاره د کابل خوته وخوځیدل ، چه څو تنو سپین میرو ته وویل شول چه باید له قوماندان څخه اجازه واخلي ، چـه وروسته لـه هغـي د سیمي څـو تنـه سـپین ږیر مهتاب قلعه کي د پوځونو قرار ګـاه تـه ورغلل او هلتـه یـي نبـي عظیمـي او جنـرال دوسـتم پیـدا کـړل او لـه هغوي یي اجازه وغوښته چه خلك پذیرډي د کابل خواتـه ولاړ شـي . پـدي ورځ پـه یـو ډیـر شـمیر سـپین ږیـر ، ښځـي او ماشومان انتظار و چه د کابل خواته د تګ اجازه تر لاسه کړي .

د ورځـي یوه نیمه بجه وه چه هغوي کابل خواته د تګ اجازه ورکړه خو د هغوي عسکرو خلکو ته ډیر مزاحمت وکړو ، د دوستم وسله والو له خلکو څخه پیسي ، ساعتونه بوتونه او جمپر ونـه واخیستل و وروسـته یـي هغـوي تـه اجـازه ورکـړه چـه کابـل خواتـه ولاړ شـي . وروسـته چـه بیـا د نبـي عظیمـي او دوسـتم ځواکونـو زمـونږ پـه ولسوالي برید وکړ زمونږ ټول شته یي له ځانه سره را ټول کړل او د کابل په ښار کي یي پـه ارزانـه بیـه خـرڅ کړل . هغوي حتي زمونږ د کورنو دستك لرګي هم په کابل کي خرڅ کړل .

یو بل شاهد چه ( الف . ت ) نومیږي د خپل د کلي دبمباردمان چه په ۱۰.۷.۱۳۶۹ کال واقع شوي و داسي نقل کوي :

د سهار په ۴ بجو د دولت الوتکو زمونږ کلي بمباردمان کړ . او د هغو سره سم د نبـي عظیمـي شـرفګن ځـواك د درندو وسلو لکه بي ام ۲۱ او اورګان ډزي زمونږ په سیمه باندي پیل کړي چه پـه نتیجـه کـي یـي ۳۶ تنـه ووژل شول او یو ډیر شمیر خلك ټپیان شول . نوموړو عملیاتو یوه میاشت دوام وموند . خلکو وکـولاي شـول چـه خپـل

ټيپان پاکستان ته ورسوي او خپل کډي لوګر ولايت ته يوسي . زما د خور زوي د محمد پتنګ په نامه د ۱۹۹۰ کال د اکتوبر په مياشت کي زمونږ په کور کي ووژل شو .
پدي ولسوالي کي ۱۹۶ کلي دي چه ټولو ته يي په دغو عملياتو کي زيان ورسيد او مونږ د پتنګ د وژل کيدو وروسته مجبور شولو چه پيښور ته مهاجر شو . هغوي زما بڼ او زما ټوله دارايي له ځانه سره يوړه او دا ټول ما په خپلو سترګو وليدل .

يو شاهد د ( ب ) په نامه وايي چه دولت د حزب اسلامي د يوي قطعي چه د لشکر ايثار په نامه ياديده او د تنګي واغجان په سيمه کي پرته وه نوموړي بريدونه پيل کړل او دولت غوښتل چه نوموړي ځواکونه د کابل – ګرديزد لوي لاري د سر څخه ليري کړي . دولت خپل بريد د محمد آغي په ولسوالي باندي پيل کړ او هلته يا ټول خلك ووژل او يا يي مهاجرت ته اړ ويستل .

د ۱۹۹۰ کال د دسمبر په دوهمه نيټه چه دولت د محمد آغي د ولسوالي هواري سيمي ونيولي نو په جګو ځايونو او د هغو غرونو په سرونو چه نوموړي ولسوالي د پل علم څخه جلا کوي بمباري وکړي . په نوموړي وخت کي يو توغندي زمونږ د کور مخ ته چيرته چه مونږ کښيناستلو ولګيده چه په پايله کي ۹ تنه ماشومان ووژل شول چه په هغو کي دوتنه زما زامن چه يو يي ايمل نوميده او ۷ کلن و او بل يي اجمل ۱۲ کلن و ووژل شول . همداراز زما د يوه نږدي دوست سر معلم فقير خان دوه تنه زامن چه محمد بشير او محمد جواد نوميدل ووژل شول او نور پنځه تنه ماشومان د نوموړي کلي څخه ووژل شول چه نومه زما په ياد ندي . وروسته له دغي پيښي مونږ د زرغون شهر کلي ته مهاجر شولو او د زمي تر پايه پوري هلته و چه وروسته له هغه د جګړي د شدت له کبله پيښور ته مهاجر شولو .

يو بل شاهد ( م ) په نامه داسي وايي :
کله چه دولت زمونږ په ولسوالي بريد وکړ خلك په خپل عادي ژوند بوخت و چه يو ناڅاپه د ۱۹۹۰ کال د دسمبر په مياشت کي زمونږ په کورونو له هوا او ځمکي څخه بريدون پيل شول ، هغوي زمونږ کورونه بمبارد کړل او په اوپونو يي وويشتل . زما يو ورور د ژمي لپاره د غنمو د اخيستلو لپاره تللي و خو ډير ځنډ يي وکړ او زه نه پوهيدم چه کوم ځاي ته تللي دي د غرمي ورسته اوضاع لږ ارامه شوه او خلك د خپلو پټن ځايونو څخه راووتل او او د مازديګر په ۴:۳۰ بجو يي زه د خپل د ورور له مرګ څخه خبر کړم .

هغوي ويل چه زما ورور د دولت د درندو وسلو د ډزو په اثر د قلعه نذير په سيمه کي وژل شويدي . زه ولاړم او د نوموړي جسد مي د زرغون شهر د کلي په هديره کي خاورو ته وسپاره ځکه چه زمونږ په سيمه باندي د دولت د ځواکونو فشار ډير و او هلته د تګ امکان نه و . د محمد آغي په ولسوالي کي تقريبا ۲۰۰ کلي موجود و چه د نوموړو عملياتو په ترڅ کي خاورو بدل شول . دولتي ځواکونو د اوبو کانالونه وتړل ، پلونه يي وران کړل او د خلکو کهنه يي ويجاړه کړه او د خلکو ونې يي او ځنګلونه يي له ځانه سره کابل ته راوړل . ډير پسونه او غوايي يي په قصابانوباندي په زوره حلال کړل او وروسته يي د هغو غوښه په کابل کي خرڅه کړه . هغوي همداراز د خلکو د کورنو لرګي او يا دستك په ټانك پوري وتړل او ويستل او وروسته يي کابل ته انتقال او خرڅ يي کړل۱.

## ۵.۴ د مقاومت د ځواکونو لخوا خشونت او بد رفتاري ( ۱۹۸۹ – ۱۹۹۲ )

### ۵.۴.۱ د مجاهدينو د ځواکونو د بد رفتارۍ ځيني نموني

د شورويانو د شاتګ څخه وروسته او د داکتر نجيب الله د حکومت تر سقوط څخه روسته د مجاهدينو بيلابيلي ډلي هم د جناياتو باعث شولي . د هغوي ډير يي په پاکستان کي ميشت و او د پاکستان د اي اس اي ملاتړ يي درلود او هلته يي په آرامۍ او معافيت سره عمل کاوه او په پاکستان کي يي پر ميشتو مهاجرو د نظر وړ کنترول درلود . چه د نوموړو ډلو په سرکي يوه باقدرته ډله چه د ګلبدين حکمتيار د اسلامي حزب ډله وه ځاي درلود. حزب اسلامي د اي اس اي تر مستقيم هدايت لاندي کار کاوه ځکه چه نوموړي سازمان مجاهدينو ته د وسلو په ويش کي لوي او فعال سهم درلود . نوموړو د مجاهدينو ډلو د پاکستان په دننه کي بندي خاني درلودي ، هغه کسان چه په نوموړو بندي ځانو کي بنديان و اکثريت يي په پاکستان کي ميشت مهاجر و چه د نوموړي حزب يا تنظيم سره يي مخالفت درلوداو يا هغه کسان و چه د غير دولتي موسسو سره يي کار کاوه .

د مجاهدينو ځواكونو د افغانستان دننه هم زندانونه درلودل چه هلته به د زندانيانو پر ضد په سيستيماتيك ډول شكنجي او سزا ګاني پر يوړل كيدي . پدي رپوټ كي مونږ د افغانستان په شمال ختيځ كي د شوراي نظار د ډلي له يوه زندان څخه او د هغوي د سو استفادي څخه اسناد په لاس راوړي او خپاره كړي مو دي . همداراز مونږ د نورو تحقيقاتي منابعو څخه چه په رقيبو ډلو پوري اړوند و هم په لاس لرو .

## ۵.۴.۲ د مجاهدينو په بنديخانو كي دشكنجه كول

د شورويانو پر ضد د مقاومت په موده كي د مجاهدينو اكثريت قوماندانانو ځانته شخصي زندانونه درلودل . په ډيرو پيښو كي هلته جنكي اسيران زنداني كيدل چه د مجاهدينو د رقيبو ډلو كسان هم پكښي شامل و او هغوي د تبادلي كولو لپاره لوي ارزش درلود.
يو شمير مجاهدينو غير پوځي كسان هم بنديانول . خو په پاكستان د مجاهدينو ټولو ډلو خپا زندانونه درلودل او په هغه زندانونو كي به يي هغه افغانان ساتل چه د نومړو د سيايست مخالف عمل به يي كاوه چه هغوي به هلته شكنجه كيدل او په ځينو حالاتو كي د اعدام سزا وركول كيده.

د حكمتيار حزب اسلامي او د يونس خالص حزب اسلامي دواړو پيښور ته نږدي زندانونه درلودل چه د بشر د حقوقو په يوه رپوټ كي د نومړو زندانونو په برخه كي معلومات وركړل شويدي . له دغو زندانونو څخه يو هم د حزب اسلامي زندان په شمشتو كي و چه په هغه كي حكمتيار ښځي او نارينه بنديانول او د بشر د حقوقو د رپوټ مطابق چه په نوموړي زندان كي زندانيانو ته مختلفي سزا ګاني لكه وهل ټكول ، او د برقي شوكونو وركوني په منظم ډول شاملي وي . د نوموړي حزب استخباراتي سازمان به ځيني مهاجر افغانان اختطاف ول او همدا ډول د پاكستان استخباراتي سازمان اي اس اي هم ځيني هغه افغانان نيول او شكنجه كول يي چه د هغوي د حمايت لاندي تنظيم سره يي ښي اړيكي ندرلودي او يا د هغوي د سياست پر ضد دريدل چه په ځينو وختونو كي نوموړي نيول شوي كسان اي اس اي د حكمتيارډلي ته سپارل .

هغه زندانونه چه د مجاهدينو د ډلو له خوا په پاكستان جوړ شوي و دادي :

- شمشتو د حزب اسلامي تر كنترول لاندي چه د شمشتو د مهاجرينو په كمپ كي موقعيت لري .
- د حكمتيار د اسلامي حزب يو بل توقيف ځاي په ورسك مي سيني كي واقع و چه د پيښور په شمال كي موقعيت لري .
- محمد ګارد د كنړ په ولايت كي ( چه سياف هم ځيني استفاده كوله ) .
- باګزي د پاكستان د كورام په نمايندګي كي ( چه سياف هم ورځيني استفاده كوله ) .
- خوند بكلور د كورام په نمايندګي كي چه د سياف په خدمت كي و .
- د شمشتو دوهم نمبر زندان چه د يونس خالص د حزب اسلامي په اختيار كي و .

شكنجه كول هم د مختلفو ګروپونو او قوماندانو لخوا اسيرانو ته په دوامداره توګه وركول كيده . د هغو عيني شاهدانو په وينا چه هغوي سره د مجاهدينو د زندانونو په ۱۹۸۰ اړوند مركي شويدي او هغوي د نظار د شورا يو زندان چه د فرخار په لژدي كي يي موقعيت درلود او هلته به اسيران په سيستيماتيك ډول شكنجه كيدل او دا يوه ښه لاره وه د سياسي زندانيانو د تحقيقاتو د كولو په برخه كي . نوموړي زندان د ۱۹۸۳ كال څخه تر ۱۹۹۲ كال پوري فعال و خو هغه دوسيي چه مونږ د نوموړي زندان په برخه كي تحقيقات كړي دي د ۱۹۸۹ كال څخه تر ۱۹۹۲ پوري شاملي دي .

## ۵.۴.۳ د لژدي په زندان كي د زندانيانو پر ضد د شكنجي كولو او بدرفتاريو بيلګي او اعدامونه په نوموړي زندان كي د ۱۹۸۹ – ۱۹۹۲ كلونو په ترڅ كي

له هغو عيني شاهدانو سره چه د عهدالت پروژي مركي كړيدي هغوي په خپله په نوموړي زندان كي بنديان و او دا ويي چه په نوموړي زندان كي د شكنجه كولو او بدرفتاری امر د شوراي نظار رهبر وركاوه . څو رنګه د شكنجه كولو تكنيكي وسايل په نوموړي زندان كي نصب شوي و چه له هغوي څخه په معينو وختونو كي استفاده كيدله او ټولو كولاي شول چه هغه ويني ولي چه په داسي ځاي كي ايښودل شويو چه هر چا ليدلي شواي .

شکنجه ورکول په هغو خونو کې سرته رسيدلي چه د زندان مقامات هلته جوړ کړي و . هر چا چه په نوموړي زندان کې بنديخانه تيره کړي او يا دا چه هلته د ليدلو لپاره تللي وي نو په وضاحت سره ورته معلوميږي چه دا د شکنجه کولو يو مرکز و .

هغه څه چه دلژدي د زندان لپاره د اهميت وړ دي او په نوموړي زندان کې د سزا ورکولو او شکنجي ورکولو په طريقو کې د مجاهدينو د نورو ډلو له زندانونو څخه توپير ورکاوه دا وه چه په نوموړي زندان کې يو منظم جوړښت لکه د دولتي زندانونو په شان موجود و ځکه چه د نظار شورا د مجاهدينو د نورو تنظيمونو او ګذروپونو په پرتله يو منظم ساختار درلود چه وروسته بيا ۱۹۹۲ کال کې د نجيب د دولت د سقوط څخه وروسته د  دولت يوه برخه وګرځيده.

د نظار شورا يو له ټولو مهم حرکت دا وچه د نورو مجاهدينو د ګروپونو په پرتله د واك د نيولو په وخت کې په هغو سيمو کې چه واك درلود يو منظم اداري سيستيم جوړ کړ . د نظار په شورا کې متخصص پوځي ځواکونه ، د امر کولو يوه منظمه سلسله ، او د منظمو مخابروي سيستيم درلودل و . د نوموړی ډلي رهبري له هماغه وخته پدي نتظار کې و چه کله کابل ته ننوځي نو بيا به خپل ټول امکانات ځرنګه چه لازم وي په کار واچوي اوددي کار لپاره يې لازمه تياري درلوده ( کله چه په ۱۹۹۲ کال کې کابل ته ننوتل همداسي وکړل ) دي همدي لپاره يې د جهاد په وخت کې د يوه يوه دولت په شان دري اداري څيزونه درلودل لکه د امنيت رياست ، د عمومي څارنوالی رياست او د لژدي زندان . د لژدي زندان په ۱۹۸۴-۱۹۸۳ کال کې دي نوړی ډلي لخوا تاسيس شو ولي چه په هغه وخت کې د نوموړی ډلي رهبري پوهيدل چه وروسته له دي به زندان ته ضرورت وي ولي چه د خپلو ګټو د خوندي ساتلو  لپاره نوموړي ډلي د مجاهدينو له ډلو سره هم په جګړه کې و او د دولت له ځواکونو سره هم .

په نوموړي زندان کې د نظار شورا جنګي رقيبان ، رقيب قوماندان د مجاهدينو د نورو ډلو څخه ، سياسي او جنايي مجرمين ساتل کيدل . همدارز عيني شاهدان وايي چه مسعود غوښتل چه په نوموړی سيمه کې يواځيني ځواك اووسي نو پدي خاطر يي په لژدي کې خپل ټول سياسي رقيبان پنديانول .

د شکنجي کولو  هغه روش څخه چه د لژدي په زندان کې ځارنوالانو  استفاده کوله دادي :

د زندانيان ځړول له لاسونو څخه په چت کې د دوو وسپنيزو حلقو په ذريعه ، وهل ټکول د لرګيو ، قمچينو په ذريعه ، د برقي شوك ورکول ، د ډوډي نه ورکول ، بيخوابي ورکول ، په يوه کوچني اتاق کې کوټه قلفي کول ، جنسي تيري ، رواني شکنجه ورکول ولي چه زندانيان مجبوره و چه د نورو ناري د شکنجه ورکولو په وخت کې واوري ، له دي څخه سربيره د لژدي زندان مسولينو د اعدامونو صلاحيت هم درلود چه ځيني يي د يوي ناقصي محکمي د حکم پر اساس او ځيني د محکمي کولو پرته تر سره کيدل .

اتهام واردونکي د لژدي په زندان کې د هغي څارنوالي غړي و چه  د امنيت په رياست پوري يي اړه لرله او د نوموړي اداري غړي د نظار شورا معين غړي و . نوموړو کسانو د لژدي په زندان کې د زندانيانو څخه د تحقيقاتو او شکنجه کولو مسوليت او صلاحيت درلود . د د زندانيانو او د زندان د امنيت دساتلو لپاره يوه ۲۵ کسيزه وسله واله ډله موظفه شوي وه او نوموړو د زندانيانو باندي د شاقه کارنو د کولو په وخت کې هم نظارت کاوه .

خو شاهدانو نوموړي ساتونکي د زندانيانو په شکنجه کولو کې ندي تورن کړي . د لژدي د پخوانيو زندانيانو څخه داسي مدارك او اسناد په لاس کس شته چه دزندانيانو د شکنجه کولو او پد رفتاريو څخه د نظار شورا لوړ پوړي چارواکي خبر و . ولي چه عمومي څارنوالی خپل ټول اوامر د امنيت له عمومي ريس څخه تر لاسه کول او اکثرا به يي له هغه سره مشوره کوله . محمد قسيم فهيم  پخواني د دفاع وزير او د جمهور ريس پخواني مرستيال په هغه وخت کې د نظار د شورا امنيت عمومي  ريس و  او د لژدي د زندان مور او پلار بلل کيده .
د نظار د شورا د امنيت عمومي رياست په تخار ولايت کې خلګ نيول او په لژدي زندان کې به يي زنداني کول . د نوموړو زندانيانو د ابتدايي تحقيق مراحل په تالقانو کې تر سره کيدل او وروسته له هغي زندانيان د يوي رسمي دوسيي سره د لژدي زندان ته استول کيدل چه پدي توګه ويل شو چه يوټينګ تنظيمي ارتباط د تالقانو د تحقيق د مرکز او د لژدي د زندان تر منځ موجود و . شاهدانو د ځينو هغو کسانو چه د تخار په ولايت کې د ملي امنيت د رياست غړي و او د لژدي په زندان کې يي په تحقيقاتو کې لاس درلود نوم اخيستي دي .

شواهد داسي ښيي چه ټولو هغو لس تنو څارنوالانو چه د لژدي په څارنوالي کي يي کار کاوه د لژدي د زندان د زندانيانو په شکنجه کولو کي لاس درلود .

هغه څارنوالانو چه د لژدي په زندان کي يي د مشر يا تيم ليدر په توګه کار کاوه د زندانيانو په شکنجه کي لاس درلود ولي چه په ټولو مواردو کي نومړو کسانو د تحقيق پر وخت زندانيانو ته خپله او د هغوي لاس لاندي کسانو شکنجي ورکولي . د ټولو څخه زيات نومړو څارنوالانو زندنيان شکنجه کړي دي ځکه چه هغوي د زندانيانو د شکنجه کولو او تحقيقاتو او نيولو امر ورکاوه او دا په هغوي پوري اړه درلوده چه کوم زنداني ته سزا ورکړي او کوم يوه ته بيسزا ورنکړي .

## ۵.۴.۴ د افغانانو ورکيدني او تروړول په پاکستان کي

د ۱۹۸۰ لسيزي په پاي او د ۱۹۹۰ کال په لومړيو کي د پاکستان په پيښور ښارکي په يو شمير غير حکومتي موسساتو چه د افغانانو لپاره يي کارکاوه او په مشخصه توګه په هغو موسسوباندي چه د ښځو په جلب او جذب کي يي ونډه درلوده ځيني بريدونه پلي شول . همداراز په يو تعداد هغوسياست مداره او روشنفکره افغانانو پر ضد چه د ځينو تنيظمونو د سياست پر خلاف و بريدونه پيل شول . د بشر د حقوقو د سازمان په وينا چه هغوي د پخوانيو حکومتونو پلويان و او د نومړو مجاهدينو لخخوا تر تهديد لاندي و . هغوي د قومونو مشران و چه د اسلامي حزب د قوماندانانو د سلطي او واك پر ضد و ، هغه افغانان چه د غربي موسساتو سره يي په مرستندويه کارونو کي ګډونډرلود ، او هغه ډله ميرمني چه د هغوي مسلکي اهميت د اسلام د سخت ګيرو د سياست سره سمون ندرلود .

پدي لړ کي يو شمير رهبران ، او د غير روحاني او يا چپي ډلو غړي په پاکستان کي په مرګ تهديد شول چه د هغو په ډله کي يو ډير شمير اختطاف او يا ووژل شول . هغوي چه پدي ډله کي واقع شول دادي :

- افغان ملت ( د پښتنو غوښتونکو يو ګوند ) – دافغانستا ن د ښځو انقلابي انجمن - مائويستي چين پلوه ګوند د شعله جاويد په نامه او ساما ( د افغانستان د خلکو آزادي ښونکي ګوند ) .

ځيني هغه ميرمني چه د بشر د حقوقو د سازمان لپاره يي کار کاوه هم تر بريد لاندي راغلي ، داسي يوه فتوا د نامعلومو سازمانو نو لخوا خپره شوه چه په هغي کي د هغو ميرمنو چه تنګ او چسپ او نامناسبه کال اغوندي ، هغه شمير چه د عطر او د ويښتانو غوړي استعمالوي ، هغو ښځو ته چه د نامحرم سره خبري وکړي ، چه دغو خبرو هغه شمير د ښونځيو ښځينه زده کونکي په پيښورکي تر مستقيم تهديد لاندي راوستل .

د يوه شاعر او معروف پوه سيد بهاوالدين مجروح چه د ۱۹۸۸ کال د فبروري په مياشت که په قتل ورسيد . د نوموړي د وژل کيدو پيښه زمونږ د دغه رپوټ يوه مهمه قضيه ګڼل کيږي .
د نوموړو بريدونه او پيښنو لامل په پاکستان کي اسلامي حزب ښودل شوي دي چه د نوموړي ګوند ځوامکونه د پاکستان د استخباراتو د حمايت څخه برخمن و . ستيو کول ( Steve Coll) پدي هکله داسي ويلي دي :

ګلبدين حکمتيار د خپلو افغان استخباراتي ملګرو چه په اي اس اي کي و ، او د جماعت اسلامي د مشرانو ، د سعودي استخباراتي افسرانو ، د عرب داوطالبانو له ۱۲ ملکونو څخه په ډاډ په سيستيماتيکه توګه د خپلو تنظيمي رقيبانو د له منځه وړلو لپاره حرکت کاوه . حکمتيار او د نوموړي لويو قوماندانانو د سلطنت غوښتونکو مجاهدينو ، روشنفکران ، د رقيبو ډلو قوماندانان ، او هر بل څوك چه دوي ورڅخه هراس درلود اختطاف کړل او بيا يي ووژل .

۵.۴.۵ د سيد بهاوالدين مجروح وژنه د حزب اسلامي لخوا
سيد بهاوالدين مجروح په پيښور کي د افغان د اطلاعاتو د مرکز د مياشتني خپروني مسول و چه د جکړي په رابطه يي معلومات خپرول . د نوموړي د ترور څخه څو مياشتي دمخه په خپله مجله کي د يوي سروي او ټول پوښتني نتايج خپاره کړي و چه پکښي ويل شوي و چه د افغان مهاجرو په منځ کي ۷۰ فيصده وګړي د ظاهر شاه پلوي دي د مجاهدينو د رهبرانو په تناسب .

د هغو شاهدانو په وينا چه د عدالت پروژي سره يي مرکي درلودي ويل شوي دي چه د نوموړي سروي د خپريدو وروسته حکمتيار د خپلو يو شمير قوماندانو سره چه په هغو کي د هغه د تره زوي دوست محمد خان ،

رحمت الله ظاهر د پکتیا څخه ، غلام نبي خان د پکتیا څخه ، او میجر ( Mijir ) د پکتیا څخه یوه غونډه جوړه کړه . چه روسته یي یوه قوماندان ته دنده وسپارله چه د مجروح فعالیتون مطالعه کړي . میجر د اسلامي حزب یو استخباراتي مقام و چه چه مشخصا یي د مجروح د وژلو دنده د حکمتیار څخه تر لاسه کړه .
میجر په هغه وخت کي یو لندکروزر تیوتا درلود او د پاکستاني مقاماتو څخه یي دوسلوچه کلاشنیکوف پکښي شامل و تر لاسه کړي وه . د هغو شاهدانو په وینا چه مونږ سره یي مرکي کړي دي د نوموړي لندکروزر موټر نمبر پلیت د پاکستان پولیسو ته معلوم و او هغوي ته داسي امر شوي و چه نوموړی موټر ونه دروي . مجروح په خپل کورکي د ۱۹۸۸ کال د فبروري په ۱۱ نیټه په ګولیو وویشتل شو . او د عیني شاهدانو په وینا چه د نوموړي قاتلین په پاکستان کي ازاده ګرځیدل . او پاکستاني مقاماتو هیڅکله د مجروح او نورو افغانانو د وژل کیدو په مورد کي کوم لازم اقدامات ونکړل .

## ۶ . د بشري او انساني قوانینو څخه تیري د اسلامي حکومت په دوران کي ۱۹۹۲-۱۹۹۶ کال په اوږدو کي ( د شمال د اتحاد د ځواکونو تیري او بشري ضد جنایات د ۱۹۹۶ څخه تر ۱۹۹۸ کال پوري )

۶.۱ د کورنیو جګړو تاریخچه په ۱۹۹۲ – ۱۹۹۶ کلنو په ترڅ کي :
په نوموړي وخت ډیرو ځواکونو یو د بل سره ایتلاف وکړ او د ډیرو جنګي جنایاتو د سرته رسیدو لامل وګرځیدل . چه په ځینو پیښنو کي د قوماندانانو خپل سري اعمال هم ثبت شویدي . د عدالت پروژه پدي یقین ده چه داسي یو جنایت نشته چه تر سره شوي وي او د نوموړو جنایتکارانو رهبراتن پر خبر نه وي . زمونږ په رپوټونو کي داسي پیښي ارزول شوي دي چه جنایات اوتیري د لوړپوړو قوماندانانو او رهبرانو په امر تر سره شویدي .

همداراز دنوموړي موضوع روښانتیا د نکل کونکو او د جګړي د شاهدانو په ویناو کي مستند شوي دي چه قوماندانانو ددي لپاره چه په یوه سیمه کي خپل واك ټینګ وساتي نو خپلو وسلوالو ته یي د هر قسم تیرویو د سرته رسولو اجازت ورکاوه او پدي توګه دوي هم خپل ځان په امان کي ساتلو او هم تر واك لاندي سیمه . قوماندانانو تل په داسي ډول خپل وسله وال تشویق ول او په دي توګه یي غوښتل چه د رقیبانو له بریدونو څخه ځان وساتي . چه دا ددوي ضعیفي او بي وسي وه او هغوي کوم منظم د اداري پلان ندرلود . د نوموړو پیښنو ډیر څه د جګړي په کلونو کي دوسیه شوي ندي .

افغانستان د داکتر نجیب الله د حکومت د سقوط څخه وروسته د کورنیو جګړو په صحنه بدل شو . او هغو ډلو چه د شورویانو او د حکومت پر ضد جهاد او مبارزه کړي وه د قدرت د نیولو په خاطر په خپل منځ کي سره ونښتل . د نړیوالو سازمانونو او ملل متحد لخوا ډیري هڅي وشوي چه نوموړي نښتي بندي کړي خو هیڅوك پدي بریالي نشول .

سره د هغو خبرو چه د داکتر نجیب الله د وفادارو قوماندانانو سره تر سره شوي وي بیا هم د احمد شاه مسعود ځواکونه کابل راننوتل چه د هغوي په راتګ سره نور ځواکونه هم د کابل په شاوخوا کي ځاي پر ځاي شول . د داکتر نجیب الله د یوځ یوه برخه د مسعود له ځواکونو سره یوځاي شوه ، او یو څه یي له نورو ډلو سره یو ځاي شول او یوه برخه یي سلامت له کابل څخه ووتل .

پدي وخت کي د مسعود او حکمتیار د ځواکونو تر منځ جګړه ونښته ، د مسعود ځواکونو د دوستم د ځواکونو په ملګرتیا د اسلامي حزب پر مواضعو راکتي او توپچي بریدونه وکړل چه په مقابل کي د حکمتیار ځواکونو د کابل ښار کي هوایي ډګر ، د جمهوري ریاست قصر ، د دفاع وزارت او د ګارنیزیون قوماندانی ، او مکروریانونه تر راکتي بریدونو لاندي راوستل . چه په پایله کي د کابل ښار په سلهاو تنه غیر پوځي وګري ووژل شول . زمونږ په رپوټ کي د مختلفو ډلو د کورکورانه توغندیو ویشتنو په هکله مکمل ګذارشات راغلي دي .

د اپریل په ۲۶ نیټه په پیښور کي ټولو جهادي رهبرانو یوه غونډه جوړه کړه چه پکښي دا فیصله وشوه چه عبوري حکومت باید جوړ شي او انتخاباتو ته دي زمینه مساعده شي . او وروسته بیا احمد شاه مسعود ددفاع وزیر په توګه وټاکل شو خو د نوي اسلامي دولت د واك سیمه ډیره محدوده وه .

پدي وخت کي د نوموړي موافقت نامه يي سره ټولو ګوندونو توافق درلود خو په هغي کي شيعه احزابو تـه هيڅ واك او حق نه و ورکول شوي چه د هغوي د نار اضـي باعـث وګرځيد . پـه نومـوړي وخت کـي د کابـل ښـار د مختلفو ډلو تر منځ تقسيم شوي و او د پوځي فرقو پر ځايونو کي د وسلوالو ځواکونو لوي مرکزونـه جـوړ شـوي و او هر چا ځانته دتلاشـي پوسـتي جوړي کړي وي او خپل قـانون يـي پـر خلکـو بانـدي تطبيـق کولـو . پـه ځينـو سيمو کي لکه مزار شريف او هرات کي جناحي مظاهري په لار واچول شوي خو دا استثنائات و .
د مسعود اصلي هدف د دولت د اداري پر مهال د دښمن ځواکونو ته ماتي ورکول و چـه پـه هغـو کـي ( اسـلامي حـزب ، د وحدت ګونـد ، او ملـي اسـلامي جنبش و ) او بـل يـي غوښـتل چـه د اسـلامي دولـت سـيمو تـه وسـعت ورکړي البته د کابل په ښار کي .
د جګړي په لومړي کـال کـي د مسعود اصـلي حريـف حکمتيـار د اسـلامي حـزب رهبـر و چـه د بشـر د حقـوقو د نمايندګي د کارکونکو په وينا د نوموړو د راکټونـه د فيـر پـه نتيجـه کـي د کابـل پـه ښـار کـي پـه زرهـاو تنـه غيـر پوځي وګړي د ۱۹۹۲ ــ ۱۹۹۵ مرګ کومي ته وسپارل .
اګر چه ويلي شو چه حکمتيار يواځي يو رهبر نه و چه نوموړي توغندويي بريدونه يي رهبري کول بلکه هر يو بل ګوند چه د سلو او مهماتو انبارونه يي ګوټو ته ورغلي و د کبل پـه ښـار بانـديي زړه ونـه خـوږوو او پـه لارو او کوڅو کي يي د خلکو سره خشونت وکړ . هغو ډولو چه جيت الوتکي در لودي لکه جنبش او نظار شـورا پـه مشخصه توګه يي د کابل جنوب او لوديځه خوا تر بمباريو لاندي نيولي . د وحدت ګوند هم خپلي درنـدي وسـلي د اتحداد او دولت پر ضد په جګړو کي پوره وکارولي ، تولو دغو بريدونـه پـه کورکورانـه توګه تر سـره شـول او په پايله کي يي په زرهاو تنه ووژل شول او د جنګي قوانينو خلاف ورزي پکښي وشـوه ځکـه چـه هغـوي د غيـر پوځي وګړو د وژلو او ويرولو باعث وګرځيدل او همداراز د ډيرو غير پوځي وګړو د تيـي کيـدو او د هغـوي د تاواني کيدو لامل وګرځيدل .

د ۱۹۹۲ کال د جون په مياشت کي د سياف د اتحاد د ګوند د ځواکونو چه مرکز يي په پغمان کي و او د وحدت د ګوند د ځواکونو تر منح جګړه ونښته . د جګړي په ترڅ کي دواړو خواوو يو دبل پوځي او غير پو ځي وګړي نيول او بيا يي وژل او يو شـمير بـه يـي پـه زنـدانونو کـي د تبـادلي کولـو لپـاره سـاتل . چـه ټـولي دغـه تيروتنـي د بشري حقوقو څخه تيري شميرل کيږي چه ځيني هغه تيري زمونږ پدي رپوټ کي لوستلي شي .
د نوموړو پيښو مسوليت د رهبرانو په غاړه دي ولي چه هغوي د هغو ټولو د اختطاف او وژنو پيښو څخـه خبـر و لکه سياف او د نوموړی لوړ پوړي قوماندانان ، او مزاري چه په ۱۹۹۵ کي مړ شو او دهغه مرسـتيال خليلـي او د هغوي لوړ پوړي قوماندانان . چه د عدالت پروژي نوموړی پيښي دوسيه بندي کړي دي .
دواړو خوا يعني د اتحاد د ګوند او د وحدت د ګوند وسلوالو د کورپه کور جګړو پـه وخـت کـي ملکـي وګـړي تـر بريدونو لاندي راوستل . د اتحاد پوځيانوپه يوه ډير شمير ښځو جـنسي تيـري وکـړل او د وحـدت ګونـد وسـلوالو هم د هغوي پر ضد پر ډيرو پيښتنو ښځو باندي جنسي تيري وکړل ، د نړيوالو قوانينو له مخـي جنسـي تيـري هـم د جنګي جناياتو په څير شميرل کيږي . خو دومره بايد وويـل شـي چـه د کمونيسـتانو پـه وخـت کـي د جګـړو پـه ترڅ کي جنسي تيري نـدي شـوي ، خـو بيـا هـم کـه چيـري کـوم رپـوټ د شـورويانو او خلقيـانو د جنسـي تيـرو پـه برخه کي ورکړ شوي وي مونږ ته ندي را رسيدلي .
د مجاهدينو ډلو بعضـي کسان په جنسي تيريـو او د ښځو، پـه تيښـتونو کـي د کابـل د ښـار د جګـړو پـه مـوده کـي تورن شويدي خو تعداد يي لږ دي ، خو د کابل پـه جګـړو کـي چـه پـه ۱۹۹۲ _ ۱۹۹۵ کـي منځ تـه راغلـي دغـه شميره پورته ولاړه چه د مجاهدينو مختلفو ګروپونـو چـه پـه جګـړه کـي شـامل و د جنسـي جنايـاتو پـه کولـو سـره خلکو ته داسي ښودل چه د هغوي د مخالفينو سره د مرستي کول داسي مجازات لري .
په همدي ډول جنسي تيري په ملکي خلکو د هغوي د نژادي توپير په درلودلو سره هم منځ ته راتلل چه پـه ډيـرو پيښو کي خلك د همدغسي تيريو قرباني شوي دي چه د عدالت پروژي د نوموړو پيښو يادداشت اخيستي دي او اسي وړاندي کوي :

د ۱۹۹۲ کـال پـه دسـمبر مياشـت کـي کلـه چـه د اسـتاد ربـاني د څلـور مياشـتني حکومـت دوره پـاي تـه ورسـيده نوموړي د خپل د واك د مودي د اوږدولو لپاره يوه غونده جوړه کړه چه د هغه لپاره يي په واك کي د پاتي کيدو وخت ډير کړ او نوموړي پيښي نوي جګړي د مسعود او دوستم او د وحدت ګوند تر منځ پيل کړي . د نومـوړي شورا چه غړي يي د رباني د تنظيم خلك و په پاي که د د سمبر دمياشتي ۲۹ نيټه د ريس جمهور په توګه وټاکـه او داسي موافقه يي هم وکړه چه پارلمان بايد جوړ شي او دي نوموړي هدف لپـاره او د ربـاني حکومـت څخـه د حمايت لپاره يي وغوښتل چه يو ايتلاف د دوستم په موجوديت کي جوړ کړي .
د ۱۹۹۲ کال په اخرو کي د وحدت ګونـد د دولـت څخـه جـلا شـو او پـه پټـه توګـه يـي خپلـي اړيکـي د حکمتيـار د اسلامس حزب سره ټينګي کړي . پدي وخت کي مسعود د اسلامي حزب چـه د کابـل پـه شـاوخوا کـي پـه درنـدو وسلو سمبال ځواکونـه يـي درلودل او د وحدت ګوند چه د کابل په لويديځ کي يي ډيري سيمي په واك کي رلـودي

د مقابلي لپاره يو ستراتيژيك پلن جوړ كړ او د هغوي د په شاكولو لپاره يي د هغوي پر مواضعو بريدونه پيل كړ په نومووړو بريدونو كي د اتحاد ځواكونو چه د سياف د مستقيمي اداري لاندي وي ډير مهم رول درلود د نوموړي ګوند ځواكونه په رسمي ډول د كورنيو چارو په وزارت پوري نه وي اړيني خو د هغوي په كتۀ يي ډير فعالتيونه تر سره كړل .

د ۱۹۹۳ كال په فبروري مياشت كي مسعود د خپلو ناراضه مخالفينو سره ا ړيكي ونيولي او يو پرتوكول وروسره امضا كړ او هغوي يي دي ته تيار كړل چه په پټه توګه مزاري او دهغه نږدي ياران ونيسي او مسعود ته يي ژوندي تسليم كړي . د عدالت پروژي په نوموړو جګړو كي د جګړي د دواړو خواوو د ناوړه كتي خيستني او جناياتو تحقيق كړي دي او دا يي موندلي ده چه د دواړو خواوو په كوركورانه ډزو كي ځومره ملكي خلك وژل شوي دي او د دواړو خواوو د پوځيانو لخوا په ځومره خلكو جنسي تيري شويدي .

د ۱۹۹۴ كال د جنورئ په مياشت كي دوستم د حكمتيار سره لاس يو كړ او پر مسعود باندي بريد وكړ چه دا جګړي د نجيب د حكومت د سقوط څخه ډيري سختي جګړي ګڼل كيږي او د جنوري څخه تر جون پوري د كابل ښار په داخل كي تقريبا ۲۵۰۰۰ كسان ووژل شول .د هماغي مياشتي پهه پاي كي د مسعود ځواكونو د دوستم پر ځواكونو بريد وكړ او په زرهاو تنه يي ورڅخه اسير ونيول . د دوستم او مسعود د ځواكونو تر منځ جګړي ډير له قهر او ظلم څخه ډكي جګړي وي چه اكثرا په غير پوځي سيمو كي منځ ته راتللي .

په ۱۹۹۴ كال كي د طالبانو د نابيظه را پيدا كيدل او د هغوي د ځواكونو په ذريعه د كندهار د ښار نيول چه پدي كار كي پاكستان ورسره د ټولو امكاناتو مرسته كوله په كابل كي وضعيت ته لوي بدلون وركړ . د ۱۹۹۴ كال په اخرو كي طالبانو خپل پر مختګ د كابل ، ارزګان او .زابل خواته پيل كړ او ۱۹۹۴ كال د فبروري په ۱۴ نيټه يي د حكمتيار مركز په چهارآسياب كي چه هغه له نوموړي ځاي څخه څلور كاله كابل ويشتلو طالبانو په ډيره آساني ونيو .
د مارچ په مياشت كي د مسعود ځواكونو د وحدت د ګوند د ځواكونو پر ضد د كابل په لويديځ كي بريدونه پيل كړل او د هغوي ميشت ځايونه يي بمباردمان كړل . مزاري طالپآنو ته ور تسليم شو او د طآلبانو ځواكونو ته يي اجازه وركړه چه د كابل پع لور پر مختګ وكړي چه د مزاري دا كار د نوموړي په ګوند كي د انشعاب باعث وګرځيده او د نوموړئ يو څه اندازه ځواكونه دولت ته ور تسليم شول . په دغو جګړو كي كوركورانه ډزي د درندو وسلو او كوركورانه بمباري د مسعود د ځوراكونو لخوا وحدت ګوند ښار څخه په وتلو مجبور كړ . په نوموړو جګړو كي د مسعود ځواكونو په جنسي تيريو او د غير پوځي وګړو په وژلو لاس پوري كړ .
چه روسته له نوموړو سيمو طالبان هم په شاولاړل او مزاري طالبانو له ځان سره بوته او وروسته په يوه نا څرګنده پيښۀ كي د هليكوپټر كي د كابل كندهار تر منځ واټن كي ووژل شو .

### ۴.۶ په شمال كي جګړي

د كابل په نسبت په مزار شريف كي د اسلامي انقلاب په لومړي كال كي جګړي پيښي نشوي . په نوموړي ښار كي د ۱۹۹۲ كال د ماچ په مياشت كي د دولتي ځواكونود ځپلو لپاره يو ټينګ او لوي ځواك د دوستم په ابتكار جوړ شو چه په هغي كي د جنبش ، وحدت او جميعت ګډ پوځونه راغوند شوي و . سره لدي چه په نوموړي سيمه كي پخوانيو كمونيستانو او د هغوي لوړ پوړو چارواكو ژوند كاوه او د امنيت د تامين لپاره يي خپلي هلي ځلي كړي وي . خو په ۱۹۹۲ كال د جنبش او وحدت ځواكونه( چه د محقق لخوا رهبري كيدل) د هغي آزادي څخه ورپه نصيب شوي وه ډير خوشحاله وه خو وروسته همدغو وسله والو په ملكي خلكو تيري وكړل او د هغوي شتمني يي چور تالان كړي او سياسي څيري يي ونيولي او ترور يي كړي .

په ۱۹۹۴ كال كي هغه وخت په مزار شريف وضع تغير وكړ كله چه دوستم د اسلامي حزب سره د كابل د نيولو لپاره يو ځاي شو او د مسعود طرفدارانو د دوستم ددي عمل پر ضد پاځون وكړ چه په پايله كي يي په سلهاو كسان ووژل شول . په نوموړو نښتو كي دواړو خواو يو د بل اسيران ووژل .
د ۱۹۹۷ كال په شروع كي طالبانو د مزار شريف خواته پرمختګ وكړ او د دوستم ځواكونه يي د فارياب ، سرپل او بغلان له ولايتونو څخه ويستل . د نوموړي كال د مي په مياشت كي د هغه موافقي په ترڅ كي چه جنرال ملك د دوستم مرستيال د طالبانو سره كړي وه طالبان مزار ښار ته ننوتل . چه وروسته بيا د وحدت ګوند سر تيرو د طالبانو پر ضد ودريدل چه په نوموړي پاڅون كي د جنرال ملك ځواكونه هم د طالپانو پر ضد

ودريدل چه په پايله كي يي د طالبانو په زرگونو سرتيري اسيران شول . او څه ناڅه ۳۰۰۰ تنه طالبان د يوي اونۍ په ترخ كي ووژل شول .
وروسته لدي چه په ۱۹۹۷ كال جنرال دوستم يو ځل بيا مزار شريف ته راغي د نوموړي او د وحدت د گوند د وسله والو تر منځ ډير تاوترخوالى پيدا شو او په نتي[ه كي بيد خلكو كورنه لوټ تالان شول او په ملكي وگړو بريدونه پيل شول . چه وروسته بيا طالبانو په ۱۹۹۸ كال يو ځل بيا د مزارشريف ښار ونيو او د دري كلونو لپاره يي د شمال ډيري سيمي په خپل واك كي وساتلي او يوه كوچني سيمه په شمال ختيځ كي د متحدي جبهي په لاس كي وه .( په لاندي كي مطالعه كولاي شي ) .

## ۶.۳ د كابل په ښار باندي د كوركورانه راكټي بريدونو او بمباردمانونو كول او په جكړي كي له ډيرو ځواكونو كار اخيستل د ۱۹۹۲ كال څخه تر ۱۹۹۵ كال پوري

### ۶.۳.۱ د كابل د بمباردمانولو شرح

د كابل د ښار بمباردمانول د ۱۹۹۲ كال څخه بيا تر ۱۹۹۶ كال پوري د بشري حقوقو څخه يو ښكاره تيري شميرل كيده چه په دوامداره توگه تكراريده .د نوموړو جكړو په پايله كي په لس هاوزره كابل ښاريان ووژل شول ، كابل ښار په كنډواله بدل شو او د نوموړي ښار اوسيدونكو داسي يو وضعيت وليد چه هيڅكله به يي له ياده ونباسي . په نوموړو كوركورانه راكټ ويشتنو او بمباريو كي يواځي اسلامي حزب نه و بلكه په كابل كي ټول ميشت وسله وال ځواكونه چه په كابل كي غوښتل د خپل ځان لپاره ځانگړي سيمي په كنترول كي ولري او ددي لپاره يي پر مخالفو باندي د مختلفو درندو او سپكو وسلو ډزي كولي او په پايله كي يي ټول ښار او د ښار ميشت غير پوځي وگړو ته ډير زيانونه ورورسول .
ډير تحيل گران او خلك دي نتيجي ته رسيدلي دي چه رقيبو ډلو د خپلي واكمني د ټينگښت لپاره يو پر بل د درندو وسلو او بمباريو څخه گټه اخيستي ده او په پايله كي يي عير پوځي وگړو ته ډير تاوانونه ورسولي دي .
او همداراز دا وايي چه مختلفو ډلو د ښار په منځ كي درندي وسلي ځاي پر ځاي كړي وي . د نظار شورا پر خپلو مخالفينو د درندو وسلي ډزي كولي او ويل به يي چه دوي د يوه قانوني دولت څخه دفاع كوي . او د شك ځاي نشته چه وايو چه د اسلامي حكومت جوړښت كي چه په هغو كي د مجاهدينو مختلفي ډلي او د كونيستانو ځيني مشران هم شامل و په ۱۹۹۲ كال كي جوړ شو او سمدلاسه د مخالفتونو سره مخ شو او د مختلفو ډلو تر منح جكړي ونښتي .په لومړي سر كي گلبدين حكمتيار د دولت مخالفت وكړ او په جكړي لاس پوري كړ خو وروسته بيا د ډيرو ډلو لخوا د دولت مشروعيت ته په شك وكتل شو .
د بشر د حقوقو د تحقيق وړ هغه پيښي دي چه په كوركورانه توگه په خلك ميشتو سيمو باندي د جكړي په وخت كي بريدونه شوي وي او دا موضوع چه كومي ډلي په لومړي سر كي بريدونه پيل كړي دي او يا چه كوم گوند مشروعيت لري او كه نه زمونږ د تحقيق وړ ندي . كوركورانه بريدونه هغو بريدونو ته ويل كيږي چه مستقيما د جكړي په وخت كي پوځي موخو باندي د ډزو په وخت كي له دقت څخه كار وانخيستل شي او په پايله كي غير پوځي سيمي تر بريد لاندي راشي . او يا دا چه د جكړي پر مهال وسله وال د جكړي ځاي ته د استولو لپاره غير پوځي سيمو ته واستول شي چه د هغو له كبله غير پوځي وگړي هم تر بريد لاندي راشي . د كوركورانه بريدونه په شمير كي هغه بريدونه هم راځي چه د خلكو د ميشت ځايونو كي كومه پوځي قطعه ځاي پر ځاي كړاي شي او د نوموړي قطعي د شتون له لمله په سيمه باندي د درندو وسلو ډزي وشي او په نتيجه كي يي خلك ووژل شي . خلاصه هغه بريدونه چه په پايله كي عير پوځي خلك زيانمن شي كوركورانه بريدونو كي شميرل كيږي .
پدي ډول ويلي شو چه د كابل په جكړو كي ټولو شاملو اړخونو يو پر بل دي درندو وسلو ډزي كړيدي چه هغوي ټول په كوركورانه بريدونو تورن دي . د ملل متحد گذارشگر د نوموړو پيښو په اتباط رپوټ وركړي دي چه نوموړي پيښي ټولي پكښي شاملي دي . او يوه پيښه كي چه د يوي ډله ايزي وژني په رابطه چه د توغنديو د ويشتلو او بمباردمان په پايله كي منځ ته راغلي ذكر كړيده اووايي چه په نوموړې سيمه كي بمب ځمكه ډيره ژوره كړي وه . خو په دغه جنجالي گذارش دا هم راغلي چه هوايي برباردمان د كابل ښار په ميشت ځايونو او لويو لارو او په هوايي ډگر باندي تر سره شوي دي .

د نظار شورا او اسلامي جميعت د مراتبو د سلسلي او د پوځي عملياتو د كنترول او هداياتو په هكله معلومات

په مشخصه توګه ويلي شو چه د نظار شورا مرګونو ځواکونو د کابل ښار د خپلي توپخاني او بمباردمانونو په ذريعه وران کړيدي . دا هغه ډله ده چه په کابل ښار کي ټولي لوړي په لاس درلودي او د جنبش سره يي يوځاي د نجيب الله له دور څخه پاتي هوايي پوځ هم په اختيار کي درلود . دا چه ولي جګړي په لويه پيمانه پيل شوي پدي کي د هغو جنرالانو چه د نجيب له دوري څخه پاتي و او د جنبش او نظارشورا سره يي مرسته کوله لاس درلود . خو دا هم بايد ووايو چه مسعود په دوامداره توګه خپله ټول عمليات اداره کول او د درندو وسلو د فير هدايت به يي ورکاوه او همدارز ده خپله د جت پيلوتان ته د بمبارد هدايت او لارښونه کوله . او پدي لړ کي محمد قسيم فهيم هميشه هغه ته مشوره ورکوله چه کومي سيمي بايد تر بريد لاندي ونيول شي ولي چه نوموړي په هغه وخت کي د استخباراتو مسول و .
د نظار شورا يو د ټولي قوماندان داسي شاهدي ورکړه او د عدالت پروژي ته يي وويل چه :
متحدځواکونه په غير منظم ډول کابل ښار ته داخل شول چه په هغي ډله کي د نظار شورا پوځونه هم شامل و .
داکتر عبدالرحمن ولاړو او د جنرال نبي عظيمي او جنرال باپه جان او د نجيب د حکومت له نورڅو جنرالانو سره يي توافق وکړ او وروسته له هغي څخه د جميعت او نظار شورا ځواکونه د سالنګ له لوي لاري ، پنجشير ، د بګرام هوايي ډګر او د کابل د هوايي ډګر څخه د کابل ښار ته ننوتل او د اسلامي حزب ځواکونه هم د کابل ښار دروازو ته ورسيدل .
نوموړي د ټولي قوماندان وويل چه د نظار شورا ځواکونه مستقيما د احمد شاه مسعود لخوا اداره کيدل او داکتر عبدالرحمن ورسره مرسته کوله او جنرال پناه پنجشيري د پوځي ځواکونو مسول و .
نوموړي وويل چه مونږ د يوه نوي ځواك سره چه مسعود برابر کړي و کابل ته راننوتو چه د ټولو ځواکونو قوماندان سيد يحيي خان و او وروسته چه هغه ووژل شو پر ځايي بسم الله خان قوماندان شو . نوموړي وايي چه مونږ په لومړي سر کي د جمهوري رياست په قصر او د دفاع په وزارت کي ځاي پر ځاي شو او وروسته بيا کيندل شوي د جګړي لومړيو ليکو ته واستول شو . نوموړي په پيل د کابل د پوځي پوهنتون او ګمرك سيمه کي ځاي پر ځاي شوي و چه هلته د پنجشيريانو ډيرلوي پوځونه د ګل حيدر او بابه جلندر په مشرۍ ځاي پر ځاي و او د کمونيستانو څخه پاتي ځيني پوځونه هم ورسره ګډ شوي و . مونږ په لومړيو ورځو کي کوم مشخص ځاي ندرلود او هر ځاي کي به چه جګړه توده شول مونږ به يي هلته استولو .
نوموړي وايي چه د څو ورځو لپاره جګړه کاملا غير منظمه وه او جګړه د کابل له ګارنيزيون څخه اداره کيدله چيرته چه نبي عظيمي ، داکتر عبدالرحمن ، قوماندان پناه او نورو مسولو جنرالانو مونږ وسلي او مهمات راکول او مونږ هغه په جګړه کي ا ستعمالول ،
نوموړي وايي چه په پيل کي مسعود د کابل ښار څخه پهر د جبل السراج په سيمه کي و او د کابل د ښار ګذارشات به يي اخيتل او له نورو ولاياتو څخه يي ځواکونه را ټولول او کابل ته رااستول . په هغه وخت کي د پنجشير او شمالي څخه ځواکونه ډير ژر کابل ته راورسيدل او هغه پنجشيريان چه په کابل کي و وسلي ورته ورکړل شوي او د پوځونو سره يوځاي شول همدارازد بدخشان او تخار څخه هم وسله وال ځواکونه راورسيدل
.

نوموړي قوماندان وويل چه وروسته بيا کابل د جنبش او وجودت ګوند ځواکونه د هوا له لاري له مزار څخه راورسيدل ، پدي لړ کي د نجيب الله د حکومت پوځيانو خپلو کورونو کي کښيناستل او يو څه يي د مجاهدينو د ډلو سره يو ځاي شول البته هغو کسانو چه د مجاهذينو سره لا پخوا ځيني اړيکي درلودي . پدي وخت که د اتحاد اسلامي ګوند ځواکونه د ميدان ښار او پغمان څخه کآپل ته راورسيدل او د نوموړو سرتيرو اوږده ويښتان له اوږدو شمولو سره لنګي پر سر او د پرتوګونو پايڅي يي تر زنګنو پوري پورتهٔ په ښار کي ګرځيدل او سپين بيرغونه يي په لاسونو کي و او ځينو يي د استاد سياف عکسونه پخپلو موترو باندي ټومبلي و .
د نظار شورا سرتيري روسي پوځي پتلونونه ، چترالی خولي پر سر او يو دستمال يي په غاړو کي تاو په ښار کي ګرځيدل او د مسعود عکسونه يي د خپلو موترانو په شيشو سريښ کړي و .

په لومړي سر کي دا فرصت و چه د شمال د ځواکونو قوماندانان پخپل منځ کي سره کښيني او يو منظم پلان جوړ کړي خو دا ونشو او دا سي يوه غونډه هم جوړه نشوه . خو کله چه جګړه پيل شوه د نظار شورا وکولاي شول چه د پخواني دولت څخه پاتي درندو وسلو څخه ښه ګټه واخلي او دي ته ضرورت پيدا نشو چه درندي وسلي له کوم بل ځاي څخه کابل ته راوړي . نوموړی قوماندان وايي چه مونږ د پخواني حکومت له پاتي شوو ټانکونو او توپونو څخه ګټه اخيسته او زمونږ سنګرونه په نوموړو وسلو ډك و .

په کابل کي يو پر بل د درندو وسلو ډزي پيل شوي او مونږ هم د هودخيلو ، د زمان خان قلعه او د پلچرخي څلور خواوي په راکټونو او توپخاني ويشتلي . اسلامي حزب په مقابل کي د جمهوري رياست شاوخوا ، د دفاع

وزارت ، او د کابل ګارنیزیون په راکټونو ویشتل .د اتحاد اسلامي ګوند پوځیان د کابل ښار په مختلفو سیمو کي ځاي پر ځاي شول . د وحدت د ګوند مواضع د شوراي نظار د ځواکونو لخوا د ۱۹۹۲ کال په اخر کي تر برید لاندي راغلل او د جنبش ځواکونه د ښرار شورا د ۱۹۹۴ کال په جنوري کي تر برید لاندي راوستل .
داسي سوال مو ځیني وکړ چه هغو ځواکونو چه یو د بل پر ضد سیمي بمباردمانولي په دي پوهیدل چه نوموړي سیمي غیر پوځي سیمي دي او که نه ؟ په ځواب کي داسي وایي : کله چه د اسلامي حزب او نظار شورا تر منځ جګړه ونښته دواړو خواو یو بل په درندو وسلو ویشتل چه په نوموړو سیمو کي غیر پوځي خلکو ژوند کاوه خو کله چه جګړي دوام وموند دغه خلك دي ته مجبور شول چه خپل کورونه پریږدي او د ښار مرکز او یا د جلال آباد او یا پاکستان په لوري ولاړ شي . نوموړي وایي چه د نظار شورا پوځیانو د پښتنو کورونه د اسلامي حزب په سیمه کي تلاشي کول خو هغوي ته یي څه زیان نه رساوه خو اصلي زیانونه هلته اوښتل چه هغوي به په نوموړو سیمو برید کاوه او په هر راز وسلو به یي پري ډزي کولي . نوموړي وایي چه کله به مونږ پدي وتوانیدلو چه د اسلامي حزب ځیني سیمي ونیسو نو هلته به مو لیدل چه د بمونو د غورځیدو له امله ډیري لوي کندي د کورونو په منځ کي جوړي شوي وي او مونږ پوهیدولو چه دا کندي که په پوځي ځایونو کي او که د خلکو په کورنو کي وي زمونږ الوتکو جوړي کړي وي .

د جګړي په دور کي د آسمایي غر ( کوه تلویزیون ) او د رادارو غر د شوراي نظار په ولکه کي و او له هغه ځاي څخه به زمونږ رهبرانو هدایت راکولو چه کوم ځاي باندي برید وکړو او په کوم ځاي کي زمونږ ګولي لګیږي . نوموړي پوستي په هر دریو میاشتي د ګل حیدر او یا بابه جان لخو ا اکمالیدلي .

نوموړي قوماندان وایي چه د تلویزیون غر د پلنګ یك او د رادارو غر د پلنګ دو په نامه یادیده او مستقیما د دفاع وزیر له خوا اداره کیدل او د دفاع وزارت سره یي دوامداره اړیکي لرلي .د تلویزیون د پوستي افراد به په هره یوه میاشت کي بدلیدل ولي چه هلته ډیر خراب ځاي و او د ژوند شرایط پکښي ډیر ګران و . له نوموړي ځاي څخه د نظار شورا مسولینو کولاي شول چه د مخالفینو د فیر ځایونه وویني اوپر هغو باندي بریدونه پلان کړي . زه پخپله څو ځلي هلته تللي یم .

د استخباراتو یوه پخواني افسر مونږ ته د نظار شورا د تشکیلاتو او وسلو په برخه کس داسي معلومات راکړل :
* د نظار شورا دري ډول توغندي په اختیار کي درلودل او د بریدونو په ترڅ کي ورڅخه کار اخیسته او د نوموړو توغندیو فیر د واکمنو په لاس کس و . دوي برده راکټونه چه په لومړي سر کي په پشته سرخ او وروسته بیا د بګرام د هوایي ډګر په دوه لاري کي درول شوي و .او د مسلکي افرادو لخوا فیریدل او د برید موخه یي د اسلامي حزب او د وحدت د حزب مواضع ، چیري چه د هغوي پوځي ځواکونه پراته و .
د وحدت د ګوند توپخانه د دارالامان د راکټو په دریمه لوا کي او همداراز د پخوانی شوروي په سفارت کي چه د وحدت ۰۹۶ فرقه هلته حاي پر ځاي وه موقعیت درلود .
د اسلامي حزب د توپخاني مرکز په جهارآسیاب کي د استخبارتو مرکز په شیوه کیو کي ، د ریشخورو په فرقه کي ، او همداراز د اسلایم حزب د وسلو دیپو ګاني . مو تر برید لاندي نیولي . همداراز مونږ د سقاوي په دشت کي هغه هوایي ډګر چه د اسلامي حزب لخوا جوړ شوي و تر بریدونو لاندي راوستل . نوموړي قوماندان وایي چه دور برد ه راکټونه د مسلکي افسرانو لخوا چه د نجیب له دوري پاتي و او د بابه جان سره تنظیم و توغول کیدل او امر به یي پخپله مسعود ورکاوه .
* نوموړي قوماندان وایي چه : زمونږ دوهم ډول توغندي متوسط توغندي و چه له ۱۵ څخه تر ۲۰ کیلومترو پوري یي واتن ویشتلو او د نوموړو توغندیو د فیر صلاحیت د فرقو د قوماندانانو په لاس کي و د مثال په ډول : قوماندان احمدي د قرغي د فرقي قوماندان ، پناه خان د جهادي فرقي قوماندان ، ګدا محمد خان د پشته سرخ دفرقي قوماندان ، او بسم الله خان لخوا امر ورکول کیده . او نوموړوی توغندي د اسلامي حزب په پوځي زونونو او پوځي مرکزونو لکه په بګرامیو ، شاه شهید ، کارته نو ، چهلستون او د وحدت د ګوند پر مرکزونو د اجتماعي علومو پر مرکز ، سیلو او د ضرورت په وخت کي د کابل په لویدیځ کي د وحدت تر کنترول لاندي ټولو سیمو باندي بریدونه کول .
* همداراز د نظار شورا د ضرورت د له منځ وړلو په موخه د ګرځنده توغندي ویشتونکو ، تانکونو او ګرځنده توپخاني ډلي جوړي کړي وي چه په هر وقت کي کولاي شول ځان د دښمن د فشار سیمي ته لنډ کړي او خپل بریدونه تر سره کړي نوموړي ځواکونه د تعرضي قوماندانانو په واك کي و چه د ګل حیدر او عبدالصبور نوم اخیستي شوچه دواړه د پنجشیر و او همداراز قوماندان فاضل او عبدالحکیم او عزیز چه د سمنګانو څخه و .
نوموړي د استخباراتو افسر ویلي دي چه پورته یادو شویو قوماندانانو بریدونه خپله ترسره کول خو احمد شاه مسعود به لا پخوا دنوموړو بریدونو هدایت ورکړي و .

د نږدې واټن توغندي هغه توغندي و چه ۱ یا ۲ کیلومتره واټن کې به ځینې ګټه اخیستل کیده او د نوموړو توغندیو په ذریعه د کارته سخي ، کارته چهار ، د پوهنتون شاوخوا ، ده بوري ، کوټه سنګي ، چهار قلعه ، مهتاب قلعه ، دشت برچي ، آقاعلي شمس ، بیني حصار ، چنداول ، سیا بیني ، سنګ نوشته ، بګرامي ، قلعه زمان خان ، او اورزان قیمت سیمې ویشستل کیدي .
نوموړي قوماندان د بسم الله خان تر امر لاندي دهغو احتیاطي ځواکونو یادونه وکړه چه د هغوي ثابت ځای نه و معلوم خو د ضرورت په وخت کې په هر ځای کې ځینې ګټه اخیستل کیده . نوموړي ځواکونه د احمد شاه مسعود لخوا جوړي شوي او هغوي تربیه شوي و چه مخصمص یونیفورم یې درلود او ډیري عصري وسلې یې درلودي او په لوژستیکي اکمالاتو کې یې او د معاشونو په اندازه کې یې د نورو ځواکونو سره توپیر درلود ، دغو ځواکونو تانکونه او پر مورتو بار توغندي یې درلودل او همداراز پر موټر بار روسي دافع هوا سلاح چه د زیو په نامه یادیږي هم درلوده . نوموړو ځواکونو د حزب اسلامي په ضد د باالاحصار ، د اسمایي غره او چهلستون په سیمه کې فعاله ونډه درلوده او وروسته د وحدت د ګوند پر ضد یې د کابل ښار په لویدیځ کې ګډون درلود او د ریشخورو د نیولو په خاطر یې هم په هغه ناکامه هلو ځلو کې ګډون درلود .

د جنبش او نظار شورا د هوایي ځواك بیلي بیلي قوماندانۍ وې . د یوه شاهد په وینا چه مسعود پخپله او یا بسم الله خان به د هوایي بمباري امر ورکاوه . د هماهنګي د شورا په وخت کې د کابل د ډوایي حریم واك ټول د مسعود دځواکونو په لاس کې په ۱۹۹۴ کال کې و او د جنبش هوایي ځواك یې په دښمني کې واقع شو .او همداراز د مسعود ځواکونو د کابل ټول جګ او ستراتیژیك ځایونه په واك کې درلودل . دغه دواړه دلایل ددې خبرې ثبوت ورکوي چه مسعود په کابل کې د ډیرو سیمو د هدف نیولو او ویشتلو واك درلوزد .
یوه عیني شاهد چه غیر پوځي سړي و د عدالت پروژې ته وویل چه نوموړي پدې باور دي چه په کابل کې لوړي څوکي اساسا د کابل د ورانیدو لامل وګرځیدي ولي چه کله به پر کابل کوم ډز وشو بیا به له همدې لوړو څوکو څخه د مسعود ځواکونو په توغندیو او توپونو هغه سیمې تر هغو ویشتلي چه بیخي به ورانې شوې خصوصا د کابل لویدیځ او ختیځ چه زه د نوموړو پیښو شاهد یم .

آ . یوپخواني پوځي افسر د نظار شورا د ځواکونو د ځای پر ځای کیدو د کابل په لویدیځ کې د وحدت ګوند په مقابل کې داسې بیانوي :

۱ : سمیع الله قطره د اسلامي جمیعت د ګوند غړي او د بدخشان د ولایت د درواز د ولسوالي اوسیدونکي د پخواني دفاع انقلاب د لوا قوماندان او د دهمزنګ د زندان ، ژو بڼ ، د بریکوت څلور لارې ، او د دهمزنګ خواته تللي لارې یې په کنترول کې وې .
نوموړي لاندې وسلې درلودې :

- ۵۰ میله آرپي جي (۷) توغندي ویشتونکي .
- ۱۲۰ میله پیکا ماشنګني (روسي ډول یې ).
- ۱۰ ضربه وسط ۸۲ ملیمتري هاوانونه .
- ۱۰ ضربه ۸۲ ملمتري توپونه .
- ۱۰ ضربه ۷۶ صحرا توپونه( چینایي ډول یې ).
- ۳ ضربه غرني هاوانونه ( روسي ډول یې ) .
- ۲ چینه تي ۵۵ تانکونه .
- ۳ چینه تي ۶۲ تانکونه .
- ۲ چین روسي زرهپوشونه بئ ت ار ۶۰ .

۲ : رحیم الله د لوا مرستیال چه دپنجشیري بابه جلندر تر قوماندې لاندې و د نوموړي ځواکونه د کرهنې د وزارت شاته او د علي آباد د روغتون کې ځای پر ځای شوي و .

۳ : حبیب الله پارندي د بابه [ان د فرقي د کندك قوماندان و او د کارته سخي په پورتنیو برخو او د کرهنې د وزارت شاته سیمو باندې یې کنترول درلود .

۴ : ګل حیدر پنجشیري د کارته سخي ګردنه تر کنترول لاندې درلوده .

یو عیني شاهد چه (ك) نومیږي او په سیمه کې یې ژوند کاوه د ګل حیدر وسلې داسې بیانوي :

- ۴۰ میله آر پي جي توغندي ویشتونکي .

- ۱۰ ضربه ۸۲ مليمتري وسط هاوانونه .
- ۱۰ ضربه ۸۲ مليمتري توپونه .
- ۴۰ ميله پيکا ماشينګني .

اګر چه د دولت د توپخاني مواضع د جګړي په اوږدو کي له يوه ځايه بل ځاي ته بدليدل خو د عدالت پروژي د دولت او هماهنګی شورا ۱۲ د توغنديو او توپونو د انداخت مرکزونه د تحليل او ارزيابی لاندي راوستي دي او د نوموړو سيمو نقشه يي هم ترسيم کړي ده چه په لاندي توګه وړاندي کيږي :

لومړی توپخانه : د هوايي ډګر په ختيځ کي ( پوسته شرقي )
۱ : ۲ چينه تانکونه .
۲ : ۲ د بي ام ۲۱ دستګاوي .
۳ : ۴ ضربه ډي سي توپونه .
د نوموړو درندو وسلو په ذريعه د دښمن مواضع د کابل په جنوب او ختيځ کي تر بريد لاندي نيول کيدي .

دوهمه توپخانه : د کابل د هوايي ډګر په لويديځ کي د خواجه بغرا په سيمه کي
۱ : د اورګان يوه دستګاه .
۲ : د بي ام ۲۱ دوه دستګاوي .
۳ : ډي سي توپونه ۴ ضربه .
د نوموړو درندو وسلو په ذريعه يي د دښمن مواضع د کابل په جنوب او ختيځ کي تر بريد لاندي نيولي .

دريمه توپخانه : د تلويزيون په غره کي :
۱ : د بي ام ۲۱ يوه دستګاه .
۲ : دوه چينه تانکونه .
۳ : دوه د زيو _ ۲۳ دستګاوي .
۴ : ستينګر دافع هوا توغندي يوه دستګاه .
۵ : دوه دستګوي د ستريلا _ ۱۰ ( دافع هوا )
د نوموړي ځاي څخه د کابل ښار په شاوخوا کي ټول اهداف معينيدل او خپله احمد شاه مسعود د دوربين په ذريعه له دغه ځايه څخه د جګړي وضعيت کوت او خپلو ځواکونو ته يي رهنمايي کوله .

څلورمه توپخانه : د خيرخاني ميني په شمال لويديځ کي د هزاره بغل په سيمه کي :
۱ : د اورګان يوه دستګاه .
۲ : د بي ام _ ۲۱ دوه دستګاوي .
د نوموړي ځاي څخه د کابل پر لويديځ او جنوب باندي بريدونه کيدل .

پنځمه توپخانه : د ۳۱۵ فرقي په قرار ګاه کي د خيرخاني په لويديځ کي
۱ : د اورګان څو دستګاوي .
۲ : د بي ام _ ۲۱ څو دستګاوي .
۳ : د توغندي ويشتونکو مختلف ډولونه .
۴ : تانکونه .
په اساسي ډول د نظار شورا د وسلو او مهماتو لوي مرکز همدلته پروت و او له نوموړي ځاي څخه د کابل ښار پر هره برخه باندي بريدونه کيدل .

شپږمه توپخانه : د چمتلي په دشته کي :
۱ : د لونا راکتونو يوه دستګاه .
۲ : د بي ام _ ۲۱ څو دستګاوي .
۳ : د اورګان يوه دستګاه .
د نوموړی ځاي څخه د اسلامي حزب او جنبش مواضع په چهاراسياب کي د لونا په ذريعه تر بريد لاندي نيول کيدي او د کابل په لويديځ کي د وحدت ګوند پر مواضعو بريدونه کيدل .
اوومه توپخانه : د راکتو په لوا کي
۱ : لوي تانکونه ۴ چينه .

۲ : د راکت د پرتاپ ۶ دستګاوي .
۳ : په یوه ډېره اندازه سکر او بي ام توغندي .
نوموړي ځاي څخه د ملا تاج محمد په قومانده د وحدت د ګوند پر مواضعو بریدونه کیدل .

اتمه توپخانه
۱ : یو چین تانك .
۲ : یوضرب دي ـ سي توپ .
۳ : د ي بي ام _ ۲۱ دري دستګاوي .
نوموړي قطعه د شیرعلم تر قوماندانی لاندي و ه او د وحدت ګوند پر مواضعو یي د کابل په لویدیځ کي بریدونه کول . او په خاصه توګه یي پر کوته سنګي ، کارته چهار ، ده بوري، علا الدین ، دارالامان ، چهلستون او ده قاضي باندي بریدونه کول .

نهمه توپخانه : د باغ داود په سیمه کي :
په نوموړي ځاي کي ډیر وسایط ساتل کیدل چه د شیر علم تر قوماندي لاندي و او نوموړي ځاي د اتحاد اصلي قرار ګاه وه .

لسمه توپخانه : د کمپني په سیمه کي
یو ډیر شمیر درندي وسلي د تانکونو او توپونو په شمول په دغه ځاي کي ځاي پر ځاي شوي و . نوموړي قطعه د زلمي توفان تر قوماندي لاندي وه او د وحدت ګوند پر مواضعو و یي د کابل په لویدیځ کي بریدون کول .

یولسمه او دولسمه توپخانه : د حرکت انقلاب اسلامي تر کنترول لاندي سیمو کي

په تایمني کي حرکت اسلامي دوه قرارګاوي درلودلي چه درندي وسلي یي لږدر لودي . خو هر هغه څه یي چه درلودل د نظار شورا په ګټه یي د وحدت د ګوند پر ضد استعمالول .

## د اسلامي حزب پرڅه اخیستنه د کابل ښار په بمباردمان کي

اسلامي حزب په ټوله هغي دري کلني دوري کي چه د تنظیمي جګړو له پیل څخه بیا د نوموړي حزب د ځواکونو د وتلو پوري د چهارآسیاب څخه د کابل ښار په دوامداره توګه په توغندیو ویشته ، په سیاسي _ نظامي تړونونو کي بدلون د حزب اسلامي لپاره دا معني درلوده چه د خپلو د بمباردولو اهدافو ته تغیر ورکړي . خو ځیني ثابت اهداف لکه د نظار شورا مواضع چه په دوامداره توګه د حزب د درندو وسلو تر برید لاندي راتلي . د حزب اسلامي څلور اصلي دوري چه د کابل په جګړو کي یي نقش ولوباوه :

### لومړي دوره : د واك پر سر مخامخ تاوتریخوالي ، د ۱۹۹۲ کال د اپریل میاشت

هغه علتونه چه د خلق دموکراتیك ګوندواك ته یي خاتمه ورکړه د ملل متحد کوششونه د یوي انتقالي اداري د جوړوني په برخه کي و ، چه د همدي وجي په بنا حزب اسلامي د شمال د اتحاد په مقابل کي ودرید چه په کابل کي واك خپل کړي . چه د نوړو هلوځلو په پایله کي اسلامي حزب وکولاي شول چه د کابل مرکز حتي جمهوري ریاست ارګ تر ولکي لاندي راولي او همداراز یي خپل ځیني ځواکونه په مکروریانو ، په پوهٔي روغتون او د کابل په ملي لوبغاړي کي ځاي پر ځاي کړل .پداسي حال کي چه د نظار شورا د دوستم او پرچمي ځواکونو په مرسته کولاي شول چه له شمال څخه ډیر ځواکونه را انتقال کړي او د اسلامي حزب د پر مختګ مخنیوي وکړي ، چه وروسته همداسي هم وشول او د اسلامي حزب ځواکونه یي د جګړو په ترځ کي له ارګ څخه ویستل او د نوموړو عملیاتو په ځواب کي اسلامي حزب د لومړي ځل لپاره د ۱۹۹۲ کال د مي په ۵ ــ ۶ نیټه د کابل ښار تر بمباردمان لاندي راوست .

### دوهمه دوره : په جنوب کي تینګښت د ۱۹۹۲ کال د مي څخه تر نوامبر د ۱۹۹۲ پوري

د دوهمي دوري په جریان کي دا جوته شوه چه اسلامي حزب د کابل په کنترول کي بریالي نشو ، اسلامي حزب په ظاهره د سیاسي پروسي یوه برخه وه چه حتي د صدرارت څوکي هم ورته مدنظر نیول شوي و خو اسلامي حزب د اپوزیسیون په توګه په یواځي د دولت په مقابل کي خپل دریځ ته دوام ورکړ او د رباني دولت

يي كمونيستانو ته د ډير واك په ورکولو تورن کړ . حکمتيار د هميش لپاره د کمونيستي مليشو ويستل د کابل له ښار څخه غوښتل چه د هغوي موجوديت يي ناروا ګڼله او ويل يي چه تر هغو پوري چه نوموړي مليشي په کابل کي نوموړی به جګړي ته دوام ورکړي .( حال دا چه خپله حکمتيار کمونيستان يعني پخواني خلقيان چه د نجيب پر ضد يي کودتا کړي وه تر څنګ درلودل ) .
په نوموړي دوره کي اسلامي حزب خپل استحکامات په جنوب کي يعني د لوګر ولايت په شمال او د بيني حصار څخه تر چهلستون سيمي پوري ټينګ کړل او د کابل ښار داسي يوه منظره غوره کړي وه چه ګواکي د جګړي لومړي ليکي دي . او اسلامي حزب د نظار شورا او اسلامي جنبش له خواکونو سره د کابل په ختيځ کي د پلچرخي د سيمي د کنترول پر سر په جګړه بوخت و .

## اسلامي حزب سره د نورو ګوندونو يوځاي کيدل د ۱۹۹۲ کال د دسمبر څخه تر دسمبر د ۱۹۹۳ کال پوري

په نوموړي دوري کي اسلامي حزب ددي لپاره چه د جګړي په بهير کي داسي يو بدلون راولي چه ټول ورته حيران شي وي کولاي شول چه د شيعه ځواکمن ګوند يعني د وحدت ګوند سره پروتوکول وکړي او پدي وخت کي د نظار شورا په مقابل کي جګړي ډيري تودي شوي . اسلامي حزب او د وحدت حزب يو نوي تعرض د نظار شورا پر ضد په لاره واچاوه چه اصلي موخه يي د دارالامان د سيمي لاس راوستل او په کابل ښار کي د نويو سيمو د نيولو په مقصد و .

## د هماهنګي د شورا مبارزي د ۱۹۹۴ کال د جنوري څخه تر فبروري د ۱۹۹۵ کال پوري

په ۱۹۹۴ کال کي د اسلامي حزب يوالي د ملي جنبش سره ، سربيره پردي چه د وحدت حزب سره يي پخواني اړيکي ساتلي وي په کابل ښار کي د ډيرو سختو جګړو لامل وګرځيده ، جنبش د جنګي الوتکو په ذريعه د اسلامي حزب په نفع د دښمن په مواضعو بمباردمانونه وکړل او اسلامي حزب د الوتکو د راکوځيدو لپاره په لوګر کي يو هوايي ډګر پرانيستلو . د هماهنګي د شورا د تاسيس څخه وروسته په هماغو لومړيو ورځو کي اسلامي جزب د کابل د ښار په پراخه پيماني بمباردمان پيل کړ . د ۱۹۹۴ کال په لومړيو شپږ مياشتو کي جګړي ډيري په زور کي وي دا تر هغو پوري چه اسلامي حزب او جنبش ځيني ځايونه د کابل ښار په منځ په خپل واك کي درلودل او د اسلامي حزب بمباري د کابل پر ښار تر هغه وخته دوام وکړ چه طالبانو د نوموړي ګوند مواضع د ۱۹۹۵ کال د فبروري په مياشت کي په چهارآسياب کي ونيولي ( چه له هغي وروسته طالبانو د کابل ښار بمباردمان له چهارآسياب څخه پيل کړ ) .

د درندو وسلو ليږدول د کابل ښار ته
د کابل په جګړو کي د ورانيو اصلي عامل هغه وسلي وي چه د مجاهدينو بيلابيلو ډلو ته د شورويانو د حمايت لاندي کمونيستي حکومت څخه ورپاتي شوي . د درندو وسلو هغه ذخيره چه د کابل ښار د دفاع او ليرو سيمو ته د ليږدولو لپاره په کابل کي راتولي شوي وي يو ناڅاپه د مجاهدينو د ګوندونو په لاس ورغلي په دغو درندو وسلو کي تانکونه ، د منځني واټن توغندي ، ضربه يي توغندي ويشتونکي ، او حتي اورګان او سکاد راکتونه . چه د دغو وسلو په ذريعه د مجاهدينو ډلو د سيمو د کنترول او لاس ته راوړني لپاره يو پر بل ډزي پيل کړي . خصوصا کله چه د جنبش توپخانه په لومړي سر کي د اسلامي پر ضد استعماليدله خو د ۱۹۹۴ کال څخه وروسته چه هماهنګي شورا جوړه شوه نوموړي توپخانه هم د نظار شورا پر ضد استعمال شوه .

هغه وخت کي چه د خلق دموکراتيك رژيم د سقوط مرحلي ته نږدي شوي و ،ا سلامي حزب خپل ځيني ځواکونه د لوګر ولايت په شمال اود کابل ښار په جنوبي څنډو کي جوړي کړي وي . او همدارازيي د خپلو قرار ګاو خواته چه د کابل په جنوب کي واقع وي خپلي درندي وسلي هم ځاي پر ځاي کړي وي ، هغه درندي وسلي چه د اسلامي حزب او د هغه د متحدينو لخوا د جګړي پر مهال کابل ته انتقال شوي دي دادي :

لومړي نمبرتوپخانه : د بالاحصار په پوځي کلا کي

هغه درندي وسلي چه په نوموړي ځاي کي ځاي پر ځاي وي دادي :
- ۴ تانکونه .
- ۲زرهپوشونه .

- ۵ دي سي توپونه .
- ۱ د بي ام _ ۲۱ دستګاه .
- او همداراز یو ډیر شمیر هاوانونه او توغندي ویشتونکي .

د نومووړي پوځي قوماندان د فقیر قوماندان په نامه یادیده چه د حیدر جوزجاني ورور و . هغه افسرانو چه د جنبش د ځواکونو اداره یې په کابل کې په لاس وه او خپلو ځواکونو ته یې دبرید د کولو امر ورکاوه دادي : همایون فوزي پخوزاني افسر ، مجید روزي د جنرال دوستم مرستیال .

## د اسلامي حزب توپخانه او د هغو موقعیتونه

لومړي نمبر توپخانه :

نوموړي توپخانه په شیوه کیو کې د زرداد په قرارګاه کې پرته وه چه نوموړي قرار ګاه د شیوه کیو په لیسي کې موقعیت درلود . نوموړي توپخانه په اصل کې په جنبش پوري اړه لرله او د شوراي هماهنګي په عملیاتو کې ورځیني کټه اخیستل کیده او دغه درندي وسلې یې درلودلې :

- ۳ دي ۳۰- توپونه .
- ۱ د بي ام _ ۲۱ دستګاه .

د نوموړو درندو وسلو قوماندان جګړن عمر د دوستم له افسرانو څخه و او د جګړو په ترڅ کې بیا ووژل شو .

دوهمه توپخانه :

د شیوکیو په لیسه کې دوه دي سي توپونه او یو ه د بي ام ۲۱- دستګاه چه مستقیما د زرداد له خوا اداره کیدي نوموړي درندي وسلې زرداد د خپلو ځواکونو په ملاتړ د جګړي په لومړیو لیکو کې استعمالولې او د نوموړي توپخاني قوماندان شریف نومیده او هدایت په نامه د زرداد مرستیال به هم ورسره مرسته کوله چه شریف وروسته په پیښور کې ووژل شو ، هدایت ژوندي دي خو د هغه د هستوګني د ځاي په برخه کې معلومات نشته . چه د هماهنګي د شورا د جګړو په وخت کې د دوستم توپخاني د جګړن عمر په قوانداني له همدي ځاي څخه عملیات کول .

دریمه توپخانه د نوي کارتي په سیمه کې : هغه درندي وسلې چه د نوموړي توپخاني په واك کې وې دادي :

- بي ام ۱۲- یوه دستګاه همداراز په یوه ډیره اندازه سکر او بې ام توغندي چه د شوراي نظار پر لومړیو لیکو د ډزو په مقصد له همدي ځاي څخه فیریدل . یو بل د انداخت مرکز د شاهك کلي ته نږدي هم واقع و چه نوموړي توپخاني در ي توپونه او یوه د بي ام ۲۱ دستګاه درلوده او د سما د فرقي تر اثر لاندي یې فعالیت کاوه . د نوموړی توپخاني قوماندان نوررحمن پنجشیري د اسلام الدین پنجشیري ورور و چه د حکمتیار له نږدي مرسته کونکو څخه و چه وروسته بیا نوررحمن مسعود ته تسلیم شو او اوس په کاپل کې ژوند کوي .

څلورمه توپخانه د هنده کیو په سیمه کې :

نوموړی توپخانه په لشکر ایثار پوري اړونده وه او دا لاندي درندي وسلې یې درلودلې :

- ۳ دي سي توپونه .
- ۱ د بیام۲۱- دستګاه .

نوموړي توپخانه د انجنیر زلمي لخوا اداره کیدله او د هنده کیو کې د چهلستون جنوب کې یې موقعیت درلود ( د ریشخورو پوځي اډې ته نږدي ) . د سما دفرقي قوماندان پدي وخت کې تورن اما ن الله و .

پنځمه توپخانه د ریشخورو په فرقه کې : دغه درندي وسلې یې درلودي :

- ۴ تانکونه .
- ۵ ضربه مختلف توپونه .
- او ډیره اندازه سکحر او بي ام توغندي چه په لشکر ایثار پوري اړوند و . پداسي حال کې چه د جګړي په وخت کې د اسلامي حزب ډیرو ځواکونو د ریشخورو له سیمه څخه عملیات پر مخ بیول خو زرداد قوماندان پدي خبره اعتراف کریدي چه د جګړو پر وخت یې خپله توپخانه نوموړي سیمي ته د کابل ښار د ویشتلو په موخه انتقال کړي وه .

شپږمه توپخانه :

د راکتو په لوا چه د لوګر په سفید سنګ کې پرته وه موقعیت درلود د نوموړي توپخاني په تشکیل کې لاندي درندي وسلي شاملي وي :
- د اورګان یوه دستګاه.
- د بي ام ۲۱- څو دستګاوي
چه نوموړي توپخانه د جنرال ولي تر قوماندي لاندي وه نوموړي د نجیب په حکومت کې د دافع هوا ځواکونو قوماندان و چه د تني په کودتا کي زنداني شو ۱۹۹۰ – ۱۹۹۲ پوري او وروسته ل خلاصیدو اسلامي حزب ته واوښت .

اوومه توپخانه : نوموړي توپخاني د چهارآسیاب په جنوب کې د تیلو په ذخیره کي موقعیت درلود او لاندي درندي وسلي يي درلودي :

- دوه د اورګان دستګاوي .
- دوه د دي بي ام_ ۲۱ دستګاوي

نوموړی توپخانه د قوماندان خلیل لخوا اداره کیده . له دغو توپخانو څخه سر بیره حزب اسلامي د کابل ښار په شاوخوا کي یو ډیر شمیر تانکونه ځاي پر ځاي کړي و او د دښمن د لومړیو لیکو د ویشتلو لپاره يي له هغو څخه کار اخیسته .

- اداره او کنترول

اسلامي ګوند د منظم دسپلین په درلودلو سره د نورو ګوندو په نسبت د یوه سازمانلرونکي ګوند په حیث د جګړو په دوران کي وزلید. لکه څنګه چه معلومه وه دغه پخپله د ګلبدین حکمتیار او د هغه د مشورتي شورا له په مخ پیول کیدهز په کابل کي د جګړو د ښه پرمخ پیولو لپاره د نوموړیګوند رهبري دا وپتیله چه باید د درندو وسلو د استعمال په دریعه د جګړو په ډګر کي خپله پیاوړتیا وښيي. حکمتیار د چارو د ښه سمون لپاره په چهارآسیاپ کي یوه مشورتي کمیته جوړه کړه چه له هغه سره يي جوخت د فرقه سما او لشکر ایثار پنست هم کښیښود ز دغه دوه مقتدري نظامي قطعي پخپله د حکمتیار لخوا رهبري کیدلي او ټول مصارف يي شخصا حکمتیار ورکول . د اسلامي ګوند نور ټولګي د محلي قوماندانانو لخوا اداره کیدي چه خپل رهبري ته وفدار خلګ وه ز له یاده باید ونباسو چه د جګړي په دوران کي د اهداف د تاکلو او په هغو پاندي د ګذارنو واردلو مسولیت د مشورتي کمیتي په لاس وه چه په دي منور به پر ځاي وي چه د هغي کمیتي غړي هم په خپل وخت سره د خپلو اعمالو د جواب ورکولو لپاره ځواب ورکولو ته حاضر شي. چه په هغو کي به لاندي قدمي شاملي وي :
لومړي قدمه :
هغه قوماندان چه د درندو وسلو درلودونکي وه او د هغو وسلو په ذریعه يي عملیات اجراي کړیدي چه د عدالت پروژه د هغو په اړوند مکمل معلومات لري او په راتلونکي تفصیلي رپوټ کي به يي وړاندي کړي ز
دوهمه قدمه :
هغه قوماندانان چه مستقیما يي د اهدافو په ورکړه او د انداختونو دنده په غاره درلوده چه نومونه يي په پورتنویو لیکو کي راغلي دي .
دریمه قدمه
د اسلامي ګوند د توپچي قواوو ریس چه د ټو لو مسلکي کسانو څخه يي غوښتل چه د نوموړي ګوند توپچي قواووي په دي وتواني چه کاپل ښار د ډزو لاندي ونیسي چه په دعه ډول تورن خلیل یادولي شو .
څلورمه قدمه
د نظامي شورا ټول غړي چه ۱۲ نه تر ۱۴ کسانو وه ز نوموړو ټول جګړيي عملیاتونه پلانول او په هغه وخت کي کولاي شول چه د عامه خلکو د تلفاتو د کمولو لپاره اقدام وکړي چه د هغو په سر کي دوه تنه ستر جنرالان فیض محمد او کشمیر خان وه .
پنځمه قدمه
د اسلامي ګوند د قول اردو قوماندان چه د کاپل په ښار پاندي يي د ګذارنو مسولیت درلو د چه لومړي دا دنده د سپاوون په غاړه وه او ورسته کشمیر خان ته وسپارل شوه .شپږمه قدمه :
د اسلامي ګوند مشر چه د اصلي ستراتیژي مپتکر او طراح وه او همیشه يي د دي ګوند د راکتي بریدونو او د هغو د تلفاتو نه خبریده ولي کوم پر ځاي اقدام يي نه کاوه چه دغه تلفات لږ شي . او د یاد وړ ده چه ګلبدین حکمتیار د جګړو په ټول پهیر کي د اسلامي ګوند مشر وه .

د جګړو په دوران کې انساني تلفات او وراني
لکه څنګه چه معلومه ده د جګړو په دوران کې د اسلامي ګوند د درندوز وسلو انداخت اکثرا کورکورانه او غير دقيق وه ز د اسلامي ګوند قوماندانانو په اساسي ډول دري دوله اهداف د راکټي حملو لاندي نيول چه دغه اهداف اکثرا د د عامه وګړو د استوګني په سيو کې واق وه او په دي ډول د انساني او مالي تلفاتو پاعث ګرځيدل. د اي اس اي ځواکونو چه په دي جګړو کې يې د اسلامي ګوند پلوي کوله او د کاپل ښار په اطراف کې ځاپرځاي شوي وه هم په دي پيښو کې لاس درلود ز
د امريکا د متحده ايالاتو د دولت په يوه ګذارش کې چه په کال ۱۹۹۳ کې خپور شو ويلي شوي وه چه د اسلامي ګوند پوځيانو د جګړي په دوران کې د کاپل ښار په بيلابيلو ساحو پاندي د درندو وسلو ګذارونه کړي دي چه په نتيجه کې يې ډيرو غير نظامي وګړو ته ځاني او مالي تاوانونه رسيدلي دي . په هغو ځايونو چه ډيري پمپاري شوي دي دادي :
- ټول هغه عمده دولتي مراکې چه د شوراي نظار په ولکه کې وه لکه د جمهوري رياست ارګ – د صدرات ماڼي او ټولي وزارتخاني . ټول هغه نظامي اهداف چه د شوراي نظار په ولکه کې وه او حتي د مسعود مهمانخانه په وزير اکبر خانه مينه کې او همدراې د جګړي لومړي ليکې .
ددغو راکټي پريدونو لړي روانه وه او هره ورځ يې يو ډير شمير بې ګناه خلك د مرګ کومي ته سپارل چه د ۱۹۹۲-۱۹۹۵ کال په اژدو کې يې دوام پيدا کړ او اسلامي ګوند د ملکي وګړو د خوندي توب لپاره هيڅ موثر عمل ترسره نکړ . ځينې وخت داسي هم واقع شوي دي چه د قدرت د ښودني لپاره دواړو خواوو يو پر بل مرګوني ګوپارنه کړي حال دا چه د جګړي په لومړيو ليکو که هيڅنوع نظامي تحرکات نه ليدل کيده ز چه له همدي جګړو څخه په کال ۱۹۹۲ د اګست په مياشت کې د څو تونيزو جګړو له عمله عامه وګړو ته ډير ځاني او ماني تاوانونه واوښتل. چه پدي لړ کې له ۳-۲ بره کسان ووژل شول او له ۱۰-۸ بره کسان ټپيان شول ز چه په دي دري اونيزي جګړي کې د اسلامي ګوند د درندو وسلو ګولي اکثرا په غير نظامي ساحاتو راپريوتي او دا حملات ټول کورکورانه او ناسنجيده وه .
د وحدت اسلامي ګوند : د فعاليت ساحي او نظامي فعاليتونه
د وحدت حزب هم يو له هغو ګوندونو څخه و چه يو ډير شمير جنګي افراد يې درلودل او د کابل په جګړو کې ښکيل وه . ددي ګوند ټول افراد د هزاره مليت څخه وه چه د نجيب الله د حکومت پاتي شوي پوځيان هم د جګړو په وخت کې ورسره يو ځاي شول چه د هغو په ډله کښي د ضابط اکبر قاسمي د ۰۹۵ فرقي قوماندان – جنرال ابوذر د ۰۹۷ فرقي قوماندان او جنرال خدايداد چه د عپدالعلي مزاري نظامي مشاور وه يادولي شو. ددي ګوند مسولينو په هغه وخت کې ادعا کوله چه ددوي افراد په ښاري جګړو او د سپکو وسلو په استعمال کې ځانګړي مهارت او قابليت لري .
د نومړي ګوند د يوه د کندك د قوماندان چه د کاپل د سهيل اوسيدونکي دي په وينا چه د جګړي په لومړيو کې د جنرال دوستم د ملي جنبش په مرسته وکولاي شول چه د نوموړي ګوند ۰۹۷ جګړه ايي‌ه فرقه کاپل را انتقال کړي ز نوموړي بياتوي چه د وحدت ګوند نظامي قرار ګاه د کاپل د اجتماعي علومو په وداني کې او تو پچي قی‌عات ي په دهمې‌نګ او تپه سلام کې ځاي پر ځاي وه چه له هغه ځايه يې هميشه د سياف د اتحاد اسلامي ګوند پر مواضعو چه په سيلو – کوته سنګي – د رحمان بابا په ليسي – خوشحال مينه – کارته مامورين – قرغي او ځيني نورو ځايونو باندي عمليات تر سره کول .
نوموړي د کندك قوماندان وويل چه ورسته پيا چه پورتني ساحي د وحدت ګوند جنګياليو لاس ته راوړي . د وحدت ګوند توپچي قواوو خپلو پخوانيو اهدافوته تغير ورکړ او لاندي اهداف يې تر پريد لاندي راوستل د مامورينو کارته – د تلويې‌يون غر – د بابر بڼ – کارته پروان – پاغ بالا ز نوموړي قوماندان وايي کله چه د وحدت ګوند پوځيانو ځيني استوګني ساحي لاس راوړي د ۰۹۷ فرقي قوماندان له هغو ساحو څخه کتنه وکړه او هغه تعداد ښځمي وګړي چه د جګړي په ترڅ کې ټپيان شوي وه د هغوي د وژني امر يې خپلو پوځيانو ته ورکړ چه هغوي ټول يې ووژل.
د نوموړي قوماندان په قول چه د ۰۹۷ فرقي چه قوماندان جنرال ابوزر وه قرار ګاه يې د پخواني شوروي په سفارت کښي موقعيت درلود او جې‌وتامونه يې د پولند په سفارت کې – د پخواني شوروي د علم و فرهنګ په انګړ کې – دريمه کارته او څلورمه کارته کې او همداراې په تپه سلام کې قرار ګاه وي درلودي چه د همدي فرقي پرسونل د عبدالعلي مزاري ساتنه د کاپل د اجتماعي علوم د مرکې په انګړ کې هم کوله . وروسته لدي چه د وحدت ګوند د رپاني د دولت د ځواکونو لخوا په علوم اجتماعي کې ماته وخوړه خپله قرار ګاه يې په پا سوخته کې جوړه کړه او ټول نظامي او سياسي فعاليتونه يې له هغه ځآي څخه پر مخ بيول.
د وحدت ګوند لاندي درندي وسلي درلودلي :
د انجنير لطيف لخوا دغه لاندي درني وسلي رهبري کيدلي :
- يو چين تانك چه پې ام پې پولي او د روسيه ساخت دي ز
- دو ضربه هاوانونه چه په کارته سخي کې ځاي پر ځاي شوي وه ز

- دوه ضربه ۸۲ ملمتري توپونه . ددغو وسلو په ذريعه په دوامداره توګه د تلويزيون غر – د سيلو تپه – د سره صليب د رغتون شاوخوا – د کابل د طب انستيتوت او همدارا د اسلامي اتحاد تر ولکي لاندي ساحي چه په خوشحال ميني – سپين کلي – ده مراد خان – د پخواني شوروي د سفارت شا او د امنيت پنځم رياست تر اور لاندي نيولز
۰۹۵ فرقه : ددي فرقي قوماندان ضابط علي اکبر قاسمي نوميده چه د نوموړي فرقي ځواکونه په پولتخنيك ځاي پر ځاي شوي وه خو دا چه د نظار شورا د قواوو لخوا د تلويزيون له غره نه هميشه د پريد لاندي وه نو خپل ځواکونه يي د پولتخنيك جنوب خواته د خلکو د استوګني ساحي ته منتقل کړل چه په نوموري ساحه کي پښتنو کورونه درلودل ز ددي فرقه اصلي قرار ګاه په پل سرخ کي په دوه د استوګني کورونو که چه د جامع مسجد ته مخامخ واقع وه ځاي پر ځاي وه . ددي فرقه له ځواکونو څخه د ريزرف په ډول کار اخستل کيده او کله به چه په کوم استقامت د دښمن فشار ډير شو نو دا ځواکونه به هلته استول کيدل . هغه ساحي چه ددي ځواکونو د درندو وسلو لخوا ويشتل کيدي دا وي :
د آرتل پل – پاغ وحش – نيازبيك – فاضل بيك او سيلو .
نوموړي فرقي لاندي درني وسلي په خپل تشکيل که درلودي :
- دوه چين تي ۶۲ تانکونه
- يو چين پي ام پي
- دو ضربه زيو ۲۳
- يوه د پي ام ۱۲ دستګاه .
- اته ضربه ۸۲ ملمتري توپونه .
- دري ضربه غرني هاوانونه ز
د نوموړي فرقي معاون قوماندان قيس نوميده چه د چه د هغه ځواکونه سيلو ته نژدي او د کابل پوهنتون په ساحه کي پراته وه او قرار ګاه يي په ده پوري که موقعيت درلود قوماندان قيس لاندي درني وسلي درلودي :
- يو چين تي ۶۲ تانك .
- دوه چينه پي ام پي .
- يوه دستګاه چينايي پي امز
- دوه ضربه زيو يو .
- يو ضرپ زيو ۲۳
- دري ضربه وسط هاوانونه
۰۹۶ فرقه : ددي فرقه قوماندان حاجي اميني نوميده چه در پروان ولايت د ترکمن د دره اوسيدونکي و. ددي فرقي ځواکونه د وحدت ګوند د نورو ځواکونو سره د جګړه په لومړي ليکو کي دنده درلوده . نوموړي فرقي لاندي درندي وسلي موجودي وي :
- يوه د پي ام ۴۰ دستکاه
- دوه چينه تي ۵۵ او تي ۶۲ تانکونه چه په دشت برچي کي يي موقعيت درلود .
- دوه پي ۱۶ دستګاوي ز
د شفيع ديوانه مستقله لوا ( دوهمه مستقله لوا ): نوموړي لوا لاندي درندي وسلي درلودي :
- يو چين تي ۶۲ تانك .
- يو عراده ۶۰ پي پي زرهپوش .
- دري ضرپه غرني هاوانونه .
- ۶ ضربه وسی هاوانونه .
- ۱۲ توپونه .
د شفيع ديوانه د لوا ځواکونه در کابل په سهيل کي له دارالامان څخه تر کوته سنګي پوري او په دريمه کارته کي ځاي پر ځاي و . او مدام به يي په خپل سر د کابل بۀ هستوګن ځايونو پاندي ډزي کولي . له هغه ورسته چه د جنرال مومن ځواکونو په دارالامان کي ماته وخوړه او د وحدت ګوند او حرکت ګوند د ځواکونو تر منځ نشته وشوه په پايله کي د وحدت ګوند ځواکونه بريالي شول او يوه ډيره اندازه درني وسلس لاس ته ورغلي چه پدي ارځ که شفيع ديوانه او او حاجي اميني ډير تانکونه او توپونه تر لاسه کړل چه وروسته يي بيا ددغو وسلو په ذريعه د کابل مرکزي ساحاتو – پادام پاغ او کارته پروان خپل راکتي او توپچي انداختونه جاري ساتل .
د حزب وحدت د يوه استخباراتي افسر په وينا چه د وحدت ګوند ځوکونه هومره پياوړي نه وه اګر چه د جګړي ټولي قوماندي د مزاري لخوا ورکول کيدي خو د قوماندانانو تر منځ ګډه همکاري موجوده نه وه . ددي جګړو په ترڅ کي د وحدت ګوند نظامي مسول سيد يزدان شناس هاشمي او د درندو وسلو قوماندان جنرال سخي نوميده چه د درندو وسلو د انداخت او فير قوماندي په لاس وي يواځي هغه درندي وسلي چه د پخواني شوروي په سفارت کي ځآي پر ځاي وي د قوماندان ايوزرز په قومانده يي انداخت کاوه .

د هماهنګي د شورا په دوران کي له کال ۱۹۹۵-۱۹۹۴ پوري د وحدت ګوند تر ولکي لاندي د درندو وسلو مراکي دادي :
- د پخواني شوروي سفارت د انګړ په جنوبي برخه کي د توپچي ۸ مرکزز
- په دارالامان کي د ملي دفاع وېارت د پېژنتون په رياست کي د تو پچي ۹ مرکز .
- په مهتاپ قلعه کي حربي ښوونځي ته څېرمه د تو پچي ۱۰ مرکز .
- په قلعه قاضي كه د خښتو داشونو ته نژدي د تو پچي ۱۱ مرکز .

۶.۳.۵ په جګړه کي د تولو ښکيلو خواوو دکورکورانه راکتي – توپچي او بمباردمان متضررين
ټول هغه کسان چه د جګړو له دوران څخه په سلامت پاتي دي نشي کولاي چه تيرو واقعاتو په مورد که معلومات ولري ز مګر په افغانستان که در عدالت د پروژي کارکونکو له يو شمر افغانانو سره مصاحبي کړيدي چه د جګړي ددوران د زرګونو واقعاتو څخه چه په کي د انسانانو وژنه او د هغوي د هستوګنزيو د تخريب دځينو واقعاتو تشريح کوي چه پدي لړ کښي مستند اسناد موجود دي .د مثال په توګه :
ع : در کابل د ښار د پل آرتل د سيمي اوسيدونکي چه د هغه زوي د ړندو راکتونو په اثر وژل شويدي نوموړي وايي چه د ۱۹۹۲ کال د اګست په ۳۰ نيټه پاقي بما زوي له نورو ماشومانو سره د انګړ نه بهر لوبي کولي چه يو راکت هلته نژدي ولګيداو پاقي يي وواژه ز د نوموړي ګاونديانو تشخيص کړي و چه دا راکت د پي ام ۲۱ و چه يوه چره يي د پاقي په غاړي لګيدلي وه او نوموړي يي ځاي پر ځاي وژلي و او دا راکت د اسلامي ګوند د ځواکونو لخوا د ريشخورو له منطقي نه توغول شوي وه.
ز : نوموړي وايي چه دده خور او دهغي ۱۷ کلنزوي او ۱۰ کلنه لور چه د کابل ښارپه تهيه مسکن کي يي ژوند د حکمتيار د ځواکونو د يوه توغول شوي راکت په اثر چه ددوي په کور کي لګيدلي و شهيدان شول دي وايي چه کله مونږ هلته ورغلو امولیدل چه د هغوي اجساد متلاشي شوي و او مونږ هغه را ټول کړل او بيا مو خاورو ته وسپارل نوموړي بياتوي چه په همدي ورځ ورځنګ ته پلاك کي هم دوه ښځي او يو ماشوم ددغو راکتونو د لګيدو له امله مړي شوي وي .
ن : نوموړي د څو راکتي حملو د کال ۱۹۹۳ د سپتامبر او اګست په مياشت که خبر ورکوي ز نوموړي وايي چه په هغه وخت کي دده د کور په انګړ کښي چه در کابل ښار د کارته نو په نوي سړك کي واقع و د حکمتيار د اسلامي ګوند د ځواکونو يو راکت را پريوت او په نتيجه کي د خداي په فضل څوك يي ژوپل نکړل خو پايد ووايم چه نوموړي يوه کوچني لور ددغه راکت د انفجار په ترڅ کي دايمي معيوبه شوه چه اوس نه خبري کولي شي او نه ګرځيدلي شي او همدا راز د هغه وخت د راکت غورځولو له امله د کارته ټولو د هستوګني کورنه ويجاړ شول او خلکو ته ډير ځاني او مالي تاوانونه ورسيدل .

م : د ۱۹۹۳کال د جګړو په هکله داسي ويلي دي :
په ۱۳۷۲ کي کله چه مجاهدين کابل ته داخل شول د حکمتيار د پوځي ځواك کورکورانه راکتي بريدونو په کابل کي په ډيره اندازه بي ګناه ښاريان قتل او ټپيان کړلز او مونږ په هغه وخت که د دارالامان د افشارو په ساحه کي ژوند درلو چه يو نا څاپه د ماښديګر په څلورو بجو يو راکت زمونږ د انګړ دروابي سره ولګيد چه بما وروو او نور اته تنه يي په ډير بد وضعيت سره ووژل چه د هغوي شناخت نکيده بما يوه وروو په دغه حمله كه ټپي شود او د راکت چره يي په نس کي لګيدلي وه چه تر اوسه يي هم په نس که ده ز په دغه راکتي حمله کي يو تن چه داود نوميده او انجنيري فاکولته محصل او بل تن فواد نوميده چه ۱۸ کلن وه او نور کسان چه پدي حمله کي مړه شول نه يي پيژنم مړه شول چه بيا د منطقي خلك راغلل او هغوي يي هلته خاورو ته وسپارل چه ورپاندي يو بيارت جوړ شويدي.
د ۱۹۹۳ د فبروري په مياشت کي د کابل په لويديځ کي د نظار د شورا د يو ځيانو لخوا سختي هوايي بمپاري او راکتي او توپچي حملات شروع شول . دا چه د وحدت د ګوند قرار ګاه د اجتماعي علومو په مرکي کي واقع وه . شوراي نظار په ډيره بيرحمي د نوموړي مرکز شاوخوا چه د خلکو د هستوکني کورنه پکښي واقع و د ډيارو د بمونو او د توپچي او راکتي حملاتو لاندي ونيوله او په يوه ډيره اندابه توغندي او بمونه د خلکو په کورونو ولګيدل.
ددغه بريدونو د تلفاتو دقيق شمير ندي معلوم چه څومره کسان پکښي مړه او ټپيان شويدي خو په افغانستان کي د عدالت د پروژي کارکونکو د ځينو هغو خلکو سره مصاحبه کړيده چه هغوي تايد کړيده چه د جګړي په ورځ په سرکونو لارو او کوڅو کي مړي پراته و او دا هم وايي چه په هغه ورځ راکتي او توپچي انداختونه او د ډيارو بمپارد دومره ډير وه چه هيڅا نشوي کولاي چه له خپله کور څخه ووځي.
د جګړي لومړي ليکونه چه د شوراي نظار په ولکه کي وي يو تن د ك په نامه وايي چه په دغه منطقه کي د شوراي نظار او وحدت ګوند د پو ځيانو تر منځ سخته جګړه روانه وه چه د نظار شورا قوماندان ګل حيدر نوميدهز

ك وايي چه د ۱۳۷۱ كال د حوت په مياشت كله چه د نظار شورا او وحدت گوند تر منځ جگړي رواني وي دي د خپل تره كور كي و او جگړه يي له هغه ځايه خخه ليدله چه د گل حيدر پنجشيري پوځيانو د تپه سلام له منطي نه د پوهنتون په ساحه گي د ضابط اكبر فاسمي په مواضعو راكټي بريدونه كول . دي وايي چه په همدي حال كي يو گاوندي چه په پښه ټپي شوي وه د پانسمان لپاره دده د تره كور ته راغي د نوموړي تره نظامي افسر و او له ځانه سره يي مدام د لومړنيو مرستو وسايل ساتل . د كور په سالون كي دده تره د نوموړي گاونډي پانسمان پيل كړ او ددي لپاره چه ټپونه پريمنځي اوبو ته ضرورت و نوموړي وايي چه دي د اوبو د راوړو لپاره د كوټي څخه پهر ووت چه يو نا خاپه يو راكټ چه د وحدت گوند د پوځيانو لخوا فير شوي و په كور ولگيد دي وايي چه په اولو شيبو كي دي هم پوه نشو چه څه واقع شوي دي ولي كله چه له ځايه پورته شو ويليدل چه دي پخپله ندي ټپي شوي خو كله يي چه د كور خواته نظر واچاوه ويليدل چه د كور كوټي ټولي غورځيدلي دي او كور په مكمله توگه وران شوي دي دي هڅه كوي چه د وران شوي كور څښتي او لرگي لري كړي ولي چه ددغو خاورو تر لاندي دده د خپلوانو غږونه اوريدل كيده ولي د جگړي د سختوالي له امله بريالي نشو پيا دي ولاړ او د خپل د تره بوي ځان سره راوست او كله چه خاوري يي لري كړي هلته نه تنه مړه شوي وه چه د جگړي د سختوالي له عمله دوي مړي هماغلته ښخ كړل . د مړو شويو نومونه دادي :

۱ : محمدعظيم د كورني مشر او د ك تره ز

۲ : ېلمي چه ۱۶ كلن و .

۳ : زړگي چه ۱۴ كلن و .

۴ : دلگي چه ۱۲ كلن و .

۵ : د محمد عظيم ميرمن .

۶ : زمري چه ۱۰ كلن و .

۷ : شكيلا چه ۸ كلنه وه .

۸ : فريبا چه ۶ كلنه وه .

۹ : نظر محمد گاونډي.

ورسته پيا مونژ د كور له ورانو څخه يوه چړه راويستله چه د وحدت گوند د ضابظ اكبر قاسمي د پو ځيانو لخوا تو غول شوي وه ز ددي خبري تصديق د وحدت گوند د استخپاراتو يوه پخواني كاركونكي هم دا تايد كړه چه ضابر اكبر قاسمي په خپلو ځواكونو كي د پي ام دستگاه درلوده

ك وايي د كلي ملا امام ورته ويلي دي چه هغه په يوه ورځ كي ۳۸ جنابي خاورو ته سپارلي چه ټولي يي د تپه سلام په منطقه كي د وحدت گوند د راكټي بريدونو په نتيجه كي وژل شوي و. نوموړي وايي چه ددغو جگړو له كبله د تپه سلام ساحي وكړي ټول د خپلو كورونو د پريښودلو ته مجبور شول او مختلفو ځايونو ته مهاجر شول چه هيڅوك هم پدي ونه توانيد چه ځان سره د خپلو كورونو مالونه يوسي خو كله چه جگړي يو ځ كرار شوي او ځيني خلك د خپلو كورونو او مالونو د ليدو پخاطر منطقه ته راغلل وي ليدل چه مالونه يي ټول لوټل شوي دي او حتي د كورونو كړگي او كلكيني دروابي هم د پو ځيانو لخوا غلا شوي وي ز

دوه تنو د كابل د لويديځ اوسيدونكو دد ماشومانو د وركيدو واقعات په گوته كړي دي هغه د سياف د ځواكونو د راكټي بريدونو په ترڅ كي .

ق : نوموړي يو تركاڼ دي چه د قلعه شلده په منطقه كي ژوند كاوه دي وايي چه د ۱۳۷۱ كال د سرډان د مياشتي په ۲۷ چه د ۱۹۹۲ كال د اگست د مياشتي د ۱۸ سره سمون خوري د سياف د اتحاد د پو حيانو يو راكت دده په كور ولگيده چه په نتيجه كي يي د ده يو زوي چه محمد اسماعيل نوميده او ۸ كلن وه په ډيره پيرحمي سره ووژل شو او د كورني نورغړي يي چه په بله كوټه كي ناست و ډير سخت ټپان شول چه درملني يي ډير وخت دوام درلود .

يو بل د سياف د ځواكونو د بريدوړنو متضرر چه ي نوميژي وايي چه په كال ۱۳۷۱ (۱۹۹۲) يي د كابل ښار په لويديځ كي ژوند كاوه او كله چه د سياف او وحدت گوند تر منځ جگړي رواني وي يوه ورځ يو توغندي دده په كور ولگيدچه د نوري بوي چه محمد حسين نوميده او ۲۸ كلن و او دهغه لور چه بهرا نوميده او ۲۴ كلنه وه ووژل . دغه راكټ د ديوان پيگي له سيمي خخه د سياف ځواكونو فير كړي و.

يو بلغير نظامي شاهد چه منوميژي وايي چه د نظار شورا پوځيان په كابل د ډيرو ورانيو پاعث شول ځكه چه د هغوي پوځيان د كابل ښار په جگو سيمو كي موقعيت درلود او ټول ښار يي له هغه ځايونو څخه ويشتلي شواي مگر مدام يي په ملكي سيمو ډزي كولي . نوموړي وايي چه په كال ۱۳۷۲(۱۹۹۳) كله چه د نظار شورا د سياف اتحاد او وحدت گوند تر منځ جگړو دوام درلود دده پلار د كار لپاره له خپلي دستي كراچي سره وتلي وه او د چه د نظار شورا يو راكت د ده بوري په سيمه كي ولگيد او د نوري پلار يي وواژه چه ورسته خلك را ټول شول او د نوموړي جنازه يي د د سر كاريز په جومات كي راوړله او ورسته يي د قلعه شاده په سنگ ذغال هديره كي خاورو ته وسپارله ز

## ۶،۳ د کال ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۴ پوري بمباردمانونو ته يوه لنډه کتنه

لانديني لست چه د مختلفو خواوو د راکتي او هوايي بريدونو په نتيجه کي د عامه وګړو د تلفاتو پـه هکلـه ترايـپ شوي دي مغرضانه ندي او په يوه لنډه کتنه کي يي د لويو خساراتو او تلفاتو ښوونه کړيده .

د ۱۷ پيښو په نتيجه کي چه په ۱۹۹۵-۱۹۹۲کلولونو کـي منځتـه راغلـي دي ۱۰۰۰ تنـه وژل شـويدي دي او پـه سل هاو تنه ټپيان سويدي چه دغه ګذارش د عامه مطبوعاتو او د روغتونونو خخه اخستل شويدي . حـال دا چـه واقعي رقم بايد دير وي ولي چه په جګړي کي داخلو خواوو هميشه غوښتل چه غير نظامي سيمو تـه ورننـوزي او هلته خپل حاکميت ټينګ کړي . چه په جګړه کي شاملي خواوي اوس ادعا کوي چه دوي غير نظـامي اهداف هيڅکله د پريد لاندي ندي راوستلي چه ددوي دا ادعا د جينوا د کنوينشن پر خلاف ده. لاندي لست د مختلفو دلـو د راکتي او هوايي پريدونو د تلفاتو اندازه ښي چه د جګړي په موده کي واقع شويدي:

۱ : د ۱۹۹۲ کال د مي د مياشتي په ۶-۵ نيټه اسلامي ګوند د کاپل ښار په راکټونو وويشت چـه لـه لملـه يـي پـه يوه ديره اندازه وګړي ووژل شول .

۲ : د ۱۹۹۲ کال د مي په ۲۳ نيټه سره ليدي چه د ډز پندي اعلان هم شـوي و د جنـبش ملـي الوتکـو د اسـلامي حزپ مواضع په بيني حصار – قلعچه او کارته نو کي پمپارد کړي .

۳ : د ۱۹۹۲ کال د مي په ۳۰ د حزپ اسلامي او جنبش اسلامي د جکړو په ترڅ کي چه د کاپل شار په جنوپ ختيځ کي رواني وي دواړو خواوو د يو بل پر سنګرونو د درندو وسلو ډزي زکړي چه په نتيجه کي يي يـو ډيـر شمير پيګناه وکړي ټپيان او ووژل شول .

۴ : د کال ۱۹۹۲ د جون په مياشت کي د وحدت او ايحاد اسلامي ګونـد د پوحيـانو تـر منځ پـه نښته کـي چـه د کاپل شار په لويديځ کي منځ ته راغلي د راکتونو او توپونو په ډزو کي يو ډير شمير بيګناه کاپل ښـار يـان مـړه او ټپيان شول .

۵ : د ۱۹۹۲ کال د جون په ۵ کي د هغو خپل منځي جګړو په نتيجـه کـي چـه د وحدت ګوند او اتحـاد اسـلامي ګوند تر منځ واقع شوي دواړو خـواوو يـو پربـل د درنـدو وسـلو ګوزارونـه وکـړل چـه پـه نتيجـه کـي يـي ډيـر د هستوګني کورونه ويجاړ او يو نامعلوم تعداد وګړي ټپيان او شهيدان شول.

۶ : د ۱۹۹۲ کال د جون او جولاي په مياشتو کي د نظار شورا لخوا د وحدت ګوند پر مواضعو د درنـدو وسـلو او هوايي بمباري وکړي چه ډير ګوښارونه يي د دريمي کارتي – خوشحال ميني – دارالامـان ، کارتـه سـخي پـه سيمو کي و او له دي امله ډير د هستوګني کورونه وران او يو ډير شمير کاپل ښاريان پکښي مړه او ټپيان شـول .

۷ : د ۱۹۹۲ کال د اګست په لسمځ نيټه د اسلامي ګوند لخوا د نظار شورا مواضع د کاپل ښار که د يـوه سخت پريد لاندي راغلي چه په دغو بريدونو کي يـو ډيـر شمير کاپل ښـاريان مـړه او ژوبل شـول دغـه ډزي اکثرا لـه دري سيمو خخه کيدلي چه چهلستون ،دارالامان او تپه مرنجان څخه .

۸ : د ۱۹۹۲ کال د اګست په ۱۳ نيټه د مطپوعاتو د خبر لـه مخـي د کاپل ښـار د ده افغانـان پـه سيمه کـي د يـوه خوشه يي پمپ د غورځيدو له امله ۸۰ تنه مړه او ۱۵۰ تنه ټپيان شول . رپـاني د دغـي حملـي پـړه پـر حکمتيـار واچولـه . پـه ځـواپي حملو کـي د نطـار شـورا د چهلستون ،کارتـه نـو ، شـاه شـهيد سيمي پـه راکتونـو او هـوايي پمپاري تر اور لاندي راوستي چه په پايله کي يي ۱۰۰ تنه پيګناه کاپل ښاريان مړه او ۱۲۰ څخه ډير نور ټپيان شول.او يو ډير شمير د هستوګني ځايونه وران او ويجاړ شول .

۹ : د ۱۹۹۲ دکال د اګست په ۲۳ نيټه د نظار شورا او اسلامي ګوند د بوځيانو په نښتو کـي د کاپل ښـآر ډيـر د هستوګني کورونه وران او په سلهاو تنه مړه او ټپيان شول .

۱۰ : د ۱۹۹۳ کال د فبروري په ۲۶ نيټه د نظار شورا او اسلامي ګوند د يو بل پر سنګرنو درنـي ډزي وکـړي چه په پايله کي يي د کاپل ډير پيګناه ښاريان مړه او ټپيان شول .

۱۱ : د ۱۹۹۳ د مارچ د مياشتي په ۹ نيټه د کاپل پر ښار ډيرو سختو راکتي بريدونو يو ډير شمير ښـاريان مـړه او ټپيان کړل چه دغه بريدونه د وحدت ګوند لخوا تر سره شوي وه او په مقاپل کـي نظـار شـورا د وحدت ګونـد تر کنترول لاندي سيمي ډيري سختي بمباري کړي .

۱۲ : د مطپوعاتو له قوله چه د ۱۹۹۳ کال د مـي د مياشتي پـه ۱۳ نيټه د وحدت ګونـد و نظـار شـورا تـر منځ ډيـري سـختي نـښتي وشـوي چـه دواړوز خـوا يـو پـر بـل د درنـدو وسـلو ګوزترونـه وکـړل او پـدي ورځ هـوايي بمباري هم وشوي .

۱۳ :د ۱۹۹۳ کال د مي د مياشتي په ۲۳ نيټه د نظار د شورا جيټ الوتکو د چهلستون پـه سيمه کـي د اسـلامي ګوند مواضع بمپاردمان کړه چه په پايله کي يي ۱۰ تنه کاپل ښاريان مړه او ۱۴ تنه ټپيان شول .

۱۴ : د ۱۹۹۳ کال د نوامپر په ۱۷ نيټه د نظآر شورا جنګي جيټ الوتکو د سروپي ولسوالي بابـار بمپـاري کړ چه په پايله کي يي يو جوات او يو شمير دوکانه ويجاړ او ډير خلك مړه او ټپيان شول .

۱۵ : د۱۹۹۴ کال د جنوري د مياشتي په لومړي نيټه د دولت او د هغو د مخالفينو اسـلامي ګونـد او جنـبش ملـي تر منځ پي ساري نښتي پيل شوي چه د مطپوعاتو په وينا دا يو نوي دور وه په جګړو کـي او دا جګړي د کاپل

ښار په منځ کې رواني وي چه ډېر ځاني او مالي تاوانونه يي درلودل او داسي ويل کيږي چه د داکتر نجيب الله د حکومت نه راورسته دا ډېر سخت جنګونه وه چه دواړو خواوو په لاسي ډول د هستوګني سيمي تر بريدونو لاندې راوستي او دا جګړه د دولت لپاره ډېره خونړې وه .
۱۶ : د ۱۹۹۴ کال د اکتوبر د مياشتي په ۲۳ نيټه د اسلامي ګوند د راکټي بريدونو په پايله کي د کابل ښار ۳۱ تنه بيګناه ښاريان مړه شول .
۱۷ : د ۱۹۹۴ کال د اکتوبر په ۲۳ د محسني د حرکت ګوند په ملاتړ د نظار شورا د اسلامي ګوند او جنبش ملي پر مواضعو خونړي بريدون وکړل چه ددي بريدونو له عمله په سلهاو تنه مړه او ټپيان شول . دغه شميره د اي ار سي د موسسي لخوا تايد شوي ده او ويلي دي چه په دري مياشتو کي په کابل کي د جګړو له کبله ۲۰۰۰ کسان وژل شويدي .

## ۶،۴ په افشارو کي عام قتلونه او جنسي تيري

د عملياتو شرحه :
په افشارو باندي عمليات د هغه وخت د اسلامي دولت لوي ترين او کامترين عمليات و چه په کښي دو تاکتيکي هدفونه نغښتي و:
الومړي داچه مسعود غوښتل چه د وحدت ګوند قرار ګاه او پوځي او سياسي مرکي ونيسي (د احتماعي علومو مرکې او د افشارو پايان کوهد کابل په لويديځ کي )او د وحدت د ګوند د مشر عبدالعلي مېاري نيونه .
دوهم داچه دولت غوښتل چه د کابل د حکومت د فعاليت سيمي لوي کړي او خپل ځواکونه د اسلامي اتحاد له ځواکونو سره ونښلوي او د کابل ښار مرکزي او لويديځي سيمي سره يو کړي . پورتني دوه دليله دي سوال ته ځواب ورکوي چه ولي اسلامي دولت په هغه وخت کي په افشارو باندي بريد وکړ .

### په تيرو جګړيزو عملياتو کي د مسوليت په غاړه اخستل

هغو ځواکونو چه ۱۹۹۳ کال د فبروري په ۱۱-۱۰ جګړيز عمليات تر سره کړيدي رسما د افغانستان د دفاع وزارت پوري اړوند و.
په نوموړي وخت کي په مستقيمه توګه د جميعت اسلامي او په غير مستقيمه توګه د اتحاد اسلامي د پوځي جګړيزو ځواکونو قومانده د افغانستان د دولت د دفاع د وبير او لوي قوماندان احمد شاه مسعود په واك کي وه او نوموړي ټول هغه پلانونه چه د افشارو د سيمي د نيولو لپاره د اجرا وړ و طرح او عملي کړي و . مسعود د اتحاد سياف د ځواکونو ګډون په دغو عملياتو کي د موافقي په ترڅ کي چه د عبدالرب رسول سياف سره يي کړي وه تر لاس کړي وه او د نوموړي ځواکونه د افغانستان د ملي دفاع وبارت يو جز ګڼل کيده پله دا چه په دغو جګړه ايزو فعاليتونو کي سياف د خپلو ځواکونو قومانده پخپله کوله او په مخابره کي يي خپلو اروندو ځواکنو ته لارښوني کولي نو په دي ډول ويلاي شو چه ددي عملياتو په اجرا کي د مسعود او سياف مسوليت يو دي .ولي چه سياف عملا د خپلو ځواکونو عمومي قوماندان و .
د هغو تيريو او نژادي مخلفتونو چه له عملياتو څخه دمخه منځ ته راغلي و پايد مسعود او د هغه لوړ پوړو قوماندانانو او سياف پيشبيني کړي واي او خپلو ځواکونو ته يي داسي ويلي واي چه د تيريو او نژادي توپير او مخالفتونو مخه يي نيولي واي ولي داچه د دوي ځواکونو د هزاره نشينو سيمو پباندي تيري کاوه او په خپله مسعود او سياف د جګړه د لومړي ليکي په دوه کيلومتري کي واقع و او له ټولو جريانانو د مخابري په ذريعه خبريدل چه په پايله کي دوي د پښري ضد تيرو په کمولو کي په دي سيمه کي ناکام شول.
لکه څنګه چه معلوميژي د هغو يوه يوه قوماندانانو مشخصول چه پدي جګړه ايزو عملياتو کي شامل و ډېر ګران کار دي ولي بيا هم په افغانستان کي د عدالت پروژي د يوو تعداد هغو قوماندانانو په مورد معلومات را ټول کړيدي چه د نوموړو ځواکونو په دغو عملياتو کي د پشري ضد تيري باعث ګرځيدلي دي زدا هم بايد ووايو چه پدي عملياتو کي داسي قوماندانان هم شامل دي چه هغوي د لوړو چارواکو د امر په اساس په سيمه کي د پر مختګ او د دښمن د مواضعو د اشغال لپاره ګډون کړيدي ولي داسي قوماندانان هم پدي ډله کي شته چه هغوي په عامو قتلونو ، جنسي تجاوزاتو ، شکنجه کولو او د خلکو د شتمنيو په لوټ د خپلو افراد و سره يو ځاي ګډون درلود . اسلامي دولت د ملي دفاع وزير احمد شاه مسعود او د هغه لوي متحد سياف ته پدي عملياتو کي د ګډون په منظور لاندي قطعات استولي دي :

د اسلامي جميعت قوماندانان او نظامي ځواکونه

محمد قسيم فهيم د استخباراتو ريس او د ځانګړو عملياتو مسول او همدا راز ددغو عملياتو په طرح کي شامله ځيره.
محمد انور ډنګر چه پدي عملياتو کي يې په لومړيو دوه ورځو کي د يوي فرقي د قوماندان په توګه دنده اجرا کوله د عملياتو په ترڅ کي د نوموړي ځواکونو ډير پشري ضد اعمال سرته رسولي دي چه پدي اړوند عيني شاهدان موجود دي .
ملا عزت د مجاهدينو د يوي فرقي قوماندان د پغمان له ولسوالي خخه چه د ډيرو عيني شاهدانو په وينا د جګړي په لومړي دوه ورځو کي دي پخپله او د نوموړي ځواکونه په بشري ضد اعمالو لاس پوري کړي وز
محمد اسحق پنجشيري د يوي لوا قوماندان چه پدي عملياتو کي يې فعال ګډون درلود
حاجي بهلول پنجشيري د لوا قوماندان پدي عملياتو کي شامل و .
بابه جلندر پنجشيري د نوموړي ځواکونو هم په ډيره فعاله توړګه پدي عملياتو کي ونډه درلوده .
خنجر اخوند پنجشيري نوموړي د يوه غند قوماندان و چه په عملياتو کي يي ونډه درلوده.
مشتاق لالي د يوه کندك قوماندان و او په نوموړو عملياتو کي يي فعاله ونډه درلوده .
باز محمد بدخشاني چه د فرقي قوماندان و او د نوموړي ځواکونو د قرغي له استقامت څخه په دغه عملياتو کي ونډه درلوده.

## د اسلامي اتحاد قوماندانان او نظامي ځواکونه

حاجي شير علم د يوي فرقي قوماندان وه چه په اسلامي اتحاد پوري اړوند وه د عملياتو په لومړي دوه ورځو کي يي د عيني شاهدان له خولي ډير پشري ضد تيري کړي دي .
زلمي توفان نوموړي د يوي لوا قوماندان وه چه دا لوا ۵۹۷ نمبر لوا وه چه د داکتر نجيب الله په حکومت کي ورته د مرددت لوا ويل کيده . زلمي توفان او دده پوځيان د عملياتو په لومړي دوه ورځو کي د عيني شاهدانو په وينا د ډيرو بشري ضد اعمالو فعالين ګرځيدلي دي .
داکتر عبدالله نوموړي د ۵۹۷ لوا د کندك قوماندان وه او د عيني شاهدانو په وينا د عملياتو په لومړي دوه ورځو کي يي ډير جنايات کړي دي .
قوماندان محمد نعيم د ۵۹۷ لوا د کندك قوماندان د نوموړي ځواکونه د عملياتو په دوهمه ورځ په سيمه ځاي پر ځاي شول او د عيني شاهدانو په وينا په بشري ضد اعمالو متهم دي .
ملا تاج محمد د عيني شاهدانو په وينا نوموړي د عملياتو په پلان ګذاري کي فعاله ونډه درلوده .
عبدالله شاه د عيني شاهدانو په وينا نوموړي په ډيرو بشري ضد جناياتو تورن دي چه له هغي ډلي څخه د انسانانو تښتنه ونه ، پي مورده وژني ، شکنجه کول او داسي نور
خنجر د کندك قوماندان چه د عيني شاهدانو په وينا د نوموړي ځواکونه د عملياتو په دوهمه ورځ په سيمه کي ځاي پر ځاي شوي وي .
عبدالمنان ديوانه د کندك قوماندان د نوموړي ځواکونه د عملياتو په دوهمه ورځ په سيمه کي ځاي پر ځاي شوي وي .
امان الله کوچي د کندك قوماندان د نوموړي ځواکونه د عملياتو په دوهمه ورځ سيمي ته راغلي دي .
شيرين د کندك قوماندان د نوموړي ځواکونه د عملياتو په دوهمه ورځ سيمي ته راغلي وي .
ملا کجکول د کندك قوماندان د نوموړي ځواکونه د عملياتو په دوهمه ورځ په سيمه کي ځاي پر ځاي شوي وي .

## دعملياتو د پر مخ بيولو داستان

ټول هغه ځواکونو چه بايد يي د کال ۱۹۹۳ د فبروري په ۱۰-۱۱ د افشارو په عملياتو کي ونډه اخيستي واي د افغانستان د ملي دفاع وزارت د ځانګړي پلان سره سم لا پخوا د افشارو په شاوخوا کي ځاي پر ځاي شوي وي . د عملياتو له پيل څخه دمخه محمد قسيم فهيم چه د استخباراتو ريس و او د مهمو عملياتو دنده يي پر غاړه درلوده د افشارو د سيمي له ځيني شيعه قوماندانانو سره موافقي ته رسيدلي و چه د عملياتو په ورځ بايد د وحدت ګوند پر ضد د دولت له قواوو نه ملا تړ وکړي .
يو له هغو مهمو ګذاريزو نقاطو څخه د علي آباد غر و چه مسعود هلته يوه زيو ۲۳ له خپلو ۳۰ تکړه مجاهدينو سره ځاي پر ځاي کړي وه او له هغه ځايه يي پر سيلو ، کارته سه ، کارته چهار ، او کارته سخي باندي ګوزارونه کول ز په لوړو څکو باندي د درندو وسلو ځاي پر ځاي کولو کي مسعود غوښتل چه خپل ځواك وښي ولي دا چه دا جګړه کومه عادي جګړه نه بلکه په ټوله معني يوه لويه جګړه وه چه د نجيب د وخت له پاتي شويو ډيرو مهماتو او وسلو څخه پکښي کار واخستل شو.
د عملياتو د پيل خخه دمخه دعيني شاهدانو په وينا ددي عملياتو پلان ګذاري شوي وه عيني شاهدان چه د مسعود له ځواکونو سره يي په عملياتو کي ګډون درلو وايي چه دوه ورځي مخکي د عملياتو له پيل نه د جميعت

مهم قوماندانان او د اسلامي اتحاد قوماندانان (شیرعلم او زلمي توفان ) او دخپل شیعه متحد سید حسین انوري په بادام باغ کي سره یو ځاي شوي او او د عملیات د پر مخ بیولو لپاره یي په کارته پروان کي کانتینینتال هوټل ته نژدي د استخبارات په اړوند یوي حویلي کي غونډه درلوده چه مسعود ددي غونډي ریاست په غاړه درلود او د جګړي په ورځو کي مسعود له همدي ځاي څخه خپل ځواکونه رهبري کول . همداراز رسول سیاف هم په ځانګړي توګه خپل قوماندانان په پغمان کي را ټول کړي و او د عملیاتو د ښه پر مختګ په هکله یي هغوي ته لازم هدایات ورکړي و .
د اسلامي دولت هر اړخیي بمپاردمان د ۱۹۹۳ کال د فبروري په ۱۰-۱۱ شپه له ټولو خواو شروع شو او د د جګړي د شروع کیدو یوه نښه وه چه دوي په لومړي سر کي د اجتماعي علومو په انستیتوت او ټولو شیعه میشتو سیمو باندي مرګوني ګزارونه پیل کړل . د مسعود د ځواکونو لومړي پر مختګ د بادام باغ لخوا شروع او د سهار ۵ بجي وي چه د فبروري له ۱۱ سره یي سمون خوړ او د مسعود ځواکونو وکولاي شول چه د د بالا په لوړو کي د وحدت ګوند مواضع لاس ته راوړي او د دشمن مواضعو ته اور واچوي او د هغوي د تانکونو دړي بندي کړي .
د جمیعت ځواکونو خپل پر مختګ د کارته پروان او کانتینتال هوټل له لوري د خواته پیل کړ چه له دي سره جوخت د جمیعتاو اسلامي اتحاد ځواکونو د لویدیځ لخوا خپل اعرض پیل کړ او د هغوي موخه د پلتخنیك انستیتوت ته رسیدل وه له دي پر مختګونو سره د درندو وسلو دزو په ډیر شدت سره دوام درلود له غرمي وروسته په دري پجو د وحدت ګوند ځواکونو د مقاومت ځواك له لاسه ورکړ او مزاري له خپلو غټو قوماندانانو سره پیاده تیښلي له مجبور شول ز د مازدیګر په دري پجو د دولت ځواکونه سیمه ته داخل شول او د سیمي د امنیت په ساتلو یي پیل وکړ او امنیتي پوستي یي په ډیرو ساحو کي جوړي کړي او ورسته یي پیا د سیمي تلاشي شروع کړه چه اصلي بشري ضد ناورین یي د تلاشي په وخت شروع کړ او ډیر خلك یي پدي ترځ کي پي پته کړل او د هغوي کورونه یي په مکمله توګه ولوټل .
وروسته په همدي ورځ مزاري وکولاي شول چه دخوشحال میني مرکزي سیلو او کارته سخي په سیمه کي یو نوي دفاعي خط جوړ کړي او پدي توګه بیا هم مزاري د کابل د لویدیځ ډیري برخي په لاس درلودي . د افشارو له سیمي څخه د وحدت د ګوند له جنګیالیو سره یو ډیر شمیر خلکو ځان د جګړي له سیمي څخه ویستو ( چه په نوموړي ناورین کي د ځوانانو مړینه کمه وه ولي چه هغوي کولاي شو چه له سیمي څخه ځان وپاسي ) . له سیمي څخه اصلي مهاجرتونه د فپروري په ۱۲ شپه پیل شو او د نوموړي سیمي اوسیدونکو چه زیادتره یي ښحي او ماشومان و د تایمني او د اسماعلیه په چه په قلعه فتح الله کي ده مهاجر شول . د مسعود پو حیانو له سیمي څخه د نارینه و د وتلو ممانعت کاوه . ځیني سپینږي خو د خپل مال د ساتلو لپاره په کورونو که پاتي شول چه وروسته پیا د عیني شاهدانو د ویناو پر اساس د هغوي غیر قانوني نیوني او عام قتلونه او د کورونه اوبت تالان شروع شو. په هغه وخت کي عیني شاهدان وایي چه د تیښتي پر مهال یي ډیر مړي او ډیر خلك لیدلي چه په زوره تیښتي ته اړ ویستل شوي و چه دا د بشري قوانینو نه ډیره لویه سر غړونه شمیرل کیږي .
د جګړي په دوهمه ورځ د یوه ځنډ وروسته په کانتینتال هوټل مسعود د مهمو قوماندانانو او سیاسي چارواکو یوه جلسه جوړه کړه چه رباني ، سیاف ، آیت الله محسني . آیت الله فاضل او محمد قسیم فهیم هم ددي غوندي ګډون کونکي و . پدي غونده کي سید حسین انوري هم ګډون درلود چه د کابل د لویدیځ شیعه خلکو لخوا د ډیر کلك فشار لاندي و چه باید پر هره ممکنه توګه د شیعه خلکو د امنیت په مورد کي ضرورض اقدام وکړي . پدي جلسه کي پریکړه وشوه چه د شیعه قوم د وکیلانو یو هیات باید پراپر شي او همدا راز پدي خبره تاکید وشو چه په نیول شویو سیمو کي دي د چور تالان او وژنو سلسله ودرول شي . د مخالفینو سره دي د استأزو د لیژلو خبره وشي تر څو چه د اسیرانو د تبادلي په حصه کي اقدام وشي . په سیمه کي دي یو کوچني ساتونکي ځواك پاتي شي . خو اصلي خبره دا وه چه د دي جلسي جوړیدل له دوه ورځیني ځنډ سره او د هغي فیصلي د بشري ضد جنایاتو لپاره هیڅ ګټوره ثابته نشوه زلي چه د دوه ورځو په موده کي په سیمه که ډیري بشري ضد واقعي منځ ته راغلي وي او حتي دا چه د جلسي د پر یکړو نه وروسته هم نوموړي حالت په ډیر زور سره دوام ومونډ . حتي چه پدي لړ کي د افشار په سیمه کي د کورونو نړول د نوموړي جلسي د پر یکړو څخه وروسته منځ ته راغلل .

بشري ضد جنایات ، نا مشخصه بریدونه ،جنسي تیري ، انسان تښتوني ،او ډله ایز قتلونه
په غیر پوځي سیموباندي کورکورانه دزي او بمباردمان
د جګړي په لومړي ورځ د اجتماعي علومو د انستیتوت وداني د درندو وسلو تر اور لاندي راغله ولي داچه که په واضحه توګه ووایو چه په دغه مرکي باندي ډیري کمي ګولي ولګیدي او په تاسف سره چه هغه ډیره برخه راکتونه او بمونه چه د دولت د ځواکونو لخوا فیر شولي د اجتمکاعي علومو د انستیتوت په شاواو خوا په هستوګن ځایونو ولګیدي او عامه خلکو ته یي ډیر تاوانونه وروررسول داچه د دولت قواووي یعني د جمیعتاو اتحاد ځواکونه د افشارو په درشل کي واقع وي نو که په زیر سره وګورو ددوي موخه دا وه چه له دغي

سیمي ځخه ټول شیعه ګان وباسي تر څو چه په اینده کي دوي ته پرابلم پیدا نکړي .ددغو خونړیو جګړو د تلفات ( غیر له عامه وژنو ) دقیق ندي معلوم خو له هغو عیني شاهدانو سره چه د عدالت د پروژي لخوا مصاحبي شوي دي ټولو دا تاید کړیده چه د جګړي په دوه ورځو کي خورا ډیر مړي په سیمه کي خواره پراته و . په حقیقت کي د جګړي په ورځ د هاوانونو او راکټونو انداخت دومره ډیر و چه خلکو نشواي کولاي چه کومي خواته ولاړ شي او ظاهرا د د عامه وګړو تلفات کم کړ ل خو دغه خبره باعث شوه چه د جګړي په ورستي پړاو کي ډیر خلك په ډله ایزه تو ګه ووژل شي پر هغو جنسي تیري وشي او د هغوي شتمني لوټ شي .

## عام قتلونه او د خلکو ورکیدني

په نوموړي جګړه کي د دولت او اتحاد پو ځونو د جینوا د کنوینشن د دریمي ماده ځخه چه د جګړي په وخت کي یي د عامه وژنو ، ګروګان نیولو او شکنجي ځخه د متحاربو ډلو د پو ځیانو لري والي دي خلاف ورزي کړیده . عیني شاهدانو د عدالت پروژي ته ویلي دي چه د جګړي په لومړي ورځ د اتحاد اسلامي پوحیانو د وحدت د ګوند یو ډیر تعداد پوځیانو د اجتماعي علومو د مرکز نه د فبروري په ۱۱ اسیران ونیول او له ځانه سره یي یوړل پدي سر بیره یو تعداد هغه شیعه ګان چه په سیمه کي یي ژوند کاوه ددي په ګمان چه ګواکي د وحدت ګوند ملیشي به وي هم له ځانه سره یوړي . د عیني شاهدانو په وینا چه ورسته د اتحاد اسلامي ځواکونو ددغو اسیرانو په وسیله هغه مړي چه د جګړي په دوران کي په افشارو کي وژل شوي و ښخ کړل او وروسته د دغو اسیرانو چه پکښي پو ځي او ُیر پوځي خلك موجود و هم چا درك ونموند او ګمان کیژي چه هغه ټول اسیران چه د اتحاد اسلامي د پوځیانو لخوا اسیر شوي و د همدغو جنګیالیو لخوا وژل شویدي . د نوموړو وژنو دقیقه شمیره نده معلومه خو بیا هم د عدالت پروژي د یو شمیر عیني شاهدانو د وینا په اساس ځیني ارقام پیدا کړي دي .

یو عیني شاهد چه ع نومیژي وایي چه جنګ ډیر شدید و او مونژ ونشواي کولاي چه له خپلو کورونو ځخه ووځو خو کله چه لژ ارامي شوه ما د کورني سره ځان د خپل خسر کور ته ورساوه چه ورسته هلته یو څه نور خلګ هم راغلل ټولو ویل چه په لاره او کوڅو کي ډیر انسانان وژل شوي دي . په هغه کورکي چه مونژ پټ و هلته د سیاف او مسعو د بوځیانو د مخابرو غژونه اوریدل کیدل چه هغو ته ویل کیدل چه د چور شوي مالونو پر سر یو بل سره جګړه مکوي معمولا د سیاف پوځیان په پشتو او د مسعود پو ځیان په دري غژیدل . ما خپله کورني یوه امن ځاي ته ولیژله او زه پخپله د کور او کالو د ساتلو لپاره پاتي شوم ګورم چه یو وخت د ورځي په یوولسو پجو ملا عزت الله پغماني له لس تنو وسلوالو سره زما کورته راننوتل ما د انګړ دروازه خلاصه پریښي وه ددي لپاره چه څوك فکر ونکړي چه دلته څوك شته . کله چه د غه پو ځیان زما کور ته راننوتل زما په وهلو او تکونو یي پیل وکړ د کور مالونه په موترو کي بار او زه یي له ځانه سره د قرغي بند ته نژدي یو ځاي ته پوتلم او هلته یي په یوه کانتینر که چه نو له ۶۰-۶۵ تنو بیګناه خلك بندیان و واچولم او کله کله به یي پر مونژ پاندي لرګي ماتول کله چه څو ورځي تیري شوي هغوي مونژ ته وویل چه د هر یوه د خلاصون لپاره څومره پیسو ته ضرورت دي چه زما د خلاصون په بدل کي ي $۵۰۰۰ دالره غوښتل چه ما دوي وویل چه زه دغه شمیر پیسي نلرم خو هغوي وویل تر څو چه دا پیسي رانوړي ته به دلته پروت یي چه وروسته زما ځیني پغماني دوستانو دغه اندازه پیسي برابري کړي او د هغو په بدل کي یي زه ازاد کړم .

یوه ښځینه عیني شاهده چه ب نومیژي عدالت پروژي ته داسي وویل چه د اتحاد اسلامي پوځیانو د افشارو په سیمه که چه نوموړي هلته ژوند درلود ددوي کور ته ورننوتل نوموړي یي لت و کوب کړي او د هغي خاوند له ځانه سره پیولي دي چه تر نن ورځي پوري بیا د مرګ او ژوند پته نده معلومه .

یو بل عیني شاهد چه س نومیژي د عدالت پروژي ته داسي ویلي دي چه نوموړي د افشارو په ساحه کي ژوند کاوه او د اتحاد پو ځیانو چه په دغه سیمه کي یي د نارینو لټون کاوه دي ونیو او پغمان ته یي پوته او هلته یي په یو کانتینر که چه نو خلك هم پکښي وه پندي کړ هر ورځ به یي په دوي باندي موضع ګاني او سنګرونه جوړول دي زیاتوي چه د شپي لخوا ځیني کسان له کانتینر ونو نه چه څو داني و ایستل کیدل او بیا یي پته نه لګیده چه څه کیدل خو مونژ هلته نژدي د ډزو اوازونه اوریدل . نوموړي وایي چه یوه شپه چه دوي د کار لپاره روان کړي وه دي د یوه پله لاندي پټ شو او له هغه ځایه یي وشواي کولاي چه وتښتي او بیا کویته ته ولاړ شي .

یوه ښځینه عیني شاهده چه م نومیژي د عدالت پروژي وویل چه د سهار په ۷ بجو د افشارو سیمه د اتحاد پو ځیانو ونیوله او ددوي کور ته ورننوتل او د هغي خاوند یي ډیر وواهه او له ځانه سره یي پوته چه ورسته له ۴۵ ورځو یي راخوښي کړ نوموړیوایي چه د هغي خاوند دومره وهل شوي او زورول شوي و چه د اوریدو حس یي له لاسیه ورکړي و او څو ك یي نپیژاندل ، دا ښځه زیاتوي چه په همدي ورځ د ماپښین په دري بجو د اتحاد اسلامي ۱۰-۱۵ پو ځیان ددي کورته ورننوتل او ویل یي چه هغوي د وحدت ګوند ملیشو په لټون کي دي او ددي یولس کلن زوي تر لاس نیسي او پوښتنه تري کوي چه پلار دي چیرته دي دا ښځه ځان د خپل زوي

پر سر اچوي خودغه بوځيانو پري دزي کوي او نومورړي په لاس او پښي تپي کيږي او زوي يې د دغو پوځيانو لخوا په گولو سوري سوري کيږي ورسته د کور تولـه شمني دوي له ځانه سره وړي .
يو بل عيني شاهد چه ۷۵ کلن دي او ك نوميږي واي چه د فبروري په يولسمه د افشارو د سر جوي له سيمي نه د اتحاد د پو ځيانو لخوا نيول کيږي او ورسته له وهلو ټکولو نه دي ته اړ ويستل کيږي چه د چور شويو مالونو د انتقال دپاره دغو پو ځيانو سره مرسته وکړي نومورړي وايي چه وروسته دي د کمپني سيمي ته چه د سياف د ځواکونو په ولکه کي وه پيول کيږي او هلته له يو قوماندان سره چه غلام رسول نوميده دوه مياشتي بندي پاتي کيږي چه وروسته بيا شکردري ته استول کيږي او هلته د انور دنگر سره بندي پاتي کيږي او د دوو مياشتي وروسته پيا فرزي ته استول کيږي او هلته د حنيف په نامه يوه قوماندان سره بندي پاتي کيږي ز نومورړي واي چه دده يو خپلوان د اتحاد د پو ځيانو لخوا دده مخ ته ووژل شو چه قمبر ظاهر نوميده .

يوبل عيني شاهد چه غ نوميږي د لڅ مودي لپاره د اتحاد د پو ځيانو لخوا بندي شوي وه او د عملياتو په لومړي ورځ ددغو پو ځيانو ډير وهل او ټکول شوي وه او کله چه خوشيشي کيږي د خپل کور په څاه کي دو جسدونه پيدا کوي نومورړي وايي چه کله هغه د سيمي څخه تيښته کوله نو د لاري په اوږدو کي يي لـه ۳۰-۳۵مړي په سترگو ليدلي چه د يوه جسد سر پري شوي و او په يوه پنجره کي زړيده .

۶۷ کلن عبدالله خان چه د غزني وزلايت اوسيدونکي و د سياف د ډلي د يوه قوماندان عزيز بنجار په وسيله د افشارو په سيمه کي نيول کيږي د نومورړي کورني د جگړي له ويري د تايمني سيمي ته تښتيدلي وه او هغه د کور د مالونو د ساتلو لپتره په افشارو کي پخپل کور کي پاتي و خو د نومورړي د کور تول مالونـه چور او د عبدالله خان تر اوسه هم پته نشته او د لغدرکو په جملي کي دي

يو بل شاهد د عدالت پروژي ته وويل چه د اتحاد پو ځيان  ددوي انگړ ته ورننوتل او د هغه پلاري د مرگ تر سرحده وواهه او ورسته يي د کور تول کالي ورخخه يوړل .

جنسي تيري د اتحاد اسلامي د ځواکونو لخوا

د جگړي پر وخت د اتحاد اسلامي پو ځيانو د سيمي نـه د خلکو د ويستلو په منظور لـه جنسي تجاوز او نورو ډولونو حملو خخه د عامه خلکو يعني غير پوځي خلکو په مقابل کي کار واخيست .
د عدالت پروژي د يو شمير خلکو سره مصاحبي کړيدي چه ددغو تيريو عيني شاهدان دي او وايي چه دغه تيري د اتحاد پو ځيانو سرته ورسول چه په لاندي کي ليکل شوي :
يوه شاهده د م ( په پورته کي هم د نومورړي اظهارات راغلي وه ) نومورړي د اتحاد د پو ځيانو لخوا په پښه او لاس تپي شوي وه او د نومورړي مخ ته يي يوولس کلن زوي وژلي وه نومورړي وايي چه زما لـه وجود څخه ويني رواني وي دغو پوځيانو پر ما جنسي تيري وکړ دري پو ځيانو زه ټينگه نيولي وم او څلورم پر ما جنسي تيري وکړ ز پدي ورځ زما کور کي نوري ښحي هم له ويري  راټولي شوي وي ز زمونږ يوه گاوړندي چه ز نوميده له خپلو دو لوړنو سره چه يوه يي ۱۶ کلنه او بله يي ۱۴ کلنه وه ز بله ښحه چه ر نوميده چه د اتحاد پو ځيانو په دغو دو نجونو او يوي ښحي جنسي تيري وکړ د ددغه تيري په ترڅ کي ز يوه لور تپي شوه و لـي چه هغي د ددوي په مقابل کي مقاومت وښود او هغوي په قنداقونو ووهله.

يوه بله ښځه چه س نوميږي وايي چه د اتحاد پو ځيانو د عملياتو پر دوهمه ورځ د نومورړي کورته دننه شول ( په افشار سيلو کي ) په لومړي سر کي يي هغه ډيره ووهله او ورسته يي پر دي او د نومورړي پر خور جنسي تجاوز وکړ او بيا له هغي وروسته يي د کور تول شيان ځان سره يوړل .

يوه بله شاهده وايي چه د عملياتو په لومړي ورځ د سهار په ۷ بجو د اتحاد پو ځيان په زوره ددوي کورته ورننوتل او ددي په شمول يي پر څلورو ښحو چه د نومورړي ۱۴ کلنه خور هم پکشي شامله وه جنسي تيري وکړو.
داسي نور گذارشات هم ډير دي چه پکشي د جنسي تيريو ويل شوي دي خو بيا هم د تولو جنسي تيريو دقيق شمير ندي معلوم ز حکه چه د کال ۲۰۰۱ پوري د افشارو سيمي ته هيڅوك نه وه راغلي او ۲۰۰۵ کال تر نيمايي پوري دا سيمه هماغسي ورانه پرته وه خو بيا هم اوس ځيني د دي سيمي اوسيدونکي خپلو کورونه ته راستانه شويدي

## د وحدت د ګوند لخوا ډليزي وژنې ، شکنجه کول او نور بشري ضد تيري په کابل او مزار شريف کي د ۱۹۹۸-۱۹۹۲ کلونو په اوږدو کي

### د وحدت ګوند سياسي شرحه او د هغوي بشري ضد تيري

په کال ۱۹۸۹ د شيعه ۸ سياسي نظامي ګوندونو د يوالي په پايله کي د و حدت ګوند تشکيل چه په عامه توګه دغو ګوندو د افغانستان د دموکذاتيك دولت او په ۱۹۸۰ کال د شوروي تيري په مقابل کي پوځي عمليات تر سره کول(۱۹۸۰-۱۹۹۲ کلونو په اژدو کي ) ز د نوموړي ګوند د جوړښت نه وروسته د دغه ګوند د فعاليت سيمي د افغانشستان په شيعه ميشتو منطقو کي په برياليتوب لويي دي ز د نوموړي ګوند رهبري شورا د سيمو د کنترول او اداره لپاره ډير څه وکړل او عملا يي د دموکراتيك دولت د سقوذ لپاره اماده ګي نيوله ز نوموړي ګوند په کال ۱۹۹۲-۱۹۹۱ کي په شمال کي د نوي منځ ته راغلي ځواك سره لاېمي مرستي وکړي چه په دغه سيمه کي يي د دموکراتيك دولت واك ته د پاي ټکي کيښود او ورسته يي د جنبش ملي او جميعت اسلامي مرستي ته ورودانګل او دايي غوښتل چه په کابل په ښار کي د دموکراتيك دولت د نسکوريدو په کار کي د نورو سياسي نظامي کوندونو تر څنګ خپل ځاي څرګند کړي . او همدا ګوند وه چه د شمال ځواکونو مخي يي د کابل په لور خلاصه کره . په ۱۹۹۲ کال کي د وحدت ګوند يواځني ګوند وه چه په اطراف کي د هزاره نيشينو سيمو باندي دير واك درلود او ددغه پوځي او سياسي ځواك له کبله يي د شيخ اصف محسني حرکت اسلامي د خپل واك د قدرت لاندي راوست له همدي امله دا کوند پداسي يو موقف کي و چه کولاي شواي چه په قدرت کي د شريکيدو ادعا وکړي او همدا راز د هغو هزاره نيشينو سيمو چه تر ۱۹۹۲ کال د دولت په واك کي وي د واکمني او اداري ادعا وکړي ز چه په همدي اساس په ۱۹۹۲ کي کله چه کمونستي دولت وران شو د وحدت ګوند مليشو د کابل په لويديځ او د مزار شريف ښار په ډيرو سيمو خپله ولکه ټينګه کړه . د وحدت ګوند وکولاي شول چه ۱۹۹۲-۱۹۹۵ د کابل په لويديځ کي يوه مستقله اداره جوړه کي او د کار د وحدت ګوند تر شړلو پوري د نظار د شورا لخوا په ۱۹۹۵ کال پوري دوام درلود . نوموړي ګوند خپل سياسي نظامي موجوديت په مزار شريف د ښار په شمال کي تر ۱۹۹۸ کال پوري وساته او او وروسته ليدي چه جنرال ملك وتښتيد ( يو قسمت د هغه تاريخچه په لاندي که ليکل شوي چه د طالبانو د عامه وژنو هم پکښي راغلي )

د وحدت ګوند د مجاهدينو د دولت د منځه ته راتلو وروسته د قدرت نه پي پرخي پاتي شول په ۱۹۹۲ کال کي کله چه د رباني د حکومت کابينه اعلان شوه (۱۹۹۳کال کي ) او کريم خليلي د مالي د وښير په توګه وټاکل شو . عبدالعلي مزاري د شمال له پلويانو سره داسي يو توافق امضا کړ چه بايد ځيني سيمي ددوي د محلي حکومت په واك کي ورکړي او همداراز د وحدت ګوند په کابل کي په واك کي شريك کړي . خو پيا هم ډير ژر د وحدت ګوند او د رباني – مسعود د اداري تر منځ اختلافات منځ ته راغلل . چه مزاري د رباني مسعود اداره په قدرت د انحصار په تور متهمه کړي چه له همدي امله په کال ۱۹۹۳ کي د وحدت د ګوند او دولت تر منځ ځاي ځاي جګړي پيل شوي او په ۱۹۹۴-۱۹۵ کي دواړه خواوي په دايمي جګړو کي اخته شوي .
په کال ۱۹۹۲ کله چه د وحدت ګوند کابل کي ځاي پر ځاي شو ددغه ګوند رهبري د استاد مزاري په ذريعه مخ ته پيول کيده چه د نوموړي ګوند په رهپري شورا کي ۸۲ تنه د شيعه ګوندونو نماينده ګانو غړيتوب درلود ز چه وروسته له يوي تودي انتخاباتي مبارزي استاد مزاري ددغه ګوند د رهبر پوته توګه ونومول شوړ او استاد اکبري تري جلا شو او ددوي په مقابل کي د يوه رقيب ګوند مشري په غاړه واخسته ز همدا راز کريم خليلي د وحدت ګوند د مرکزي کميټي غړي وه او کله چه په ۱۹۹۵ کال مزاري د ذالبانو لخوا ووژل شو نوموړي د د وحدت د ګوند د رهبر په تو ګه ونومول شو . او محمد محقق په شمال کي د وحدت د ګوند د مشر په تو ګه ونومول شو . وروسته پيا په کال ۲۰۰۴ کي کريم خليلي د افغا نستان د اسلامي دولت د جمهور ريس د مرستيال پو تو ګه تعين شو چه تر او سه پوري په دغه مقام کي پاتي دي . او محمد محقق په ۲۰۰۱ کال د پلان د وزير په توګه دنده درلوده او وروسته بيا د جمهوري رياست په انتخاباتو کي يي دريم مقام تر لاسه کړ
په ۱۹۹۲ کال کي په لومړي سر کي د وحدت ګوند خپل مرکز د کابل په اجتماعي علوم په مرکز کي ځاي پر ځاي کړه او د کابل په لويديځ کي يي ډير نور پو ځي ګارنيزيونونه جوړ کړل او د مختلفو شيعه ډلو تر منځ د همکاري يو تړون موجود و خو کله چه تنظيمي جګړو زور واخيست او هر ګوند د خپل سيمي د لويولو پخاطر په جګړو لاس پوري کړ . چه د شيعه ګوندونو تر منځ هم جګړي پيښي شوي .
د وحدت ګوند په هماغو لومړيو شيبو کي مظلوميت او په قدرت که نه اشتراك او د يوه اقليت ديعني هزاره ګانو د حق د غوښتني شعار ورکاوه خو په هر صورت کله چه دوي وکولاي شول چه په ځينو سيمو خپل واك ټينګ کړي د جنايات يو دور شروع شو ولي چه د وحدت ګوند قوماندانو ځان په لومړي ځل د يوي سيمي واکداران

ګډل او هیڅ شي او هیڅ کوم قانون ته یې غاړه نه کښیښودله چه د عامه وګړو په مقابل کې د ډیرو جنایاتو باعث شول لکه خپل نور رقیبان .

په افغانستان کي د عدالت پروژي یو لړ د بشر د حقوقو څخه سر غړوني چه د وحدت ګوند د قوماندانانو اوپو ځیانو لخوا تر سره شوي په ډاګه کړي چه په لاندي کي شودل شوي دي :

۱ : د تنظیمي جګړو په تر څ کي د جنګي جنایاتو کرنه اساسا لکه د زندانیانو او سیاسي مخالیفینو وژنه ، ځوروني ، کورکورانه راکتي حملات ، او په غیر نظامي ښاریانو باندي د ډزو کول .

۲ : ډیر فاحش جنایات د عامه وګړو یعني غیر هزاره قومونو په مقابل کي چه ددغه ګوند پلویانو کولي شواي د هغو له ارتکاب نه ډډه وکړي چه دغه جنایات د وحدت د ګوند د کنترول لاندي سیمو نه اجرا شویدي . دغه راز جنایات د ۱۹۹۲ – ۱۹۹۵ کلونو تر منځ په کابل کي او ۱۹۹۲ – ۱۹۹۸ کلونو تر منځ په مزار شریف کي مستند شوي دي چه په هغو کي سرړي تښتوني ، پخپل سر نیونوي او بندیانول ، ظلم کول ، ترذیلي جزاوي ( هغو جزاګانو ته ویل کیږي چه د انسان مقام او حیثیت ته زیان ورسوي لکه له اجتماعي حقوقونه د انسان بي برخي کول ) ، جنسي تیري ، ډله ایزي وژني له محاکمي پرته ، د خلکو د کورونو ورانول او د هغوي د شتمنیو لوټ تالان .

۳ : له واك نه د بي ځایه کټي اخستو خصوصا په هغو سیمو کي چه هلته هزاره ګان میشت و او قوماندانانو او مسولینو ځان کل اختیار باله او همیشه یي په جنسي تیریو او په زوره ودونو بسیا کوله .

۴ : د و حدت ګوند د رهبري ناکامي د هغو قوماندانو او مسولینو چه په سیمو باندي یې کنترول درلود او هغوي د واك نه په ګټه اخیستو په بشري ضد جنایاتو لاس پوري کاوه .

د وحدت د ګوند د قوماندانانو ددغو جنایاتو اصلي لامل چه د عدالت پروژي ثابت کړیدي دادي چه د تنظمي او ګروهي جګړي له پیل خخه دوي ته د قومي دښمنیو پر بنسټ لاربښوني شوي وي چه پدي لړ کي مخالف پو ځیان له نیول کیدو ورسته وژل شوي او غیر پو ځي وګړي پدي ملامت وه چه ولي د بل قوم سره تعلق لري . اود قومي تعصب په اساس دایم غیر بوځیان او عامه وګړي تر بریدونو لاندي راتلل چه د وحدت د ګوند پو ځیانو پدي دول خپل کسات له نورو تنظیمونو خخه اخسیت ز په ۱۹۹۲-۱۹۹۵ کي د انتقام اخیستلو یو نوي دور پیل شو . چه په مزتر شریف کي دا انتقام اخیستني وروسته پیل شوي لکه د مهمو عامو وژنو په کال ۱۹۹۷-۱۹۹۸ کي او له هغي وروسته چه پدي خونړیو انتقام اخستنو کي غیر پو ځي هزاره ګان هم شامل و خو د وحدت د ګوند جنایت کاره قوماندانان ددغو ناخوالو او عامه وژنو لامل وه او دغو جنایاتو ته یې دوام ورکاوه

## ۶.۵.۱ ۱۹۹۵-۱۹۹۲ کلونو په ترڅ کي د غیر پوځیانو او سیاسي مخالفینو پر ضد بشري ضد جنایات مثالونه

کله چه مجاهدینو مختلوفو ډلو په ۱۹۹۲کال کي په کابل کي په قدرت منګولي ولګولي ز یو لړ برخوردونه د مختلفو ډلو او قوماندانانو تر منځ د سیمو د کنترول په مقصد منځ ته راغلل چه اصلي لا امل یي په سیمو باندي د خپل واك پراخول او د ډیرو سیمو په ولکه کي راوستل و . په دغه وخت کي د ښار وګړي لا نه وه تاواني شوي او تولو دا امید کاوه چه د خلقي دولت د رنګیدو سره او د مجاهدینو د راتګ سره به دوي هوسا شي او جګړي به پاي وومومي .
په افغانستان که د عدالت پروژي په کاپل کي د تنظیمي جګړو په ترڅ کي د جنایاتو او بشري ضد کړنو نموني چه د وحدت ګوند او ځیني شیعه قوماندانانو لخوا پر خلکو باندي شوي وړاندي کوي چه په لاندي یي کولاي شي مطالعه کړي :

کله چه د قوماندانانو غیر انساسي اعمال او خپل منځي اختلافات په کابل کي د ۱۹۹۲ د مي او جون په میاشتو کي د جګړو پاعث وګرځیدي . د اسلامي ګوند د یوه قوماندان د دیدار په نامه او د شیعه او حرکت قوماندانانو لکه قمبر لنګ ، رضا ، حیدر لنګ تر منځ د اونچي باغبانانو مهتاب قلعه په سیمه د کابل ښار په لویدیځ کي خونړي جګړي پیل شوي. پدي تر څ کي لس تنه د اونچي باغبانانو د خلکو نمایند ګان راتول شول چه د جګړي روان بهیر ودروي ولي داچه په نوموړي سیمه کي د تولو قومونو خلکو لکه پښتانه ، تاجکان ، هزاره ګانو ژوند کاوه او هر تنظیم د خپلو ګټو د ساتلو په موخه دلته پوستي جوړي کړي وي .

د سولي دغه استازي چه د اونچي باغبانانو د مسجد ملا له خپل ۱۲ کلن زوي سره ، د بُاپانانو د مسجد ملا ، جګړن ورداد ، د اونچي د کلي يو سپين ږيري او نور شپږ تنه غير نظآمي کسان پکښي شامل و د خبرو لپاره سيمي ته ولاړل . د عذالت پروژه داسي شواهد لري چه کله دغه د سولي هيات د کوټي سنګي سيمي ته ورسيد د هغوي د اوسيدو سيمي د وحدت د ګوند او حرکت د ګوند د کنترول لاندي راغلي . د نوموړو ګوندو پوځيانو چه د حرکت قوماندان عباس پايدار او د وحدت د ګوند قوماندان طاهر ديوانه نوميده دغه د سولي هيات توقيف کړ او بيا يي د يوه تن څخه به غير ټول ووژل دغو وژنو د قومي او نژادي مخالفت لومړني نښي پر ځاي پريښودي ولي چه په نوموړيپ هيات کي د پښتنو او تاجکو استازي شامل و چه د شيعه ګوندونو په ضمانت دغي سيمي ته تللي و ز ددغو وژنو سره سم د اونچي له سيمي څخه قابو ۵۰۰ د پښتنو او تاجکو کورنيو کډه وکړه .

د ۱۹۹۲ کال د جون په مياشت د اتحاد اسلامي او وحدت اسلامي ګوندونو د ځواکونو تر منځ د کابل په لويديځ کي جګړي پيل شوي هغه د سيمي د کنترول لپاره ځکه چه لا پخوا د اتحاد اسلامي ځواکونه د رحمن بابا په ليسشه ځاي پر ځاي شوي و او د وحدت ګوند پو ځيانو د هغوي موجود يت ځانته په سيمه کي يو ګواښ ګانه . پدي وقت که د وحدت ځواکونو د اتحاد يو لوي قوماندان د شير علم پنامه اسير ونيو ( شير علم هغه قوماندان دي چه په کابل کي د طالبانو د سقوط خخه وروسته د قول اردو قوماندان و او اوس د غيني والي دي ) چه دا کار د کړکيچ د زياتوالي سبب شو خو لږ وروسته يي هغه خوشي کړ خو د هغه باديګارد ان يي ووژل. په توګه د جګړي لمن پراخه شوه د اتحاد ځواکونو د هزاره خلکو د نيولو او د وحدت ګوند د پښتون قوم د خلکو پسي لتون کاوه او عملا به چه ګوتو ته ورغلل اسيران به يي کړل او دواړو خواوو پدي وخت کي په غير نظامي سيمو باندي خپل بريدون تيز کړل . ځيني عيني شاهدان وايي چه پدي موده کي دواړو خواوو په جنسي تيري هم لاس پوري کړل خو د هغو ټولو جنسي تيريو چه د مختلفو ډلو له خوا اجرا شوي مکمل شواهد او تحقيقات ممکن نه برښي .

د ۱۹۹۲ کال جګړو د لومړي ځل لپاره دا وښوده چه په جګړه کي ښکيلو خواوو د ډليزو نيول کيدو چه اکثريت پکښي غير نظاميان و او د هغوي بنديانو ل په تړلو کانتينرونو کي د هغوي اچول او شکنجه کول پيل شول . د عدالت پروژي دا ثابته کړي چه د دواړو خواوو پو ځيانو په سلهاو غير نظامي کسان نيولي او شکنجه کړي چه دي عمل د جګړي بهير ته هيڅ ګټه ندرلوده خو بيا ډير له هغه خلکونه چه نيول شوي و وژل شويدي او يا ترتم شويدي . ډير کسان د پيسو د اخستلو لپاره نيول کيدل چه لوړ پوړي قوماندانان د خپلو پو ځيانو پدي عمل خبر و .

د وحدت ګوند په خپلو اړوندو سيمو کي د ۱۹۹۲ کال د اپريل د مياشتي نه يو قضايي جنايي سيستم پکار واچاوه او د پوليسو په پخوانيو حوزو کي د پخواني حکومت پاتي شوني که پوليس و او که ځارنوالان او يا مستنطقين مقرر کړل او ددوي په څنګ کي يي د خپل ګوند استازي هم وټاکل ز خو دغو ټاکنو کومه اغيزه ندرلوده او ټولي قضاياوي د تعصب له مخي فيصله کيدي . د وحدت ګوند مهم بندانونه د اجتماعي علومو په مرکې او ورسته په کوته ګاني او د پوليسو په دريمه حوزه کي چه د شورا په سرك کي ييموقعيت درلود و .

د عدالت پروژي له يو عيني شاهد سره مرکه کړيده چه نوموړي وايي چه هغه اسيران چه په مختلفو وختونو کي د وحدت ګوند د پو ځيانو له خوا نيول شوي و د جګړي په مختلفو پړاونو کي د کته ګاني په بندان کي وژل شويدي. د تحقيقاتو په لړ که دا جوته شوه چه نوموړي بندنيان د کوته ګاني د زندان د مسول بهرامي چه د غزني ولايت د جاغوريو د ولسوالي اوسيدونکي دي په امر او قومانده وژل شويدي چه نوموړي بيا وروسته د وحدت د ګوند د داخلي استخباراتو مسول شو . نوموړي د بندانيانو د ډيرو شکنجه کولو په تو ر هم متهم دي .

هغه نور د وحدت ګوند چاروا کي چه پدغه جناياتو کي لاس درلود لاندي نومول شويدي چه ستاسي توجه غواړم :

- پروانه د باميانو د ولايت اوسيدونکي او د وحدت ګوند وتلي څارنوال چه د کوته ګاني او د پوليسو د دريمي حوزي په زندانونو کي يي ډير زندانيان په دوامداره توګه شکنجه کړي دي او داسي ويل کيږي چه اوس نوموړي د پاکستان د کويټي په ښار کي اوسيږي .

- کارګر د افغانستان د خلق دموکراتيك ګوند پخواني غړي چه د زندانيانو په شکنجه او زوروني متهم دي . د غزني ولايت د جاغورويو د ولسوالي اصلي اوسيدونکي و او اوس ګمان کيږي چه د کويټي په ښښار کي ژوند کوي .

- عزيز د باميانو د ولايت اوسيدونکي . د کمونيستي حکومت په دوره کي يي د استخباراتو د ۱۱ رياست کارکونکي و او اوس ګمان کيږي چه په کاپل کي ژوند کوي .

- خادم د شيخ علي اوسيدونکي او د پرچم د ډلي غړي په هغه وخت کي يي د وسلوالو ځواکونو دپه څارنوالي کي دنده درلوده او ويل کيږي چه نوموړي په کويته کي ژوند کوي

- مجتبي دپروان ولايت د ترکمن د دري اوسيدونکي . د نوموړي د وژل کيدو څخه يي دمخه د اجتماعي علومو په مرکز کي کار کاوه . او د نجيب په دوران کي يي په څارنوالي کي کار کاوه

د اتحاد د تنظيم يو ټيټ رتبه قوماندان د نذير په نامه چه د وحدت د ګوند د يوه قوماندان شفيع ديوانه لخوا اسير نيولي شوي وه . نوموړي د هغه له پوستي خخه د ديوان بيګي په سيمه كي نيول شوي و او وروسته بيا په يوه كانتينير كه په ګوته ګاني كه ساتل كيده نوموړي د كانتينير په مورد كه داسي وايي :
مونږ ټول پنديان مجبور و چه په همدغه كانتينير كي رفع حاجت وكړو او هغوي به د ور ځي يو ځل مونږ ته ډودي راچوله . نوموړي وايي چه د وحدت پو ځيانو د شپي لخوا ځيني كسان د مونږ له ډلي څخه ويستل چه ګواكي خلاص شوي دي خو خداي خبر چه هغوي له څه سرنوشت سره مخامخ كيدل دي وايي چه هره ورځ به دوي د تحقيق لپاره پيول كيدل نوموړي وايي چه هغوي به دي له پښي ځوړنداوه او لاندي به يي پټرول ته اور اچاوه او له پاسه بهيي پر ده اوبه اچولي . دا به چه خلاص شول هغوي به زه په لرګيو وهلم او زما غوږ ته به يي نږدي په تفنګچي ډزي كولي او بيا به يي زما سترګي په يوه ټوكر وتړلي او ماته بهيي ويل چه كښينه او لاندي پر هغه ځاي كي به ميخونه ځاي پر ځاي شوي وه . له هغه وروسته به يي يو سپي ماته راخوشي كړ چه زما كالي بهيي ټول وشكول او زه به يي ټپي كړم .

نذير وروسته په هغي تبادله كي آزاد شو چه د اتحاد د قوماندان او شفيع ديوانه تر منځ د اسيرانو تبادله وشوه د هغه لوي قوماندان نذير ته ويلي و چه د نوموړي د تبادلي لپاره يي د اتحاد له نورو قوماندانانو نه اسيران په پيسو اخيستي و . نذير وايي چه د وحدت د ګوند يوه جنګيالي د جګړي پر مهال خپل يو لاس بايللي و او د وحدت قوماندانانو دا وپتيله چه بايد په مقابل كي د نذير لاس هم پري كړي . نذير وايي چه هغوي د هغه لاس په يوه كوټه كي پري كړ هغه هم داسي چه په هغي كوټي كي يو تبر ايښودل شوي و او يو تن چه په يوه لندكروزر موتر كي راغي او مخ يي په يوه دستمال پټ كړي و او سپين دستكش يي په لاس و د تبر په ذريعه يي دده لاس پري كړ او دده په بل لاس كي يي وركړ دي وايي چه ما ټوله صحنه ليده او نوموړي تن مي و نه پيژاند حكه چه مخ يي پټ و . د نذير قوماندان وروسته له خلاصون نه ويلي و چه ما خپل لوي قوماندان ته چه ممتاز نزميږي ويلي دي چه د هزاره زندانيان دي له دي وروسته ستا د لاس په بدل كي ووژني ز
دوه تنه چه د حركت محسني په ډلي پوري تعلق لري او د وحدت د پو ځيانو لخوا اسير نيول كيږي داسي وايي : د ۱۳۷۳ كال د سنبلي په ۲۳ نيټه چه د ۱۹۹۴ كال د سپتامبر له مياشتي سره سمون خوري دوي اسير نيول كيږي په لومړي وار دوي قوماندان قاسمي ته وړل كيږي او وروسته پيا د داخلي امنيت ريس بهرامي چه هغه يي يو د زندانيانو د ساتلو مركز ته استوي چه د پوليسو په دريمه حوزه كي واقع و نوموړي وايي چه د شپي په ۱:۳۰ له دنه تحقيق شروع شو او هغه سوالونه چه دوي هغه ته وركول اصلا ځوابونو ته يي غوږ هم نه كيښودو او همدا يي ويل چه د وحدت د ګوند په مقابل كي چه څوك دريږي بايد مړ شي او ويلي چه تا بايد ووژنو . د ۹ ورځو وروسته يي زه له زندان څخه بهر كړم ما ځان سره سوچ كاوه چه ما اعداموي خو هغو ددي لپاره چه زما نه ځان بيغمه كړي زه يي د جګړي لومړي ليكي ته واستولم او داسي يوه سړي ته يي تسليم كړم چه ډير چرس يي څكول او شرابي هم و او ما د شپي په تياري كي وكولاي شو چه له ځايه تيښته وكړم .
يو بل تن چه د دولت په استخباراتو كي يي دنده درلوده په ۱۹۹۴ كال كي د وحدت د ځواكونو لخوا ونيول شو او نوموړي يي په دي تورناوه چه ګوتكي د حركت ګوند ته كار كوي . نوموړي خپله نيونه او وړل د داكتر صادق مدبر قرار ګاه ته او له هغي وروسته د هغه وړل د كشف د ځانګي يوي قرار ګاه ته په ياد لري . نوموړي واي اووه شپي او ورځي په يوه تشناب كي كوته قلفي وه چه دغه ځاي له او بو څخه ډك و او وروسته له هغه نوموړي د د كوته ګاني ښدان ته چه د تحقيق او شكنجي مسوليت د پروانه په غاړه و پيايي خو نوموړي وايي چه نوموړي صرف د روحي شكنجي لاندي و ځكه چه هغه ته مدام ويل كيده چه تا وژنو او يا دا چه ورته د ښحي او نوري بدي ښكنځل كيدي نوموړي واي چه په هغه موده كي چه د كوته ګاني په زندان كي زنداني و نور له ۳۰۰-۲۵۰ تنو پوري زندانيان هلته موجود و . چه عبارت و له جنګي اسيران ، شيعه ګان ، هغه كسان چه د وحدت د ګوند پر ضد اعمالو كي متهم و . سياسي مخالفين چه دغو پوځيانو شيعه او سني ښدانيان جلا جلا بنديانول . د ولي د كورني غړي مزاري ته ولاړل او پدي وسيله يي وكړل شواي چه نوموړي له زندان څخه خلاص كړي .خو شرط يي دا و چه نوموړي د كابل له لويديځ نه ولاړ نشي او د شوراي نظار له ځواكونو سره دنده تر سره نكړي .
اګرچه د وحدت ګوند مخصوص زندانونه درلود ل خو ددي ګوند قوماندانانو هم ځانته شخصي زندانونه جوړ كړي و چه ۱۹۹۲ كال د جون په مياشت كي يي هغه اسيران چه نيولي و په دغو ښدانونو كي ساتل . لكه چه قوماندان شفيع ديوانه خپل ټول اسيران په دهمزنګ او كوته ګاني كي ساتل .
د ۰۹۷ فرقي قوماندان ابوزر چه له مزار شريف نه راغلي وه خپل اسيران د افشارو په پرورشګاه او د علاوالدين په پرورشګاه كي ساتل .
د ۰۹۶ فرقي قوماندان اكبر قاسمي خپل اسيران په خپل كوركي د پروان په ولايت كي ساتل . همذاراز د ۰۹۵ فرقي قوماندان د خپلو اسيرانو د ساتني لپاره په تخنيك ثانوي او ده بوري كه ځايونه درلودل . د وحدت د ګوند يوه پخواني د كندك قوماندان وويل چه د ۰۹۵ فرقي زندان د ثانوي تخنيك له وداني څخه ډيره كمه مسافه

درلوده او نوموړي اضافه کوي چه ډير اسيران موجود و چه ځينې يې د جګړي له ميدان څخه نيول شوي و خو ډيرۀ يې عادي خلګ و چه د ښار له لارو کوڅو څخه نيول شوي و . دغه بندانيان د خوړو د نشتوالي له امله ناروغه و او ما پخپله دري اسيرا ليدلي و چه د وهلو ټکولو په نتيجه کې يې خپل ځانونه له لاسه ورکړه چه يو په کې د فاضل بيك و او بل يې د پغمان و او دريم يې د ميدان ښار و . نوموړو د وحدت د ګوند پوځيانو او يا د ۰۹۵ فرقي پو ځيانو د هغه د ميدان ښآر د اوسيدونکي جسد د لوړو تحصيلاتو د وزارت مخې ته د يوه ديوال تر څنګ اچولي وه خو دا چه هوا توده و له دوه دري ورځو وروسته يې بوي واخست چه بيا مونږ هغه د هماغه ديوال څنګ ته خاورو ته وسپارله .

د يوي ښځي غير پو ځې زوي چه د وحدت ګوند د پو ځيانو له خوا نيول کيږي او وروسته بيا وژل کيږي نوموړي ښحه ګل نوميږي او مونږ ته يې وويل چه د وحدت د کوند وحشيانو يې څنګه زوي چه محمد هارون نوميده او د ښوونځي په اخر کال کې يې لوست کاوه د ۱۳۷۱ کال د دلوي په ۱۵ ( ۱۹۹۲ د فبروري ۲) ونيوه چه بيا تري تپ شو .

د هارون د تره زوي د عدالت پروژي ته وويل چه په نوموړي ورځ هغه له هارون سره يو ځاي د سپين کلي د مکتب له اړخه تيريدل چه د وحدت پو ځيانو ونيول خو نوموړي له هغوي څخه په تيښته بريالي شوي و . د هارون مور ګل وويل چه وروسته له دي چه زمونږ ډيري پيسي ولګيدي مونږ ته څرګنده شوه چه هارون دغو پوځيانو وژلي دي او د افشارو د پرورشګاه په يوه وچه د اوبو څاه کې يې اچولي دي کله چه مونږ هلته ولاړو او د هغه جسد مو لاس ته راوړ د نوموړي پر بدن د شکنجي ډيري نښي نښاني موجودي وي . د مقتول د تره زوي وايي چه د وحدت د ګوند پوځيانو دده د تره زوي په اور سوي وه او سترګي يي تري ويستلي وي چه دا د هغه قومي او مذهبي تعصباتو نتيجه وه چه د وحدت ګوند اکثريت پو ځيانو دا پاليسي تعقيبوله

کله چه د وحدت ګوند د نورو تنظيمونو سره په جګړه کې ښکيل شو نو دوي هغه غير پو ځې وګړي چه ددوي په سيمو کې يې ژوند کاوه د تعقيب لاندي راوستل او په ډيرو پيښو کې يې هغوي د بريدونو لاندي راوستل . کله چه د وحدت د ګوند او د نظار شورا تر منځ اړيکې ترخې شوي د وحدت د ګوند مشر تابه دولت په دي تورن کړ چه ددوي له حقوقو نه يې تيري کړي او په ۱۹۹۲ کال کې تري جلا شو . هغه تاجيکان چه د نظار شورا سره مل و د تعقيب لاندي راغلل . فاطمه يوه ښځه ده چه تاجکهاو د شمالي اوسيدونکي ده اوپه هغه وخت کي يي د پخواني شوروي د سفارت شاوخوا کې ژوند درلود وايي چه د وحدت ګوند پوځيانو هغي ميړه د نظار شورا ته په جاسوسي تورن کړ او داسي ويل چه ګواکي د هغه په کور کې مهمات ذخيره شويدي نوموړي وايي چه يوه ورځ شفيع ديوانه او د وحدت د دوهمي لوا قوماندان چه سور رنګې سړي و له نورو پو ځيانو سره ددوي کورته ورننوتل او د هغي خاوند يې ډير وټکاوه ( شفيع ديوانه د وحدت ګوند يو نامتو قوماندان و چه د ډيرو جناياتو د کولو په اساس په ديوانه مشهور شو نوموړي د کابل پوهنتون محصل و او کله چه جګړي شروع شوي نوموړي وسله واخسته او وروسته بيا ډير مشهور قوماندان شو چه د عيني شاهدانو په اظهاراتو کي مدام د هغه د جناياتو يادونه کيږي ) نوموړي ميرمني وويل چه کله هغوي کور تلاشي کړ او مهمات او سلاح يي ونموده نو بيا يي په کور کي ټول خوراکي ټوکي لکه وريځې ، اوړه ، غوړي اوداسي نور له ځانه سره يوړه او غوښتل يي چه له دي سر بيره د نوموړي خاون هم له ځانه سره بوځي خو دا وايي چه خاوند مي ورته په ژړا شو او وروسته له هغي څه پيسي چه زما د خاوند سره وي شفيع ديوانه ورڅخه واخستي او هغه يي خوشي کړ .

نوموړي ميرمن وايي چه څو ورځي وروسته د وحدت دري څلور پو ځيان ددوي د ګاونډي کورته چه هغوي هم د شمالي و راغلل او له هغوي څخه يي چاي وغوښت چه بيا همدغو پو ځيانو د نوموړي ګاونډي په ځوانه لور چه جميله نوميده جنسي تيري وکړ چه له هغي وروسته دوي له منطقي نه په تيښته بريالي شول .

يوه بله ميرمن چه ش نوميږي وايي چه د دهمزنګ په سيمه کي يي د نوموړي خاوند د شفيع ديوانه له خوا نيول کيږي او د ډيرو وهلو ډبولو د هغه لاس ماتوي او وايي چه ته پښتون او سني يي او وروسته هغه پريږدي چه او س هم معلول دي .

يوه بله ميرمن چه بي بي نوميږي په کال ۱۳۷۲ د حوت دي مياشتي (فبروري د ۱۹۹۳) د علاوالدين او کارته سه په سيمه کي د نظار شورا او وحدت د ګوند د پو ځيانو تر منځ جګړه داسي په ياد راوړي : د وحدت ګوند پو ځيانوپه دغو سيمو کي هغه ټول نارينه چه دوي ته ګوتو ته ورتلل په زوره د سنګرونو د جوړولو لپاره پول دا وايي چه ددي خاوند کله چه غوښتل د کورنه د ډوډي د پيدا کولو لپاره ووځي د وحدت پو ځيانو ونيو او نوموړي دغو پو ځيانو ته چه په شفيع ديوانه پوري يي اړه درلوده ډيري زاري وکړي او ورته يي وويل چه نوموړي ديوي ګولي ډوډي د پيدا کولو لپاره د خپلو د بچو پخاطر له کوره راوتلي دي خو هغو دي خبري ته هيڅ توجه ونکړه او زما خاوند په وهلو ټکولو له ځانه سره د دهمزنګ سيمي ته يوړ نوموړي ميرمن وايي چه

وروسته خبره شوه چه خاوند ډیر کلك ټپي شوي او په دریمي کرتي کي د سره صلیب روغتون کي بستري دي
.

یو شمیر نو ر غیر پو ځي کسان چه د وحدت د ګوند د کنترول لاندي سیمو کي یي ژوند کاوه همیشه تر برید لاندي راتلل دا ددي لپاره و چه قوماندان غوښتل په دغو سیمو کي د سو استفادي او یا ناوړه ګټي اخستني توان ولري د مثال په توګه کمال چه د علي مردان په قلعه کي مزدورکار وه داسي وایي چه په کال ۱۳۷۳(۱۹۹۴) د نوموړي ۱۵ کلن زوي د یوه محلي د پوستي قوماندان سره لفظي مشاجره وکړه کمال وایي کله چه دده زوي کور خواته راستون شو د لاري په اوږدو کي نوموړي قوماندان ورته کمین وکړ او په یو سړك یي دده زوي په ګولي وویشتو .نوموړي وایي چه په هغه وخت کي یي ډیري منډي وکړي تر څو چه د قاتل نه کسات واخلي خو دا چه قانون نه وه دده عرض ته هیچا غوږ ونیوه .
یوه بله عیني شاهده چه فریده نومیږي وایي چه په قلعه قاضي کي د خپل پلار کورته له شمالي نه په میلمستیا راغلي وم . نوموړي وایي چه د میلمستیا په لړ کي دوي یوه ناوي د کابل څخه شمالي ته وړله د لاري په اوږدو کي د دشت برچي د سر پل په سیمه کي د وحدت ګوند یوه پوسته موجوده وه او کله چه دوي هلته راورسیدل ددي پوستي د موظفینوله خوا ودرول شو ل اود پوستي پوځیانو ناوي په زوره له موټر څخه کوزه او پوستي ته بوتله چه پدي وخت کي د نوموړ ي قضیي نه د د پغمان قوماندانان ملا عزت او زلمي توفان خبر شول او په دغه پوسته یي برید پیل کړ او ډیره سخته جګړه د دواخواوو تر منځ ونښته په دي لړ کي د واده ځیني ګډون کونکي ټپیان شول خو له نیکي مرغي چه د وحدت پوځیانو د ناوي کالي څرلي و خو نور تاوان یي نه وو وررسولي .
د هغو خلکو ویناوو ته چه د وحدت د ګوند په سیمي که یي ژوند درلود دا نتیجه په لاګه کیږي چه د نوموړي ګوند پو ځیانو هیڅ قانون ته احترام نه درلود او تر هغه حده چه دوي غوښتل د خلکو په اذیت او ازار کي یي ونډه اخیسته د یوه عیني شاهد چه ر نومیږي داسي وایي چه د وحدت ګوند د پو ځیانو هغه پوسته چه د رابعه بلخي په لیسي که میشت وه د سیمي خلك یي ددي ته اړویستل چه باید دوي ته خوراکي توکي اماده کړي ددي پوستي قوماندان چه نوموړ ي عیني شاهد یي ښه پیژني سید علي جان نومیده . د ۱۳۷۱کال د جدي په میاشت ( ۱۹۹۲ دسمبر او ۱۹۹۳ جنوري ) د وحدت و جمیعت تر منځ یوه سخته جګړه پیل شوه او د وحدت د ګوند د پوځیانو شمیره ډیره شوه او له خلکو یي ډیره ډوډي غوښته چه ډیرو خلکو له دي امله خپل کورونه پریښودل او نورو ځایونو ته ولاړل . یوه میرمن چه ر نومیږي وایي چه د همدي جګړي په ترڅ کي یوه شپه ۱۵ تنه د وحدت د ګوند پوځیان ددوي کورته راغلل او ویل یي چه هغوي ته خوراکي توکي باید اماده شي نوموړ ي وایي چه د هغي خاوند دغو پوځیانو ته وویل چه مونږ پیسي نلرو او تاسي راشي زمونږ کور تلاشي کړي که چیري مو یو پاو وریجي او یا اوړه او یا نور خوراکي توکي پیدا کړل ما همدلته مړ کړي دغو پوځیانو په ځواب کي ورته وویل چه بایسکل دي خرڅ کړه او مونږ ته خواړه برابر کړه او ولاړل څو ورځي وروسته دغو پوځیانو د نوموړي خاوند او د هغوي یو ګاوندي کله چه جومات ته تللي و ونیول او د ثریا مکتب ته یي چه ددوي پوسته وه یوتلل او هلته هغوي دومره وهلي او زورولي و چه له حرکت نه غورځیدلي و او په جیبونو کي یي چه څه درلودل هغه ورځیني اخیستي و .
ر وایي چه یوه ورځ د وحدت پوځیان ددوي کورته ورغلل او له دوي څخه یي پیسي وغوښتي کله چه هغوي دوي ته وویلي چه څه نلري نو د هغوي دو زامن یي په کلکه ووهل او بیا د کور ډیر شیان له ځانه سره یوړل. دوي مجبور شول چه خپل کور پریږدي او یو بل ځاي ته ولاړ شي ددي لپاره یي یوه دستي کراچي راوسته چه هغه مالونه چه پاتي و ځان سره یوسي خو کله چه دوي حرکت وکړ نو له دغو مالونو نه یي هم د وحدت پوځیانو یو اندازه وګرځول . دوي وایي چه کله چه دوي خپل کور ته له یوه ځنډه راغلل ویلیدل چه په کور کي دروازي . کلکیني او لرګي هم پتي نه و او د وحدت پو ځیانو له ځانه سره وړي و .

یوه بله میرمن د ز په نامه چه د چه د نجاري په څلور لاري کي یي ژوند کاوه په کال ۱۳۷۲(۱۹۹۳) داسي وایي : د غرمي یوه بجه وه چه د شفیع دیوانه پوځیانو زمونږ کورته را ننوتل او له واره یي زما خاوند د وهلو ټکولو لاندي ونیوه او ویل یي چه د کوم ګوند سره تړاو لري زما خاوند چه هر څه ورته وویل چي یو عادي کارګر دي او په ساختماني دستګاه کي کار کوي وي نه منله او زمونږ د کور ځیني لوښي یي او زما خاوند یي له ځانه سره یوړل څلور پنځه ورځي زما د خاوند هیڅ پته نه وه معلومه تر څو چه زمونږ یو ګاوندي شفیع دیوانه ته ورغي او ورته وویل چه زما خاوند یو بیسواده سړي دي او معمولي کارګر دي وروسته یي هغه را خوشي کړ خو ډیر وهل ټکول یي ورکړي و مونږ د دي واقعي نه ډیر ډار شوي و او سمدلاسه مو سیمه پریښوده حتي چه خپل پاتي کالي او لوښي مو هم له ځانه سره وانخستل .

د عدالت د پروژې لخوا په هغو څېړنو په ترڅ کې چه شوي دي دا نده جوته شوي چه ګواکې د وحدت ګوند رهبري او لوړپوړو قوماندانانو خپلو پوځيانو ته لارښونه کړي وي چه هغوي دي په بشري ضد اعمالو لاس پوري کړي او دا جوته شويده چه مزاري د خپلو قوماندانو په مورد کې ډېر شکايتونه اوريدلي وه يو عيني شاهد چه سامي نوميږي وايي چه استاد مزاري د نومورړي په وړاندې خپلو قوماندانانو ( ابو شريف مزاري او مرتضي ) ته اخطار ورکړ چه د جرايمو د کولو نه دي ډډه وکړي او ددوي آبرو دي نه زيانمنه کوي . خو له دي سره هم د سيستماتيکو جناياتو د غير پو ځي وګړو پر د وحدت د ګوند د رهبري ناکامي د هغوي په کنترول او منع کولو کي وښوده او ددغو اعمال اجرا د نومورړي ګوند د پو ځيانو کړنلاره وګرځيده ز ګرچه د وحدت ګوند رهبري د خپلو پو ځيانو تر منځ د دسپلين او نظم هيڅ ډول عمل ټينګ نشو کړاي خو بيا يي هم هم هغوي خپل قانوني قوماندان بلل حال دا چه هغوي دا موضوع څو حلي په ډاګه کړي وه چه د هغوي قوماندان په انسان تښتونو ، وژنو او نورو جناياتو کي لاس لري .

## ۶،۵،۲ په شمال کي د غير پو ځيانو پر ضد جنايات

د افغانستان په شمال کي هغو قوماندانانو چه د وحدت ګوند سره تړاو درلو د په هغو سيمو کي چه نومورړو قدرت درلود او تر خپاي ولکي لاندي يي درلودي په غير نظامي وګړو باندي يي ډېر تيري کړي دي چه دغه تيري په داسي حال کي تر سره شوي چه نومورړو وګړو د جګړي او تنظيمونو سره هيڅ تړاو ندرلود . د عدالت پروژې دا جوته کړي ده چه د وحدت د ګوند پو ځيانو په دري جدا پيښو کي د پښتنو د غير پوځي وګړي د ډله ايزو وژنو لا مل ګر ځيدلي دي او دا پيښي د ۱۹۹۷ کال د طالبانو د لومړي ماتي په ترڅ کي رامنځ ته شويدي لکه څنګه چه کوتونکي وايي دغه جنايات د کسات د اخستلو په موخه تر سره شويدي او پدي پيښو کي ټول هغه وګړي وژل شويدي چه د پښتون قوم يعني د طالبانو د اکثريت قوم نه وه .

د بلخ د تصدي د ميشتو کورنيو ډېرو غړو ويلي دي چه په کال ۱۳۷۶ (۱۹۹۸) کي د و حدت د ګوند د يوه قوماندان د علي سرور ګنګس په نامه ۹ تنه وکړي چه ماشومان هم پکي شامل وه ووژل ( ګنګس ليوني ، شرابي ته ويل کيږي چه د وحدت ظالمو قوماندانانو باندي داسي نومه کښيودل شوي وه ) .
يو عيني شاهد د محمد په نامه وايي چه علي سرور خپل پو ځيان د تصدي ، علي چوپان او کارته اريانا په سيمو کي ځاي پر ځاي کړي و او ټول هغه پښتانه بزګران يي چه د يوه ملي تجار په ځمکو کي يي کار کاوه ونيول . نومورړي وايي چه دغو پو ځيانو د هغه پلار چه امير ګل نوميده او دهغه ۱۳ کلن ورور او نور ۶ نارينه او کوچنيان يي ونيول او له ځانه سره يي د علي چوپان د کلي تکيه خاني ته پوټلل په اسي حال کي چه د هغوي لاسونه يي شاته تړلي و هغوي يي د قنداقونو ، لرګو او برچو تر ګوزارنو لاندي ونيول او وروسته يي ټوټي ټوټي کړل او د نومورړي کلي د تکيه خاني څاه ته يي واچول .

د ددغو قربانيانو د يوه ميرمن وايي چه نومورړي خپل ۱۳ کلن زوي چه آقا محمد نوميده ددي لپاره د علي چوپان کلي ته وليږه چه هلته يي د هزاره ګانو په منځ کي يو شناخته درلود او هغي فکر کاوه چه نومورړي به ددي د خاوند په را خلاصيدو کي مرسته وکړي خو د بده مرغه کله چه نومورړي هلك د علي چوپان کلي ته ننوځي د علي سرور د پو ځيانو لخوا نيول کيږي او علي سرور ته بيول کيږي او نومورړي ماشوم هم ددغو پوځيانو له خوا د علي سرور په قومانده وژل کيږي ا و هغي څاه ته چه نور يي پکي اچولي وه غورځل کيږي .

محمد او دوي ګوندي ښځو د عدالت پروژې ته وويل چه څرنګه علي سرور او هغه پوځيانو د د هغو وژل شويو کورونه چور کړل . محمد وايي چه دوه ورځي وروسته د مځکي د خاوند رسول برات چه دوي ورته کار کاوه ځخه د ډېرو سپين ږيرو سره ورغلل او نومورړي دوي ته وويل چه د ددغه جنايات د عاملينو سره هيڅ هم نشي کولاي خو کوښښ کوي چه د مړو جسدونه دوي ته په هره ممکنه وسيله وسپاري . محمد وويل چه وروسته له ۱۱ ورځو استاد محقق اجازه ورکړه او د دو دوه نمايندګان د وحدت د ګوند ، د جنبش ملي ، د جميعت اسلامي او اسلامي حزب وټاکل چه مونږ سره د علي چوپان کلي ته ولاړ شي تر څو چه مونږ خپل مړي تر لاسه کړو . مونږ جسدونه له هغهي څاه ځخه راويستل او ټول جسدونه ټوټي ټوټي شوي وه . محمد وويل چه دغه وژل شوي نارينه و موشومان د سيمي له ډېرو غريبو وګړو ځخه و او د قربانيانو نومونه يي په لاندي ډول ياد کړل :

۱ . عبدالغفور د ولي محمد زوي ۴۰ کلن .
۲ . عبدالکريم د محمدنور زوي ۲۳ کلن .
۳ .عين الدين د محمد نور زوي ۲۵ کلن .

۴ . امیر ګل د شیر جان زوي     ۴۵ کلن .
۵ . ګل میر د امیر ګل زوي       ۱۳ کلن .
۶ . شاه ولي د سلطان محمد زوي ۱۸ کلن .
۷ . شرف الدین  ۴۰ کلن .
۸ . زمان د شرف الدین زوي  ۱۷ کلن .
۹ . آقامحمد د عبدالغفور زوي ۱۳ کلن .

محمد وایي چه د قوماندان علي سرور جرم معلومدار دي ولي چه هغه دغه وژني په رڼا ورځ د ټولو په وړاندي تر سره کړي دي . هغه مظلوم خلك چه د وژلي دي هغه نه طالبان وه او نه یي له طالبانو سره کوم تړاو درلود علي سرور هغوي د دي لپاره وژلي چه پښتانه و .

یوه بله د پښتنو عامه وژنه په کال ۱۹۹۸ د اپریل په ۹ ( ۲۰:۱:۱۳۷۷) مزار شریف د قېل آباد د پز سوخته په سیمه کي د وحدت ګوند د سرتیرو لخوا سرته رسیدلي ده چه د نوموړي پیښي نه یو عیني شاهد چه پخپله له دي پیښي تښتیدلي دي داسي وایي :

مونږ د مزار ښتر ته هره ورځ د کار کولو د پاره تللو پدي ورځ مونږ له ښاره کلي خواته په یوه ملي پس ډوله سرویس کي سپاره وه چه د لاري په اوږدو کي د و حدت د ګوند د یوه قوماندان چه بابا نومیږي د سرتیرو لخوا موټر ودرول شو نوموړي قوماندان د استاد محقق پوري مربوط و . یو سرتیري موټر ته را پورته شو او مونږ نه یي پوښتنه وکړي چه د کوم ځاي یاست مونږ ورته وویل چه د ګورمار د کلي او له هغي وروسته یي مونږ ټول له موټر نه کوز کړو او خپلي پوستي ته یي بوتلو مو نږ ټول پښتانه و . نوموړو له مونږ نه ټولي پیسي واخیستي او مونږ یي په یوه کانتینر کي واچولو . نیمه شپه یي د کانتینر دروازه خلاصه کړه په داسي حال که زمونږ لاسونه شاته تړلي و د یوي ځاه خواته یي بوتلو په لومړي سر کي یي زما ورور ځاه ته واچاوه او له وروسته یي ډزي وربا ندي وکړي ما چه ا حال ولید له ځایه وتښتیدم او هغوي ما باندي ډزي کولي په داسي حال کي چه زما لاسونه شاته تړلي وه زه په لاس باندي تیپي شوم خو هغوي زه ونه نیولم او ما ځان د قل محمد کلي ته ورساوه خو نور زما ملګري یي ټول هماغي ځاه ته وغورځول او وي وژل چه نومونه یي دادي :

۱ : سید احمد د حاجي برات زوي .
۲ : محمد حسن د آته ګل زوي د رمضان ورور .
۳ : امان الله د سید محمد زوي .
۴ : نور الله د بسم الله زوي .
۵ : جمعه الدین د قطب الدین زوي .

وروسته بیا مونږ دغه جسدونه له ځاه راویستل او په یوه ډله ایز قبر کي مو ښخ کړل .

د استاد یاسین ځواکونه چه په شمال کي د وحدت د ګوند یو لوي قوماندان او په استاد محقق پوري تړلي وه هم په ډله ایزو وژنو او سرې تښتونو تورن دي . د ګور مار په کلي کي د ډله ایزي وژني نه څلور میاشتي وروسته د نهر شاهي وسوالي د کمپیرك په کلي کي چه د مزار شریف له ښار نه ۲۰ کیلومتره واټن لري یو تن ژغورل شوي چه خان نومیږي وایي چه د ۱۹۹۸ د اګست په ۶ نیټه ( ۱۵:۵:۱۳۷۷) ددوي کلي د سلهاو تنو د وحدت د پوځیانو د برید لاندي راغي برید د سهار په ۳:۳۰ بجو پیل شو . د کمپیرك د کلي ډیري وګړي پښتانه یو څه ترکمن او عرب تشکیلوي او ټول ۳۰۰ کوره کیږي چه ټول اوسیدونکي یي بزګران دي .

خپله استاد یاسین د شیخ مرغلانو د کلي دي چه د مونږ له کلي دوه کیلومتره واټن لري د نوموړي سرتیري د مرغلان ، سر آسیاب او یو څه یي هم د بامیانو نه راغلي و دوي ددي په موخه زمونږ پر کلي برید وکړ چه ګوړاکي دلته طالبان پټ شویدي .

نوموړي واي کله چه طالبان مزتر ته راغلل د استاد یاسین سرتیرو خپل کلي پرئشي و او د لنګر خاني کلي ته نقل شوي و او د مزار د ښار په چور کي هغه د خلکو مالونه او شتمني چه راوړي او غلا کړي وي څه یي د سر آسیاب او یو اندازه یي د مرغلان په کلي کي ځاي پر ځاي کړي وي او دا چه طالبان یو نا څاپه راورسیدل ځیني دغه مالونه په سرکونو ورځخه پاتي شول .

خان وایي چه د استاد محقق ملیشو زمونږ خلك ووژل صرف ددي لپاره چه هغوي پښتانه و حال دا چه ټولو د مزار خلکو ته معلومه وه چه زمونږ خلك ډیر فقیراو بي وسلي خلك و او هیڅ کوم طالب یي نه درلود او هغوي ته یي په خپل منځ کي ځاي نه و ورکړي . خان وایي چه د استاد محقق سرتیرو د هغوي ۱۷ تنه ووژل چه د ۱۵ نومونه یي دادي :

۱ : ملا عبدالرزاق د کلي د جومات ملا ۶۵ کلن .
۲ : نورگل د الله نور زوي ۴۵ کلن .
۳ : محمد گل د الله نور زوي ۴۰ کلن .
۴ : محمد اکرم د جمعه خان زوي ۳۰ کلن .
۵ او ۶ چه د محمد اکرم میلمانه وه .
۷ : غلام علي د شیخ محمد زوي ۷۵ کلن چه د کلي مشر و .
۸ : داد محمد د نورمحمد زوي ۵۰ کلن
۹ : تاج محمد قریه دار د دین محمد زوي ۷۰ کلن .
۱۰ : عبدالغني د عبدالرسول زوي ۵۰ کلن .
۱۱ : نورمحمد د محمد حیدر زوي ۶۵ کلن .
۱۲ : نورمحمد چه چوپان وه او ۸۰ کاله عمر یي درلود .
۱۳ : سید عالم ۵۵ کلن .
۱۴ : محمد خان د میر علم زوي ۴۰ کلن .
۱۵ : محمد سرور د جمعه خان زوي ۷۰ کلن .

خان وایي چه نومورو پوځیانو ددوي له کلي نه نږ دي ۷۰ تنه ونیول او له ځانه سره یي بوتلل ددغو نیول شو کسانو له ډلي یو تن چه منصور نومیږي وایي چه دوي سره ۷۲ تنه بندیان و .

منصور وایي چه د وحدت پوځیانو د له کوره ونیوه او بیا دي ووهاه او لاسونه یي ورته وتړل او بیا یي د کلي جوامت خوا ته پوته چه د هلته د کلي ټول نارینه په ډیر بد حالت کي ولیدل او وایي چه د ټولو له سر او مخ نه وینې رواني وي ز دغو پوځیانو دوي ته امر وکړ چه په یوه کاماز یو قسم روسي لاري گاني دي سپاره شي خو دا چه ددوي لاسونه تړلي و پورته کیدل لاري ته ناممکن و چه منصور وایي چه په دي لړ کي نږدي لویدلي و او نومورو بندیانو له ډلي یوه دغو سرتیرو ته وویل چه که امکان لري د یوه دوه تنو لاسونه خوشي کړي تر ځو چه نورو سره لاري ته په پورته کیدو کي مرسته وکړي خو سرتیرو هغه په قنداق په سر وواهه او هغه بي هوشسه شو او نومورړي اوس ژوندي دي خو خپل اعصاب یي له لاسه ورکړي دي . بیا یي مونږ د بوجیو په ډول کاماز ته ورواچولو او د د مزار شریف سیلو ته یي پوتلو .

منصور وایي چه وروسته هغوي د تیلو د ذخیري یوه د ځمکي تانك ته چه ځمکه کي ښخ شوي و رهنمایيي شول نوموړي کانتینر په ځمکه کي دومره ښخ و چه ورکته کیدل ورته گران و د وحدت گوند د سرتیرو په منځ کي یوه غږ کړه چه یوه زینه راوړي کله چه یي زینه راوړه مونږ ټول یي هلته ورکوز کړو هلته له مونږ څخه مخته هم نور کسان اچول شوي و او ددي کانتینر طول او عرض ۵ په ۵ مترو کي وه او پدي وخت کي د کال ډیر گرم موسم و او مونږ له تندي نږدي سا ورکړي و مو نږ ډیر غږونه وکړل چه د خاي په لحاظ مونږ ته اوبه راوړي چه له تندیپ مرو خو مونږ ته هیڅا ځواب نه راکاوه او دېزو غږ تر غوبرڅ کیده چه یو ساعت یي دوام ومونږوروسته له هغه چه زمونږ فریادونه ډیر شول یو تن راغي او مونږ نه یي پوښتنه وکړه چه څه غواړي او څوك یاست . مونږ نوموړي تن وویل چه مونږ خوار بزگران یو چه د وحدت گوند پو ځیانو دلته بندیان کړي یو هغه مونږ بیا یوه زینه راوړه او مونږ ټول له هغه ځایه راووتو او چه کله مو پام کاوه نو د وحدت گوند سرتیري له دغي سیمي تښتیدلي و او طالبانو دغه سیمه نیولي وه . مونږ د خپل کلي خواته پیاده حرکت وکړ او کله چه کلي ته ورسیدو هلته یو لوي ناورین او غمیزه وه ولي چه د وحدت گوند پو ځیانو د کلي د خلکو ټوله دارایي ځان سره وړي وه او یو ډیر شمیر کسان وژلي او ټپي کړي و او د کلي هغه خلك چه له دي غمیزي نه سلامت وتلي و ټول په یوه بد حالت کي و . زمونږ د گاوندیو کلیو څخه خلك راغلي و او د مړو د ښخولو په کار کي یي مرسته کوله هغوي له ځانه سره قالیني ، گیلم او د خوړو توکي را وړي و او مونږ ته دلداري راکوله او ویل یي چه هر څه د خداي له خوا دي او تاسي باید صبر او زغم ولري ولي چه خداي تعالي صابره بندگان خوښوي او د مصیبت په وخت کي د هغوي غږ اوري .

### ۶.۵.۳ په هزاره جات کي د قدرت نه د دایمي ناوړه کتي اخستني ، او د وحدت د گوند د اکبري د ډلي جنایات

د شوروي پر ضد د مقاومت او د خلق دموکراتیك گوند پر ضد د مقاومت په کلنونو کي اکبري د د بامیانو ولایت د ورث په ولسوالي کي د سپاه پاسداران انقلاب د ډلي رهبري په غاړه درلوده . نوموړي ډله په کال ۱۹۸۹ کي نورو شیعه گوندونو سره یو ځاي شوه او د وحدت گوند جوړ کړ . او اکبري د یوه بانفوذه رهبر په شان د نوي جوړ شوي وحدت گوند په لیکو کي پاتي شو . نوموړي د کورنیو جگړو په دوران کي چه په کال ۱۹۹۲-۱۹۹۶ پوري یي په کابل کي دوام وکړ د وحدت د گوند د رهبري په سر د مزاري لوي رقیب پاتي شو

. کله چه په کال ۱۹۹۳ کي د وحدت ګوند او دولت تر منځ جګړي ډيري تودي شوي نو اکبري په نوموړي ګوند کي يوه ډله جلا او د دولت د طرفدار وحدت ګوند په نامه يادکړ . دوي هغه وخت د مسعود لخوا حمايه کيدل چه عملا يي د کابل او هزاره جات په جګړو کي د مزاري او خليلي د ګوندونو سره ډيري مخامخ جګړي وکړي او دا رقابتونه ددي لامل وګرځيدي چه د شيعه قوم تر منځ ډير جنايات صورت ومومي . له ۱۹۹۸ _ ۲۰۰۱ کال پوري اکبري طالبانو سره يو تړون درلود او د نوموړي پوځيان په هزاره جات کي ځاي پر ځاي و او د نوموړي ځيني مهم کسان په دولتي مهمو پوستونو کي مقرر شوي و خو د خپله کومه رسمي دنده په غاړه وانخسته. د کرزي د حکومت په دوران کي اکبري خپل موقف د يو شيعه مذهبي مشر په توګه وساته او د ۲۰۰۵ کل د مي په مياشت د باميانو له ولايت نه پارلمان ته د کانديد په توګه معرفي شو .

د ناوړه ګتني اخستني يو ښه مثال يوه ميرمن چه لطيفه نوميږي او د باميان ولايت د ورث د ولسوالي اوسيدونکي ده داسي بيانوي چه د اکبري د ډلي ستيرو چه د اکبري د خپلوان له جملي څخه وه نوموړي وتښتوله چه د د لړم د مياشتي ۱۲-۱۰ پوري د ۲۰۰۰ کال د نوامبر مياشت وه نوموړي وايي چه د اکبري د تره زوي چه همايون نوميده دا وتښتوله او وروسته يي بيا په جنسي تيري وکړ . لطيفه په هغه وخت ۱۵ کلنه وه نوموړي زياتوي او وايي چه د شپي يوه بجه وه چه ۱۳ تنه د اکبري وسله وال کسان د انګړ له ديوال نه ددوي کورته ورواوښتل او وروسته يي د انګړ دروازه خلاصه کړه او انګړ ته داخل شول او بيا د هغي کوټي کړکي ته ودريدل چه مونږ ټول د کورني غړي هلته بيده و او پر مونږ غږ وړ چه حرامزاده ګانو ور خلاص کړ خو مونږ ور خلاص نکړو او بيا هغوي په يوي اوسپنيزي ميلي کوشش وکړ چه ور پرانيزي خو موفق نشول بيايي د کوټي کړکي را ماته کړه . لذيفه واي چه پنځه تنه دغه وسله وال ګوټي ته ورداخل شول او لطيفه او خور يي له ډار نه ځان په تشناب کي قفل کړ خو د کار هم کټه ونکړه او هغوي هلته هم داخل شول . دغو وسلهوالو له ماسره ډيره بده رويه وکړه ما چه هر څومره ]يغي او ناري ووهلي کټه يي ونکړه هغوي زما پلار ډير وواهه او مور مي چه قران شريف په لاس کي و هغوي ته عذر کاوه چه دا ظلم ولي د هغوي په حق کي کوي . ګاونديانو دا ناريپ سوري اوريدلي خو مونږ سره يي مرسته نشواي کولاي ځکه چه د هر يوه کور شاته يو وسله وال ولاړ و . په نتيجه کي دغو وسله والو زه ډيره ووهلم او له ځانه سره يي پوتلم او زمونږ د کورني غړي او ګاونديان په کورونو کي پاتي شول ولي چه هغوي له کورنو نه نشواي راوتلي او پدي پوه نشول چه دغو وسله والو زه کومي خواته پوتلم .

لطيفي دا تښتونکي وسله وال د اکبري خپلوان وپلل او د هغوي نومونه يي په ډاګه کړل چه په هغوي کي :

همايون ( د DDR د پروګرام تر ختمه پوري په ا:پري پوري د اړوندي فرقي د يوه لوا قوماندان و ) .

دين محمد ، ظفر ، او حسين بخش د اکبري د تره لمسيان .

مهدي ، او ابراهيم عيار د اکبري خپلوان .

طاهر محمودي د آکبري په پوځونو پوري مربوذ قوماندان او د اکبري د تره زوي .

لطيفي وويل :

په هماغه شپه هغوي زه له ځانه سره پداسي حال کي چه سر او پښي مي لوڅي وي يوه کلي ته چه بور غورسنګ نوميده پوتلم د لاري په اوږدو کي د مرګ ګواښونه راته کول پداسي حال کي چه ما چيغي وهلي زه يي داسي يوي کوټي ته ننويستم چه هلته د اکبري د ډلي ډير پوځيان ناست و زه په نوموړي کور کي ۹ ورځي پاتي شوم چه د شپي له مخي په ډير بد حالت باندي پر ما جنسي تيري کيده او ما پدي لړ کي چيغي وهلي او څو واره بيهوشه شوم چه د هغه وخت يادونه اوس هم پر ما ډير پد اثر کوي او زما اعصاب د تاثير لاندي راوړي خو زه څه کولي شم ؟ وروسته بيا هغوي زه د پيتاپ جوي کلي ته يوړم چه هلته د اکبري خپله قرار ګاه وه او د اکبري د تره زوي زه خپل کورته يووړم .

د لطيفي څخه پوښتنه وشوه چه ولي هغوي ته وتښتولي ؟ نوموړي په ځواب کي وويل چه همايون د مونږ له يوي خپلواني سره نامزد و خو د هغه او د هغه د نامزدي تر منځ څه اختلافات موجود و او خپل شخصي مشکلات يي له هغي سره درلود چه د هغي په بدل کي يي زه وتښتولم . لطيفه وايي چه د نوموړي پلار يو زميندازه سړي دي چه ملك هم و او د اکبري د سپاه پاسدارانو ګوند له هغه سره هميشه مخالفت درلود .

د لڼيفي کورني د هغي د خلاصون لپاره ډير هڅي وکړي د نوموړي پلار او خسر يي حسين داد چه ددوي له خپلوانو څخه و يوه عريضه د هغو مجرمانو پر ضد چه لطيفه يي تښتولي وه ولسوالي ته وړاندي کړه . حسين داد واي چه ولسوال بالاخره د هغيس يمي سپينږي او د لطيفي د کورني غړي را ټول کړل . هغوي لطيفي د همايون د ماما په کور کي ساتلي وه حسين داد وايي چه کله مونږ هلته ولاړو دا چه هغوي ټول په وسلو سمبال و مونږ ته يي ډير ښکنځل وکړي او مونږ يي مجبوره کړو چه له ځايه ولاړ شو . چه وروسته له هغه يي لطيفه د پيتاب جوي کلي ته يووړه . خلکو دا وپتيله چه د لطيفي نه وپوښتي چه آيا هغه په خپله دغو وسلوالو سره تللي او يا دا چه نوموړي يي په زوره بوولي ده . حسين داد وايي چه دا خبره يو څه ستونزمنه ښکاريده ولي چه اکبري خپلو کسانو ته دوه ځلي امر وکړ چه لطيفه ولسوالي ته واستوي خو څه نتيجه يي ورنکړه په دريم ځل د اکبري لس تنو وسله والو لطيفه له ځانه سره ولسوالي ته راوسته او ددغو وسله والو له ډاره لطيفي هيڅ ويلي

نشواي . په داسي حال کي چه د څلورو ولسواليو چه د اکبري تر ولکي لاندي وي استازي د اکبري په مشري حاضر و لطيفي له اکبري څخه اجازه وغوښته چه څه ووايي او اکبري ورته اجازه ورکړه هغي وويل چه د نوموړي نامزد حسين علي دي او دغو وسله والو هغه په زور له کوره پيولي وه او د د نوموړي کار سره موافقه نه درلوده کله چه د غونډي استازو د لطيفي دا خبري واوريدي نو يي تصميم ونيوه چه لطيفه خپلي کورني ته تسليم کړي او دهغي پلار يي را وغوښت او لور يي ورته تسليم کړه او وروسته له ۴۰ ورځو هغه بيرته خپلي کورني سره يوځاي شوه .
پداسي حالکي چه همايون هم هلته ونيول شو خو وروسته د څو ورځو بيرته خوشي کړاي شو . په دي ډول دا يوه پيښه وه چه محلي قدرتمندانو د خپل زور په ذريعه د خپل واك د ټينګولو لپاره د هغو انسانانو او يا وسلوالو پولوي کوله چه په هر نوع غير انساني اعمالو ککړ و . ولي چه نوموړو وسله والو ددغو سياسي ګوندونو نه سياسي پشتيباني کوله او دي همدي ټکي نه په استفادي سره يي په ډيرو جنايـاتو لکه جنسي تيري ، او په زور باندي واده کول باندي لاس پوري کاوه او د هغوي ګوندي انديوالانو مجبورا له هغوي څخه حمايت کاوه . د دغسو واقعاياتو د متضررينو په وينـاو کـي لـه ۱۹۹۲ کلونـو نـه مـخ تـه او ۲۰۰۱ کـال نـه وروستـه هـم ويل شويدي.

## ۶،۶ د ملي اسلامي جنبش د وسله والو له خوا د ډله ايزو وژنو ، جنسي تيريو او شکنجه کولو سرته رسول د ۱۹۹۱کال نه تر ۲۰۰۱ کال پوري

### د جنبش تاريخچه

جنرال عبدالرشيد دوستم ديوي قوي مليشي قوماندان په توګه چه د نجيب د حکومت حمايت يي د ۱۹۹۲ کـال نـه وړاندي درلود څرګند شو ز د نوموړي مليشو په وخت کي د طبيعي ګازو د زيرمو او د لوي تجارتي او اکمالاتي لاري چه شمال يي د مرکزي اسيا هيوادنو سره چه په هغه وخت کي د شوروي اتحاد يوه برخه وه لـوي او مهـم اهميت درلـود. د جوزجـاني دوستم ( دا ولايتـي نـوم دي چـه لـه هغـه ځايـه راغلـي دي ) د يـوي قدرتمندي او موثري مليشي په توګه د نجيب له دولت سره همکاري درلوده . او خورا ډير روزل شوي پوحيان يي درلودل چه د يوي فرقي په تشکيل کي سره راټول و او نږدي ۴۰ زره تنه کيدل او دا فرقه د ۵۳ فرقي په نوم يادېده ( ددغو مليشو په مورد کي د ديرو معلوماتو لپاره لوموړي فصل وګوري )
په ۱۹۸۸ کال د دوستم مليشي د شوروي ځواکونو په عوض د کندهار ، پکتيا ، لوګر او غزني په ولايـاتو کـي ځاي پر ځاي شوي او د جګړو کي د ډيرو تيريو ، لوټ تالان او له عمله د جوزجاني ګيلم جمو په نامه ياد شول خلکو دا نـو ددي لپـاره پـر دوي کيښود چـه پـه واقعيت کـي هر ځـاي تـه چـه دوي ورسيدل هلتـه يـي د خلکو د کورونو تر ګيلمونو پوري ټول کړل خو وروسته بيا په ۱۹۹۱ کال د ټول مليشو سره يو ځاي د کابل نـه ويستل شول .
د ډيرو ناخوالو په موجوديت کي د نجيب حکومت دغه مليشي د مجاهدينو پـه مقابل کـي تقويـه کـولي او پـه ملـي سطح کي دا راز ډيري قومي مليشي جوړي کړي چه په شمال کي دغه مليشي په لوي پوځي ځواك بدلي شوي خو د هغوي سياسي اختيارات محدود و .
د نجيب د حکومت په دوران کي دايما د يوه قوم مليشي د بل قوم په مقابل جنګ ته ليږل کيدي چه په دي لړ کـي د شمال مليشي هميشه د پښتنو په سيمو کي د مجاهدينو په مقابل کي استعماليدي .
دوستم چه په لومړي سر کي د پراشوتي پو ځ يو سرتيري و چه د ثور انقلاب څخه دمخـه يـي پـه هغـه پـوځ کـي خدمت کړي و او وروسته يي په شبرغان کي د نفت او ګازو په يوه فابريکه کي کار کاوه او هلته يي ددغو تاسيساتو د ساتلو لپتره يوه پوځي قطعه جوړه کړه .نوموړي قطعي د ۱۹۸۰ لسيزي پـه اوږدو کـي پراختيا ومونده چه لومړي ټولي ، کندك ،، غنډ ، لوا او وروسته فرقي ته چه دپه ۱۹۸۹ کي د ۵۳ فرقي پنامه ونومول شوه پورته ولاړه .
په لومړي سر کي دوستم خپل ټول سرتيري د خپل کلـي او ولايت څخـه راټولـول خـو وروسـته يـي د مجاهدينو ځيني قوماندانان لکه د فارياب ازبك قوماندان رسول پهلوان او د سرپل ازبك قوماندان غفار پهلوان پر ځآن را ټول کړل او ځيني مسلکي افسرانو چه په ازبك قوم پوريي تړاو درلـود هم د ۵۳ فرقي پـه تشکيل کـي را غونډ کړل چه په هغوي کي د توپچي ځواك يو افسر د مجيد روزي پنام چه په اصل کي عرب ازېك و او جنرال جوره بيك د پلي پوځ يو افسر د جوزجان د ولايت څخه چه نوموړو ددغو مليشو د کاري او مسلکي ظرفيت د لوړولو پـه موخـه ډير ګامونـه واخستل او ويکولاي شـول چـه پـه زرهـي او تـوپچي مسلکونو کي ځيني مليشي وروزي . د دوستم په شاوخوا را تو شوي افسران اکثرا د خلق د ګوند د پرچم د ښاخ نه وه او دوستم خپله هم په هغو پوري اړه لرله او د شبرغان په ښار کي د دغو پرچميانو ملاتړ درلود .

په کال ۱۹۹۲ کي چه کله شوروي اتحاد د کابل حکومت سره خپلي مرستي قطع کړي دوستم وغوښتل چه له احمد شاخ مسعود سره يو نوي اتحاد جوړ کړي . هغه وخت چه نجيب وغوښتل يو پښتون خلقي جنرال د تاجك جنرال چه مومن نوميده په حيرتانو کي د گارنيزيون د قوماندان په تو گه وټاکي نو دغه تاجك جنرال مومن په شورش پيل وکړ چه پدي شورش کي ورسره د احمد شاه مسعود ، جنرال دوستم ، او د وحدت د گوند پوځيانو گډون وکړ او پرچمي شورشيانو د مزار ښار په خپله ولکه کي راوست . له لړ مقاومت وروسته د مزار ښار د جنرال دوستم ، احمد شاه مسعود او نورو جهادي تنظيمونو په غير د اسلامي حزب څخه گوتو ته ورغي. چه وروسته له هغه د دولتي اداراتو جوړښت په مورد کي د مختلو تنطيمونو تر منځ مختلف نظريات موجود و د جميعت گوند په هيځ توگه نه غوښتل چه پخواني کمونيستان دي په اداره کي دوي سره شريك وسي او د حرکت او وحدت گوند غوښتل چهددوي ځواکونه بايد په ازبك ميشتو سيمو کي بايد ځاي پر حاي شي .
په داسي حال کي چه د مزار ښار د نيولو لپاره کوم خاصه او سخته جگړه ونشوه خو د ددغو مخاليفينو تر واکمني وروسته د خلکو عامه دارايي او دولتي ادارات او مالونه لوټ او تالان شول . نوموړو تنظيمونو د شمال په شپږ ولايتونو کي ( مزار شريف ، جوزجان ، سرپل ، فارياب ، سمنگان او بغلان کي ) خپل تعينات وکړل او د مليانو د اخستلو او نورو عوايدو د لاس ته راوړلو لپاره يي ټول ځايونه په ناحيو تقسيم کړل او هر تنظيم به ځانته عوايد ټولول په دغو پيښو کي له ټولو نه ډير ازبکان مسلط و او د ځان لپاره يي يو سياسي تکلاره خپله کړ او يو گوند يي جوړ کړ چه د ملي اسلامي جنبش په نامه ياد شود او ټولو ميشتو گوندونو د خپا استقلاليت په خوندي ساتلو سره ددي گوند په ليکو کي فعاليت شروع کړ .
د ۱۹۹۲ کال د جولاي په مياشت کي دوستم د ملي دفاع وزير احمد شاه مسعود ته وړانديز وکړ چه په شمال کي دي داسي يو عمومي قرار گاه جوړه شي چه وکولاي شي په شمال کي ټول پوځي ځواکونه له ځايه اداره شي او مسوليت يي د دوستم پر غاړه وي خو مسعود دا خبره ونمنله . بيا دوستم په خپله خوښه يوي نوي پوځي جوړښت چه په هغي که د پخوانيو کمونيستانو او مجاهدينو گډ پوځي ټولگي شامل و لس پوري کړ او ځيني داسي ټولگي يي له غير مسلکي پوځيانو څخه جوړ کړل چه وروسته دغو قوماندانانو د دوستم تر مستقيمي حمايي لاندي داسي وځليدل چه له مسلکي پوځيانو نه ډير ښه او دوستم نومړو پوځونو ته ډيره وده ورکړه . په خپلو سيمو کي لوړپوړو قوماندانانو يا په بل عبارت پهلوانانو خپل حکومتونه درلودل . په عمومي ډول د ټولو غير مسلکي پو ځيانو مسلکي کولو دوام درلود . چه دوستم په شمال کي د يو پراخ پوځي اتحاد په جوړونه کي بريالي شو.
په دي لړ کي جميعت دپه ملي او سيميزو چارو کي د دوستم مخالف پاتي شواوددي مقصد په منظور يي خپل ځواکونه د دوستم په مقابل کي تقويه کول د ۱۹۹۲ – ۱۹۹۴ په ترڅ کي دغو دواړو رقيبو ډلو يو د بل تر څنگ په ډير مشکل سره ورځي شپي تيرولي او په ملي سطح کي يي د اسلامي حزب په مقابل کي ولاړ و . پخواني دښمنان په ظاهري دوستانو بدل شوي و . ځينو سيمه ايزو جگړو وررورو زور اخسته او ځيني پواخني دښمني د جميعت او حرکت ترمنځ ، د جميعت او وحدت تر منځ او د جميعت د جنبش پر ضد دوستم دي ته اړ ويسته چه ځانته د مجاهدينو تر منځ نوي ملا تړي پيدا کړي .
په هر حال په شمال کي پخواني اداري سيستم د لوړپوړو چاراواکو د بدلون سره خپل فعاليت ته ادامه ورکوله په داسي حال کي چه خپل منځي او منطقه يي جگړو دوام درلو په نوموړي سيمه کي د هغه نسبي ثبات موجوديت ډير خلك چه د کابل ښار د خپل منځي جگړو څخه يي تيښته کړي وه ځاي پر ځاي شوي و . چه له همدي امله د وخت د تيريدو سره دغه سيمه د ملل متحد او نورو غير دولتي سازمانونو د عمليانو سيمه وگرځيده چه له هغه ځايه به يي د کابل ښار ته د بيړنيو مرستو رسولو کارونه تر سره کول .

په کابل کي د غير پو ځي وکړو په مقابل کي د جنبش ملي پوځيانو جنايات
پداسي حال کي چه په دغه دوره کي په مزار شريف کي نسبي ارامي وه د ملي جنبش پوځونو د کابل په جنگونو په مکمل ډول گډون درلود . کله چه د ۱۹۹۲ کال په مياشت کي د نجيب الله حکومت ړنگ شو د دوستم مليشو د کابل اطراف سيمو کي ميشت و چه وروسته له يوي مياشتي هغوي ټول جنبشيان شول . او هغوي دغه لاندي سيمي په خپله ولکه کي درلودي : د مرنجان غونډي ، د بالاحصار غونډي ، هوايي ډگر ، اول مکروريان او حضوري چمن او په مرنجان او بالاحصار غونډيو کي يي د تو پچي مواضع هم ددوي په ولکه کي و . او همدا راز جنبش جنټ الوتکي او د هغو پيلوتان چه د نجيب له حکومت نه پاتي و په خپل واك کي درلودي .
د جنبش پو ځونه په لومړي سر کي په شمال کي تقويه شول او بيا کابل ته راواستول شول چه د کابل ډيري سيمي يي لاندي کړي چه د کابل هوايي ډگر هم پکښي شامل و . جنرال عبدالرشيد دوستم خپله کابل ته را نه غلو خو دده ټولو لوړ پوړو قوماندانانو په کابل کي د جگړي پر مهال په دوريي توگه دندي اجرا کولي . د نوموړي پوځي ځواك لومړني فرمانهي د ۱۹۹۲ کال د مي په مياشت کي د جنرال مجيد روزي په قومانداني جوړه شوه چه جنرال همايون فوزي يي سياسي مسوول ، جنرال جوره بيك د پوځي ځاي پر ځايي مسوول ، او جنرال امين الله کريم د لوژستيك د مسوول په توگه کار کاوه . چه جنرال مجيد روزي د ۱۹۹۲ کال په اخرو

كي مزار ته وغوښتل شو او پر ځايي همايون فوزي تعين شو . يوه بلـه مهمـه څيره د جنبش د پوځيانو پـه منځ كي عبدل چريك و چه نوموړي د سرپل ولايت په شمال كي د سيد اباد د كلي اوسيدونكي و او د نجيب پـه دوره كي حكومت ته تسليم شوي و او هغوي ورته د ۵۴ مليشي لوا قوماندانـي وركړي وه .

د جنبش د پوځونو لـومړني د استقرار ځايونـه دا و : سياسـي قرار گـاه وي د اوبـو او بريښنا وزارت كـي او د مكروريانو په سيمه كي .

- د حكيم جرمن د گارد قطعه چه اندخويي پوځيان پكښي و – هوايي ډگر .
- ۶۴۲ لوا قوماندان يي نعمت الله فرهاد – هوايي ډگر او د هغو قرارگاوي .
- زيني پهلوان – هوايي ډگر .
- زيني پهلوان گارگري قصبه او بالاحصار .
- اسدالله مارخور – بالاحصار .
- جنرال اصغر لوگري – بالاحصار ، بيني حصار و شاه شهيد .
- فقير قوماندان – بالاحصار .
- همراه قوماندان – ۶۴۳ لوا د مرنجان غونډي .
- عبدالرحيم پهلوان – د زمان خان قلعه .
- جنرال زمان ( برادر جنرال آصف دلاور) – دعامي روغتيا څلور لاري.
- عبدل چريك – د ملي گارد قرارگاوي .
- امان الله كريم – ۶۴۲ لوا لومړي مكروريان .
- ۵۱۱ فرقه – نوي كارته او شاه شهيد .
- زرهي قطعه مصطفي قل – د مرنجان غونډي .

پداسي حال كي چه د جنبش د عملياتو اصلي قرار گاه د نقلي لوا په قرار گاه كي چه د نوي كـارتي او شـاه شـهيد تر منځ واقع وه چه د نجيب د حكومت نه بيا د ډالبانو تر راتگه پوري او ټول اداره له هغه ځايه كيده . لـه شـمال نه به نوي پوځيان دغه ځاي ته راوړل كيدل او بيا به نورو سيمو ته ليږل كيدل او همداراز ددغي قرار گاه نـه د جنبش لوړ پوړو چارواكو لپاره ډير ښه ځاي د عملياتو د تنظيم لپاره كڼل كيده خو عامع وگړو دا ځـاي د جـنبش د پوځيـانو د جنايـاتو او تيريـو كـور بالـه . پـدي اړونـد د عدالت پـروژي د نـوي كـارتي او شـاه شـهيد لـه ډيـرو اوسيدونكو سره مركي كړيدي چه ټولو دا شاهدي وركړيده چه د نقليي د لـوا قـرار گـاه چـه پكښي د جنبش پو ځيان ځاي پر ځاي شوي و د جناياتو ، جنسي تيريو ، وژنو او د لوټ تالان مركز و .
د يوي كورني څوتنو ښځو ويلي دي چه د جنبش پوځيان په ۱۹۹۳ كال كي ددوي كورتـه پـه زوره ورننوتـل . م وايـي جنـپشي پوځيـان د سـهار پـه ۹ بجـو ددوي كـور شـا تـه ورغلـل نومـوړي وايـي چـه مـونږ د دروازي پـه خلاصولو كي يو څه حنډ وكړ هغه چه زما خاوند دوي ته دروازه خلاصه كړهه هغه يي د وهلو ټكولو لانـدي ونيوه او ورته ويل يي چه ولـي دي دروازه ټينگه كړيده . كلخـه چـه زمـونږ دښـمنانو تـه مـو پـه كـور كـي ځـاي وركړي تر هغو چه مونږ ته كمين وكړي او همداسي د پام سر ته پورته شول هلتـه زمـا د خاونـد مامـا د بـام پـر سـر و او د غـو پوځيـانو هغـه پـه گوليـو وويښت او مړ كړ . نومـوړو پوځيـانو ددغـي كـورني يـو بـل نارينـه پـه قنداقونو واهه او ويل چه ولي له دغي سيمي څخه ندي تللي او ورته ويل يي چه مونږ دغسي دستور لرو چه ستاسو سرونه يعني ژوند زمونږ د رهبرانو پـه لاس دي او ستاسـي مـال او نـاموس زمـونږ پـه واك كـي نـو پـدي توگه تاسي ددي حق نلري چه له مونږ څخه پوښتنه وكړي چه مونږ څه كوو.

د وژل شوي خور غوښتل چه د جنبش پوسته ولاړي شي او د خپل وژل شوي ورور د جنـازي د ښـخولو اجـازه واخلي خو هغو پر هغي ډزي و كړي او هغـه يـي پر پښو وويشته چه اوس دايمـي معلولـه ده . م وايـي چـه د جنبش د پو ځيانو د وحشت له امله چه په سيمه كي يي كاوه ډيرو خلكو خپل كورونه پريښودل او نورو سيمو تـه ولاړل خو ددي د خاله چه تر اوسه هم په هماغه سيمه كي ژوند كوي د جنبش د پوځيانو لخوا په زوره د نقليـي قرار گاه ته بيول شوي و ه حال ا چه نوموړي زړه وه خو بيا وربـاندي جنسـي تيري شوي و ه .
وروسته د وژل شوي تن يوه خور چـه آ نـوميري وايـي چـه د جـنبش لـه قومانـدان څخـه چـه پـه نقليـه كـي قطعـه درلوده د خپل د كور د مالونو د وړلو لپاره يو امر تر لاسه كړ نوموړي وايي چه د خپل خاونـهد او دو خوريـانو چه نجوني وي كورته ولاړو چه يو نا څاپه د جنبش پو ځيان پر مونږ را ټول شول او دغو طالمـانو زژمـونږ پـه حق كي ډير بد كارونه وكړل چه ويل يي ماته گران دي . زه پوه شوم چه هغوي د كور د مـالونو د وړلـو اجـازه ددي لپاره مونږ ته راكړي وه چه كله مونږ هلته ورشو دوي پر مونږ جنسي تيري وكړي دغو پوځيانو مونږ تـه ويل چه ستاسي سرونه زمونږ د قوماندانو او ستاسي مالونـه او ځانونـه پـر مـونږ پـوري اړه لـري . آ وايـي چـه

زما یوه خوزه چه ب نومیړي وايي چه ما دغو پوځیانو ته وویل چه زه غواړم صرف د خپلو بچیانو کالي له ځانه سره واخلم خو هغو په ځواب کي رته وويل چه تا ته په ژر اجازه درکړو چه ولاړه شي خو په یوه شرط چه زمونږ زړونه خوشحاله کړي او وايي چه دغو سرتیرو پر ما پاندي جنسي تيري وکړ دغو ګليم جمانو دي ته نه کتل چه ځوانه ده او که زړه ده او چه کله به کومه ښځه کوتو ته ورغله جنسي تيري به يي پري کاوه .

په افغانستان کي د عدالت پروژي د ډیرو داسي ښځو اضهارات اخيستي چه د جنبش سرتیرو د هغوي میړونه وهلي ټکولي و پر دوي باندي جنسي تيري کړيدي او یا يي د تيري لپاره تلاش کړيده . یوه میرمن د م په نامه چه د شاه شهید په سیمه کي اوسیده او نوي يي واده کړي و داسي وايي په ۱۹۹۳ کال کي یوه شپه د جنبش پو ځیان زمونږ کورته په زور راننوتل زما خاوند او د هغه ورور يي ووهل او وټکول او د کوټي په یوه کونج کي يي وتړل . مونږ سره زما د خاوند د ورور کورني هم ژوند کاوه د هغه ښځئ ته يي له دي کبله چه ماشومانو يي شور او ژړا کوله څه ونه ویل او زما ټول زیورات واخستل او پر جنسي تيري وکړ .

یوه بله متضرره وايي چه ش نومیړي د امیدواري په دریمه څلورمه میاشت کي وه د ۱۹۹۳ ( ۱۳۷۲ ) کال په یوه شپه د جنبش ۲۴ تنه پوځیانو زمونږ د کور دروازه په زوره ماته کړه او انګړ ته راننوتل او زماد خاوند په وهلو ټکولو يي پيل وکړ . وروسته د هغوي له جملي څخه دوه تنو زه په زوره بلي کوټي ته بوتلم او غو ښتل يي چه پر ما جنسي تيري وکړي خو زما کوچني زوي د هغوي مخه ونیوله او هغه پر ما باندي ځان داسي نښله ولي و چه دغو پو ځیانو ونشواي کړي پر ما تيري وکړي وروسته هغوي زمونږ له کوره ۱۲ لکه افغاني ، یو پایه تلویزیون ، د خیاطي ماشین او یو دیګ بخار یووړ مونږ ورته ډیر زاري وکړي چه مونږ غریبان یو او زمونږ ټوله شتمني همداده خو هغوي ټول له ځانه سره يوړه .
ش واي چه د همدي شپي په سهار يي له دي سیمي څخه تیښته وکړه او د لاري په اوږدو کي یوه نجلي لیدلي ده چه سره کالي يي په ځان و او ددغو پو ځیانو لخوا په زوره د قرار ګاه خواته بیول کیده . نوموړي وايي چه وروسته له ډیري مودي چه کله يي غوښتل چه خل کالي له دغه ځایه یوسي څیره شوه چه په هماغه شپه چه پر دوي تيري شوي و ددوي پر یو د ګاونډي کور چه نوموړي دریور و او د بګرامیو د ولسوالي اوسیدونکي و هم تيري شوي و . علاوه له دي چه د هغوي مالونه يي لوټلي و د نوموړي پر میرمن يي په ډیر فجیع حالت جنسي تيري کړي و ، نوموړي وايي چه دغو پو ځیانو دا پرینښوده چه خپل کالي له هغي سیمي څخه یوسي .

یو ډیر شمیر عیني شاهدان د عدالت پروژي دا څرګندوني کړي دي چه د شاه شهید او نوي کارتي په سیمه کي ډیرو خلکو خپل کورونه ددي لپاره پرینښودل چه د جنبش د پوځیاتو د جنسي تيري لاندي واقع نشي او داسي سیمو ته ولاړل چه هلته یو نسبي امنیت و هغوي له ځانه سره د کور د وسایلو څخه د هیڅ شي د وړلو اجازه ندرلوده . همداراز شاه شهید او نو کارته هغه سیمه وه چه د بمپاردمانونو له امله بي امنه وه او د خلکو د دارايي ( ملکیتونو ) د ورانیدو لا امل ګرځیده دا بمباردمانونه هغه وخت را منځ ته کیدل چه جنبش له اسلامي حزب سره په جګړه کي ښکیل او وروسته بیا د جمیعت سره په جګړه بوخت شو .( د کورکورانه بمباردمانونو لړي په پورته کي کولاي شي مطالعه کړي ) . اګر چه د عیني شاهدانو غو ښتل د جنبش د سرتیرو د جنایاتو په مورد خبري وکړي او د بمباردمانونو په حصه کي ي دومره علاقمندي نه درلوده .

په ۱۹۹۳ (۱۳۷۲) یو تن چه آ نومیړي د حزب اسلامي او جنبش د جګړو په وخت کي د نوي کارتي په سیمه کي ژوند کاوه دي وايي چه د هري ورځي په تیریدو سره د جنبش د سي‌ړتیرو لخوا د لوټ مار سلسله ډیریده او ددي سیمو وګړو خپل کورونه پرینښودل نوموړي وايي چه مونږ د جنبش له مسولینو څخه اجازه ومونده چه خپل د کور مالونه له هغه ځایه څخه انتقال کړو کله چه مونږ موټر راوست او د خپل کور ټول کالي او مالونه مو پکښي بار کړل د نقلیي سره د جنبش سرتیرو ودرولو او زما زوي ج ډیرو واهه او مونږ بندیان کړو او زمونږ کالي ټول غلا کړل خو وروسته له لږ حنډه يي زه خوشي کړم او دریور يي ځان سره وساته نوموړي وايي چه پدغه ځاي که چه دوي بندیان و په ګاونډي توب کي يي د یوي ښځي ږغ اوریدل کیده چه د جنبش د سرتیرو له خوا پري جنسي تيري کیده دي وايي کله چه مونږ دغه وضعیت ولید نو د کور مالونو پروا و نکړه او ډیر ژر مو سیمه پرینښوده . نوموړي وايي چه یوه یا دوه ورځي وروسته دده زامن له دغي سیمي تیریدل او لیدل يي چه ددوي د کور مالونه چه په هماغي لاري که بار و د جنبش د سرتیرو لخوا خر څلاو ته وړل کیدل او نوموړو سرتیرو د دوي له کورنه پوسته او د مهماتو ګودام جوړ کړي و .
همداسي د وګړو په زوره هجرت ته مجبور او له خپلو کورونو نه شړل د جنبشي سرتیرو کار و او پدي هکله ډیر عیني شاهدان وايي چه هغوي ته به ویل کیدل چه ولي له سیمي څخه نه وزي او که به څوك هلته اوسیدل نو ډیر ژر به يي په هغو د جاسوس نو م کیښودو او دا یوه ښه لاره وه د هغه د کور او مالونو د لوټلو لپاره . د مثال په توګه م . ك د ۱۹۹۳د مي-جون (۱۳۷۲) میاشت کله چه د حزب اسلامي او جنبش د پو ځیانو تر منځ

لاس په ګريوان جګړي رواني وي د کارته نو په نوي سرك کي د جنبش د يوي پوستي تر څنګ ژوند کاوه نوموړي پښتون و او ده د خپلو څلورو وروڼو او پلار سره يو ځاي ژوند درلود او ددوي پلار يو ثروتمنده سړي و . زمونږ په کور کي د ښځو شمير هم ډير و . جنبشي پو ځيانو زما پلار ته اخطار ورکړي و چه ګواکي هغه د دوي د مخالف ګوند سره اړيکي لري او مرسته ورسره کوي . م . ك وايي چه هغوي خپلي ښځي يو بل ځاي ته منتقلي کړي او او ۵ – ۶ تنه د کور د مالونو د محافظت لپاره پاتي شول . يوه ورځ چه د مازديګر ۴ بجي وي د جنبش څو تنه سرتيري راغلل او يو تبر هم ورسره هغوي له مونږ وپوښتل چه ولي له دغه ځايه ندي تللي مونږ په ځواب کي ورته وويل چه د خپل کور او مالونو د محافظت لپاره پاتي شوي يو چه هغوي سمدلاسه له ډير قهر نه د کور د کلکينو او دروازو په ماتولو پيل وکړ او کله چه مونږ هغوي د خپلو مالونو وړلو ته پرينښودل نو مونږ د وهلو او ټکولو لاندي ونيولو او زمونږ د کور ټول څيزونه يي يوړل . د ددغو مالونو د باروللو په وخت کي يي مونږ مجبوره کړو چه قاليني او ځيني درانده شيان ورسره بار هم کړو او له دي وروسته مونږ هم مجبور شولو چه سيمه پريږدو .
يوه ښځه چه ب نوميږي او په ۱۳۷۲ کال د چنبش او حزب ايلامي د جګړو په وخت کي په نوي کارتي کي ژوند درلود وايي چه د چنبش پوځيانو د هغي زوي او خاوند په کور ډير ووهل او دا ويل چه خپلي پيسي راکړي او ولي مو تر اوسه دغه سيمه نده خوشي کړي . او دا ويل چه تاسو حزب اسلامي ته جاسوسي کوي ولي دا چه مونږ پښتانه و . هغوي زما خاوند او زوي ته وويل که چيري هغوي د کور مالونه را ټول او د هغوي موټرو کي بار نکړي نو زوي ته به يي اور واچوي او خاوند به يي په ځاه کي واچوي دا چه د کور نه بهر د هغوي ټانکونه ولاړ و هي]ا کي دا جرات نه و چه له خپله وره ووځي . زما زوي او خاوند د کور ټول مالونه ټول کړل او د هغوي موټرو کي يي بار کړل هغوي يواځي زمونږ مالونه يونوړل بلکه په هغه سيمه کي يي د ټولو اوسيدونکو کورونه لوټ کړل . ب وايي کله چه مونږ له سيمي نه وتلو ما خپل زوي ته چادري ورپه سر کړه دا له دي کبله چه د چنبش پوځيانو زمونږ د ګاونډي چه د کورني غړي د جنبشيانو له ډاره کور پريښي و او يو ځوان زوي د کور او مالونو د محافظت لپاره کور پاتي شوي و او د شپي له مخي د جنبش پو ځيان د هغوي کورته ورځي او د هغوي کور لوټوي او په دعه هلك باندي جنسي تيري کوي .
د جنبش د جناياتو عيني شاهدانو ددغه ګوند پوځيان په دغه لاندي نومونو يادول : جنبشيان ، ګليم جمان ، ازبکان او دوستميان چه پدي ډول د ډيرو لړو قوماندانانو نومه په ګذارش کي راغلي دي . پداسي حال که چه نوموړي سيمي د جګړي په ټول دوران کي د جنبش د پوځيانو تر ولکي لاندي وي او په مکرره توګه عيني شاهدانو ويلي چه په دغه سيمه کي پر دوي جنبش سرتيرو تيري کړي او مدام يي دا ويلي دي چه د نقليي د قرار ګاه څخه دغه ټول تيري تر سره شوي دي لکه خنګه چه ش په خپل ګذارش کي ويلي دي چه دا قرار ګاه دايما د ښځو او پيغلو باندي د جنسي تيري يو مهم مرکز ګڼل کيده پداسي حال کي چه د جنبش لوړ پوړو قوماندانانو د خپلو کورنيو سره په ارامه سيمو کي لکه وزير اکبر خان مينه او مکروريانو کي ژوند کاوه . د نقليي قرار ګاه د نوموړي وند د قومانده مرکز او د لو ژستيکي چارو د سمون مرکز هم ګڼل کيده او د جنبش لوړ پوړي چارواکي پکښي اوسيدل خو بيا هم د هغوي په موجوديت کي پورتني جنايات لکه قتلونه ، جنسي تيري ، مسلحانه غلاوي د هغوي د پو ځيانو لخوا اجرا کيدلي . د غو جناياتو او تيريو په جګړي باندي کوم ارتباط ندرلود خو يواځي د سرتيرو د بري پخاطر هغوي ته د هر ډول جنايت د کولو اجازه شوي وه . دا مونږ ته د جوزجاني مليشو اعمال په تيرو کلونو کي را په يادوي چه د مليشو دغو سرتيرو ته اجازه ورکړ شوي وه چه د خلکو کورون لوټ کړي او قوماندانانو يي له د دغه عمل د اجرا څخه ځان ناګاره او بي خبره بوله په ۱۹۹۰ کال دا جوته شوه چه د جنبش د پو ځيانو اعمال په شمال کي هم همدي ته ورته وه .

## په شمال کي قوماندان سالاري

په مزار شريف کي د نسبي ارامي او ثبات لرل پدي مفهوم نه و چه ګواکي په ټول شمال کي ارامي ده . هغو قوماندانانو چه د جنبش تر سيوري لاندي عمل کاوه پخپلو سيمو کي خپل واکي حکومتونه درلود هر قوماندان چه قوي و نو لويي سيمي تر ولکي وي او لوي حکومت يي درلود . په ۱۹۹۲ بيا تر ۱۹۹۶، ۱۹۹۷ پوري په شمال کي په مختلفو سيمو کي مختلف حکومتونه موجود و خو په سياسي لحاظ يي جنبش سره تړاو درلود او دغو قوماندانانو په دغو سيمو کي خپلي ملك و الطوايفي قايم کړي وي چه دهغوي په ډله کي رسول پهلوان په فارياب او غفار پهلوان په سرپل کي د ډير بد شهرت درلودنکي دي البته د عامو وګړو تر منځ .
رسول پهلوان هميشه ا غوښتل چه په فارياب کي ددوستم مستقيم تاثير او يا واك محدود کړي او دوستم غوښتل چه خپل واك پدغه سيمه کي ډير کړي خو دواړو دا پتيله وه چه بايد په سيمه کي دوي اووسي چه د جميعت د ګوند فعاليت محدود وساتي . د رسول پهلوان ځواکونه د جنبش يوه برخه وه چه چه د نجيب د حکومت په کلونو کي يي د ۵۳ فرقي په تشکيل کي فعاليت درلود .

له هغه وخت رايسي دغو رقابتونو په سيمه کي دوام درلود او هر قوماندان غوښتل چه د خپل د فعاليت او نفوذ سيمه پراخه کړي او په خپلو پوځيانو يي اعتماد ندرلود ولي چه هغوي پوهيدل که چيري دا سيمي له لاسه ورکړي نو بيا به دوي هر څه له لاسه ورکړي په همدي اساس د پو ځيانو په مقابل کي يي د يو سخت قانون نه کار اخيسته خو دا هم چندان موثره طريقه نه وه ولي چه په هغه وخت کي هم ددوي تر منځ ډيري خپل منځي جګړي منځ ته راغلي .

په محلي سطح کي قوماندانانو داسي يوه فضا منځ ته راوړي وه چه بايد ددوي مرکز د سيمي يواځني د اداره مرکز وايي او لکه پخوايي له خلکو نه د ځمکي د محصولات د محصول او د سرتيرو د تولو غوښتنه کوله او چا به چه سرتيري نه ورکول نو بيا مجبور و چه په بدل کيي دوي ته نقدي پيسي ورکړي . دغو قوماندانانو په شمال کي خپل مخالفين او انتقاد کونکي له منځه يوورل او د هغوي دارايانې يي په خپل واك کي راوستي د هغوي ښځي يي وتښتولي او په زوره يي واده ته مجبوري کړي او دهغوي ټول واك کي ځانته واخسته . په شمال کي په هغه وخت کي جګړو اقتصادي انګيزي درلودي .

په ۱۹۹۲ کال کي بلخ چه د پښتنو يو لوي مرکز وه په شمال کي د مجاهدينو او محلي مليشو له خوا اداره کيده چه پدي تر څ کي د ډيرو جناياتو لکه د ښحو تښتونه او په هغوي باندي د جنسي تيريو شاهد وه . چه د دغو بدنامو جناياتو کي د شاهدي ورکولو لړي يو څه مشکل سره مخ شوي ده .

يوه ښځه د ر په نامه د عذالت پروژي ته د شاهدي ورکولو په ترڅ کي داسي وايي چه په کال ۱۹۹۳ کي د نوموړي د کاکا لور د جنبش د يو ځيانو لخوا په مزار شريف کي وتښتول شوه او نوموړي له خپل کورنه په مزار شريف کي وتښتول شوه او وروسته د جنسي تيري لاندي راغله او دوه کاله دغو يو ځيانو له ځانه سره وساتله اګر چه ر نه يو هيري چه وروسته له دوه کالو هغه پخپله وتښتيده او يا دا چه د نوموړو يو ځيانو له خوا خوشي شوه خو د نوموړي جلي کوني له ډيره شرمه دا موضوع پټه ساتلي ده او دا وايي چه هيڅ چا د نوموړي جلي په مورد کي د خبرو کولو حق ندرلود .

## د ناامنيو ډيريدنه په ۱۹۹۴ – ۱۹۹۷ کلونو کي

په ۱۹۹۴ کال کي جنبش له اسلامي حزب سره تړون وکړ او دواړو د شوراي نظار او جميعت پر ضد په کابل کي عمليات شروع کړل او پايله کي يي جنبش په کابل کي ماته وخوړه په همدي وخت کي په مزتر کي د جميعت پر ضد خونړي جګړي پيل شوي چه په پايله کي ي د جميعت يو ځيانو ماته و خوړه او له مزار شريف نه وتښتيدل ځيني د بشر پلوو ډلو ددغو جګړو په ترڅ کي د جنسي تيريو او د اسيرانود قتلولو نشي د دواړو خوا له لخوا يادداشت کړي دي لکه د کابل په جګړو کي چه دوترو خواوو په سلهاو تنه د تبادلي کولو او يا د پيسو د اخستلو لپاره بنديان کړل او وروسته يي په قتل ورسول .

د جميعت له ماتي وروسته په مزار کي د جنبش د فعاليت سيمي لويي شوي او د جميعت ماتي خوړلي يو ځيان يوه غره ته چه پخوايي هم هلته قرار ګاه درلوده وختل . اګرچه ۱۹۹۴ – ۱۹۹۷ جنبش په شمال کي نسبي امنيت قايم کړ . د ۱۹۹۴ کال نه جنبش د مزار په ښار کي خپل سيمه ايزواك ټينګ کړ او د ماليټو د تولو او د کيمياوي سري د فابريکي له عوايدو نه يي ډيره ګټه پورته کړه او همدارانز د طبيعي منابعو نه چه لا پخوا استخراج شوي و لکه ( د سرپل د نفتو يوه کوچني څانګه ، د ګازو ذخيري په شبرغان کي او د مالګي يو معدن په فارياب کي ) دوي ګټه پورته کوله . يو ډير لږ تعداد په دولتي څوکيو کي وټاکل شول او نوري ټولي سيمي د مختلفو احزابو د قوماندانانو لخوا اداره کيدلي ( اګرچه د ټولو ډلو قوماندانانو او سياسي چارواکو ډيري کټي خپل ځانته وګرځولي ) پدي ډول ويلي شو چه په فغانستان که د جګړو په کلونو کي شمال يواځيني ځاي و چه هلته په نسبي ډول د تعليم وتربيي او د عامي روُغتيا په برخه کي يو څه موجود وه .

پدي لړ کي قوماندانانو هغه سياست مخ ته پيوه چه که دوي هر څه کول له مجازاتو نه معاف و لکه چه يو عيني شاهد وايي چه د جنبش قوماندانان په خپلو سيمو کي د يوه غير قانوني دولت حيثيت درلود او هر څه يي چه غوښتل هغه يي تر سره کول او هيڅ چا ددي جرات نه درلود چه هغوي منع کړي . د عدالت پروژي له ځينو عيني شاهدانوسره مصاحبي کړيدي چه د جنبش د لوړ پوړو قوماندانانو د سرتيرو د جناياتو په هکله داسي وايي :

شير عرب د جنبش د ۵۱ لوا قوماندان د خپل قدرت په وخت په يوه ډيره اندازه ثروت د خپلو يو ځيانو په مرسته له عامو وګړو نه را ټول کړ او وروسته يي د خپل سياسي چوکات د پراخولو لپاره يي خپل سياسي رقيبان او ځيني د خپلي کورني غړي ترور کړل . د عدالت پروژي پدي اړوند د ځين عيني شاهدانو سره مصاحبي کړيدي چه په هغو کي د نوموړي قوماندان د وژنو او د خلکو د داراييو د لوټ تالان کولو په مورد کي ډير څه ويل شوي دي .

په ۱۹۹۶ کال کي رسول پهلوان د دوستم لپاره يو لوي تهديد شميرل کيده چه وروسته د دوستم په وينا د خپل يو باديګارد لخوا ووژل شو چه له هغه وروسته په راتلونکي کال کي د رسول پهلوان پوري د ځواکونو

رهبري د هغه ورور جنرال ملك په غاړه واخيته او وروسته له څلورو مياشتو يي دوستم ته شا کړه او له طالبانو سره يو ځاي شو او دوستم يي تيښتي ته مجبور کړ ( ددي پيښي د ډيرو معلوماتو په برخه کي د طالبانو د زندانيانو عام قتل په مزار کي ولولي ) . د جنرال ملك اداري چه له جميعت سره يي اتحد کړي و له څلورو مياشتو ډير دوام ونکړ او طالبانو د دوهم ځل لپاره په ۱۹۹۷ کال کي مزار محاصره او ۲۳ ورځي يي سختي بمباري پري وکړي . پدي موده کي د مزار په ښار کي يوه کامله ګډوډي روانه وه او د ملك پو ځيانو د ملل متحد او عامو وکړو شتمني لوټ تالان کړي او په ډيرو خلکو يي جنسي تيري وکړل . چه پدي لړ کي پر يوي ښځي چه د بين المللي ادارو پوري يي اړه لرله د وحدت د ګوند د پو ځيانو لخوا د جنسي تيري لاندي راغله . وروسته طالبانو ماته وخوړه او د شاته تګ په موقع يي د قزل آباد په کلي کي ۷۰ اته غير پوځيان او د قل محمد په کلي که يي ۵۰ تنه د جنبش زندانيان ووژل .

يوي ښځي د ش په نامه د جنبشي پو ځيانو لخوا د جنسي تيريو په هکله دافغانستان د عدالت پروژي ته داسي وويل : نوموړي ونکړاي شول چه ددي پيښو دقيقي نيټي ووايي خو دومره يي وويل چه دا پيښي د جنبش او طالبانو د جګړو په وخت کي رامنځ ته شوي دي . ددنوموړي ښځي له وينا داسي معلوميږي چه دا پيښي په هغه وخت کي رامنځ ته شوي چه جنرال ملك ، دوستم له مزار څخه شړلي و . نوموړي وايي کله چه په کال ۱۹۹۷ کي د طالبانو او جنبش تر منځ پيښ شو هغه نوي ناوي و . خاوند يي چه ۀ نوميده او په ترکمن قوم پوري يي اړه لرله سهر وختي خپل دوکان ته تللي و خو د شپي په رارسيدو سره کورته نه و راغلي . نوموړي هغه شپه د خواښي سره چه ددوي کور د حرم په ساحه چه د ښار په مرکز کي واقع و تيره کړه ټوله شپه يي د درندو او سپکو وسلو درزهار اوريده . نوموړي وايي چه د سهار په لسو بجو د جنبش ۶ تنه سرتيري ددوي کورته ورننوتل دا چه نوموړي د دري مياشتو ناوي و نو په غاړه يي د سرو زرو آميل ، بنګړي او ګوتوالي او ښايسته کالي په ځان و او دغو پوځيانو زما کالي وشکول او زما ګانه يي ولوتله او زه يي ډيره ووهلم . نوموړي زياتوي او وايي چه دغو پوځيانو د نوموړي خواښي هم ووهله چه ددغو وهلو په اثر هغه له حاله ولاړه او ضعف وکړ او د هغي له بكس نه يي دوه مليونه افغاني واخستلي او داسي اخدار راکړ که چيري غږ پورته کړ نو هغوي به ما ووژني چه بيا هغوي زه خپلي خوني ته يووړم او هلته يي پر ما جنسي تيري وکړ .
نوموړي وايي چه په هغوي كه يوه تن زما کالي له ځانه ويستل او پر ما يي جنسي تيري وکړ او هغوي ډير قوي سړي و او ما فكر كاوه چه زه به مړه شم کله چه هغه پر ما تيري کاوه دا نور يي هم هلته ولاړ و او زما ننداره يي کوله چه وروسته دا نورويي هم پر ما تيري وکړ چه تر دري او يا څلور تنو پوري يي په ياد لرم او وروسته زه بيهوشه شوم او دا چه څو تنو پر ما تيري کړي نه پو هيږم . په پيل کي ما هغوي ته عذر او زاري وکړ چه ماته لاس مه راوړي خو هغوي ويل چه دا څومره خوندوره خبر ده چه په يوي نوي ناوي سړي تيري وکړي .
ش وايي چه دا په هوش راغله شپه و ه او لمر وليدلي و او چه ويکتل خواښي يي لا هم د ضعف په حالت کي وه . متجاوزو جنبشي سرتيرو د كور ټول کالي ، کاښي او نقدي پيسي له حانه سره وړي وي . نوموړي وايي چه زه د کوټي په منځ کي لوڅه پرته وم او په ډير مشكل مي و کولاي شول چه يوه زيړ پوشي ځانته پيدا او ځان پټ كړم زما د بدن څخه وينې جاري وي او د وجود په ټولو برخو کي مي داغونه ليدل کيدل او زما پښو د حرکت توان نه درلود نوموړي وايي چه د دواونيو په اوږدو کي هغي د حركت او خوځيدو توان نه درلود . او له مجبوريت نه يي دا درد په حان قبول كړ خو داکتر ته نه ولاړه ولي چه دا لوي شرم و . دنوموړي خاوند تر اوسه هم معلوم ندي چه څه شو .

ش وايي چه ماته درد دومره مسله نده خو ما مي د خاوند وركيدنه زوروي . نوموړي وايي چه زه او زما خواښي اوږده موده له کور نه ونه وتلو او په کور کي ډير ډاريدو خو کله چه زه لږ څه جوړه شوم او له کور نه پهر ووتم نو خبره شوم چه جنبشي پو ځيانو زمونږ د ډيرو ګاونډيانو په ښحو او لورګانو باندي هم جنسي تيري کړي و . نوموړي وايي چو د څو ورځو وروسته جنبشيانو د طالبانو لخوا ماتي وخوړه او وتښتيدل خو ځيني خلكو ويل چه طالبانو هم د خلكو مالونه لوټ کړل او په خلكو يي جنسي تيري وکړل چه نه پو هيږم چه ا طالبان و که جنبشيان . خو دا خبره وروسته راته جوته شوه چه د جنبش پو ځيانو زما د خاوند دوكان ولوته او هغه يي وواژه .

نوموړي وايي چه وروسته يي د خاوند يو ورور له ايران څخه راغي و د هغه خواښي يي له ځانه سره پوتله او نوموړي يي ورور له خپل ځان سره کابل ته راوستله چه تر اوسه هم د هغوي سره ژوند کوي خو دا واي چه تر اوسه هم نه پو هيږي چه خاوند يي ژوندي دي او يا مړ .

جنرال دوستم وروسته د يوي لنډي جلا وطني او طالبانو او ملك تر منځ له جګړي نه وروسته مزار ته راغي خو هغه موقف يي چه پخوا درلود اوس يي ندرلود ولي چه په مزار كي علاوه پر دوه هزاره ګوندونو وحدت او حركت د جميعتاو د اسلامي حزب وسلوال موجود و . چه ددي ګوندونو تر روابط خورا ترخه و او دي امر په ښار كي د منيت وضع ډيره خرابه كړي وه غلاوي ، سړي تښتوني ، جنسي تيري د مختلفو ګوندونو د پو ځيانو او قوماندانانو لخواپه يو ه عا دي كار بدل شوي وه چه له همدي امله د ١٩٩٨ كال د مارچ په مياشت كي د مزار خلكو ددغو مظالمو پر ضد په يوه عمومي لاريون لاس پوري كړ او وروسته له دغه ښار نه ډير خلك مهاجرت ته اړ ويستل شول چه بدآيانو د خپل نه خوندي توب له امله ځانون له دي ښار نه ويستل .

دجنرال دوستم په راتګ سره جنرال ملك شا تګ ته اړ شو او وروسته په يوه پرواز كي ايرن ته وتښتيد دا چه د جنبش ډيرو پوځيانو جنرال دوستم ته د ملك په طرفداري شا كړي وه او كله چه د يوه لنډ ي جګړي په تر ځ كي جنرال دوستم فارياب ونيوه نو د نوموړي سرتيرو د هغو خلكو په مقابل كي چه د ملك طرفداري يي كړي وه په لوټ تالان او جنسي تيريو لاس پوري كړ خصوصا هغه پښتانه چه په هغو سيمو كي له پخوا ميشت و پدي تور ډير وزورول شول چه پدي اړه د عدالت پروژي له ډيرو متضررينو سره مركي كړي دي . د يوه عيني شاهد په وينا كله چه جنرال دوستم جنرال ملك ته ماتي وركړه او د فارياب ولايت يي تر خپلي ولكي لاندي راوست او ملك وتښتيد د جنرال دوستم پو ځيانو په سيمه كي د ټولو ميشتو پښتنو شتمني لوټ كړي او ځيني دوستمي قوماندانانو په سيمه كي په جنسي تيريو لاس پوري كړ .

د ١٩٩٨ كال د اپريل په مياشت د وحدت ګوند د پو ځيانوچه له باميانو څخه راغلي و او د جنبش د سرتيرو تر منځ د حيرتانو په ښار ګوتي كي ډير ه سخته جګړه شوه چه په پايله كي يي د وحدت د ګوند ١٥ پو ځيانو ووژل شول . په دوهم ځل جګړه كي د وحدت د ګوند مليشو د اي سي ار سي دفتر ونيو او له دغه ځايه يي پر خپلو رقيبانو د جنبش په سرتيرو ډزي كولي . دا جګړه ډيره توده وه او د اي سي ار سي د موسسي هغو كاركونكو چه پدي لړ كي ګير پاتي شوي وه نشواي كولاي چه ځان خلاص كړي تر څو چه د يوه لنډ محاله ډزبندي په ترڅ كي قوماندانانو خپل پو ځونه له هغه ځايه څخه ويستل .

د ١٩٩٨ كال د جولاي په مياشت كي طالبانو د هيواد ډيري سيمي تر خپلي ولكي لاندي راوستي وي او له هرات څخه يي د ميمني پوري سيمي په واكي كښي درلودي چه د همدغه كال د اګست په مياشت كي يي د مزار شريف ښار هم تر بشپړي ولكي لاندي راوست .

د٢٠٠١ كال د سپتمبر له ١١ بريدونو نه وروسته د امريكا متحده ايلات په سيمه كي د يو پو ځي ملاتړ د طالپانو د له منځه لپاره شو او جنرال دوستم د كار ته ډير مساعد سړي و او د امريكاينو سره يي په ګډو عملياتو فعاله ونډه واخسته .
ددي دوري يو رسوا كونكي پيښه هغه وخت منځ ته راغله چه د ٢٠٠١ كال د نوامبر په ٢٦ نيټه په كندز كي يو ډير شمير تسليم شوي د طالب پو ځيان د جنرال دوستم له خوا په كانتينرونو كي واچول شول او د لويديځ پخوا يي حركت وكړ دا كانتينرونه ټول داسي حالت درلود چه د هغو د دروازو په كلكولو سره هوا نه ورداخليده . د لاري په اوږدو كي يو نامعلوم تعداد طالب زندانيان ددي له امله چه په هر كانتينر كي ډير بار شوي و او د هوا كومه مجرا يي ندرلوده مړه شول . دنوموړو مړو له جملي څخه د دري و اجساد د طپيځ څيړنو لپاره له خاورو راويستل شول او دا په ډاګه شوه چه ټول هغوي د هوا د كمي له امله مړه شوي دي .( همداسي پيښه د طالبانو لخوا په ١٩٩٨ كال كي كله چه هغوي مزار ونيوه او يو شمير بنديان يي ميمني ته په كانتينرونو كي واستول چه په هغو پيښو كي هم په سلهاو كسان مړه شول ).
په كانتينرونو كي د انسانانو اچول په افغانستان كي لومړي پيښه نوه په همدي توګه ويلي شو چه هغه چا چه دا اسيران په كانتينر كي اچول په دي پوهيده چه په دغو كانتينرنو كي به د هوا كمي حتمي وي چه د مړيني باعث ګرځي ولي دي كار ته له قصده څه پام نه دي كړي . ددغو وژل شويو طالبان هديره د شبرغان ښار چيرته چه جنرال دوستم قرار ګاه ده نژدي پرته ده. كله چه په كال ٢٠٠٢ كي د عدالت د پروژي يو ريسرجر دغه سيمه وكتله ليدل كيدل چه په نوموړي سيمه كي درندو موترانو تګ راتګ كړي و او د انسانانو دوجود ځيني غړو پراته وه . د هغي سيمي اوسيدونكي وايي چه د روژي د مياشتي په آخر كي يوه شپه دغي سيمي ته لوي موتران راغلل او له هغي وروسته يو ډير بد بوي په سيمه كي پيدا شو خو دغه عيني شاهدان د جنبش د پو ځيانو د موجوديت له كبله په سيمه كي ددي خبري هيڅ چا ته نه و ويلي او هغوي هم چاته اجازه نه وركوله چه له هغه ځاي څخه ديدن وكړي . وروسته بيا جنرال دوستم په يوه مطبوعاتي بيان كي وويل چه رښتيا هم د طالب جنګياليو ٢٠٠ تنه چه ډير يي ناروغان و ټپيان و د انتقال په وخت كي په دغو كانتينرونو كي ساه وركړي وه ( كه رښتيا داسي وي نو پين المللي قوانين دا غوښتنه كوي چه د جګړي په دوران كي د ناروغانو

او ټپیانو پوره درملنه باید وشي نه دا چه هغوي په یو سر تړلي کانتینر کي واچول شي چه د د تنفس لپاره هیڅ مجرا ونلري او د مرګ کومي ته وسپارل شي ).

دنوموړي پیښي تحقیات نیمګړي پاتي شول ولي چه هغه عیني شاهدان د دوستم لخوا تهدید او ډیر یي بندیان شول د ۲۰۰۲ کال د سپتمبر نه را پدي خو ا یو ډیر شمیر هغه کسان چه ددي پیښي پلټونکو اومستنطقینو سره په همکاري تورن و د ډیرو اخطارونو سره مخ شوي دي چه له هغي جملي څخه په انفرادي توګه بندیان شوي ، وهل ټکول شوي او د شکنجي لاندي نیول شویدي چه نمونه یي دادي :

*د یوه ترجمان او عکاس وهل چه پدي تورن و چه ګواکي د نوموړي بیښئ په افشا کولو کي یي لاس درلود .

* د یوه د بولدوزر دریور نیول ، شکنجه کول چه نوموړي دغو وژل شویو کسان ته په خپل ب،لدزر سره قبر ایستلي و .

* د یوه بل عیني شاهد د اقاربو نیول او وهل ټکول .

* د بشري حقوقو د موسسود ځینو کارکونکو وهل ټکول.

لومړني د برسیو پایلي دا په ډاګه کوي چه په دغو وهلو ټکولو کي د جنرال دوستم لوړ پوړو استخباراتي چارواکو لاس درلود . کله چه دوستم پدي اطمیناني شو چه نورنو څوك ددي پیښي پو ښتنه نکوي نو بیا یي د روغتون چارواکي پدي موظف کړل چه نور جسدونه هم په هغه ځاي واچوي چه نوموړي سیمه د دوستم له قرار ګاه نه دوه کیلومتره واټن درلود .

ددي پیښي په مورد کي یو مکمل تحقیق او دا چه آیا په هغه وخت کي چه دغه طالب پوځیان په کانتینرونو کي اچول کیدل امریکایان حاضر وه او که نه؟ هیڅکله هم اجرا نشو .

### ۶،۷،۱د ۱۹۹۲ نه تر ۱۹۹۶ کاله پوري په کابل کي د نورو ګوندونو جنایات

په افغانستان کي د عدالت پروژي د ۱۹۹۳ کال د افشارو په سیمه کي د ډله ایزو وژنو جریان مستند کړي او پدي اړوند یي ډیر معتبر تر لاسه او وړاندي کړي دي . دا ډله ایزي وژني هغه ځانګړي وژني او بیرحمي وي چه د افغشارو په اوزسټیدونکو د نظار د شورا او د اسلامي اتحاد د پو ځیانو لخوا سرته رسیدلي وي ( په پورته برخو کي په دي اړوند معلومات لوستلي شي ) او همدا راز د دوو نور ګوندونو د وحدت ګوند او جنبش کړني یي هم مستندي کړي دي په داسي حال کي چه د کابل د کنترول لپاره د ټولو ګوندونو پو ځیانو په ډله ایزو وژنو ، ګروګان نیول ، شکنجه کولو او جنسي تجاوزونو باندي لاس پوري کړي دي . ځین غیر نظامیان د خپلو هستوګني په سیمو کي تر برید لاندي نیول شوي او ځیني ددي لپاره چه خپله سیمه پریږدي په راکټونو او بمونو وهل شوي دي . دا چه په هغه وخت کي د کابل ښار د مختلفو ډلو د پو ځیانو تر منځ ویشل شوي و نو په هغه وخت کي له یوي سیمي نه بلي سیمي ته تلل ډیر ګران کار و ولي چه د کالو نوعیت ، مورني ژبي، او ظاهري څیري ته هم کتل کیدل او که ]یري دغه نوموړي پورته څیزونه د نوموړي ډلي مخالفینو ته ورته معلوم شوي واي نو دا نوموړي سري ته ډیر خطرناك و . څو تنو متضرینو د ویلي دي چه په هغه وخت کي چه کله د لومړي لیکو د جګړي نه تیریدل ددغسو ناوړه څیزونو سره مخامخ کیدل . په لاندي که چه کوم دري مثالون راغلي دغه جنایات په عمده توګه د نظار شورا ، وحدت ګوند او اسلامي حزب لخوا سرته رسیدلي دي او تول یي د۱۳۷۲ کال (۱۹۹۳)د روژي د میاشتي په اخر کي سر ته رسیدلي دي .

### ۶،۷،۲ د نظار شورا

یو لوي جنایت د کابل د جګړو په ۱۳۷۱(۱۹۹۲) هغه وخت منځ ته راغي چه یوي ښځي د ن په نامه د بدنامي نه د ځان د ژغورلو لپاره د مکروریانو د یوه بلاك له لوړ پوړ څخه ځان وغورځاوه او د نوموړي د مړیني باعث شوه . دغي پیښي په کابل کي د خلکو ډیر سخت غبرګون را پورته کړ چه یوه لویه مظاهره پداسي حال کي چه په کابل کي جګړه روانه بیل کړه او دغه قضیه یي ټولو ته رسوا کړه .

په افغانستان کي د عذالت پروژي د نوریي د ځیني خپلوانو او د هغوي ګاوندیانو سره مرکي کړیدي چه هغوي دا خبره کوي چه نظار د شورا پوځیانو دغه برید په نوموړي کور تر سره کړي و او د نظار شورا پوري متعلق د قوماندان سرتور نوم یي واخست . همداراز هغوي ټولو د محمد قسیم فهیم نوم هم واخست چه په هغه وخت کي د دولت او نظار شوراداستخباراتو عمومي ریس و . چه وروسته بیا د ملي دفاع وزیر شو او بیا د جمهور ریس معاون و . د نوموړي په مورد کي هغوي وویل چه هغه هڅه کوله چه که چیري مونږ ددغي قضیي په اړه چوپ پاتي شو نو هغه به مونږ ته ډیري پیسي راکړي .

کله چه ن مړه شوه د دهغي عمر ۱۴تر ۱۵ کالو پوري اټکل کيده . د نوموړي يو خپلوان وايي چه د هغوي کورني کله چه د پاکستان هيواد نه له مهاجرت نه راستانه شول نو لومړي د نوکارتي په سيمه کي ژوند کاوه او دا چه په نوموړي سيمه کي جنبشي پو ځيانو د خلکو په کورونو تيري کول او په يوه کور کي يي په يوي اميدواري ښځي جنسي تيري وکړ نو هغوي مجبوره شول چه مکرروريانو کي په لومړي پوړ ځانته يو کور په کرايه ونيسي او وروسته يي بيا په ۱۶ بلاك کي په شپږم پوړ ځانته يو اپارتمان په کرايه ونيو . ددي لپاره چه د نوموړي کورني غړي په امان که وي نوز د کورني ريس خپلو لورگانو ته له کوره د بهر وتلو او ښوونځي ته د تگ اجازه نه ورکوله .

د نوريي خور ه وايي چه زما خور واقعا ښايسته وه او د ښو اخلاقو خاونده و ه . کله چه مونږ په لومړي سر کي له مهاجرت نه راغلي وه هغي مدام دا ويل چه گيلم جمان مو چور نکړي او پر تيري ونکړي دي سره مدام دا تشويش و او دير وخت داسي پيښيده چه د شپي له مخي به يي خوب نه کاوه او ويل به يي چه که چيري ويښ اوسو نو بيا يوه چاره کولي شو دا بريښيده چه گواکي هغه له خپله مرگه خبره و ه او مونږ به مدام ويل چه گليم جمان جنايت کاره دي خو د نظار شورا د هغوي په تناسب په جنايت کولو کي ډير مخته وه .

ه وايي چه ۱۳۷۱ کال د دلوي د مياشتي په ۱۸ (۱۹۹۲د فبروري په ۷ ) نيټه پداسي حال کي چه د اختر مبارکه شپه وه د نوموړو انا له هغوي وغوښتل چه د گاونديانو کورونو ته حلوا يوسي د شپي په لومړيو کي ه او دهغي مور په پخلنځي که و ز پلاري له ميلمونو سره په سالون کي ناست و او ن د خپلي ترور سره په بلي گوټي کي ناست و چه يو ناڅاپه د اپارتمان دروازه ووهل شوه . کله چه د نوموړو ورور دروازه خلاصه کړه نو يوه سړي د هغه غوږ ته تفنگچه ونيوله او ورته وي ويل چه له ځايه ونه خوزيږي هغه چيغه پورته کړه او وي ويل چه غله دي د ن نيکه وويل چه هغه او د هغه لمسي ډيره هڅه وکړه چه ددغو وسلوالو مخه ونيسي چه کورته را ننوځي ولي دوه تنه کور ته ننوتل . د هغوي نيکه وايي چه نوموړو وسله والو ميلمونو ته وسلي ونيولي چه ونه خوزيږي دغو وسلوالو غوښتل چه زما لمسي په گولي وولي خو ما د هغوي توپك ته لاس ورواچاوه او هغه ډز په هوا ولاړ . په پاي کي هغوي وکولاي شول چه دغه وسله وال له کورته څخه وباسي خو دهغوي يو دستمال په کور کي پاتي شو . پدي وخت کي ددوي يو گاوندي چه ت نوميده کور ته را داخل شو او وويل چه ستاسو يو ټوټه فرش چا د کړکي نه لاندي غورځولي دي . هغوي ورته وويل چه ددوي کوم فرش ندي ورك خو ددي کورني د نيکه او د هغه دلمسي سرونه د برچو په ذريعه ټپي شوي و . پدي وخت کي په کور کي بريښنا هم نه وه او هغوي څه ليدلي هم نشواي خو يو نا څاپه متوجه شول چه ن نشته .

کله چه مونږ په منډه لاندي ولاړو وموليدل چه هغه پر مخ پرته وه او وينو يي شاوخوا نيولي وه دا چه د ن پر ځان په هغه ورځ سري جامي وي نو زمونږ گاوندي داسي خيال کړي و چه گواکي کوم فرش يي لاندي اچولي دي . د نوموړي پوړني د يوه گاوندي په کيکينه کي نښتي پاتي و . يو تن چه ي نوميږي او په نوموړي پلاك يي ژوند کاوه وايي چه کله هغه د وسلوالو شور او ځوگ واوريده نو چه بيرون ووتو نو وي ليدل چه ن په وينو کي رنگ پرته ده او هغه لومړي کس و چه نوموړي يي د ځمکي نه پورته کړي وه. او ليدلي و چه هغه مړه ده . د نوموړي کورني د هغي جنازه پورته کړه او روغتون ته يي يوړه او داکترانو دا تصديق کړه چه هغه مړه شويده .

د راتلونکي ورځي په سهار هغوي جنازه کورته راوړه او د نوموړي جلي د نيکه په وينا چه نوموړي سيمي خلکو لويه مظاهره د محمد قسيم فهيم د استخباراتو د ريس پر ضد په لار اچولي وه او د هغه پر ضد يي شعارونه ورکول . يو بل گاوندي وايي چه ټولو دا شعار ورکاوه چه مړ دوي مسعود او فهيم چه زمونږ د لور د وژلو باعث شول . ه وايي چه پداسي حال کي دغي سيمي ته ډير راکتونه او مرمي راتلي خو خلکو دا پروا ندرلوده او ولي يي چه پريږدي چو ټول مړه شو او په يو ه گور کي ښخ شو نوموړو خلکو د ن جنازه پر اوږو کړه او د رياست جمهوري خواته روان شول او د حکومت پر ضد يي شعارونه ورکول چه جبهه ملي پدر وطن د دفتر مخ ته د شوراي نظار د يوي پوستي د پوځيانو لخوا پر هغوي ډزي وشوي او وروسته دغو خلکو جنازه شيوه کيو سيمي ته کوم ځاي کي چه د ن پلارني هديره وه يوړه او هلته يي خاورو ته وسپارله.

يو گاوندي چه م نوميږي وايي چه په راتولونکي ورځي کي فهيم د خپلو باديگاردانو سره په يو ډير شمير موترو کي راغلل يوه ژورناليسته چه فريده پاکتين نوميده سره له يوه بل گزارشگر سره د سيمي ښحي خبري کړي او فريدي غوښتل چه خپل پوړني د فهيم پر مخ واچوي او هغه ته دا ووايي چه که زمونږ امنيت نشي تامينولي نو ښه به وي چه دا پوړني پر سر کړي او ځان ته نارينه ونوايي . نوموړي خپلو هم ږغو ښځو ته دا وويل که چيري مونږ فهيم ته داسي ځواب ورنکړو نو سبا به پر مونږ هم ورته تيري وشي . کله چه فهيم له خپل موټر نه را کوز شو نو فريدي غوښتل چه خپل پوړني دهغه په غاړه کي واچوي خو کله چه فهيم پوه شو نو په منډه خپل موټر کي سپور شو او له سيمي نه وتښتيد .

م يو تن عيني شاهد وايي چه په همدي شپي په يوه بجه فهيم د ډيرو وسلوالو سره د هغوي د بلاك چه هلته ن ځان له کلکيني غورځولي و مخي ته راغي او د يوه کور دروازه يي وټکوله او پوښتنه يي وکړه چه د ن کور همدلته دي او وروسته يي د ن پلار ، نيکه او ورونو سره د نيم ساعت لپاره خبري وکړي ز

ه د فهيم راتګ په شلو موترو کي او دهغه وسلوال په ياد لري او وايي چه خلکو نه غوښتل چه فهيم ته دروازه ورخلاصه کړي خو مجبدره شول ځکه چه د فهيم پوځيانو شاوخوا ټول بلاك محاصره کړي و او وويل چه فهيم د ځينو نورو وسله والو سره زمونږ کورته راغلل فهيم زما پلار ته وويل چه پدي غم کي دي ورسره شريك دي او زما له پلاره يي وغوښتل چه هغه بايد خلکو ته ونه وايي چه ددغه جنايت مرتکبين پنجشيريان دي چه دا به زمونږ ټولو او ددولت آبرو د خلکو مخي ته تويي کړي او دولت به بي اعتباره شي . فهيم غوښتل چه زما د خور ن د ويني بيه ورکړي ځکه چه څو حلي يي زما پلار ته پيسي وروښودي خو زما پلار ورته وويل چه مونږ پښتانه يو او خپله وينه په پيسو نه خرڅوو دا پيسي هغو ته ورکړه چه شپه ددي باعث وګرځيدل چه زما لور ځان د هغوي له ډاره لاندي وغورځاوه.
نوموړي وايي چه فهيم معذرت غوښته او بيا يي هم د پيسو وړانديز وکړ او مونږ ته اخطار راکړ چه ددي پيښي په هکله خلکو ته څه ونه وايو او په يو بل دول بايد خلکو ته ووايو خو مونږ ورته وويل چه پدي خو ټول پوهيږو چه يوه ورځ ټول مرو نو پدي اساس به مونږ هيڅکله دروغ ونه وايو .

ه او دهغوي يوه ګاونډي د ي په نامه وويل چه په هغه شپه له فهيم سره د نږدي امنيتي پوستي وسله وال هم راغلي و او ددوي پوسته په فردوسي ښوونځي کي وه چه قوماندان يي سرتور نوميده او خلکو ورته جنګل ويل د نوموړي ډيره وحشتناکه څيره وه اوږده ويښتان او ډيره بده څيره يي درلوده او په سيمه کيس يي ډير نور جنايات هم کړي و . ه وايي چه د ن د مړيني نه دمخه دغو وسله والو يوه ښځه او ميړه په خپل کور کي په تشناب کي تړلي او بنديان کړي و او د هغوي کوريي لوټلي و . له هغي پيښي نه څو ورځي مخته هغوي يو ځوان هلك نيولي و او وروسته يي هغه د نوموړي پوستي په زير زميني که بندي کړي و چه په سبا يي د هغه جنازه له هغه ځايه راويسته . د نوموړي پوستي وسله والو ډير نور جنايات هم کړي و چه خلکو له ډاره خپل غږ نشو پورته کولاي .

له څرنګه چه په ګذارشاتو کي د نظار د شورا د لوړ پوړو چارواکو د مستقيم ګډون کوم خاص ثبوت ندي په ګوته شوي خو دا ويلي شو چه نوموړو لوړ پوړو چارواکو خپل وسله وال نشواي اداره کولي او کله به چه هغوي کوم جنايت وکړ نو دوي به د هغو د پټوني لپاره ډير څه کول تر څو چه رسوا نشي .

### ۷،۳،۶ د اسلامي حزب او وحدت ګوند تر منځ ګډي همکاري

د ن د وژني نه دوه ورځي وروسته يوه بله ميرمن د ح په نامه د جنسي تيري لاندي راغلي چه نوموړي وويل چه د يوه بريد په ترځ کي د اسلامي حزب او وحدت د ګوند د پوځيانو لخوا په ګډه سره د کابل په لويديځ کي تر سره کيدل پدي باندي تيري وشو . په ۱۳۷۲(۱۹۹۳( کال کي چه کله د روژي د مياشتي پاي ته دوه ورځي پاتي وي د وحدت د ګوند وسله والو غوښتل چه ددوي کور تلاشي کړي چه بيا وروسته ولاړل او د همدي شپي په يوه بجه يي د محلي پوستي د وسله والو په مرسته چه په اسلامي ګوند پوري يي اړه لرله او جمعا ۶ تنه و او د کور د کړکيو په ماته ولو سره ددوي کور ته ورننوتل . نوموړي وايي چه دغو وسله والو ددي خاوند د قنداقونو په ذريعه ډير وواهه او په داسي حال کي چه سر نه يي ويني رواني وي د وهلو له کبله پر ځمکه ولويده ددي پيښه سره سم د هغوي پنځه تنه بچيانو ژړل او چيغي يي وهلي او ح هم ورسره ه ژړل . ح وايي چه دغو وسله والو د هغوي په وهلو ټکولو هم پيل وکړ او دا پوښتنه يي کوله چه پيسي چيري دي او د کور تلاشي يي شروع کړه او ټولي هغه کلچي او شيريني باب چه مونږ د اختر د جشن پخاطر اخيستي وي ويخوړي او زمونږ نکلي ظروف ، ديګونه و يوه راديو له ځانه سره يوړه . ح وايي چه دغو وسلوالو د هغي ۱۲ کلن زوي له غړي نيولسي و اوورته ويل يي چه ژر شه او د پيسو ځاي را وښيه او پدي مقصد يي زمونږ د غوړو قوطي مات کړو چه ګوامي پيسي به په هغه کي وي . وروسته هغوي زه ډيره ووهلم کله چه هغوي پيسي پيدا نکړي نو بيا يي زه پداسي حال کي چه ما د ډير درد له لاسه خبري نشواي کولاي کوټي ته پوتلم او هلته هغو ټولو پر ما جنسي تيري وکړ او زه يي په برچو په مړوندونو کي ټپي کړم چه ډير موده يي درد کاوه او په هغه وخت کي زمونږ د کوټي ټولي دوشکي زما په وينو رنګ شوي.
ح وايي چه دغه بريد کونکي د هزارو د قوم او د اسلامي پوري اړوندي پوستي کسان و چه په چهارقلعه د چهردهي کي پوسته درلوده او د قوماندان شاهين لخوا اداره کيدل نوموړي وايي چه په راتلونکي ورځ کي د نوموړي خاوند د شاهين قرار ګاه او د وحدت د ګوند قرار ګاه ته ولاړ او د تيري شپي جريان يي ورته ويلي و خو هغوي په ځواب کي ورته ويلي و چه په جنسي تيريو کي زمونږ د اړوندانو لاس نشته او د هغي خاوند خپل کور خواته راځي د لاري په اوږدو کي يوه وسله وال د ته ويلي و چه بيګاه شپه وسله والو ستا پر ښځي څرنګه تيري وکړ خو دا چه زما ډير عصباني شوي و د هغه له لاسه هيڅ نه راتلل .

د نوموړي سيمي يو اوسيدونکي چه ع نوميږي او په هغه شپه د ح په کور باندي له بريد نه خبر و داسي وايي چه د وحدت ګوند او د اسلامي حزب قرار ګاوي دواړه د چهاردهي په چهار قلعه کي واقع وي او شاهين د وحدت له پو ځيانو سره يو ځاي کار کاوه خصوصا له يوه سړي سره چه د پروان ولايت و او په ترکمنو پوري يي اړه لرله او سره ويښتان يي و او خلکو د ريس ارکان په نامه ورته غږ کاوه ډيري نژدي اړيکي درلودي .
همايون شاهين او نوموړي ريس ارکان به د ورځي له مخي پلانونه جوړول چه په کوم کور کي ځوانه ښځه او يا نجلي شته او د شپي په ترڅ کي به يي په دغه کور بريد کاوه . ع وايي چي دا راز بريدونه د وحدت او اسلامي ګوند د ګډو پو ځيانو نوري هم شوي نوموړي وايي چه ددوي د يوه بل ګاونډي په کور چه سيد محمد نوميده دغو پو ځيانو بريد وکړ او کله چه کور ته ورننوتل ويليدل چه د هغه سړي ميرمني ځو ورځي مخکي ماشوم زيږولي و او هغي ته يي څه نه و ويل خو د نوموړي په خور او خوريي باندي يي جنسي تيري کړي و او دي تر هغه پوري دوام کړي و چه هغه ښځي پيهوشه شوي وي . نوموړو وسله والو د سيد محمد څخه د هغه موټر چه د خرڅ کړي و پيسي او د ښځو ګاني او يو تلويزيون هم له ځانه سره وړي و .
ع د عدالت پروژي ته وويل چه د نوموړي د تره زوي چه ز نوميده په هغه وخت کي د وحدت ګوند او اسلامي حزب له قوماندانانو سره اړيکي درلودي او يو ډير ماهر غل و او کله به چه د وحدت کوند وسله والو د دوکانونو سامانونه غلا کړل نو بيا به يي د ز په کور کي کيښودل او ز به هغه ټول خرڅول او پيسي به يي په خپل منځ کي سره تقسيمولي . نوموړي وايي چه ز په شاهين پوري اړوند ولي چه ز د خپلو جناياتو د سرته رسولو پخاطر ځان شاهين سره مل کړي و .

په دغسي ورته پيښه کي د عدالت پروژي ته يو عيني شاهد چه ي نوميږي داسي وويل چه ۱۹۹۳ کال د روژي په مياشت کي نوموړي د فيرونو ُم له خوبه را ويښ کړ پدي وخت کي نوموړي د شاه شهيد په سيمه کي ژوند درلود . دي لپاره چه پوه شي چه څه واقع شويدي هغي کوټي ته ولاړ او ويکتل چه د اسلامي حزب وسله والو ددوي پر کور بريد کړيدي . د ته داسي ويل شوي و چه لوموړي دغو وسله والو دده د ورور په کوټي ورننوتي اود هغه ميرمن يي تر بريد لاندي نيولي وه او کله چه د هغوي ماشامانو شور او چيغي جوړي کړي نو دي وسله والو وويل چه که د انګړ کلي ورکړ شي نو دوي به دغو ماشومانو ته څه ونه وايي کله چه هغوي د انګړ د دروازي کلي ورکړه هغوي ور خلاص کړو او په يوه اندازه وسله وال کور راننوتل . پدي وخت کي د کور اوسيدونکو يو ورور د ګاونديان خواته ليږلي و تر دهغو مرسته وغواړي و دري وروړنه په کور و او وسله والو دغو ورونو ته وويل چه هغوي دي په لومړي پوړ کي او ددوي خويندي د دوهم پوړ ته ولاړي شي .
پدغه وخت د ورونو له ډلي څخه يو پر دغو وسله والو باندي بريد کوي او غواړي چه توپك يي واخلي چه په پايله کي ي جګړه ونښته او وسله والو په ډزو له دغو ورونو څخه دوه ډير کلك ټپيان او يو يي مړ کړ او دوه خويندي هم ټپيان کړي له هغه وروسته دغو وسله والو تيښته وکړه او ي او نورو ګاونديانو د هغه د ټپي شويو ورڼو او خويندو په انتقال کي روغتون ته ورسره مرسته وکړه .

يو بل کس چه د اسلامي حزب د حناياتو نه يي پرده لري کړي ده ج نوميږي او د کابل د ششدرك په سيمه کي يي ژوند کاوه او د آهو بوټ جوړولو په فابريکه کي د سر کارګر په توګه کار کاوه وايي چه کله د ۱۳۷۱ کل د حمل په مياشت د اسلامي حزپ او جنبش تر منځ د سيمي د کنترولو پر سر جکړه ونښته د هغي لنډي پوستي وسله والو چه په اسلامي حزب پوري اړوند و دده په مقابل کي په جنايت لاس پوري کړ . ج وايي چه مونږ لږ څه پخوا خپلي او زمونږ د خپلوان ښځينه له دغه ځايه خخه ايستلي وي ولي چه وسله والو به ښځينه وليدي نو پر هغو به يي جنسي تيري کاوه دي وايي چه په ډيرو ستونزو يي خپلي ښځينه بلي سيمي ته انتقال کړي دي او نوموړي وايي چه دي د خپل کور د محافظت لپاره په کور کي يواځي و او د اسلامي حزب پو ځيان کورته ورننوتل او د هغه د کور ټول مالونه او يو موټر ، يو موټر سايکل له ځانه سره يوړل . او ج ته يي وويل چه ولي له دغه ځايه بل ځاي ته نه ځي نوموړيوايي چه ما په هماغه شپه کور پريښود او کله چه بله ورځ د کور خواته راغلم د آهو د بوزتونو فابريکه او زما کور په اور کي سوځيدلي و او دغو وسله والو په لومړي سر کي ټول کالي له ځانه سره وړي و او بيا يي اور کور ته اور اچولي و .

ج وايي چه ما خپل موټر سايکل د اسلامي حزب د هماغي پوستي سره وليد او د نوموړي پوستي قوماندان ته ورغلم او ورته و مي ويل چه ستا وسله والو زما کور او د آهو بوتونو فابريکي ته او واچاوه او زمونږ ټول مالونه يي ولوټل خو دغه قوماندان ماته په ځواب کي وويل چه دغه موټر سايکل ستا ندي او د آهود فابريکي و او تا غلا کړي و او اوس غواړي چه زه تا په همدي مناسبت جريمه کړم .

### ۶،۷،۴ د اسلامي اتحاد ګوند د پلويانو جنايات

په هغو نيونو کي چه د کاِبل د جګړو په پيل کي د اتخاد اسلامي او وحدت ګوند تر منځ شويدي دواړو خوا غير نظاميان تر بريدونو لاندي راوستي دي د پښتنو متضررينوچه د وحدت ګوند لخوا رټل شوي دي ويناوي د دي ګذارش په سر کي راغلي . خو هزاره ګان هم د اتحاد لخوا په ورته توګه رټل شوي دي د مثال په توګه ز غوبتل چه خپله کورني د کابل د دشت برچي له سيمي په کال ۱۳۷۱ د اسد د مياشتي په ۲۰ نيټه ( ۸ د اګست ۱۹۹۲) له هغي وروسته وباسي چه دا سيمه د اتحاد د پوځيانو لخوا تر راکتي ګذارونو راغله . نوموړي نشواي کولاي چه په مستقيمه توګه د هزاره جاتو د بهسودو سيمي ته ولاړ شي ولي چه په لار کي تورن امان الله هزاره ضد او شير علم پوځونه ځاي پر ځاي و نو دا قصد وکړ چه د نورو ۷ کورنيو سره د خيرخاني کوتل له لاري ولاړ شي . هغوي د خيرخاني د کوتل نه لږ لري د قوماندان انور ډنګر د پو ځيانو له خوا ودرول شول . هغوي سپين ږيري ، ښځي او واړه کوچنيان پريښودل . نوموړي وايي کله چه د هغه دري کلن زوي انور ډنګر ته ورغي او ورته وويل چه زما پلار هم خوښي کړه انور ډنګر دغه ماشوم په مخ وواهه او ورته وويل چه لري شه د هزاره بچيه.

ز واي چه راتلونکي يو کال په اسارت کي تير کړ او دراز راز شکنجو لکه وهل ټکول ، بيخوبي ورکول او د خوړو نه ورکولو سره مخ شو . نوموړي ته يي په داسي حال کي چه د نس ناستي تکليف ورپيدا و اجازه نه ورکوله چه تشناب ته ولاړ شي . په نيلوني رشمي باندي د هغه د پښو او لاسونو تړل چه اثار يي اوس هم ليدل کيږي او د هغو هزاره مړيو سره يوځاي اچول چه په جګړه کي او يا دا چه ددوي له خوا وژل شوي و . نوموړي وايي چه کله به داتحاد سيمي په دشت بر]ي کي د بريد لاندي راغلي دوي ز ه په شاقه کارونو و ګمارلم او پر ما باندي يي موضع ګاني او سرك جوړاوه . نوموړي وايي چه ما خپل کالي نشواي بدلولي او همدا علت و چه زما ټول بدن سپږو په سر اخيستي و دي وايي چه زمونږ وضعيت د ځارويو ژوند ته ورته و د غو پو ځيانو د چا د حيثيت ، شرف او بشري حقونو پروا ندرلوده او مونږ يي صرف دا چه هزاره ګان و شکنجه کولو او مونږ بل کوم جرم ندرلود صرف هزاره ګان و .

ز وايي چه دي په لومړي ورځ قوماندان حفيظ چه د شيرعلم لاس لاندي و تسليم کړاي شو او په هماغه شپه شکردري ته پيول شو چيرته چه حفيظ نومي قوماندان د ته ډيري بدي خبري او ښکنځلي وکړي .

ز . وايي چه وروسته له يوه کاله د ۱۳۷۲ د سنبلي د مياشتي په ۱۳ نيټه نوموړي د ديوان بيګي سيمي ته راوړل شو او له يوه بل د اتحاد قوماندان سره چه جبار نوميده د دريو مياشتو لپاره بيا هم بندي وساتل شو . نوموړي وايي چه دري تنه تنکي ځوانان چه ۱۲ – ۱۸ کالو پوري يي عمر درلود د اتحاد ديوه قوماندان چه هلته نژدي يي پوسته درلوده او زلمي توفان نوميده په قومانده ووژل شول . ز. وايي چه د په سترګو وليدل چه د افشارو د سيمي څو تنه زندانيان د زلمي توفان لخوا د تانك د زنجير په ذريعه ووژل شول او دي وايي چه نوموړي سره له پنځو تنو ملګرو هغه مهال خوشي شول چه دوي ته سخته ناروغي پيدا شوي وه .

يوه بندي کولو ته ورته قضيه چه د اجباري کار کولو او غير معمولي شکنجي سره يو ځاي و ۀ د م. لخوا داسي بيان شويده :

نوموړي يو مزدور سړي و او د کابل په لويديز کي يي په ۶ ناحيه کي ژوند کاوه . نوموړي وايي چه د قوماندان شيرعلم د اړوندو پو ځيانو لخوا د سيلو په سيمه کي ونيول شو او وروسته ليدي چه د هغه لاسونه ، پښي او سترګي يي سره وتړلي نوموړي يي د ارغندي بالا سيمي ته انتقال کړ او هلته د يوه سپين ږير او دوه هلکانو چه يو يي ۱۲ کلن او بل يي ۱۰ کلن په يوي تياري ګوتي کي واچول شول او دوه مياشتي يي هلته تيري کړي په نوموړي موده يي دوي د خوراك لپاره ډيره کمه اندازه خواړه او اوبه ورکول کيدي . نوموړي وايي چه په نوموړي زندان کي هغه د مړيو جسدونه اوهدوکي ليدلي دي . هغوي به پر مونږ باندي خپلو کورو ته زير زميني جوړولي او د تحقيق پر مهال به يي مونږ ډير وهلو او زورولو زه ځوزان وم و هغوي ددي لپاره زه ډير ووهلم چه وروسته داسي حالت ته ورسيدم چه له خپل ځاي ځيني پورته کيداي نشوم . نوموړي وايي چه زه ډير خوش چانسه وم ولي چه يوه شپه هغوي زما د پښو زنجيرونه خلاص پريښي وه او ما دي فرصت نه استفاده وکړه او له زندان څخه وتښتيدم.

د اتحاد د ګوند ځينو غړو د عدالت پروژي ته ويلي دي چه نوموړي ګوند د هزاره ګانو لپاره خاصي بندي خاني درلودي . همداراز د اتحاد يوه قوماندان وويل چه کله بخ زمونږ پوځيانو د وحدت د پو ځيانو لخوا اسير ونيول شول نو مونږ به هزاره ګان په پيسو اخستل البته له نورو قوماندانانو څخه او بيا به مو له هغوي سره تبادله کول . نوموړي وايي چه زمونږ ډيرو پوځيانو هزارګان له ښار او بازار څخه نيول او وروسته يي هغوي بيا خرڅول چه يو عادي هزاره په ۶-۵ لکه خرڅيده او که چيري قوماندان او يا کوم مشهور کس وايي نو بيا به په سلهاو لکو افغانيو خرڅيده.

### ۶،۷،۵ د مختلفو ډلو لخوا جنايات

ډيرو شاهدانو دا په ډاګه کړي ده چه د جګړو په وخت کي دوي او ددوي سيمي دقصدي بريدونو لاندي راغلي او داسي هم شوي دي چه کله د جګړي په وخت عامو خلکو غوښتل ځانونه د جګړي له سيمي وباسي د بريد لاندي راغلي دي .
د مثال په توګه ن چه د قلعه جعفر په سيمه کي اوسيده او کله چه مجاهدينو کابل ونيو هغه اود نوموړي د کاکا زوي له دير مجبور او بيچارګي له امله هره ورځ د پيسو پيدا کولو لپاره د بايسکل په ذريعه د چهارآسياب او ګلبهار نه چه هره ورځ دوي د جګړي له لومړيو ليکو تيريدل . نوموړي وايي چه په ۱۳۷۲(۱۹۹۳) کال نوموړي هره ورځ د لومړيو ليکو نه د تيريدو لپاره د جنبش د يو ځونو چه په جنرال مومن پوري يي اړه لرله او په دارالامان کي ميشت و پيسي ورکولي . له دي په غير نور غير قانوني کارونه هم پر دوي پاندي کيدل چه نوموړي وايي چه يوه ورځ د چهلستون د باغ ريس په سيمه کي د ځو تنو وردګو وسله والو لخوا چه په حزب اسلامي پوري يي اړه لرله ونيول شو او وروسته دي ته مجبور شو چه د خپل بايسکل په ذريعه د بريښنا کوټ نه د بريښنا مزي انتقال کړي چه دا يو دير ستونز من کار و . نوموړي وايي چه يوه ورځ چه د تره زوي يي هم ورسره و د ده مراد خان په سيمه کي د وحدت د يو ځيانو لخوا ودرول شو ل او ورته وويل شول چه کله چيري وندريږي نو ډزي به ورباندي وکړي او وروسته چه هغوي ودريدل نوموړو پوځيانو له هغو څخه نقدي پيسي ، بايسکيلونه او څوراکي توکي واخستل . ن وايي چه په هغي سيمي که چه دوي ژوند کاوه د حزب اسلامي د پوځيانو د بريد لاندي راغله او نوموړي خپلو کور د دوه ورځو لپاره پريښود خو کله چه وروسته له دوه ورځو دي خپل کورته راغي ويليدل چه په کور کي هيڅ څه نشته او دغو وسله والو د هغه د کور ټول سامان له ځانه سره وړي و نوموړي وايي چه نور نو څومره له دغو ظلمونو څخه ووايم همدا به کفايت کوي ولي چه نشم کولاي چه ټولي تيري ناخوالي تاسو ته بيان کړم .

يوه ميرمن چه ش نوميږي د عيني شاهدي په توګه داسي وايي چه د وحدت د ګوند وسله والو مدام د هغي خاوند ددي په نامه چه هغه پښتون او سني دي په راز راز ډولونو زوراوه . همدا ميرمن بيا وايي چه کله طالبانو په ۱۹۹۶ کي کابل ونيوه نو د هغي خاوند يي چه له هغه روغتون څخه چه نوموړي پکښي دنده درلوه يو څه پاخه خواړه له ځانه سره درلوده او د شمالي خواته را روان و د طالبانو لخوا ونيول او ورته ويل کيده چه دا خواړه چاته وړي او د چا لپاره چاسوسي کوي بيا يي هغه دومره وهلي و چه تر ډيري مودي پوري په کور کي پورت و او خوځيدي نشو او د هغو وهلو له کبله اوس هم په قلبي تکليف اخته دي . د نوموړې د خاوند لاس د وحدت د سوله والو لخوا د وهلو ټکولو پر مهال معلول شوي و خو قلبي تکليف هغه وخت ورپيدا شو چه طالبانو ونيو او ډير وهل يي ورکړل . نوموړې وايي چه زما خاوند د طالبانو لخوا ۹ ورځي بندي وساتل شو چه مونږ ور څخه خبر نه وه او ما په دغه موده کي خيلو بچسانو ته خواړه پيدا کول خو کله چه را خوشي شو نو له ډاره خپل کور ته رانغلو او ښار ته تللي و چه وروسته مونږ حبر شولو او د غرونو له لاري کابل ښار ته ولاړو ولي چه په هغه وخت کي طالبانو د کابل په لور ټولي لاري تړلي وي . هغه بدي ورځي زه هيڅکله له ياده نشم ويستلاي ولي چه کابل ته د راتګ پر مهال زما د کو]نيانو ښني تناکي شوي وي او دوه مياشتي هغوي خوزيدلي نشواي او خاوند د هغه وخت د معيوبيت له امله اوس کار نشي کولاي او کار هم کوي سم کار نشي کولاي او د مونږ ټولو لپاره ډير ي ستونزي په مخ دي .

## ۶،۸ په مزار شريف کي د طالب اسيرانو ډله ايزه وژنه

په مزار شريف باندي د طالبانو د بريد څخه دوه اووني دمخه د جنرال ملك پهلوان چه د دوستم معاون او لوي رقيب و او د طالبانو د نماينه ګانو تر منځ پټي لوځنامي وشوي . چه پدي لوځناموکي د شمال لخوا جنرال ملك ، قاري علم راسخ ، جنرال مجيد روزي ، غفار پهلوان او د طالبانو لخوا ملا عبدالرزاق او ملا محمد غوث ګډون درلود چه دهغه تړون او مذاکراتو جزييات معلوم ندي خو دي تړون د ملك لباره د دوستم پر ضد د کودتا کولو حيثيت درلود.
د ۱۹۹۷ کال د مي په ۲۲ (د جوزا پنځمه) د جنرال دوستم او طالبانود يو ځونو تر منځ دا ندخوي او خواجه دوکوه په سيمه کي خورا سخته جګړه ونښته متحدي جبهي د دوستم په پلوي ډير ځواکونه سيمه ته وليږل خو ددوستم و متحدي جبهي ځواکونو ډير تلفات وليدل او طالبان په راتلونکي ورځ کي شبرغان ونيوه دوستم لومړي مزار ته وتښتيد او له هغه ځايه ازبکستان او بيا وروسته ترکيي ته ولاړ .
د يوه عيني شاهد په وينا چه خپله حاضر و کله چه دوستم له هيواده تښتي جنرال ملك د طالبانو د ځواکونو د انتقال امر له کندهار څخه مزار شريف او شبرغان ته ورکوي چه پدي کار کي يي له خپلو طيارو استفاده کوله نوموړي شاهد وايي چه هغه پخپله د سلهاو طالبانو د راتګ اوا نتقال مزار شريف او شبرغان ته په طيارو کي ليدلي دي .

د مي په ۲۵ طالبان د مزار ښار ته راننوتل و د دولتي اداراتو و ښونځيو په ترلو يي پيل وکړ او خپله دوي په جوماتونو کي ځاي پر ځاي شول او له هغه ځايه يي د شريعيت قوانين خلکو ته اعلانول . په هر حال طالبان د مي په ۲۸ شپه د مزار شريف د شيعه ميشتو سيمو نه د مقاومت سره مخ شول او کوڅه په کوڅه د طالبانو و وحدت او هزاره وسله والو تر منځ نښتي شروع شوي د وحدت ګوند وسله وال په هغه وخت کي د ښار په ختيځ او شمال ختيځ کي ځاي پر ځاي و . د نوموړي ګوند اصلي قرار ګاوي د مزار ښار په شمال ختيځ د سيد آباد په سيمه کي وي او يو څه پو ځيان يي د ښار په لويديځه برخه کي ځآي پر ځاي شوي و . د وحدت ګوند د ملك د کودتا نه وروسته خپل لوړ پوړي چارواکي او اصلي قوت له ښار څخه ويستلي و او د نوموړي ګوند کوچنيو قومانداناو دا جګړه د طالبانو پر ضد پيل کړي وه .

د مي په ۳۰ نيټه د طالبآنو چګ پوړو قوماندانانو لکه ملا رزاق ، ملا فاضل د باندنيو چارو د وزارت معاون او جنرال جيلاني د نور مذاکراتو لپاره جنرال ملك ، غفار پهلوان او د ملك د نور وفدارنو په شمول د پاکستان دسفير په حضور داشت غونډه وکړه . د طالبانو قوماندانانو دا تقاضا درلوده چه جنرال ملك بايد دوي ته ۱۵۰۰۰ ميله وسله وروسپاري

چه د ملك لخوا دا غوښتنه رد شوه او د ملك په وينا چه هغه طالبانو ته وويل چه زما مقصد د مسعود د پوځونو وتنه له پروان کاپيسا څخه وه چه دا تر سره شوه نور نو دا تړون چه زمونږ تر منځ لاسيليك شوي و اعتبار نلري.

د مي د ۳۰ په شپه د مزار ښار په هزاره ميشتو سيمو کي جګړه ونښته او دوحدت ګوند منظمو پوځيانو د نورو هزاره وسله والو سره يو ځاي د طالبانو د نابلدو سرتيرو په مقابل کي کمينونه وکړل او طالبان يي په يوه ډير سخت حالت کي واچول د وحدت ګوند دغو پو ځيانو سره د جنرال ملك وسله وال هم ملګري شول او يو ډير شمير طالبان يي اسيران ونيول او په مزار شريف ، ميمني او شبرغان کي يي بنديان کړل هغه طالبان چه په مزار شريف کي بنديان و په سملاسي توګه ووژل شول خو دا معلومه نده چه د وحدت ګوند سره په کومه اندازف طالبان بنديان و . يوه طالب جنګيالي چه په هغو جګړو کي اسير شوي و عدالت پروژي ته د مرکي په وخت کي وويل چه نوموړي د خپلو ۲۷ ملګرو سره يو ځاي نيول شوي و او نوموړي د بند په موده کي د جنرال ملك ورور ګل محمد پهلوان ليدلي او پيژندلي و .

يو ډير شمير بهرني جنګيالايان چه په مزار شريف ، ميمني او شبرغان کي د مختلفو ډلو لاس ته ورغلي و د هغوي لخوا ووژل شول .په ۱۹۹۷کال کي د ټولو وژلو شويو کسانو شميره معلومه نده خو يوه بشري نمايندګي کار پوه چه د قضيي په مورد يي پوره معلومات درلودل وويل چه د ۳۰۰۰ شاوخوا په منځ کي د طالبانو وسله وال په دغه ډله ايزو وژنو کي وژل شويدي . همداز په دي وخت که جنرال ملك خپل ځيني سياسي او نظامي رقيبان هم ونيول چه په هغو کي د جنبش ځيني لوړ پوړي چارواکي شامل و د مثال په توګه غلام حيدر جوزجاني چه په مزار شريف کي ونيول شو او د هغه مړي په ميمنه کي پيدا شو

او همداراز ريس عمر باي چه شبرغان يو لوي مشر شمير کيده او سلام پهلوان چه د شبرغان د ازبکو په منځ کي يي خورا ډير نفوذ درلود هم د ملك له خوا ووژل شول .

يو دريور چه د متحدو ځواکونو له خوا د ملك سره نيول شوي دي لندي ګذارش يي ورکړي دي :

زه د کندهار ولايت څخه يم ( نوموړي د خپل د هستوګني ځاي او نوم ونښود) کله چه مونږ شبرغان ته ورسيدو هلته مو يوه قرارګاه جوړه کړه او له هغي وروسته مو د مزار شريف پخوا حرکت وکړ . کله چه د ملك او طالبانو تر منځ جګړه ونښته او سخته شوه نوموړي وايي چه له دو نورو ملايانو سره يي غوښتل چه د مزار ښار نه ووځي او د مزار د هوايي ډګر پخوا روان شول چه د بريد لاندي راغلل او دوه ملګري ووژل شول او نوموړي اسير شو او په دي لړ کي يو ډير شمير لوړ پوړي طالبان ووژل شول او يو څۀ يي هم تسليم شول .

د ملك يوه قوماندان چه ظاهر نوميده مونږ د مزار محبس ته يوړو دا چه زمونږ شميره ډيره وه نو په هغه ځاي کي چه مونږ ته تعين شوي و مونږ خوزيدلي هم نشو او بله دا چه مونږ ته يي ډير لږ خواړه راکول چه حتي مونږ الوتونکي نيول او هغه به مو خوړل . هغوي مونږ تول وهلو ټکولو او د هغوي د وهلوټکولو له کبله چه زه يي ووهلم اوس زه جنسي ناتواني لرم . د اي سي ار سي کارکونکو کله نا کله مونږ ته خواړه راوړل .

يوه شپه په پوځي يونيفورم باندي سمبال کسان راغلل او وويل چه څوك چه د کندهار ولايت دي پورته دي شي هغه اسيران چه د کندهار و هغوي ټول کړل او مونږ ته يي وويل چه د تبادلي کار روان دي او زمونږ عکسونه يي واخيستل او زمونږ لاسونه يي شاته وتړل او په يوه کانتينر کي يي واچولو . په هغه کانتينر که چه زه وم هغه ټولو له اسيرانو څخه ډك و او هغ هغي ورځي تر شپي پوري په هماغه تړلي کانتينر کي پاتني شولواو ځيني زمونږ ملګري په کانتير کي د هوا د نلرو په اثر مړه شول . دغه لاري چه مونږ پکښي و ټوله ورځ لاره ووهله او وروسته ودريدله او هغوي مونږ په ۳۰ نفري ګروپونو کي له نوموړي لاري څخه چه د هر ګروپ تر منځ وقفه موجوده وه را کوز کړو او کله يي چه له لاري را کوز کړو ومولېدل چه په يوه لويه صحرا او يا دشته کي يو هغوي وروسته ددغو اسيرانو لاسونه يو بل سره وتړل او پر مونږ باندي يي ډزي شروع کړي

مونږ لا په لاري که و او د نوموړي لاري د کانتينر له وړو سوريو څخه مو ليدلاي شول او کله به يي چه ډزي کولي نو بيا به يي موټر ته ريزونه ورکول زه به وروستي ګروپ کي وم کله چه هغوي غوښتل مونږ له لاري څخه کوز کړي مونږ مقاومت وکړ او دعاوي مو کولي خو هغوي مونږ په زوره تيله کړو او له لاري څخه يي را کوز کړو او په دري ليکو کي يي يو بل ته مخامخ ودرولو کله چه هغوي پر مونږ ډزي شروع کړي زه پر ځمکه ولويدم او نور زما پر سر را ولويدل . وروسته چه ډزي خلاصي شوي م اوريدل چه يوه ويل چه راځي د هر يوه پر سر هم يو ډز وکړو خو ز د ټولو هغو اسيرانو چه ووژل شول تر لاندي پروت وم او پر ما کومه مرمي ونلګيده . وروسته لدي هغوي د موټر څراغونه روښانه کړ او روان شول ما پدي وخت کي غږ وکړ چه څوك ژوندي دي ؟ مونږ دري تنه و او يو په مونږ کي ټپي و او مونږ نشواي کولاي چه له نوموړي سره مرسته وکړو . مونږ په هماغه شپه د تاشقرغانو خواته روان شولو او وروسته له څو ورځو تاشقرغان ته ورسيدو او وروسته له هغه ځايه کندز ته ولاړو ملا داد الله او ملا برادر ( د طالبانو دوه لوړ پوړي قوماندانان چه چه په کال ۱۹۹۸ – ۲۰۰۱ کي په ډيرو ډله ايزو وژنو تورن دي ددي لپاره لاندي صفحي وګوري ) په کندز کي وه او مونږ يي کندهار ته واستولو .
يو بل تن له د دغو زندانيانو له ډلي څخه داسي وايي چه زه د ۲۸ تنو نورو طالبانو سره د مزار په هوايي ډګر کي ونيولي شوم او بيا مونږ ټول شبرغان ته واستول شو او هلته د ملك پوځيانو مونږ هر يوه ډير وهل ټکول راکړه او په يوه اتاق کي يي له ۱۵۰ نه تر ۲۰۰ تنو اچولي و . مونږ ته يي دير لږ خواړه راکول او ځيني وخت به يي وريځي همراکولي . هغوي مونږ يو ه ځاي ته يووړو چه له هري خوا تړلي سيمه وه زه په دغه ځاي کي دو هفتي پاتي شوم او وروسته يي د ميمني زندان ته انتقال کړو . مونږ سره په دغه زندان کي د طالبانو څلور وزيران هر يو ملا منصور د هوانوردي وزير ، ملا عبدالرزاق د کورنيو چارو وزير ، ملا محمد صادق د ملا رباني سکرتر ، ملا حاجي فضل محمد د بانديني چارو د وزارت سرپرست . هغوي د فيض آباد سيمي ته هغه ځاي کي چه ملك خپله اداره جوړه کړي وه واستول شول . په زندان کي قوماندانانو مونږ ته وويل چه ۷۰۰ تنه طالبان د ميمني ښار په زندان کي دي . يوه ورځ د زندان مسولينو مونږ ته امر وکړ چه راټول شو او کندهاريان يي يوي خواته کړل . د هغو شمير ۳۰ تنو ته ورسي او ورسته يي هغوي په يوه لاري که بار کړل او عسکرو وروسته مونږ ته وويل چه هغوي تبادله شول او خپلو کورونو ته ولاړل . په اوني کي دوه دري ځلي دا عمل تکراريده د څو ورځو په تيريدو سره يوه سرتيري سره چه مونږ ښي اړيکي درلودي مونږ ته وويل چه ستاسي انډيوالان مو چه د تبادلي په بهانه يوړل ټول مو ووژل. ما هلته يو جنرال پيژانده او هغه ما او زما څو تنه ملګري له مرګه وژغورل مونږ يو بل د ښونځي له دوري پيژاندل .
کله چه دوستم دوهم ځل راغي زمونږ د ۷۰۰ ملګرو له ډلي صرف ۱۳۰ تنه ژوندي پاتي و چه بيا مونږ د تبادلي لپاره شبرغان ته راوستل شو او وروسته بيا کندهار ته را وليږدل شو .
د بشري حقونو عالي کمسيون د لومړنيو تحقيقاتو په لړ کي دا څرګنده شوي ده چه په هغو ځايونو کي چه طالبان په ډله ايزه توګه وژل شوي و دوه ځايونه معلوم کړيدي ، يوه هغه دشته چه هلته د طالب وژل شويو جنګياليو جسدونه چه لاسونه يي شاته تړل شوي و ليدلي دي او بل په يوه سيمه او ۹ څاه ګانو کي چه په سلهاو طالب جنګيالي په زوره ور اچول شوي و خو پدي اړه لا تر اوسه کامل تحقيقات ندي شوي .

## د افغانستان د اسلامي امارت په دور کي د بين الملي او بشري قوانينو څخه تيري

### ۷،۱ تاريخچه

طالبان په افغانستان کي وروسته له هغي ګدوډي څخه چه په ۱۹۹۲ کال کي رامنځ ته شوي منځ ته راغلل . په کال ۱۹۹۴ د کنداهار ولايت د رقيبو قوماندانانو تر منځ تقسيم شوي و او هغه شورا چهد نجيب الله د حکومت د سقوط نه وروسته مجاهدينو د ښار او چارو د کنترول لپاره تاکلي وه ناکامه پاتي او تجزيه شوه او د کندهار ښار د ګروګان نيوني او جنسي تيريو له کبله شهرت ته ورسيد . له نوموړي ښار څخه بشري سازمانونو وتلي و . او قوماندانانو د ښار په ټولو سيمو کي او کندهار سپين بولدك پر لويه لار پاټکونه او پوستي جوړي کړي وي او پر عامو خلکو او يو پر بل باندي يي تيري کول .
د مونوړي په لومړيو موفقانه عملياتو کي د يوه پوځي دلي د قوماندان خلع سلاح کول کوم چه په يوي نجلي يي جنسي تيري کړي و نومړي قوماندان يي خلع سلاح او بيايي اعدام کړ . ذالپآن چه خپل خوزښت شروع کړ نو ډير ژر يي د پاکستاني مقاماتو پام ځان ته وګرځاوه او د هغي د حمايت لاندي راغلل د پاکستان اقتصادي مرسته او پوځي پشتيباني له طالبانو څخه په يو ځانته بحث کي وروسته له مستندو اسنادو سره وړاندي کيږي .
د نوموړي ډلي يو ځي او اکمالاتي ]اري د پاکستان استخباراتي سيستم اي اس اي په غاړه واخستي کوم چه په خپل وخت کي يي د مجاهدينو مختلفو ډله سرهپه ۱۹۸۰ لسيزه کي هم همداراز مرستي کولي . او يو څه نوري مرستي د طالبان ډلي سره هغو تجارانو کولي چه د دوي تجارتي مالونه به د نوموړو سيمو نه تيريدل . د مثال په ډول په ۱۹۹۵ کال کي د هرات د نيولو په درشل کي پاکستان طالبانو سره خورا ډيري لوژستيکي او د وسلو

مرستي وکړي چه په پاي کي طالبان د هرات په نيولو بريالي شول . او همداراز طالبانو د هغو تجارانو حمايت تر لاسه کړ چه په کويټه کي اوسيدل او اسما عيل خان له هغوي څخه ډيري لوېي مالي اخيستي .
د څو محدودو ورځو په ترڅ کي طالبانو وکولاي شول چه د کندهار ښار د هغه ځاي د قوماندانو څخه ونيسي او هغوي تيښتي ته مجبور کړي . چه پدي لړ کي طالبانو ته د وسلو او مهماتو يو لوي زيرمه تون او څو جټ او هليکوپترونه او تاکونه ګوته ورغلل او پدي لړ کي يي د نجنو ښونځي وتړل . د کندهار وروسته طالبانو و کولاي شول چه د زابل از ارزګانو ولايات د يوي لنډي جګړي وروسته لاس ته راوړي او د هلمند ولايت کنترول يي د ۱۹۹۵ کال د جنوري په مياشت کي لاس ته راوست .غزني ولايت هم د جنوري په مياشت کي ددوي لس ته ورغي او له هغه ځايه د طالبانو پو ځونو د حکمتيار له پو ځونو سره په ميدان وردك ولايت کي جګړي پيل کړي . د نومورړي کال د فبروري په ۱۴ نيټه حکمتيار خپل مرکز په چهارآسياب کي طالپانو ته پريښود او ځېله د سروبي په خوا وتښتيد او د حکمتيار له ځواکونو څخه په چهارآسياب کي د راکټونو مختلف ډولونه لکه اورګان – پي ام ۲۱ ، پوځي مهمات او يو هليکوپتر طالبانو ته پاتي شول .
طالبانو په ۱۹۹۵ کال کي کابل په مکمله توګه تر خپل تهديد او ګواښ لاندي راوست او په همدي کال کي يي د هرات ښار هم ونيو . د طالبانو سياست د کندهاراو هرات کي ښه روښانه شو ولي چه دوي ټول ښځينه ښوونځي وتړل او ښځۍ يي د کار کولو څخه په دولتي اداراتو کي منع کړي د شريعيت د حکمونو د جاري کولو سره سم يي ښځو ته امر وکړ چه له خپلو کورونو څخه باندي وتلي نشي ( د روغتيايي ستونزو په موقع کي ښځو حق درلود چه له کور څخه ووځي ) . د شريعت د احکامو د تطبيق لپاره طالبانو يو ځانګړي وزارت جوړ کړ چه د امر باالمعروف او نهي عن المنکر وزارت نوميده او ددي وزارت غړيو دا دنده درلوده چه عامه وګړي او طالبان د شريعت لاري ته راوبولي . د طالبانو اداري جوړښت ډير تينك او منسجم و او د ځيني مهمو ولاياتو والاينو مستقيما د ملا عمر څخه هدايات تر لاسه کول .
د طالبانو د رهبري شورا ۲۲ غړي درلودل چه ملا عمر د هغوي په سر کي ځاي درلود طالبانو خپل تشکيلاتي جوړښت ته ښه وده ورکړي و او د معلومداري ټينګي اداري او قومانده واك يي درلود . په ټوله موده کي ملا عمر او د نوموړي د اعتبار خلکو په کندهار د مهمو چارو د پريکړو صلاحيت او واك درلود او مهمي سياسي نظامي چاري يي پلانګذاري کولي او د طالبانو تشکيلاتي جوړښت د هغوي قوماندانانو ته دا اجازه ورکوله چه نوموړي قوماندانان د چارو د پر مخ بيولو لپاره مستقيما له کندهار سره په ارتباط کي شي . ملا عمر د لوړ پوړو قوماندانانو په تعين او تقرر کي خپل واك تر اخره پوري وساته او ملا عمر د ټولو جګړو مستقيمه اداره له کندهار څخه د مخابري په ذريعه کوله.

طالبانو په ۱۹۹۵ کال په کابل ښار باندي ډير راکټي بريدونه وکړل او دغه بريذونه معلوموولا له هغو سيمو څخه کيدل چه د حکمتيار پوځونو هم په يوه وخت له هغو څخه ګټه اخيسته. د ۱۹۹۶ کال د سپتمبر په ۱۱ طالبانو وکولاي شول چه د جلا ل اباد ښار ونيسي چه له هغي څخه وروسته د همدي کال د سپتمبر په ۲۶ نيټه يي د کابل ښار ونيو . د کابل د ښار د نيولو سره سم د پواخني دوره سرسخته رقيبان او په ضمن کي د طالبانو دښمنان لکه دوستم ، خليلي او مسعود له کابل څخه وتښتيدل او وروسته يي د طالبانو پر ضد يو تړون جوړ کړ چه په کال ۱۹۹۷ کي دوه نور ګوندونه اسلامي اتحاد او د نجات ماي جبهه هم دغه تړون ورشامله شوه.

د هيوادو په ډيرو سيمو کي د طالبانو او د هغوي د رقيبانو تر منځ خورا سختي جکړي رواني او هر يوه غوښتل چه خپلو سيمو ته پراختيا ورکړي پدي لړ کي طالبانو په کابل کي يو داسي استخباراتي سيستيم جوړ کړ چه قاري احمد الله يي مشري په غاړه درلوده او د هغوي ميشت ځاي د پخواني ځاد تعمير ته نږدي د صدرات د ماني اړخ ته موقعيت درلود . د ۱۹۹۷ کال د اکتوبر په مياشت کي ملا عمر د افغانستان د اسلامي دولت نوم د افغانستان اسلامي امارت کښيښود .
د ۱۹۹۷ کال د مي په مياشت طالبانو په لومړي ځل په شمال د مزار شريف په ښار يوه لويه ماته وخوړه او په زرګونو خپل سرتيري يي له لاسه ورکړل . طالبانو د ۱۹۹۷ کال د سپتمبر په مياشت د مزار د نيولو لپاره بيا يوي نوي تلاش پيل کړ خو په پاي کي بيا هم مات او شاتګ ته مجبور کړاي شول .

د ۱۹۹۸ کال څخه وروسته په ملا عمر باندي د پهرنيسانو تاثيرات ډير شول او اسمه بن لادن چه په ۱۹۹۶ کال د جلا ل آباد د شورا په بلنه لهسودان څخه هغه ولايت ته راغلي و په ۱۹۹۷ کال کي چه کله طالبانو کابل ونيوه نو نوموړي هم د طالبانو په بلنه کندهار ته ولاړ. طالبانو د اسامه بن لادن سره د اړيکو درلودلو په تور په ۱۹۹۹ کال کي په يو لړ بين المللي بنديزونو سره مخ شول چه وروسته دغو بنديزونو په ۲۰۰۰ کال کي پراختيا ومونده او پر طالبانو باندي ي د پيرودنه بنده کړه خو هيڅکله هم دا بنديزونه هومره جدي نه وه .

د طالبانو د دوري لوي بشري ضد جنايات د ۲۰۰۱-۱۹۹۷ کال په لړ کي واقع شوي کله چه هغوي په ډيرو سيمو کي د مقاومت سره مخ شول . ددي مقاومتونو د ختمولو لپاره طالبانود ښاريانو په وژنو ، د غير پو ځي وګړو په وژني د کليو او کورونو ، باغونو او د خلکو د زراعتي ځمکو په اور اچولو يي پيل وکړ .
طالبانو هم لکه د تنظيمونو په څير د اسيرانو په شکنجه کولو کي بر لاسي و . خو په دغه ګذارش کي مونږ د نوموني په ډول د طالبانو په دوره کي د ځينو وژنو چه د جنګي جناياتو يوه پرخه ده رنا اچوه .

د طالبانو مته او په شا تګ په مزار شريف کي په ۱۹۹۷ کال ددي لامل وګرځيده چه هغوي د انتقام اخيستو لپاره يي د مزار شريف په دوو کليو کي ۸۳ تنه بي ګناه وګړي په ډله ايزه توګه ووژل . د يوه خاص ګزارشګر په وينا چه طالبانو د قل محمد په کلي کي ۵۳ تنه بي ګناه وګړي ووژل او د ۲۰ کورونو په شاوخوا کي يي وسوځول . د نوموړي کلي مشران وايي چه طالبان وروسته له غرمي کلي ته را داخل شول او د خلکو د کورونو دروازي يي وهلي او پوښتنه يي کوله چه د چا سره وسله شته . خو کله به چه کوم يو دروازه خلاصه کړه او دوي ته به يي وويل چه مونږ وسله نلرو نو په هغه ځاي کي به د طالب جنګيالو لخوا په ګوليو ويشتل کيده . او چير به کوم چا دوي ته خپله وسله ورکړه نو بيا به د هماغي وسلي په ذريعه وويشتل شو . د نوموړي کلي ځيني بزګران د کروندو په سر کي د طالبانو د سرتيرو لخوا ووژل شول چه له دغو وژل شويو سره د کار کولو څيزونه موجود و . د نوموړي کلي ۱۵-۱۴ تنه ځوانانو د نيولو ورسته هوايي ډګر ته چه نوموړي کلي ته نږدي و يوړل شول او هلته وروسته له ډيري شکنجي ووژل شول .

د شيخ آباد په کلي کي د طالبانو له بري وروسته صرف سپين ږيري وګړي پاتي و او نور ټول د طالبانو له ډاره تښتيدلي و . د يوه خاص ګذارشګر په وينا چه طالبان نوموړي کلي ته ننوځي او ۳۰ تنه ددي کلي سپين ږير د شکنجه کولو وروسته وژني او د هغوي د وجود ځين برخي پري کوي . په نوموړو وژنو کي امکان لري چه هغه پښتانه قوماندانان هم شريك اوسي چه طالبانو ته تسليم شوي و . نوموړو ډله ايزو وژنو ته ورته وژني په نورو کليو کي هم واقع شويدي .

يو کال وروسته يعني په ۱۹۹۸ کال کي طالبانو د پاکستان په مستقيمي مرستي وکولي شول چه د مزار ښار په مکمله توګه تر خپلي ولکي لاندي راولي او ددي سره سم يي ۲۰۰۰ کسان چه اکثريت يي غير پوځي هزاره وګړي و د خپلو وژل شويو په بدل کي په ډله ايزه توګه ووژل د نوموړو پيښو ثبوت لاندي راغلي دي .
د باميانو ولايت د سپتمبر په ۱۳ نيټه د طالپانو لخوا ونيول شو او طالبانو په ۱۹۹۸ کال کي د شمال په ډيرو سيمو خپل واك ټينګ کړ ز خو په شمال لويديځ کي د بلخاب د ولسوالي په نيولو کي کامياب نشول چه وروسته دي سيمي د طالبانو د ضد ځواکونو په يو لوي مرکزيت تبديل شو . چه وروسته جګړو د هزاره جات په لرو سيمو کي زور وموند او په نوموړو سيمو کي د مخالفينو مقاومت ددي لامل وګرځيده چه طالبان د ُچ اخستولو عملياتو ته اړ باسي او په پايله کي په دغو سيمو کي طالبانو د عامه وګړو په زورونو شروع وکړه .

ددغو پيښو جزيات په مستنده توګه په لاندي کي راغلي دي . طالبانو د ۱۹۹۹ د جولاي په مياشت کي د کابل په شمال کي د شمالي په سيمه کي يو لوي پوځي عمليات شروع کړل او په دي لړ کي يي د مخالفينو ډير پو حيان ووژل دخلکو باغونو او کورونو ته يي اور واچوه چه دغه ټول کارونه د خلکو څخه د انتقام اخيستنه چه ولي هغوي د دوي له مخالفينو څخه ملاتړ کوي او بل دا چه طالبانو غوښتل چه پدي توګه خلګ ددي سيمي څخه وباسي .

په شمالي سيمو کي د ۲۰۰۱-۲۰۰۰ کلونو په ترڅ کي د طالبانو له خوا د خلکو عامو وژنو دوام وموند او ۲۰۰۰ کال د مي په مياشت د رباطك په غاښي کي چه د بغلان او سمنګانو د ولايتونو په سرحد کي واقع دي ۳۱ تنه د اسماعيلي د مذهب وګړي د طالبانو لخوا په ډله ايزه توګه ووژل شول .
د ۲۰۰۱ کال د جنوري په مياشت کي په هغه جګړه کي چه د طالبانو او د وحدت و حرکت د ترکيبي ځواکونو تر منځ په يکاولنګ کي واقع شوي په پايله کي طالبانو ددغي ولسوالي ۱۷۶ تنه عام وکړي په ډله ايزه توګه ووژل او نوموړي جګړي د ۲۰۰۱ کال د جون تر مياشتي دوام پيدا کړ په پاي کي طالبانو د يکاولنګ ښار ته اغور واچاوه او د شاته تګ په موقع يي ډير غير پوځي وګړي ووژل .

### ۷،۲ په مزار شريف کي ډله ايزي وژني

د ۱۹۹۸ کال د اګست د مياشتي په ۸ نيټه طالبانو وکولاي شول چه د مزار شريف ښار ونيسي يوه اووني وروسته د طالبانو پوځيانو په نووړي ښار ۲۰۰۰ په ښاوخوا کي چه ډيري يي غير پو ځيانو و ووژل .

نوموړي ګذارش د بشر د حقوق د موسسي د يوه راپور څخه اخيستل شوي دي . چه نوموړي ګذارش په مزار شريف کي د ډله ايزو وژنو په نامه د نوموړي موسسي له خوا خپور شوي و .
طالبانو د بريد څخه دمخه د مزار په ښار باندي د بلخ د ولسوالي د پښتنو چه په اسلامي حزب پوري يي تړاو درلود د طالبانو ملاتړي شول او طالبانو ته يي د مزار ښار ته د ننوتو اجازه ورکړه . د تيري تجربي د درلودو له امله ( لکه تير کال غوندي چه جنرال ملك دوي مزار ته راوستي و تيرو فصلونو ته دي مراجعه وشي ) طالبان مزار ته داخل نشول او په بلخ کي دمه شول او د حزب اسلامي ځواکونو د وحدت هغه پوځونه چه د جګړي په لومړيو ليکو کي پراته و محاصره کړل دا پوځونه عموما له باميانو څخه مزار ته راغلي و او بلخ ته نژدي د زيني په کلا او تخته پل که ميشت و . د اسلامي حزب پوځيانو وکولاي شول چه په نوموړي سيمه کي د وحدت د ګوند له ۱۵۰۰ نه تر ۳۰۰۰ پوځيان په محاصره کي راولي او وروسته بيا طالبانو پر هغوي بريد و کړ چه له دغو پوځيانو څخه هيڅوك هم ژوندي پاتي نشول و تول د طالبانو له خوا د زيني په کلا کي ووژل شول . خو بيا هم له هغي جملي څخه ۷۰۰ تنو وکولاي شول چه له نوموړي سيمي نه په تيښته بريالي شي او نوموړي د محاصري د ليکو نه د حيرتانو پخوا تيښته کوله خو دا چه نوموړي سرتيري پياده و او په مقابل کي طالبانو د خپلو پيکپ موتر په واسطه هغوي تعقيب کړل او د هغوي له ډلي څخه هم ډير سرتيري ووژل . دا ډيره مشکله خبره ده چه د هغو وژل شويد دقيق شمير معلوم شي چه طالبانو د جګړي په وخت او يا دا چه هغوي يي اسيران نيولي او بيا وژل شوي .
د يوه عيني شاهد په وينا چه د مزار شريف ښار په لويديز کي د اګست د ۸ نيټي په ۹:۳۰ د ډزو غږ اوريدل کيده او د سيمو خلکو ځان سره داسي فکر کاوه چه ګواکي د متحدي جبهي د غړو تر منځ کومه جګړه نښتي ده خو کله چه وروسته معلومه شول دا د طالبانو پوځيانو و چه سيمي ته ننوتلي و او د وحدت د ګوند د پو ځيانو په تعقيب کي او خلکو طالبان د هغوي د تورو پټکيو او سپينو بيرغونو له مخي وپيژاندل .
دغه عيني شاهد وايي چه د اګست په ۶-۵ نيټه دولتي دفاتر د جميعت د پوځيانو لخوا ولوټل شول ولي چه دوي ويل چه بايد هغه د ارزښت وړ ځيزونه چه په دفاترو کي موجود و بايد د دښمن لاس ته ورنشي او پدي بهانه يي ټول دولتي وسايل له دفترونو څخه ولوټل . نوموړي وايي چه د طالبانو د راتګ نه څو ورځي دمخه ځيني هزاره کورنيو د مزار ښار پريښود او پدي لړ کي د وحدت ګوند لخوا ۷۶ تنه پښتانه ونيول شول چه د طالبانو په راتګ سره ازاد شول .
داچه د مزار په نيونه کي طالبانو سره د بلخ پښتانه يوځاي و او هغوي ته ټول مهم دولتي تاسيسات معلوم و نو طالبانو په ډير لږ وخت وکولاي شول چه په دغو تاسيساتو خپل واك ټينګ کړي . يوي پاکستاني راديکالي ډلي چه د سپاه صحابه په نامه ياديږي په مزار شريف کي د ايران د دولت قنسلګري ته ورننوتل او هلته يي ۸ ايراني ديپلوماتان او او يو ژورناليس ووژل . د وحدت د ګوند پوځيانو د مزار ښار له يوه اړخ نه وکولاي شول چه ځان وباسي خو د نوري په شاتګ وخت کي يي په هر شي او هر چا ډزي کولي او طالبانو هغوي تعقيبول . د وحدت د ګوند لوي قوماندان په مزار کي حاجي محمد محقق او د هغوي نور لوړ پوړي چارواکي د هليکوپټر په ذريعه له ښار څخه وتښتيدل .
د بشر د حقوق د ناظر په وينا کله چه طالبان مزار ښار ته ننوتل په لومړيو شيبو کي يي ډير غير پوځي او ځيني مشکوك کسان ووژل او دهغوي سرتيرو په نامشخصو بريدونو کي د ښار په کوڅو ، د هستوګني په سيمو ، د ښار په واټونو او بازارنو کي ډير غير پوځي خلك ووژل چه خلکو په دي وژنو ليوني وژني نوم کښيښود. لاندي ګذارشات د بشر د حقوقو د موسسي له ګذارش څخه اخيستل شوي دي . يوه ښځه د عيني شاهد په ډول داسي وايي چه نوموړي په هغي ورځي وليدل چه يو ماشوم چه په يوه کراچي کي يي ډوډي خرڅوله ، يوه ښځه چه يوه مجلس ته روانه وه ، او يوه نارينه چه غنم يي د اوړه کولو لپاره ژرندي ته وړي و په دغو نا مشخصو ډزو کي وژل شوي و . ډير تجاران هم پدي ورځي ووژل شول ولي چه د طالبانو سرتيرو د ښار په واټونو او کوڅو کي په هر لوري ډزي کولي . او پدي مقصد يي له هغو موټرو ځيني کار اخيسته چه سر باندي يي ماشيندار نصب شوي و . يوه شاهد چه ديوي هټي د بام څخه نوموړي صحني کتلي دي داسي وايي :
ما د نوموړي بام له سره کولاي شول چه ووينم چه دود د لويديځ لخوا راتلو . د خپلي هټي څخه ووتم او د خلکو منځ ته ورغلم هلته مي وليدل چه خلك د ښار د لوديځ خو ا په تيښته دي ځکه چه په نوموړي سيمي کي هرج ومرج شروع شوي و . خلکو هري خواته منډي وهلي او په ښار او کوڅو کي هټي چور شوي وي او ما يو سړي وليد چه وويل يي چه دا څه حال دي چه ګولي ژلي شانته اوري . ددي له امله چه ډيري ډزي و نو زه خپل کورته ولاړم او زما د کور له کړکي نه هر څه ښکاره کيدل او ما د خلکو فريادونه او د طالبانو پيکپونه او سپين بيرغونه ليدل .
يوي ښځي د خپل ديارلس کلن زوي د مړيني داسي ويل :
زما زوي په يوه د غاليو جوړولو فابريکه کي کار کاوه او د جکړي په لومړي ورځ د روضي مبارکي خواته په ډزو ووژل شو ( يو شمير خلکو ماته وويل چه زما زوي مخکي له مړيني ويل چه مونږ له کابل څخه مزار

ته راغلو چه ژوندي پاتي شو او زه مرم . نه پوهيږم چه زمونږ د كور سرپرستي بـه څوك كوي ؟) نوموړي ميرمن وايي چه ما خپل زوي ونليد .
په راتلونكو ورځو كي طالبانو په ښار كي يوه منظمه او سيستماتيك لوټون د هزاره گـانو ، تاجكـانو او ازبكـانو د پيدا كولو په مقصد شروع كړ چه د هزاره گانو نيول په لومړي قدم كي و ځيني يي د شيعه والـي او ځينـي يـي د هزاره والي پخاطر نيول ولي چه په ١٩٩٧ كال كي د طالبانو پر ضد د هزاره ميشتو سيمو څخه پـاڅون شـوي و . د نوموړي كورپه كور لټون په دوران كي په سلهاو تنه هزاره نارينه او هلكان ووژل شول داددي لپـاره تـر شول چه طالبانو ته دا اطمينان حاصل شي نوموړي خلك بيا ونـشي كولاي ددوي پـه مقابـل كـي را پورتـه شـي .
يوه عيني شاهد د بشر د حقوق موسسي ته وويل :
په ډيرو پيښو كي د هزاره كورنيو نارينه نيول كيدل او د وهلو ټكولـو وروسته پـه ډزو سره وژل كيدل پـه دي ترڅ كي د ځينو غاړي پري كيدي . په داسي حال كه چه په دغو پيښو كي اكثرا وژل شوي كسان هزاره گـان و خـو عينـي شـاهدان وايـي چـه پـه نوموړي وخت كـي يـي د تاجيكـانو او ازبكـانو مړي هم ليدلي دي . نومـوړي گذارش يو تاجك وګړي د اگست په ١٠ نيټه وركړي و .
زه د بخدي په كارته كي وسيدم كله چه طالبانو ښار ونيولو نودري ورځـي وروسته يـي زمونږ سيمه محاصـره كړه او د هزاره گانو د پيداپښت لپاره يي كور په كور لټون پيل كړ . هغوي بـه زمـونږ څخـه پوښتنه كولـه چـه د هزاره گانو كورونه چيرته دي . زمونږ په گاوندي توب كي يو كـور هزاره گـان وسيدل چـه دوي څلـور تنـه و چه يو تن يي د همدي كور ميلمه و او ددوي پوښتني ته راغلي و او يو بل تن چه تاجك و ددوي په كـور كـي يـي كار كاوه . طالبانو مونږ ټول نارينـه لـه دغـي سيمي څخـه ونيولـو او يـوي لاري موټر تـه يـي واچولـو او زمـونږ لاسونه يي تړلي و خو د هغو څلورو هزاره گـانو لاسـونه يـي ډير كلك تړلـي و . لـه نـورو سيمو څخـه هم ډيـر كسان نيول شوي و . نوموړي څلور تنه كوم بل ځاي ته يووړل شول او مونږ سره په موټر كـي دوه نـور هلكـان چه هزاره گان و موجود و . كله چه زمونږ موټر د بازار سيمي ته راورسيد نو موټر ودريد او طالبانو هغو دوه هزاره هلكانو ته وويل چه راكوز شي او هغوي ته يي وويل چه د بازار شاخواته څلور لاري ته دي ولاړ شـي .
يو طآلب وسله وال هغوي تيله كول چه بيا يي په سر باندي پـه گوليـو وويشتل . وروسـته مـا تـه وويـل شـول چـه هغه څلور نور هزاره گان د مهديي تكيه خاني ته ييول شوي و او وروسته هلته وژل شوي و . خو دا بايد ووايم چه دغه ټول وژل شوي هزاره گان كارگران و او پوهنتيان نه و او د هر يو عمر د ١٩ ٢٠- كلونو تر منځ و .
د طب يوه محصل دا شاهدي وركړه چه هزاره گانو په روغتونو كي د هزاره گانو په لټه كي و نوموړي وايي :
ما پخپله دو هزاره هلكان وليدل چه يو يي ١٣ كلن او بل يي ٢٠ كلـن و چـه د هغوي لـه جملـي څخـه د يوه لاس هم مات شوي و . طالبان روغتون ته راغلل او غوښتل يي چه دغه دواړه له ځانه سره يوسـي خـو د روغتـون د هغوي مخه ونيوله خو دطآلپانو سرتيري يو وروسته راغلل او هغوي له ځانه سره يووړل .
د ښار پهدنيولو سره طالبانو خپل نوي والي وټاكه چه ملا منان نيازي نوميده . نوموړي والي د لمانځه په خطبـو كي خلكو ته ډير كلك گواښونه وكړل او هزاره گان يي واجب القتل وبلل ځكـه چـه د طالبـانو د ډلـه ا يزو وژنـو پره په هغو اچوله (١٩٩٧) نوموړي والي هزاره گانو ته وويل او اخطار وركړ چه هزاره گان يـا د حنفـي سنـي مذهب قبول كړي او يا دي له دي وطنه كوم بل ځاي ته ولاړ شي . همداراز نوموړي ټولو خلكو ته دا وويـل كـه چيري څوك دهزاره گانو حمايت وكړي په سخته سزا په مواجه شي .
د نومـوړي والـي پـه بلـه وينـا كـي داسـي ويـل شـوي و چـه هـزاره گـان مـسلمانان نـدي ، هغـوي كـافران دي ، هزارگانو زمونږ طالپان پدي ښار كي قتل كړ او نن مونږ هم بايد هزاره گان ووژنو . لكـه څرنگـه چـه د بشر د حقوقو موسسي ويلي دي : دا راز بياني او يا خطابي د طالبـانو د اكثـرو لـوړ پـوړو چـارواكو لخـوا وركـړ شـوي وي او په هغو كي په واضحه توگه اشاره شوي وه چه د هزاره گانو وژل يو روا كار دي او هيڅ كـوم مـسوليت چا ته پدي اړوند نه راجع كيږي او د نوموړو مشران لخوا تايد او تصويب شوي خبر وه .
په زرهـاو كسان د طالبـانو لخـوا نيول شوي او لومړي د مزار شـريف پـه زنـدان كـي او وروسـته د شبرغان ، ميمني ، هرات او نورو زندانونو ته استول شوي دي . خوشي شوي زندانيان وايي چه هغوي په كـانتينرونو كـي نورو زندانونو ته ليږدول شوي چه په هر كـانتينر كـي لـه ١٠٠ نـه تـر ١٥٠ كسانو پوري اچول شـوي و چـه د انسان لپاره داسي حالت د تحمل وړ ندي . په دوه مشهورو مثالونو كي داسي وړاندي شوي دي :
كله چه په يوه كانتينر كي ١٣٠ تنه د شبرغان ښار ته انتقاليدل د ډيري تـودي هـوا او د اوبـو د نشتوالي لـه املـه كله چه نوموړي كانتينر شبرغان ته ورسيد پـه هغـي ټول هغـه زنـدانيان چـه موجـود و مـره شـوي و چـه دا راز پيښه د طالبانو په پرخه كي هم د جنبش لخواپه كال١٩٩٧شوي وه .او د ملا نيازي په وينـا چـه دوي د اسيران د انتقال په وخت كي له غفلت څخه كار ندي اخيستي بلكه د انتقام يا غچ اخيستلو لپـاره يـي دا كـار پـه عمـدي توگـه كړي دي . چه دا وينا د نوموړو تمايل د خلكو وژلو ته روښانه كوي .
٧،٣ د سر پل په ولايت كي ډله ايزي وژني د ١٩٩٩- ٢٠٠٠ كال په اوږدو كي
نوموړي اسناد چه وړاندي كيږي د طالبانو جنايات د گوسفندي ولسوالي د غير پو ځـي وگـړو پـه ضـد ( پـه ضـد شورش عملياتو كـي ) چـه پـه نوموړي ولسوالي كـي د ١٩٩٨ -٢٠٠١ پـه تـرڅ كـي د طالبـان د اشغال پـر ضـد

پورته شوي و مستند کړي دي . نوموړي عمليات د هغو عملياتو سره يو ځاي تر سره شوي چه د پوځي خلکو پر ضد په نوموړي سيمي که پر مخ پيول شوي دي .اگر چه په هغه وخت د طالب مخالفو وسلوالو د طالبانو په مقبل کي داسي مقاومت  ندي ښودلي چه د خلکو او سيمي په گټه واي ځلکه چه مدام يي تر يو وختـه پوري مقاومت کړي او وروسته يي هغه سيمه خوشي کړيده او غير پوځي خلك يي د طالبانو کوټو ته ورکړي دي . د ۲۰۰۰ کال د جنوري څخه تر مارچه پوري طالپانو پنځه ځلي په دغه سيمه کي دڵه ايزي وژنـي کړيدي چه په پايله کي يي ۹۶ تنه وژلي دي . په دغو پنځو مواردو کي د وژنو سره سم اور اچوني هم د طالبانو د پوځيانو لخوا تر سره شوي دي . په لومړي سر که په قربانيان اسير نيول کيدل او وروسته به د هغوي لاسونه شاته تړل کيدل او بيا به په گوليو ويشتل کيدل. د غه ډله ايزي وژني د ځيني نورو پيښو او وژنـي سره يو ځاي تر سره شوي د  چه طالبانو دا ټول جنايات د گوسفندي په ولسوالي کي د عملياتو په ترڅ کي کړي دي .

نوموړې ډله ايزي وژني د طالبانو د مشران لخوا د يوي ستراتيژي په حيث پر مخ بيول کيده او نوموړې وژنـي ددي لپاره سرته رسيدي چه د نورو سيمو خلك دس ته اړ باسي چه د طالپانو په مقابل ونـه دريږي . د طالبانو هغو قوماندانانو چه په پورتنيو پنځو وژنو کي لاس درلود دادي :  ملا عبدالمنان حنفي د لومړيو ليکو قوماندان ، دنوموړې مرستيال امين الله امين ، گوډ ملا عبدالستار ، يو بل تن لوي قوماندان ، ملا ولـي جـان ، يو والـي او يو ساحوي قوماندان . پـه دغو عملياتو کـي چـه ډلـه ايـزي وژنـي پکښي رامنځ تـه شـوي البتـه د طآلبـانو د وړو ساحوي قوماندانانو لخوا لوړ پوړي چاړواکي په دغو ډلـه ايزو وژنـو څېر شوي و خو نوموړو مشرانو چـه د دغو ټولو نيونو او وژنو څخه خبريدل خپلو پوځيانو او قوماندانانو تـه يـي مکافات ورکول او دوي پخپلـه هم پـه دغو جرمونو کي شريکان و .

د هغو وژنو پر بنسټ چـه د طالبـانو لخـوا د دوه مياشـتو پـه اوږدو کـي سرتـه ورسيدلي دا پـه ډاگـه شـوه چـه دی وژنو سيستيماتيك او منځ ډول درلود چه په دوامداره توگه تر سره شوي دي ځيني لشکر کشياني چه د طالبانو لخوا په نوموړي سيمي که وشوي موخه يي دا وه چه هغه غير پوځي کسانو چه د طالبـانو پـه نيـول شـويو سيمو کي د مقاومت کړي جوړي کړي وي او دهغو د مـاتولو پـه موخـه تـر سـره شـوي دي چـه د طالبـانو جرمونـه د عامو وگړو په مقابل کي په گوته کوي. طالبانو په دي لړ کي ټول هغه غير پوځي خلك چه په سيمه کي اوسيدل د مخالفينود فعاليت لپاره مسول گڼل .

د ډله ايزو سر بيره په نوموړې سيمه کي طالبانو نور جنايات هم سرته رسولي چه دادي : د غير پو ځـي وگړو په خپل سر نيوني ، د محکمه کولو څخه پرته ډله ايزي وژني ، په زوره خلك له سيمه څخه ويستلو ته اړ ويستل ، د خلکو کورونو ته اور اچول د ډيرو تيري کونکو ډلو څخه په جگړه کـي استفاده کـول او د غير پـوځي سيمو هوايي بمباردمان چه اکثرا د خلکو د ميشت پر ځايونو تر سره کيدل چه په ډيرو دغو پيښو کي عـام خلك وژل شوي دي .

## د جگړي شرحه

د سنگچارك ولسوالي د ۱۹۹۸ کـال د اگست تـر مياشـتي پـوري اداره کيدلـه چـه وروسـته د مزار د نيولـو سـره نوموړې سيمه هم د طالبانو تر ولکي راغلـه . پـه نومـوړې ولسوالي ازبکـان ، تاجکـان ، عربـان ، هزاره گـان ، شيعه سيدان او يو کوچني اقليت د پښتنو ميشت و . چه طالبانو ددي سيمي دنيولو څخه وروسته هلتـه داسـي يـوه اداره جوړه کړه چه د نوموړي اداري په راس کي د افغانستان د جنوب لويديځ څخه لوړ پوړي چاړواکي او پـه دو همه سطحه کي د محلي خلکو څخه د ولسوال تر کچه مقرر  کړل . پداسي حال کي چه د سنگچارك ولسوالي له جگړو دمخه يوه ساده ولسوالي وه خو وروسته له دغي ولسواي څخه د گوسفندي ولسوالي او تکزار ولسوالي اداره هم له دغه ځايه تر سره کيده.

کله چه طالبانو په لومړي ځل وکولاي شول چه د افغانستان په شمال لويديځ کي ځيني سيمي ونيسي نو د بلخـاب په لوري يي هم پر مختگ شروع کړ خو د مقاومت له کبله ناکام شول . د بلخاب ولسوالي پـه غځنيو سيمو کـي پرته ده چه د جگړو په دوران کي د شيعه سياسي ډلو د فعاليت ځاي و چه د ژمي لخوا ټولي تلونکي لاري هغـي ولسوالي ته د واورو د وريدو په وجه بندي دي . دا ولسوالي د طالبانو پر ضد د عمليـاتو يـو امـن مرکز و چـه د تټولو ډلو څخه هلته سره را ټول شوي و او د هغوي لوژستيکي اړتياوي د هليکوپټر په ذريعه اکماليدلي .

هغو د طالب ضد قوماندانانو چه د بلخاب په شـاوخوا کـي ځـاي پـر ځـاي و دادي : د جنـبش د پخـواني قومانـدان عبدل چريك دوه ورونـه ( حـاجي اميرالدين او کمـال خـان ) ، مولـوي ظريـف او عبـذالرحيم ديوانـه د جميعـت د تنظيم څخه ، د ۱۹۹۸\۱۹۹۹ کال د ژمي په دوران کي د بلخاب څخه د سنگچارك له ولسوالي څخـه د طآلبـانو د په شا کولو په موخه  په لاري واچول شول .

په لاندني گذارش کي د طالبانو د جناياتو ډيري نموني وړاندي شوي دي چه د نوموړو د جنايات د غير پو ځـي خلکو په مقابل کي ښيي چه د نوموړو خلکو  په سيمو کـي د طـالب مخـالفينو ژونـد کـاوه او دا هـم ويـل شـوي دي چه څنگه طالب جنگياليو غير پو ځي سيمي تر خپلو بريدونولاندي راوستي ، همدا ډول دهغو محلي قوماندانانو

چه له طالبانو سره يو ځاي شوي و او په دغه ډول يي غوښتل چه د خپلو رقيبانو څخه په سيمه كي غچ واخلي ،

د ۱۹۹۹ كال د مي په مياشت كي طالبانو يو ډير شمير جنګيالي د ملا برادر تر مشري لاندي چه تر څنګ ملا فاضل مظلو م د طالبانو لوي درستي. هم مرسته كوله د بلخاب د ولسوالي د نيولو په خاطر سيمي ته وليږل خو دغو پو ځنه د بلخاب د ولسوالي په نيولو كي بريالي نشول . ملا برادر د ۱۹۹۹ كال د جون په مياشت په بلخاب كي ماته وخوړه او يوه لاري يي د سنګچارك خواته د مخالفينو لپاره پريښوده . متحدي جبهي د شمال ختيځي خوا څخه فوري عمليات پيل كړل او دوه ځله يي د آب دري او امرخ سيمه ونيوله او په همدي ډول يوه بل بريد د بلوچ په سيمه چه د آپ دري ارخ ته پرته وه وكړه او هغه ځاي يي د طالبانو له ولكي خخه ويسيته . او وروسته يي دي همدي لاري په آب دولګان و حمله وكړه د هغه ځاي د نيولو وروسته يي د آب دري له لاري پر آب خور باندي بريد وكړ او ځلي تر ګوسفندي ولسوالي مخته ولاړل او ۱۰ ورځي يي دغه سيمي تر كنترول لاندي وي تر څو چه طالبانو پر هغوي بريد وكړ . د طالبان له اړخه له هغي وروسته ډير بشري ضد جنايات سر ته ورسيدل چه د هغوي پو ځونه په دوهم ځل په ۲۰۰۰-۱۹۹۹كال كي د ګوسفندي ولسوالي د متحدي جبهې له ځواكونو څخه ونيوله . د مقاومت ځواكونو د آبدري او امخ په سيمو كي چه د سنګچارك جنوب ختيځ ته واقع ده خپلي لومړي ليكي جوړي كړي او له هغه ځايه پيد طالبانو پر ضد مقاومت كاوه . خو طالبانو دوه ځلي د نوموړو سيمو د هستوګني او خلكو څخه ډك ځايونه ونيول او هلته يي د شورشيانو پر ضد عمليات وكړل چه ۲۰۰۰ كال تر جون مياشتي پوري يي دوام وكړ . د آب خور د نيولو وروسته د سيمي يو څه خلك د مولوي ظريف سره د آپدري او امرخ سيمو ته پناه يووړه او د طالبانو پر ضد يي كوم جدي پوځي تهديد جوړ نكړ . تر څو چه جنرال دوستم په ۲۰۰۱ كال كي هيواد ته راغي او خپل ځواكونه يي د سرپل ولايت واستول او د زارع په سيمه باندي يي يرغل وكړ.

## د طالبانو هغه لوړ پوړي قوماندنان چه د ډله ايزو وژنو مسووليت يي درلود

ملا عبدالمنان حنفي د ګوسفندي او آب خور په سيمه كي شپږ مياشتي د لومړيو جګړه ايزو ليكو قوماندان و ( پدي موده كي هغه تصفيوي عمليات تر سره شوي چه د ۲۰۰۰ كال د جنوري څخه يي تر مارچ پوري دوام وكړ) . نوموړى د هغو ټولو پوځونو مستقيم مسووليت په غاړه درلود چه پدغه سيمه كي ميشت و او همداسي د نوموړى مسووليت پدغه سيمو كي په ډله ايزو وژنو كي مستند شوي دي . د يوه عيني شاهد په وينا چه عبدالمنان حنفي د خاسار د كلي د خلكو په ډله ايزه وژنه كي امر وركړي و . نوموړى عيني شاهد وايي كله چه د خاسار د كلي مشرانو غوښتل چه دته ورشي او خبري ورسره وكړي ، حنفي خپل موټر كي ناست و او ميوه يي خوړه او پدي حال كي يي خپل مرستيال ته مخ واړاوه او ورته يي وويل چا دا ټول له دي ځايه يوسه او په ګوليو يي ووله .

ملا ولي جان چه د جوزجان ولايت والي و هم په دغو عملياتو كي سهم درلود او نوموړى هم په دغو وژنو كي لاس درلود او د هغو د اجرا په خاطر يي رهنمايي كوله .

ګوډ ملا عبدالستار چه د افغانستان د لويديځ څخه و اود طالبان يو لوي قوماندان په نوموړئ سيمه كي شمير ل كيده د آچابر په كلي كي د نهه تنو د وژني په وخت كي حاضر و.

امين الله امين چه د پاكستان د چمن له سيمي څخه و د سرپل د استخباراتو د ريس د مرستيال په توګه يي دنده تر سره كوله او په نوموړو جګړو كي يي د حنفي د مرستيال په توګه دنده درلودهنوموړى د خاسار د كلي د مشران په وژنه كي لاس درلود ځكه چه هغه له حنفي قومانده اخيستي و چه غير پوځي كسان ونيسي او هغوي په جلا ډلو وويشي او د وژلو لپاره يي يوسي .

د نوموړي سيمي طالب پلوه قوماندانانو د خلكو په نيونه او د هغوي په وژنه كي د حنفي او نورو طالب لوړ پوړو چاراواكو په قومانده كار كاوه په نوموړو ډله ايزو وژنو كي يي فعاله ونډه درلوده چه نوموړو قوماندانانو نومونه دادي: چه د اغون د كلي اوسيدونكي و :

ملا جنت مير او خالق ،دا هغه پښتانه محلي قوماندانان و چه له طالبانو سره يو ځاي شوي و او د دلو او حوت د مياشتو په عملياتو كي چه د آب خور په سيمه كي تر سره شول فعاله ونډه درلوده او د عيني شاهدانو په وينا چه هغوي د ملا ولي جان او ګوډ ملا ستار تر قوماندي عمل كاوه . قوماندان محمد مير د باز اغا ځوي ، قوماندان جنت مير د الغون د كلي څخه او قوماندان عبدالله د ملكانو د كلي د نوموړو سيمو د خلكو په غوښتنه په دغو سيمو كي ځاي پر ځاي شول خو وروسته دغو قوماندانانو د طالبانو لپاره ډيري اسانتياوي او د آبخور او خاسار د كليو د خلكو په نيولو او وژنو كي برابري كړي

د طالبانو په وسیله د ګوسفندي ولسوالي په تصفیوي عملیاتو کي چه د ۲۰۰۰ کال د جنوري _ مارچ د میاشتو په ا وږدو کي تر سره شول د ډله ایزو وژنو مفصله څیړنه.

## د خاسار د کلي د مشرانو ډله ایزه وژنه د ۲۰۰۰کال د فبروري د میاشتي ۱۲ نیټه

وروسته چه د مقاومت ځواکونو د مولوي ظریف تر مشري لاندي په دوهم ځل په ګوسفندي ولسوالي کي ماته وخوړه او شاتګ ته مجبور شول نو د طالبانو لخوا په دغو سیمو کي یو شمیر تصفیوي عملیات تر سره شول . پدي ترڅ کي د خاسار د کلي یو شمیر مشرانو غوښتل چه د طالبانو له لوړ پوړو چارواکو سره وګوري او له هغوي څخه د خپلو خلکو د امنیت ضمانت واخلي . ددغو استازیتوب آغاخان کولو . عبدالمان حنفي په سیمه کي د طالبانو لوړ پوړي قوماندان او د سر پل والي ګڼل کیده . له نوموړي سره دهغه مرستیال امین الله امین هم موجود و او د خاسار د کلي د استازو سره یي له کتلو څخه ډډه وکړه او حنفي امین الله ته دنده ورکړه چه نوموړي استازي ونیسي او وروسته یي ووژني . امین الله نوموړي استازي سره جدا کړل او د بولدون سیمي ته یي یووړل او هلته د طالب جنګیالو لخوا په ګولیو وویشتل شول . د نوموړي پیښي څرګندوني د استازو له ډلي یو تن وکړي چه مخته تر نیولو له هغه ځایه په تیښته بریالي شوي و .

## په آبخور او اچابر کي ډله ایزي وژني د ۲۰۰۰ کال د فبروري دمیاشتي دوهمه نیټه ( د نهو تنو وژنه د ټوپکو په ذریعه)

د ۲۰۰۰ کال د فبروري په دوهمه نیټه طالبانو د آبخور د کلي اوسیدونکي د آغا شاهنشاه په جومات کي راغونډ کړل . او خلکو ته یي اعلان وکړ چه خپلي وسلي راوړي او تسلیم یي کړي چه څو تنو خپلي وسلي طالبانو ته ور وسپارلي ( پدي ډول هغوي یوه سیمه خلع سلاح کړه او خلکو ته یي یوه سهمیه تعین کړه چه هغوي مکلف ګرځولي و چه په هماغه اندازه وسله پیدا کړي ) . د یوه عیني شاهد په وینا چه د متحدي جبهي وسله والو لږ مخته هغه سیمه پرینبي وه او خپلي وسلي هم له ځانه سره وړلي وي . طالبانو په لس هاو کسان چه غیر پو ځیانو ونیول او هغوي یي د مولوي ظریف په جومات کي سره غونډ کړل او شپه هلته وربانـدي تیره کړه . د سهار د لمانځه څخه وروسته طالبانو د نوموړو خلکو لاسونه د هغوي په خپلو پټکیو په ذریعه شاته وتړل او په پیکپ موټرونو کي یي بار کړل . هغه لوړپوړو طالبانو چه د نوموړی ډله ایزي وژني ننداره کوله ملا ستار او ملا منګ وه . طالبانو نوموړي اسیران د آچابر کلي ته نژدي چپه ګردان ته ورکښته کړل او د خپلو اتومات وسلو په دریعه ددغو اسیران یو ګروپ ووژل. د نوموړي پیښي څخه یوتن چه ژوندي پاتي شوي او ح نومیړي او اوس هم موجود دي .نوموړي له هغي چه د طالبانو په ډزو کي په دري ځایه ټپي کیږي وروسته د د هغه ځاي د خلکو له خوا ژغورل کیږي او پناه ورته ورکول کیږي . هغه د نوموړی پیښي ګذارش داسي اماده کړي :

## د ۲۰۰۰ کال د فبروري له۵ تر ۱۰ پوري په ایلمرب کي ډله ایزه وژنه ( د سپکو وسلو د ډزو په واسطه د ایلمرب په کلي د ۲۲ تنو وژنه )

کله چه طالبان نوموړي کلي ته ننوتل د د ډوډي د خوړلو لپاره د کلي جومات ته ننوتل او وروسته یي د ټول کلي تلاشي او یا لټون پیل کړ او له ټول کلي څخه یي ۹۰ تنه اسیران ونیول او د حاتم باي په کور کي یي بندیان کړل . وروسته له هغه یي نوموړي بندیان په دوه ډلو وویشل او سپین ږیري یي خوشي کړل او ۲۶ ځوانان یي ځآن سره وساتل او نوموړي ځوانان یي د یوي شپي لپاره په کلي که په یوه کور کي بندیان وساتل . وروسته بیا د طالبانو یوه پنځه نفري ګروپ نوموړي ځوانان د تاتار کلي ته پوتلل او هلته یي د یوه پاڼ څنګ ته په لین ودرول او وروسته یي ډزي پري وکړي . د هغو ۲۶ تنو له ډلي څخه ، څلور تنه ټپیان و چه له نوموړی پیښي څخه ژوندي پاتي شول.

## د ۲۰۰۰کال د مارچ په ۲۶ نیټه په صیاد کي ډله ایزي وژني

د نوموړي سیمي اوسیدونکي وایي چه ۲۰۰۰ کال د مارچ په ۲۶ نیټه طالپانو د ګوسفندي په ولسوالي که د تصفیوي عملیاتو په ترڅ کي ۲۲ تنه د صیاد اوسیدونکي په څلورو سیمو کي ونیول چه دا سیمي دادي : جر

شوراب ، جر باتور ، د صیاد کلي او باشم ایکاشم . طالبانو نوموړي ۲۲ تنه وروسته له نیولو ووژل چه د وژل شویو عمرونه له ۱۴ تر ۶۵ کلو نو پوري اټکل کیده.

د ۲۰۰۰ کال د مارچ په ۲۸ او ۲۹ نیټي په جر رجب کي ډله ایزي وژنې ( د آب خور دکلي اسیران چه ۲۵ تنه و د خاسار کلي ته نږدې د جر رجب په سیمه کي ووژل شول )
وروسته لدي چه طالبانو په بریالي توب سره د آبخور دره ونیوله. هغوي عامو وګړو ته اعلان وکړ چه خپلو کلیو ته راشي کله چه خلك خپلو کورونو ته راغلل طالبانو د هغوي له ډلي څخه ۲۵ تنه ونیول . وروسته یي دنوموړو اسیرانو لاسونه شاته وتړل او هغوي خسار کلي ته نږدي د جر رجب په سیمه کي په مردګیو وویشتل او وي وژلچه بیا وروسته د خاسار د کلي اوسیدونکو د نوموړو مړي پیدا او خاورو ته یي وسپارل.

## د ۲۰۰۰ کال د فبروري او مارچ په میاشتو کي د اسماعیل ،شاه مرد او بولد یون په کلیو کي ډله ایزي وژنې

کله چه د اسماعیل له کلي څخه د متحدي جبهي وسله وال په شا شول نو د اسماعیل د کلي ۶ تنه سپین ږیري د طالبان سره کتني ته ولاړل . هغوي د طالبانو یوي ګزمي سره په کلي کي مخامخ شول په نوموړو ۶ تنو کي چه یو یي ملا و ځان نوموړو پوځیانو ته ورمعرفي کړل چه په هغه ځاي د طالبانو د سرتیرو لخوا په ګولیو وویشتل شو او نور وپنځه کسانو څخه یي تحقیق پیل کړ پدي ډله کي چه ځان هزاره معرفي کړي و هماغلته ځاي پر ځاي ووژل شول چه باز محمد د مراد ځوي از ګل باي د قربان ځوي و او پاتي دري تنه چه ځانونه یي تاجکان او یا سید ان معرفي کړي و له ځانه سره یوتلل.

## ۷،۴ د ۱۹۹۶ – ۲۰۰۱ کلونو جګړي په شمالي کي او ډله ایزي وژنې

په شمالي که د جګړي په دوران کي د طالبانو سرتیرو په منظمه او سیستیماتیکه توګه په جنایاتو کي د غیر پوځي وګړو پر ضد کار اخیستي او همذرنګه د جګړه ایزو قوانینو چه د سرتیرو د خوندي توب hors de combat په برخه دي سر غړوني کړي دي . دغو تیرو یو د جګړي په ټوله موده کي دوام درلود او د طالبانو د بریدونو سره یي په دغو سیمو باندي شدت مونده . هغه جدي جنایات چه طالبانو د هغو په کړو په شمالي که تورن دي دادي :

- د عامو ځایونو ویجاړول چه په هغو کي د خلکو کورونه ، باغونه ، د آبو رسوني سیستیمونه شامل و .
- د غیر پو ځي وګړو شړل د سیمي څخه او هغوي په زوره اړ ویستل د خپلو کورونو پریښودو ته . او د ۳۰۰۰۰۰ خلکو په بي ځایه کیدو کي د طالبانو فعاله ونډه.
- د غیر پوځي وګړو په خپل سر نیوني د شمالي په سیمه کي .
- د غیر پو ځي وګړو او پو ځي اسیرانو ډله ایزي وژنې .
- په یوه ډیره پیمانه د درندو وسلو په ذریعه د شمالي د سیمو ویشتل او د نوموړي سیمي د بنسټ نه ورانول او پدي توګه د خلکو مجبورول له سیمي څخه تیښتي ته.

هغه اسناد او مدارك چه د عدالت پروژي ذا ټول کړي دي د پورتنیو پنځو مواردو تیرو په برخه کي دي . د نوموړي اسناد و اصلي موخه د غیر پو ځي وګړو او هغو پوځي اسیرانو د عامو وژنو په برخه کي دي . او په مشخصه توګه د ۱۹۹۹ کال د اګست د میاشتي ۴ – ۵ نیټي چه ( د ۱۳۷۸ کال د اسد د میاشتي د ۱۱ - ۱۲ ) د طالبانو د بریدونو په ترخ کي هغه ډله ایزي وژنې چه شوي دي څیړني کړي دي .

## متن

شمالي هغه شنه سیمه ده د کابل په ۷۰ کیلومتره شمال کي پرته ده او د سالنګ تر غرونو رسیږي . د کابل د نیولو څخه وروسته دا یواځني سیمه و چه د همدغي سیمي څخه د طالب مخالفو ځواکونو وکولاي شول چه خبل مقاومت څرګند کړي او د جګړي لوړي لیکي هلته پرانیزي او نوموړی سیمه د پایتخت کابل لپاره د تهدید یوه بیلګه وشمیرل شي . د نوموړي سیمي د پوځي اهمیت څخه به غیر دا یوه سیمه ده چه هلته په ۱۹۹۶ کال کي ۶۴۳۰۰۰ خلکو ژوند کاوه.

د طالبانو او متحدي جبهي مخامخ کیدل په دي سیمي کي د طالبانو لپاره د اوږدو او خونړیو جګړو لامل وګرځیدو . نوموړو جګړو د کابل د نیوني سره چه په ۱۹۹۶ کال کي د طالبانو په لاس ورغي بیا د ۲۰۰۱

کال د نوامبر تر میاشتې دوام وکړ او په نوموړې پنځه کلنې موده کې د دواړو رقیبو خواوو تر منځ ډیرې جګړې منځ ته راغلې . د اصلي جګړو تر منځ کله ناکله د جګړې لومړیو لیکو کې ډیر تغیر راته او د له هغه وروسته به چه نوموړې سیمه کې مخالفین یو دبل په مقابل کې په سنګرنو کې ناست و هم جګړې منځ ته راتلې .

په شمالي جګړې یوه هغه واضح مثال دې چه په نوموړې سیمه کې په جګړه کې ښکیلو اړخونو په ټولو پوځې امکاناتو یو د بل مقابله کوله . دواړو خواوو یو پر بل باندې ذ یرغلونو سپیناوې کاوه او د جګړو په ترڅ کې یې د منځ ته راغلي تلفات روښانه کول او د پښړې ضد جنایاتو افشاګرې به یې کوله. د بشرې ټولنې بین المللي استازو د جګړې د لیکو دواړو اړخونو سره انساني مرستې کولې او د بشر ضد جنایات به چه کله په ډاګه او روښانه کیدل هغه به یې محکومول . د پدې لړ کې د طالبانو محکومول ( بین المللي محکومیت – زمین سوخته) چه د طالبانو د کړو لکه د خلکو د کورونو ، او د ژوند د اصلي ضروریاتو – باغونو اود اوبو د رسولو د سیستیمونو د ورانولو او خلکو شړل د هغوې له کورونو څخه په تور ړنځ ته راغلل .

د غوره پیښنو تفصیل
د طالبانو ټول پرمختګونه چه د هغوې د نوې پرمختګ په ۱۹۹۶ کال کې تر سره شوي د جنایاتو او تیریو سره یو ځاې وې . د عذالت پروژه د هغو دوسیو چه د یو شمیر مشخصو پیښنو په برخه کې چه د د لومړیو لیکو په سیمو کې لکه په بګرام، کلکان ، قره باغ، میربچه کوټ تر سره شوې مکمل تحقیقات کړیدې او پدې تر څ کې یې داسې شواهد لاس ته راوړې دي چه د پیښې د قربانیانو او د په سیمو کې د ورانیو پاخه شواهد ګنل کیږې . دغه نمونې د قتلونو د کیدولو یو مهم توضیح کونکې دي . طالبانو په مجموع کې ۷۱ تنه غیر پو ځې وګړې اسیران نیولې و او نور غیر پو ځې وګړې یې تر محاصرې لاندې راوستې و چه په نوموړې ګذارش کې توضیح شویدې . اګر چه د ۱۹۹۶ کلونو په جکړو کې دا چه د جګړه مارو خواوو د پوځیانو شمیره ډیره نو ویلاې شول چه له نوړې شمیرې څخه ډیر کسان وژل شوي دي . د عیني شاهدانو ویناوې په اصل کې په ډله ایزو وژنو باندې راغلي دې خو دا هم د جنایاتو او وارنکاریو یوه برخه چه په عمدې توګه تر سره شویدې رنا اچوې .

د بګرام ولسوالي
د ۱۹۹۹ کال د اګست د میاشتې په ۳ نیټه د طالبانو سرتیرو چه د طالبانو د لوړپوړو چارواکو مستقیمه لارښونه ورته کیده د بګرام د ولسوالي د بایك آب په چرچرك دشته کې ۱۱ تنه د بګرام د هوایي ډګر کارکونیکي د نیولو وروسته په ډله ایزه توګه ووژل. د نوموړو اسیرانو لاسونه یې شاته تړلي او بیا یې په ګولیو ویشتلي و . په همدې ورځ طالبانو دوه تنه د سیمې ډمان د بګرام هوایډګر ته نږدې او نه تنه نور یې د چرچرك په دشته کې په ډله ایزه توګه ووژل.

د کلکانو ولسوالي
د ۱۹۹۹ کال د سپتمبر په ۹ نیټه چه کله د طالبانو په بریدونو کې یو څه کمې راغلي و . د طالبانو پوځیانو د قچې له کلي څخه ۷ تنه عام وګړي ونیول او هغوې یې په ډله ایزه توګه ووژل . د طالبانو یوې ډلې جنګیالیو یوه د انګورو باغ ته ننوتل او هلته یې یوه ښځه چه بې بې کشور نومیده او د غلام میرمن وه او ۳۰ کله عمر یې درلود سره له دوه تنو نورو ښحو او څلور تنو ماشومانو پداسې حال کې چه نوموړو په هغه باغ کې کار کاوه په ګولیو وویشتل او مړه یې کړل .

د قره باغ ولسوالي
د ۱۹۹۹کال د اګست د میاشتې په ۳ نیټه د ورځې په ۱۱ بجو د طالبانو د جنګیالیو یو ي ډلې د قره باغ د ولسوالي د الله رام کلي ته ورننوتل او او هلته یې ۱۶ تنه ونیول او هغوې وتړل او بیایي د هغوې هغه وچ سیند ته پوتلل چه هلته نږدې و . دغو طالبانو هغه ټول ۱۶ تنه په ګولیو وویشتل او په ډله ایزه توګه یې ووژل . تر دې مودې پورې نوموړې کلي ته کوم ضرر نه وه رسیدلی .

د میر بچه کوټ ولسوالي
د ۱۹۹۹ کال د اګست د میاشتې په ۳-۲ نیټه کله چه طالبانو د میر بچه کوټ ولسوالي ته ورداخل شول . د طالبانو جنګیالیو د کلاشنیکوف په ډزو سره د ولسوالي د دفتر څخه دباندې د کیمیاوې سرې په ودانې کې ۲۶ تنه غیر پو ځې وګړې ووژل . عام وګړو د خپلو عزیزانو لټون کاوه چه د غرمې وروسته طالبانو له هغې

سيمي ښخه په شا شول . دغو خلکو يو ناڅاپه وليدل چه د ولسوالي په شاوخوا کي د نوموړو جسدونه پراته و چه ډيري ييپ ملکي کسان و . طالبان دغه ملکي کسان د مير بچه کوټ د ولسوالي د نيولو په وخت په خپل سر نيولي و او بيا يي وژلي و . همداراز طالبانو په کابل کي د همدي سيمي ۱۶ تنه وګړي نيولي و چه نوموړو ته يي ډيري شکنجي ورکړي وي . او په هغوي يي ډير ظلمونه او ناروا وي کړي وي .

## د اوامرو ورکړه او د طآلبانو د لوړپوړو چارواکو برخه درلودل په دغو اعمالو کي

د ۱۹۹۹ کال د بريدونو په ترڅ کي د هغو طالب حواکونو چه د نوي سرك لخوا يي د بګرام د ولسوالي په لوري پر مختګ کاوه د ملا داد الله په غاړه وه او د هغو طالب ځواکونو چه د زاړه سړك لخوايي د مير بچه کوټ په خوا پر مختګ کاوه د ملا فاضل لخوا قوماندہ ورکول کيده او نوموړو قوماندانانو په سيمه کي د جناياتو د کولو مستقيمي قوماندي ورکولي نوموړي دوه کسان ( ملا داد الله او ملا فاضل ) د نوموړو پيښنو د پيښيدومستقيم مسوليت لري . يو عيني شاهد چه په نوموړو جګړو کي ونډه درلوده وايي چه ملا فاضل د خلکو د اساسي شتمنيو د وراني مسوليت په غاړه لري . د ۱۹۹۹کال داګست په ۱۰ نيټه د طالب قوماندانانو يوه غونډه د ملا فاضل په مشري ميربچه کوټ ته نږدي جوړه شوه او ملا فاضل ټولي وراني په خپلو سترګو ليدلي خو بيا هم يي دغو قوماندانانو ته د خلکو د کورونو او باغونو د ويجاړولو امر ورکړ او هغه يي رهبري کولي . ملا فاضل د ۲۰۰۱ کال د نوامبر په مياشت کي د امريکايي ځواکونو لخوا ونيول شو او اوس د هغوي په زندان کي په کوانتينامو کي بندي دي .

همداراز ملا برادر چه د لوي درستيز مرستيال و د هغو ۱۱ تنو چه د بګرام د ولسوالي د چرچرك په دشته کي په دّله ايزه توګه ووژل شول مسوول ګڼل کيږي ولي چه هغه پخپله د دغو ۱۱ وژنه په سترګو کتله.

## ۷،۵ په رباطك کوتل کي ډله ايزه وژنه

د ۲۰۰۰ کال د مي په مياشت کي د طالبان وسله والو د ظپاطك په سيمه کي چه تاشقرغان له پلخمري سره نښلوي ۳۱ تنه غير وسله وال کسان اسير ونيول چه په هماغه ځاي کي ي هغوي ټول ووژل او د هغوي جسدونه يي د سړك پر سر واچول . د نوموړو مړو له ډله ښخه ۲۶ تنه د شيعه اسماعيلي هزاره قوم ښخه و چه د بغلان د ولايت اوزسيدونکي و . او پاتي کسان يي د رباتك د شمال سيمي ښخه د هزاره مزاري د سيمي چه د بغلان او سمنګانو تر منځ پرته ده اوسيدونکي و . چه د نوموړو اسيرانو د وژلو په وخت دغه سيمي د طالبانو په لاس کي وي . ټول وژل شوي کسان څلور مياشتي مخکي د طآلبانو لخوا نيول شوي و او په نوموړی موده کي ډير شکنجه و زورول شوي هم و . نوموړي کسان د جنوري له ۴ ښخه تر ۱۵ نيټي پوري نيول شوي و . په هغه زندان کي چه هغوي ساتل شوي د يوه کندهاري قوماندان ملا شهزده پوري يي اړه لرله چه د خنجانو په سيمه کي يي قرار ګاه درلوده .

### د نوموړي پيښني شرحه

نوموړي ګذارش د يوي مرکي په ترځ کي (ج) ورکړي چه د هغه سړي چه وژل شوي دي له لرو خپلوانو ښخه دي او نوموړي دا ګذارش د ارباپ ستار ښخه اخيستي دي چه هغه د وژل شوي کس ورور دي . د نوموړي عيني شاهد ګذارش د بشر د حقوقو د سازمان په ګذارش کي د ( هزاره ګانو د ډله ايزو وژنو په افغانستان کي ) تر سر ليك لاندي راغلي دي .

د ۲۰۰۰ کال د جنوري د مياشتي په ۵ نيټه د طالپانو جنګياليو پداسي حال کي چه په داتسون موټرو که سپاره و په نيکپاي کلي باندي يرغل وکړ او د نوموړي کلي د خلکو په نيولو يي پيل وکړ چه د بکس او زيغوله له کليو ښخه يي خلك له کورونو ښخه ونيول . په نيول شويو کسانو کي ټول سپيږيري و او د نوموړو کليو نور هستوګنو د دغو نيونو تايد وکړ . نوموړي نيول شوي کسان د جنوري له ۵ ښخه تر ۱۰ پوري د ملا شهزاده په قرار ګاه کي چه د خنجانو په سيمه کي وه يوړل شول .

د نوموړو اسيېانو خپل خپلوانو ته اجازه ورکړشوه تر څو چه خپل نيول شوي دوستان ووينى اود هغوي وضعيت له نژدي وګوري چه څرنګه وهل ټکول ، برقي شوکونه او په سړه هوا کي د واورو پر سر درول کيږي . يو تن د هغو اسيرانو له ډلي ښخه چه تاج الدين نوميده او ۱۸ کلن و وروسته د ډيرو وهلو ټکولو او د يخني له امله د رباطك په غابني کي مړ شو . او نور اسيران کله چه پلخمري ته انتقال شول د نو د نساجي فابريکي په روغتون کي د هغوي پښي پري شوي او د تګ لپاره ورته دوه لرګي ورکړل شول.

د جنوري په ۱۴ نيټه نوموړي اسيران د پلخمري ښار کي د ملا شهزاده قرار ګاه ته راوستل شول او د مي د مياشتي تر ۸ نيټي ټول هغوي له کاره ووتل . يوه تن چه هلته يي کار کاوه وويل چه نوموړي اسيران په يوه

لاري موټر کي بار شول چه د طالبانو د داتسن موټرو له خوا يي محافظت کيده يوي نامعلومي خواته يووړل شول چه وروسته بياد نوموړو اسيرانو جسدونه د هزاره مزاري په سيمه کي چه له پلخمري څخه تقريبا يو نيم ساعت واټن لري پيدا شول .

د مارچ په ۱۸ هغه کوچيان چه د رباطك له لاري تيريدل دا مړي وليدل او د سمنګانو ولايت مقاماتو ته يي خبر ورکړ چه وروسته بيا هغوي سيمه ته ګارګران وليږل او نوموړي مړي خاورو ته وسپارل. د هغو کارګرانو له ډله څخه چه نوموړي مړي يي خاورته سپارلي و ويلي دي چه نوموړي اسيران په دري ډلو کي چه د هريو لاسونه شاته په پړي تړل شوي و وژل شويدي نوموړي ګذارش د بشر د حقوقو د څيړونکو ګذارش څخه اخيستل شوي دي .

د وژل شويو کسانو له ډلي څخه د ۲۹ تنو لاسونه شاته تړل شوي و او پر مخ پر ځمکه باندي څملول شوي و او بيا اوربـاندي ډزي شوي وي . يو تن بل چه د نوموړي مړي د پيژاندو وروسته د صاحبداد په نامه و د طالبانو د سرتيرو لخوا په ډير مهارت په يوه ونه باندي داسي تړل شوي و چه د هغه متي لاسونه او پښي يي په ونه داسي تړلي وي چه نوموړي هيڅ حرکت نشواي کولاي او هماغسي مړ شوي و . جمعا په نوموړي پيښه کي ګارګرانو ۲۹ مړي دهزاره مزاري په سيمه کي ښخ کړي و . نوموړو ګارکرانو ويلي دي چه په نوموړو مړيو ۳۰ سانتي خاوره اچول شوي وه چه د حيوانات لخوا رايستل شوي .

په ډيره لمه موده کي د نوموړو مړيو خبر د خاپاي کلي ته ورسيد او خلکو د خپلو عزيزانو او خپلوانو د پيدا کولو لپاره سيمه ته ورغلل او نوموړي جوړ شوي قبرونه يي راوسپړل او د خپلو عزيزانو د جامو له ټوټو څخه يي داومونده چه په نوموړو مړيو کي ددوي خپلوان هم شامل و . نوموړو خلکو دوه مړي له دي سيمي څخه لږ ليري هم پيدا کړل چه په هغه ځاي کي په ګوليو ويشتل شوي و .
په هغه وخت نوموړوي سيمه د طالبانو تر واکمني لاندي پاتي شوه . چه د بشر د حقوقو محلي مستنطقينو د ۲۰۰۰ کال د نوامبر په مياشت کي له نوموړي سيمي څخه ليدنه وکړه او د نوموړو قبرونو عکسونه يي واخيستل.
د طاليانو لخوا د ۲۰۰۰ کال په لومړيو ۶ مياشتو کي ملا شهزاده د خنجانو په سيمه او پلخمري کـه مسول او قوماندان و . چه نوموړي په خنجانو او پلخمري کي پوره واك درلود او د زندانو واك هم د نوموړي له سرتيرو سره و .
په شمال کي د طالبانو لوي قوماندان ( د پنځم نمبر قول اردو قوماندان ) ملا عبدالرزاق نوميده چه نوموړي له ملا شهزاده څخه په لوړه رتبه کي واقع و او د خپلو ځواکونو د سوق او اداري او عملياتو ته د ليږلو صلاحيت يي درلود چه نوموړي کولاي شول چه د طالبانو ځواکونو ته لارښونه وکړي چه جنايات ونکړي او هغوي له دغه کار څخه منع کړي .

د سر ته رسيدلو جناياتو مسوولين او عاملان
کندهاري ملا شهزاده چه د طالبانو لوړ پوړي قوماندان و په دغو ډله ايزو وژنو کي يي مستقيم مسووليت درلود . نوموړي د ۲۰۰۱ کال په وروستيو کي د امريکايي ځواکونو له خوا ونيول شو خو وروسته د ۲۰۰۴ کال د مي په مياشت کي بيرته پريښودل شو . چه نوموړي وروسته له خوشي کيدو د طالبانو له يوي وسله والي ډلي سره يو ځاي شو او په يوه مخامخ جګړه کي د امريکايانو لخوا ووژل شو..
هغه وخت چه د طالبانو د ولکي په دوره کي پورتني جنايات شوي و ملا شهزاده د خنجانو د خط لوي قوماندان و او په شمال کي يي ډيري سيمي تر امر لاندي وي . د ملا شهزاده هغه ملګري چه ده سره په مسووليت کـه شريکان و د نوموړي له جناياتو خبر و دغه لاندي کسان دي :
۱ . د شمال زون مسول ملا نور الله نوري ( ذالبانو د افغانستان ټول ولايات په خلورو زونونو ويشلي و . د بغلان ولايت چيري چه پورتني اسيران نيول شوي و او د سمنګانو ولايت چيرته چه نوموړی اسيران وژل شوي و په شمال زون پوري يي اړه لرله) .

۲ . د طالبانو لوړ پوړي قوماندان په شمال زون کي ( د ۵ نمبر قول اردو قوماندان چه په مزار شريف کي ځايير ځاي وه ) ملا عبدالرزاق ....... چه د ملا بلا په نوم هم ياديده چه له ملا شهزاده څخه په لوړ مقام کي و او ټول عمليات يي په شمال زون کي اداره کول . نوموړي قوماندان هغه لومړي کس و چه بايد د ملا شهزاده له اعمالو او جناياتو څخه چه د اسيرانو په مقابل کي يي تر سره کول خبر واي . او همدارنګه د هغو وژنو او شکنجو چه خلکو ته ورکول کيدي بايد نوموړي پري خبر واي او د هغو مخنيوي يي کړي واي ځکه چه نوموړي د طالبانو لوړ پوړي پوځي قوماندان و .

۳ . ملا فاضل مظلوم د ملا شهزاده دوم لوړ پوړي قوماندان چه ملا شهزاده د نوموړي څخه پوره اطاعت کاوه . د نوموړي وسله وال کسان د جناياتو د کولو په وخت کي د شمال د زون د قوماندان لخوا منع کيږي چه وروسته هغه دنوموړو په کنترول کي ماتي وخوړه .

۴ . د طالبانو د دفاع وزير ملا عبيدالله چه په طالبانو کي يوه مشهوره مرجع ګڼل کيده .

۵ . د بغلان ولايت والي ځکه چه په هغه وخت نوموړي اسيران د پلخمري ښار په يوه غير رسمي زندان کي د کوم رسمي جرم څخه پرته بنديان شوي و او هغه هم د يوه پو ځي قوماندان لخوا چه لوموړيي نوموړي اسيران په وهلو ټکولو ټپيان کړل او وروسته ټول ووژل . وال بايد د نوموړو اسيرانو د حال څخه خبر واي او دا چه هغوي څنګه شکنجه کيدل هم بايد خبر واي ولي چه نوموړي د سيمي غير پو ځي لوړ پوړي واکدار و او د خلکو د حقوقو د تامين دنده يي په غاړه درلوده او له دغو پيښو يي بايد کامله اګاهي درلوده چه په سيمه کي څوك څه کوي .
خو دا ويلي شو چه د هغو طالبانو چه نوموړی وژنـي يـي کړي دي او د هغو کسانو چه د وژنو په وخت کي هلته حاضر و اوس هم امکان شته چه پيدا کړاي شي او د هغوي د هويت د تثبيتولو کار روان دي .

## په يکاولنګ کي ډله ايزي وژني د ۲۰۰۱ کال د جنوري ۷ – ۲۲ نيټي پوري

د ۱۹۹۸ کال د سپتمبر په مياشت کي طالپانو د يکاولنګ ولسوالي ونيوله . خو جګړو په سيمه کي دوام وموند او د خليلي د وحدت ګوند او د محسني د حرکت ګوند په ګډه سره وکولاي شول چه د ۱۹۹۸ کال په وروستيو کي نوموړي ولسوالي له طالبانو څخه بيرته ونيسي چه له هغي ورسته يي د ۱۹۹۹ کال د اپريل په مياشت کي د باميانو ولايت له طالپانو څخه ونيوه خو له لږ ځند طآپانو بيا بريالي شول چه د باميانو ولايت اود يکاولنګ ولسوالي تر خپل کنترول لاندي راولي . د ۲۰۰۰ کال د دسمبر په ۲۸ نيټه د حرکت او وحدت ګوند ځواکونو يو ځل بيا وکولاي شول چه د يکاولنګ ولسوالي تر خپل کنترول لاندي راولي .
د ۲۰۰۱ کال د جنوري په ۷ نيټه طالبانو د خپل ځواکونه د يکاولنګ د نيولو لپاره په يو ډير عاجل اقدام کي سيمي ته وليږل چه د جګړي په جريان کي طالبانو نور پوځونه هم سيمي ته واستول او په نتيجه کي نوموړي ځواکونه د جنوري په ۷ نيټه د ني يك ولسوالي چه له وکړو څخه خالي وه ونيوله او وروسته يي د جنوري په ۸ نيټه د ورځي په پاي کي يکاولنګ ته ور ننوتل .

د عامو وګړو ډله ايزي وژني په يکاولنګ کي دطالبانو لخوا د يکشنبي په ورځ د جنوري په ۹ نيټه پيل شوي . ډيري وژني په ۸ نيټه تر سره شوي وي او د طالبانو ځواکونه د جنوري تر ۲۲ نيټي پوري په يکاولنګ کي پاتي شول او په سيمه کي يي ډيري ډله ايزي وژني تر سره کړي . په دغه دوران کي طالبانو په مجموعي توګه ۱۷۸ تنه وژلي و چه ۱۷۵ تنه يي عام وکړي او دري تنه يي پوځيان و . يو دقيقه احصايه د وژلو شويو او نيول شويو کسان په لاس نه ده راغلي ولي چه په هغه وخت کي د طالبانو سرتيرو هر خواته بريدونه کول او د نوموړی احصايي لاس ته راوړل آسان کار نه و.

## په يکاولنګ کي د طالبانو د قوماندانانو د مسوليت سلسله

ملا شهزاده د يکاولنګ د عملياتو مسووليت در لود او د جنوري له ۶ نيټي څخه تر ۱۱ نيټي پوري هلته ميشت و . او د نوموړی ځواکونه د هغه قرار ګاه ته نږدي ميشت و . د يکاولنګ د نيولو څخه وروسته د ملا شهزاده ځواکونه دغو ځايونو کي ځاي پر ځاي شوي و : د يکاولنګ په روغتون کي ، د پخواني ولسوالي په زاړه انګړ کي ، د UNOCHA په دفتر کي ، د نجونو په ښونځي کي ټولي نوموړي سيمي د ملا شهزاده د قرار ګاه چه د عرفاني په کتاب تون کي ځاي پر ځاي وه په ۲۵۰ متري واټن کي واقع وي او ټولي موقتي قرارګاوي يو د بل تر څنګ واقع شوي وي او کله چه به نوموړو اسيران ونيول نو د وژلو څخه به يي دمخه عمومي قرار ګاه ته راوستل چه په نوموړو اسيرانو کي ډير يي غير پوځي کسان و . د طالبانو د قوماندانانو ويلي دي چه نوموړو دوه ځلي د يکاولنګ په عملياتو کي ګډون کړي دي او ويلي يي دي چه د ملا فاضل لخوا نوموړي بريدونه پلانګزاري کيدل او نوموړي هم په نوموړي قضيه کي شامل دي .

د نوموړو موضوعاتو سر بيره د يکاولنګ په عملياتو کي لاندني قوماندانانو ونډه درلوده :
* ملا عبدالستار چه د طالبانو عمومي قوماندان و هزارجاتو په سيمه کي چه نوموړي د ني يك د ولسوالي په ډله ايزو وژنو کي نوموړي حضور درلود او بل دا چي نوموړي امر کاوه او ملا شهزاده د امر تطبيقونکي و .

* ملا عبدالغفار چه پښتون طالب او د کندهار ولايت څخه و نوموړ' په يکاولنك کي د پياده حواکونو د قوماندان په صفت دنده درلوده خو په سيمه کي پيژاندل شوي ندي . د نوموړي مسووليت دادي چه د جنوري په ۸ نيټه يي د علي عليا په دره کي د تلاشي کولو مسووليت درلود .
د نوموړو عملياتو په جريان کي طالبانو مستنطقينو ته دا په ډاګه کړه چه په نوموړو عملياتو کي چه په يوه وخت کي په سيغان ، کهمرد او يکاولنګ کي روان و ملا احمد الله هم ونډه درلوده.

طالبانو د جنوري په ۷ نيټۀ غوښتل چه خپل ځواکونه يکاولنګ ته ورسوي خو دا کار تر سه شنبي او چهار شنبي معطل شو .
په نوموړو پيښو کي يو محلي قوماندان چه منګل نوميده هم په نوموړو ډله ايزو وژنو کي برخه درلوده . نوموړي په انفرادي او ډله ايزو نيونو کي فعاله ونډه درلوده او له همدي عمله د ني يك په ولسوالي کي د وژل شويو شميره پورته ولاړه . هغه کور په کور پلټنه چه منګل کوله په هغي داسي پيښي شويدي چه په هماغه ځايونو يعني په کورونو کي ډير غير پوځي خلك ووژل شول . د طالبانو د تلاشۍ او لټون پر مهال د دره علي په سيمه کي لږ تر لږه ۱۱ تنه ووژل شول او دري نور کسان په جلا پيښو کي وژل شوي و . تولي دغه وژني د CCA ساحوي دفتر په يو کيلومتري کي سر ته رسيدلي دي .

شاهدان دا په ډاګه کوي چه پهرنيو پوځيانو په دغه ضربتي عملياتو او ډله ايزو وژنو کي فعاله ونډه درلوده چه د طالبانو له ځواکونه سره يي نوموړي عمليات په ګډه پر مخ بيول چه شاهدانو د پهرنيانو سره څنګ ته کندهاري پښتانه پيژاندلي دي . اګر چه د ډله ايزو وژنو اصلي مرتکبين پهرني ځواکونه نه و ځکه چه ځيني هغه کسان چه له نوموړو وژنو ژوندي خلاص شويدي وايي چه پښتنو افغانانو په دغو ډله ايزو وژنو کي ډير تيري کاوه . طالبانو له پهرنيو پوځيانو څخه په وژنو ، د کيلو د وګړو په اسيرولو او هستوګن ځايونود تلاشي او لټون په کار کي استفاده کوله خو د پښتنو افغانانو څخه به يي د خلکو په وژلو کي کار اخيسته.
ددوو د شهادت دورکولو د منابعو تحليل (۱) د څيړن کونکو د کمسيون ددريو ګروپونو شهادت ورکول په يکاولنګ کي . (۲) د کتنو په ترڅ کي چه له هغي سيمي څخه شواهد راټول شوي دي . او همداسي هغه شاهدي ورکونکي چه په انفرادي ډول ورکړ شوي او د NGO ګانو چه د قربانيانو يو ۱۷۸ نفري ليست يي برابر کړي دي. په دغه ګذارشاتو کي په مشخصه توګه ويل شوي دي چه نوموړی وژني په خلورو ځايونو کي عامي وژني شوي او د طالبانو سرتيرو خلك په يو ډير شمير سره د ولسوالي مخي ته راټول کړي دي او بيا يي په ډله ايزه توګه وژلي دي .
د طالبانو جنګيالو خلك په څلور ډوله وژلي دي :

۱ . ډله ايزي نيوني چه خلك له يوي سيمي څخه په ډله ايزه توګه نيول شوي او بيا وروسته په باه سيمه کي په ډله ايزه توګه وژل شوي دي .
۲ . د لارو پر سر وژني چه په دغو پيښو کي يو شميروګړي چه يا چيرته تلل او يا چه په ناځاپي ډول طالبانو ورباندي برابر شوي دي . نو بيا د طآلبانو د جنګيالو لخوا په همغه ځاي کي وژل شوي دي .
۳. د تلاشي او يا لټون په وخت کي وژني دا پيښي هغه وخت کي را منځ ته شوي چه د طالبانو جنګيالو کوم وخت چه په کورونو کي تلاشي کوله نو که کوم څوك مخي ته ورته نو په هماغه ځاي کي په ګوليو ويشت.
۴. قصدي وژني په هغو ځايونو کي چه ډالپانو ته معلومه شوي وه چه هلته د جګړي ټپيان پراته دي نو کله به چه نوموړي ځاي ته ورسيدل تول هغه کسان به يي چه هلته موندل وژل يي .

## ډله ايزي نيوني او وژني

ډير قربانيان په نوموړو وژنو کي په ډله ايزه توګه وژل شوي دي . په عمومي ډول سره ۱۲۷ تنه ونيول شوي و چه د نوموړی ليست څخه ۹۸ تنه د طالبانو لخوا وژل شوي دي

۱ . په دره علي کي ډله ايزي نيوني
د طالبانو جلادو سرتيرو په دره علي کي ۵۰ تنه ونيول ، چه د محمد حسن خان په کلي د جنوري په ۸ نيټه ۱۷۰۰ تنه ګرفتار شول ، چه طالبانو نوموړی خلك د دره علي د سيمي څخه له کورونو څخه ونيول چه شمير د ۱۵۰۰-۱۰۰۰ کسانو اتکل کيده او وروسته يي هغوي ټول د اکسفام په دفتر کي چه کشتارګاه ته نږدي پروت

و بنديان كړل . نوموړي بيان هغه چا ورکړي چه د دره علي د سيمي په د اسيرانو له ډلي څخه و خو وروسته پيا د طالبانو لخوا عفو شوي و . يو بل تن د نوموړو قاتلانو څخه تښتيدلي و . نوموړوي عمليات د طالبانو د يوه عملياتي قوماندان لخوا اداره کيدل.

۲. د منديك په کلي کي نيوني
د جنوري په ۸ نيټه په ۸:۳۰ بجو د طالبانو سرتيرو د منديك له کلي څخه ۱۱ تنه ونيول چه وروسته يي بيا دغه ټول کسان د محمد حسن خان په کلي که ووژل دا بايد وويل شي چه طالبانو نوموړى کسان د منديك د کلي په شاوخوا کي نيولي و . چه يوه تن د نوموړو قاتلانو څخه په تيښته بريالي شوي و او نوموړي عمليات د طالبانو د عملياتي قوماندان لخوا اداره کيدل.

۳. د کته خانه د کلي د جومات څخه د خلکو نيوني
طالبانو د خپلو سرتيرو په ذريعه د جنوري په ۸ نيټه د کته خاني د کلي ۲۲ تنه اوسيدونکي هغه مهال ونيول چه هغوي ټولو يوه مسجد ته پناه وړي وه او طالپانو نوموړي ۲۲ تنه په هغه ځاي کي ووژل چه لدي ډله څخه يو تن په تيښته بريالي شوي و . په دغو عملياتو کي ۸ تنو پښتنو طالبانو ګډون درلود چه د عملياتي قوماندان لخوا رهبري کيدل .

۴. د هغو خلکو چه غوښتل يي طالبانو ته تسليم شي او د احمد آرباب په کور کي د کته خاني په کلي کي سره را ټول شوي خو هغوي د طالبانو لخوا ونيول شول .
طالبانو د نوموړو سپين ږيرو له جملي څخه چه غوښتل يي طالبانو ته تسليم شي ۱۰ تنه ووژل . نوموړو غوښتل چه طالبانو سره خبري وکړي پدي موخه د احمد ارباب له کوره څخه روان شول . کله چه طالبانو د جنوري په ۸ نيټه په اته نيمو بجو نوموړي سيمه ونيوله دغه کسان يي ګرفتار کړل او وروسته يي په ۱۱ بجو د اکسفام دفتر شاته اعدام کړل . د نوموړي بيښي شاهدي هغو کسانو ورکړيده چه په نوموړي سيمي کي و او د طالبانو لخوا عفو شوي و نوموړو ويلي دي چه د اسيرانو په ساتنه کي بادني پوځيانو مرسته کوله او نوموړى عمليات د طالبانو د عملياتي قوماندان لخوا اداره کيدل.

۵ . د هغو سپين ږيرو نيول کيدل دطالبانو په ذريعه چه د بيد مشکين له کلي څخه د ني يك د مرکز په خوا روان و او غوښتل يي چه طالبانو ته تسليم شي .
طالبانو هغه ۱۳ تنه چه د ولسوالي مرکز ته د د کته خاني د کلي د خلکو په شان روان و ونيول او د اکسفام دفتر خواته يي يوړل او بيايي هلته ووژل . خو دا معلومه نده چه د طالبانو د کوم قوماندان لخوا ددغو خلکو د وژني امر ورکړ شوي و .

۶ . د بيد مشکين د کلي د خلکو نيوني د کورپه کور لټون يا تلاشي په وخت کي .
طالبانو هغه خلك چه د بيد مشکين د کلي د تلاشي په جريان که د جنوري په ۸ نيټه په ۹:۳۰ بجو نيولي و ټول ووژل او ويل شوي دي چه نوموړي خلك هم د اکسفام دفتر کي وژل شويدي خو د نوموړو وژنو هم نده په ډاګه شوي چه د چا په امر تر سره شويدي .

۷ . د قرغان په لاري کي ډله ايزه وژنه
طالبانو هغه دري تنه چه د بيد مشکين د کلي و د قرغان په دوه لاري کي ووژل. د طالبانود لټون يوي ډلي نوموړى کسان په دغي سيمي کي د غرمي پر مهال محاصره کړل او په وروسته دري واړه په ۵:۳۰ بجو ووژل . د نوموړو دري تنو د وژلو امر قوماندان ستارالدين ورکړي و چه د څوتنو پښتنو طالبانو لخوا پري ډزي وشوي او مړه شول خو په دي هکله کوم نور معلومات په لاس ندي راغلي . نوموړى ويناوي د دريو تنو څخه اخيستل شوي دي چه له هغي پيښي څخه په تيښته بريالي شوي و .

۸. د اخوندانو ،کته خاني او کشکك د کليو تلاشي کول د طالبانو لخوا څخه
يو شمير کسان چه د تلاشيو په وخت کي د اخوندانو ، کته خاني او کشکك په کليو کي د جنوري په ۸ نيټه د طالبانو ګوتو ته ورغلي و ټول ووژل شول . کوم مکمل ګذارش د نوموړو وژنو په لاس کي نشته خو دا ويل کيږي چه نوموړى خلك د اکسفام په دفتر کي په ګوليو ويشتل شوي دي .

د لارو پر سر وژني

د نوموړو وژنو په باره کې داسې اشاره شويده چه ۱۸ تنه په دغو پېښو کې وژل شويدي چه د ۱۷ تنو نومونه يې په هغو ليستونو کې تاييد شوي دي چه وروسته ترتيب شوي دي .

۱. د طالبانو پوځيانو دري تنه هغه بهسودي دوکانداران د جنوري په ۸ نېټه د ورځې په يوولسو بجو د يوه غالي اوبدولو د فابريکې تر څنګ ووژل چه نوموړي فابريکه د يو غير دولتي سازمان (CCA ) له خوا په دره علي جوړه شوي وه. نوموړي وژني په هغي سيمي کې تر سره شوي دي چه قوماندان منګل يې کنترول په لاس کې درلود .

۲. د جنوري په ۸ نېټه د سهار په لسو بجو طالبانو د منيك د کلي ۹ تنه ونيول چه وروسته يې بيا پنځه تنه نور هم ونيول او د نوموړو پنځو تنو په مخ کې يې هغه ۹ تنه ووژل او هغه نور پنځه تنه يې دي ته اړ ويستل چه نوموړې صحنه په سترګو وګوري . ددغي پېښي قومانده د يوه کندهاري قوماندان لخوا ورکړل شوه چه څو تنو پښتنو طالبانو هغه په عمل کې پياده کړه .

۳ . د طالبانو او د هغوي د پهرنيو ملګرو يوي ګزمي د جنوري په ۸ نېټه د سهار په يوولسو بجو دوه تنه چوپانان د سرخك غاښې سره ونيول او هغوي په هماغه ځاي کې ووژل . يو تن پدغه پېښه کې وژغورل شو او يو بل تن دا چه ډير سپين ږيري و د طالبانو لخوا عفو شو .

۴ . طالبانو د جنوري په ۸ نېټه د يوولسو بجو څخه تر دري بجو پوري د دره علي سيمه د قوماندان منګل تر سر پرستي لاندي تلاشي کړه او دوه تنه چه لارونکي و .او يو تندنوموړې سيمي اوسيدونکي د پاي تپه د سر پلاق په سيمه کې د نيولو وروسته ووژل .

د تلاشيو ( لټون) په جريان کې وژني
ت. (۱) تر اوسه پوري ۷ دغسي پېښي مشخصي شوي دي . د طالبانو د تلاشي ځواکونو د کوم وعلوم دليل له لرلو پرته خلك نيول او هغوي يې وهل ټکول او شکنجه کول او وژل يې . چه پدي لړ د طالبانو نوموړو ځواکونو يو تن د مرګ تر سرحده واهه تکاوه او بل ته به يې په ژوندينه اور اچولو . د هغو تر څنګ پهرنيو طالبانو هم په دغو پېښو کې لاس درلود او يوه تن موچي يا د زړو بوټونو ګنډونکي چه سيد رسول نوميده د هغوي له خوا ووژل شو .

عمدي او يا قصدي وژني
ت.(۱) طالبانو استاد فکور د متحدي جبهي يو قوماندان اسير ونيولو د جنوري په ۶ او يا ۷ نېټه او لدي څخه مخته چه نوموړی ووژني هغه ډير شکنجه کړي و .

ت(۲) طالبانو د ملا ستار تر قوماندانی لاندي يو سړي چه ډګروال حيات الله نوميده ونيوه او د جنوري په ۲۲ نېټه د يو ان يو چا د دفتر مخ ته وواژه.

د ډله ايزو وژنو او نيونو په مورد کې پوره تفصيلات

الف.(۱) د جنوري په ۸ نېټه د دره علي په سيمه کې ډله ايزي نيوني او د نوموړو اسيرانو وژل د نې يك د په کلي کې

د ۲۰۰۱ کال د دسامبر په مياشت کې د دره علي په سيمه کې هيڅ کومه جګړه نده پېښه شوي . ولې چه په نوموړي سيمه کې سادات يعني سيدان ژوند کوي اود هغوي مشرانو د طالبانو سره نژدي اړيکي درلودي . نوموړي سيمه د جنوري د ۸ نېټي په عملياتو کې هم ارامه وه. د متحدي جبهي د ماتي نه وروسته د يکاولنګ د سيمي څخه د نوموړې ولسوالي خلکو طالبانو ته د نوموړې ولسوالي د سوله ايزي تسليمي په برخه يو بل سره خبري اتري کولي چه څرنګه کولاي شي چه يو نوي ارتباط پيدا کړي . د درو خلکو د مرکز د خلکو خلاف په خپلو سيمو کې پټ شوي و . او د يکاولنګ وګړو دره علي د يوه ارامه او مصون سيمي په توګه ګڼله .ولې چه د ولسوالي د مرکز وګړو نوموړې سيمه د سياسي او پوځي شخړو په موده کې يو د امن ځاي په شان ليدو . او نوموړې سيمه د ډيرو وګړو د ميشت ځاي و . د دره علي د سيمي تلاشي يو دليل درلود هغه هم دا چه د نوموړې دري تر څنګ د کوتل سرخ خوا کې د فيروز بهار په کلي کې د متحدي جبهي پوځيان ځاي بر ځاي

شوي و . چه د متحدي جبهي استخباراتو كولي شواي چه دا اټكل وكړي چه په نومخوړي سيمه كي د متحدي جبهي د پوځيانو شتون حتمي نه و او په موقع سره هغوي كولاي شول چه له هغه ځايه څخه ووځي خو د طالبانو تر راتګ پوري دا كار ونشو .
د دره علي په سيمه كي د خلكو وژنه د هغو څلور سيمو څخه ده چه په هغو ځايونو كي ډله ايزي وژني شوي دي .
په لومړي سر كي د دره علي سيمي ته د طالبانو شېږ داتسن موترونه د جنوري په ۸ نيټه په لسو بجو داخل شول ( نوموړى موتر د جمك دكلي څخه عيني شاهدانو ليدلي و ) چه نوموړو پوځيانو د آسونو په غلا كولواو د كورونو د تلاشي لپاره د سرك پر غاړه شروع وكړه . هغه قوماندانان چه د دره علي د سيمي په تلاشي كي يي ونډه درلوده قوماندان منګل چه خپله د باميانو د پښتنو څخه و او وروسته د طالبانو سره يو ځاي شوي و او بل يي قوماندان ملا غفار و. او همدا راز په نوموړو عملياتو كي د بغلان د پښتنو او د ملا عبد الباقي تالقاني چه وروسته په ۲۰۰۱ كال كي د جګړي په جريان كي په تالقانو كي مړ شو . ځواكونو ګډون درلود . همداراز په نوموړو عملياتو كي يو شمير تاجكانو هم ګډون درلود چه CCA په دفتر كي يي قرار ګاه درلوده چه د ورځي په اوږدو كي د خلكو كورونو ته د چور تالان او چاي څكلو لپاره تلل . د قالين اوبدلو يو كارګر وايي چه نوموړى ګروپ د جنوري له ۱۱ نيټي څخه تر ۱۵ پوري د دره علي په سيمه كي پراته و خو وروسته چه اسيران يي د مركز خواته وليږل هغوي هم د ني يك د كلي په خوا ولاړل.
هغو نورو طالبانو چه د دره علي د سيمي په عملياتو كي ګډون درلود ملا رحمت الله ، سيد صلاح الدين كاكازي ، او مولوي محمد ولي نوميدل ولي چه هغوي خپل نومونه د قلين اوبدلو د فابريكي پر ديوال ليكلي و .
د اتو ساعتونو په ترڅ كي طالبانو د دره علي په سيمه كي ډير كسان د كورونو ، د ځمكو او باغونو څخه ونيول او د نوموړو اسيرانو لاسونه يي په لنګيو شاته وتړل او ټول يي د قالين اوبدولو فابريكي كي بنديان كړل. نوموړى د تلاشي ګروپ ځيني كسان ددي لپاره عفو كړل چه نور هلته ځاي نه و . د قالين آوبدلو فابريكه د اسيرانو د ټولو په يوه مركز بدل شوي و ځكه چه لومړي به يي ټول اسيران همدلته راغونډول او وروسته يي بيا ني يك ته ليږل چه دا نيوني د ډير ظلم سره پر خلكو باندي تر سره كيدلي چه عيني شاهدانو ويلي دي چه طالبانو نوموړى اسيران او يا د هغوي خپلوان د ټوپك په قنداقونو او برچو وهل.
همداراز طالبانو د دره علي مدرسه د بنديخاني په ډول جوړه كړي و او ۳۰ تنه طالب علماند نورو خلكو سر بيره نيولي و او هلته يي بنديان كړي و . خو بيا وروسته نوموړو طالب علمانو ته ملا غفار اجازه وركړه او هغوي يي پريښودل چه خپلو كورونو ته ولاړ شي .( د يوه شاهد ويناوي لاندي ولولي)

د نوموړو د تلاشي عملياتو مقصد كوم پوځي لاس ته راوړنه نه وه او يواځي طالبانو غوښتل چه پدي ډول خلك راټول او هغوي بنديان كړي او هغوي ته جزا وركړي . هغه كسان چه راټول شوي و او هغه كسان چه طالبانو نيولي و او هغوي سره اسيران و د نوموړو په منځ هيڅ كوم يو پوځي چارواكي نه و. او نوموړى نيوني د منګل په مشوره تر سره كيدي ولي چه منګل په سيمه كي بلد سړي و او طالبان پدي پوهيدل چه نوموړي خلك چه هغوي نيول ټول غير پوځي وګړي دي . منګل په نوموړو عملياتو كي د دره علي په سيمه كي د ويالي نه كوزي خواته يعني دره علي سفلا په سيمه كي مسوليت درلود چه ملا غفار د ويالي څخه پورته خواكي د علي عليا د سيمي د تلاشي مسووليت په غاړه درلود . طالبانو د ورځي په دري بجو ۸۰ تنه د قالينې اوبدلو مركز كي راټول كړل او ځيني اسيرانو وويل چه په هغه وخت كي يي چه دوي د قالين اوبدولو د مركز خواته راوستل نو دوي د د لاري په اوږدو كي د هغو څلور تنو بهسودي دوكاندارانو جسدونه ليدلي دي چه طالبانو د همدغه مركز په ۴۰۰ متري كي وژلي و .

طالبانو د خلكو د نيولو د كورنو څخه سر بيره هغه سپين ږيري چه طالبانو سره د روغي او خبرو لپاره د ني يك كلي ته روان و په لاره كي ونيول او د هغوي په منځ يو تن چه چمن نوميده او پخوا د طالبانو ديوي دېپو مسوول و په يكاولنګ كي پداسي حال كي ونيول چه هغوي د جمك له كلي تيريدل . طالبانو هغوي ونيول او برچو يي ووهل او د ني يك په كلي كي ييپه يوه خونه كي بنديان كړل او تر بيا راتګ پوري د ني كي ته هغوي هلته بنديان وساتل. او وروسته يي هغوي دنورو اسيرانو سره يو ځاي كړل او د ني يك كلي كي يي د ډله ايزي وژني اصلي مركز ته يوړل. يوه عيني شاهده چه ۱۴۰ نمبرشاهده ده وايي چه هغي ليدلي دي چه ځرنګه يي د هغي خاوند د كلي د نورو سپين ږيرو سره يو ځاي د دره علي مركز د شاه نهنګ كلي ته يوړل. نوموړى وايي چه د هغه خاوند غوښتل چه د نوموړي پيښي لپاره يوه لار پيدا كړي خو طالبان هغه د شاه نهنګ له كلي ونيوه او بيا يي مړ كړ .
يو بل عيني شاهد وايي چه ځرنګه طلبانو د هغه (واره او يا خور يي) چه د اخلاقي سره چه د طالبانو په لومړي دوره كي د خلكو مشر او د ولسوالي مشر ټاكل شوي و روان و او لاري په اوږدو كي طالبانو هغوي

ونیول او په ګولیو وویشتل شول . نوموړی شاهدي او څو تنو نورو ښځو یوه ورځ وروسته وکولاي شول چه د هغوي [نازي له هغه ځایه څخه پورته کړي و خاورو ته یي وسپاري .

د تلاشي د عملیاتو څخه وروسته طالبانو هغه خلك ]ه نولي و د نی یك په خوا روان کړل او د په داسي حال کي چه هغوي په آسونو سپاره و نوموړی خلك یي په قمچینو ( د طالبانو کیبل ) ، لرګیو او د ټوپکو په میلونو وهل او د ني یك کلي خواته یي بیول . هغوي د یوه ساعت په ترڅ کي د ورځي په څلورو بجو نوموړي اسیران خپلو مسولینو ته چه د اکسفام په دفتر کي میشت و تسلیم کړل چه پدي وخت کي د طالبانو لوي قوماندان د اسفام په دفتر کي کتابتون ته نږدي د حویلي منځ کي ناست و .
د اکسفام په موسسه کي یو موتر د بندیانو وړلو ته منترر و او کله به چه اسیران د اکسفام موسسي ته راسیدل د طالبانو لخوا به په دوه یا دري ډلو ویشل کیدل ( ماشومان،ځوانان ، سپینږیري) ځینو طالبانو به په نوموړي ویش کي د منځګړي په توګه کار کاوه . په یوه پیښه کي طالبانو ملا شهزاده ته ورغلل چه څو تنه اسیران عفو کړي . په یوه پیښه کي طالب محافظانو له ځانه سره دوه تنه طبي فني کارکونکي د هغو د اسنادو د کنترول لپاره د جزام کلینیك خواته پوتلل چه ریښتیا هم هغوي د NGO کارکونکي دي او که نه کله چه هغوي ته روښانه شوه چه هغوي ریښتیا هم طبي کارکونکي دي نو ملا شهزاده ته راغلل چه د هغو دوه کسانو د معافولو لپاره اقدام وکړي خو ملا شهزاده د هغوي خبري ته غوږ ونه نیو او امر یي وکړ چه هغوي هم د نور په شان مړه کي خو نوموړو طالبانو د ملا شهزاده امر څخه سر غړونه وکړه او هغوي یي د نورو اسیرانو سره له معیني دسته بندي وروسته یعني ځوانان او سپین ږیري سره جلا کړل په یوه کاماز موتر کي بار کړل او د ورځي په پنځو بجو یي د نوموړ' کاماز موتر په ذریعه د نی یك د کلي څخه په لږ مسافه کي حسن خان کلي خواته حرکت وکړ . او له رسیدو وروسته یي بیا دغه اسیران په دوه ډلو وویشل طالبانو هغه دوه کسان خوشي کړل او نور اسیران چه د دره علي د سیمي خلك و په هغه ځاي کي په ګولیو وویشتل چه د ورځي ۶-۵ بجي وي .
طالبانو د جنوري په ۸ نیټه یو تن سپین ږیري چه د وژلو ځاي ته یي پیولي و معاف کړ او د شپي له مخي یي له ځانه سره بیرته راوست او په راتلونکی ورځ کي یي خوشي کړ . هغه ځوانان چه ژوندي پاتي شوي و د څلورو ورځو لپاره په هغه ځاي کي وساتل شول او وروسته طالبانو پر هغوي د مړو شویو انسانانو اجساد راټولول چه د جنوري ۱۲ نیټه وه او د هغوي محافظت د غوربند طالبانو کاوه .

د څلورو ورځو وروسته د دره علي د سیمي د خلکو یو ګډ پلاوي سیمي ته راغي چه پکښي ۳۰ ښځي او ۱۰ سپین ږیري شامل و . هغوي د ني یك په کلي کي د حسن خان په کلي کي د مړو شویو خلکو د ډیرو جسدونو په منځ کي خپل عزیزان لټول . نوموړي وژل شوي کسان ټول د ګولیو په ذریعه د سر او ټټر په ساحه کي ویشتل شوي و او د هغوي لاسونه تر شا تړلي و . یو عیني شاهد وایي کله چه د جنوري په ۱۲ نیټه نوموړي خلك د خپلو مړو شویو عزیزانو د پیدا کولو لپاره راغلل نو دوي هلته شپږ داسي د مړو قطارونه ولیدل چه په هر قطار کي تر ۱۵ تنو پراته و . د دره علي اوسیدونکو د فکوري یو پوځي قوماندان سره چه طالبانو ته تسلیم شوي و د ني یك په کلي کي ولیدل . او نوموړي هغوي ته یوه لاري موتر ورکړ چه خپل مړي پکښي انتقال کړي او هغوي له ۶۰ څخه تر ۷۰ مړي په نوموړي موتر کي بار کړل . له هغي جملي څخه هغوي ۱۱ جسدونه د یکاولنګ په لمر ختاته کي د بازار کهنه په سیمه کي او د ني یك په یوه جومات کي تسلیم کړل . چه بیا وروسته دغه مړي د هغوي د دوستانو لخوا د حیواناتو په ذریعه کورونو ته یوړل شول چه په هلته ښخ کړاي شي .

عیني شاهدان وایي چه طالبانو د خلکو د وژنو سر بیره اسیرانو په مختلفو ډولونو شکنجه کول . یو شاهد وایي چه کله هغه د خپل پلار مړي وموند نو ولیدل چه هغه په ګولیو ویشتل شوي و خو د هغه د لاس ګوتي هم د وهلو ټکولو په تر خ کي ماتي شوي وي .
یو بل شاهد وایي چه طالبانو څرنګه د هغه ورو له کوره څخه ویست او د هغه لاسونه یي په لنګي کلك وتړل او بیا یي هغه د دره علي د سیمي له اسیرانو سره یو ځاي یووړ. کله چه هغه د خپل ورور مړي د حسن خان کلا کي پیدا کړ نو ویلیدل چه هغه د ګولیو په ذریعه ویشتل شوي و خو د نوموړي په وجود کي دا هم معلومیدل چه په برچو هم وهل شوي و .

یو تن چه د دره علي د سیمي اوسیدونکي دي وایي چه د دره علي په سیمه کي په هغو ډله ایزو وژنو او نیونو کي چه طالبانو د جنوري په ۸ نیټه تر سره کړي د نوموړ' د کورني یو غړي هم شامل و . نوموړ' وایي چه طالبانو خلك له کورونو ، د ځمکو له سر څخه نیول چه نوموړي هم پدي ډله کي و چه وروسته پیا د طالبانو لخوا عفو شوي و خو نوموړي وایي چه ټول هغه اسیران چه د دره علي نیول شوي و د ني یك کلي خواته

يوورل شول او هلته ټول ووژل شول چه عزيزانو يي د هغوي مړي په ۱۱ د جنوري په نوموړی سيمه کي وموندل او وروسته په ۱۵ د جنوري خاورته وسپارل شول .

## ژغورل شوي کسان له نوموړو پيښنو څخه

د هغو کسانو چه د اسيرانو د ډلي سره يو ځاي و او دره علي سيمي څخه يکاولنګ ته راستل شوي و او وروسته د عمر د ډير والي په سبب عفو او خوشي شوي و د هغو شاهدي زمونږ سره شته . نوموړو کسانو د هغي پيښي مفصل جريان بيان کړلو چه څرنګه طالبانو د نوموړی سيمي ځوانان د وژلو سيمي ته پوتلل .
ابوالفاضل چه دره علي په سيمه کي د خپل ځوي سره يوځاي طالبانو نيولي و او د نوموړي نمبر ۱۴۳ دي د قربانيانو په ډله کي داسي وويل چه طالبانو وروسته لدي چه دي او دده ځوي ونيول دواړه يي ډير شکنجه کړل او د توپکو په قنداقونو ، ترګو او توپك په ميل سره يي دوي ووهل او وروسته يي د نورو اسيرانو سره يو ځاي په بشو د ني يك سيمه ته پوتلل . ابوالفاضل وايي چه کله يي د نوموړي ځوي له نورو ځوانانو سره د وژلو ځاي ته پوتلل دي او ځو تنه نور سپين ږيري د طالبانو لخوا عفو شول . نوموړي وايي چه د په هغه ځاي کـه تقريبا ۸۰ تنه ليدلي دي چه د وژلو ځاي ته پيول کيدل چه وروسته د هغو له ډلي څخه ۳۰ تنه يي عفو شول او پاتي ۵۰ کسان د طالبانو په ډزو سره ووژل شول .
عوض علي يو تن بل شاهد وايي چه د طالبانو دري تنه پښتانه وسله وال د نوموړي کورته ورننوتل او دي يي ونيو او ډير وهل او ټکول يي ورکړه او نوموړي لاسونه يي شاته تړلي او بيا يي د ني يك کلي ته راوستي و چه هلته يي له نورو اسيرانو سره يو ځاي بندي کړي و خو دا چه د نوموړي عمر ډير و طالبانو هغه عفو کړ او پدي توګه له مرګ څخه خلاص شو .

خليفه د هغو اسيرانو له ډلي څخه دي چه دره علي د خلکو د پولو څخه د مخه د وژلو ځاي ته خلاص شو .
نوموړی د دره علي د سيمي د منشره د کلي ونيول شو او د ني يك په کلي کي نورو اسيرانو سره يو ځاي شو .
نوموړی وايي که چيري يي عمر د ۴۰ کلونو په حدودو کي وايي نو دي وژل کيده . خو کله چه دي يي د نورو اسيرانو سره د وژلو سيمي ته پوته يوه طالب دي د يوه بل سپين ږيري سره ازاد کړل . او وروسته نوموړي د څلور ورځو لپاره په همدغه ځاي کي پاتي شو ولي چه طالبانو نوموړي ته دنده سپارلي وه چه هغه کسان چه طالبانو وژلي و د هغوي مړي بايد په موترو کي بار کړي . نوموړي هم تايد کړه چه هغه اسيران چه د ني يك د کلي په خوا پوتلل شول شمير د ۷۰ـ۸۰ تنو پوري رسيده چه د هغوي له ډله څخه صرف ۱۵ تنه عفو شول او نور يي د طالبانو لخوا ووژل شول

د جنوري د مياشتي په ۸ نيټه محمد علي د دره علي د کنده د کلي اوسيدونکي د ارباب حسن په کلا کي د ډله ايزي وژني را روغ رمټ را خلاص شو . نوموړي د اصلي ډلي سره يو ځاي نه ونيول شوي او د بي خبري په حال کي خپل دوکان خواته روان و چه طالبانو ونيو او وروسته يي هغه ته دنده وسپارله چه نيول شوي اسيران چه د ارباب حسن خان کلا خواته پيول کيدل په موټر کي ځاي پر ځاي کړي . د نوموړوي کار د پاي ته رسولو سره طالپانو هغه په ګوليو وويشت .
اګر چه يو اسير په هغه وخت کي چه د دره علي خلك د طالبانو له خوا وويشتل شول خپل ګاونډي په وينو خيشت وليده نو ځان يي ورواچاوه چه نوموړي ته بيا څه زيان ونرسيد خو دغه پيښه نده تايد شوي .

يوه عيني شاهده د هغي پيښي شاهدي ورکوي کوم چه طالبانو د نوموړی خاوند او دوه زامن په ګوليو وويشتل .
بلي ښځي ويلي دي چه څرنګه طالبانو د هغي زوي د وژني څخه دمخه وواهه .
يوه بله ښځه وايي چه د نوموړی خاوند هغه وخت چه خپلو ځارويو ته وابنه اچول نا ببره دوه تنه طالبان کور ته ورننوتل او د هغي خاوند د هغه په لنګي سره وتاړه او وروسته يي د وژنو ځاي ته پوته . يو بل عيني شاهد وايي چه طالبانو څرنګه د نوموړی زوم ونيو او وروسته په لرګيو واهه او بيا يي د وژنو ځاي ته يوور .
يوه ښځه وايي چه څرنګه طالبانو د نوموړي خاوند او زوم ونيول او د ارباب حسن په کلا کي يي څرنګه په قمچينو ، د توپکونو په ميلونو او برچو ووهل .
يو بل تن چه خپله د مرګ نه خلاص شوي و وايي چه دوه زامن يي طالبانو ونيول او وروسته يي د وژني په ځاي کي ووژل. يوه ښځه وايي چه دري تنو پښتنو طالبانو د نوموړی خاوند د کور څخه ونيوه او د هغه لاسونه يي وتړل او له ځانه سره يي يوور چه بيا وروسته له څلورو ورځو د هغه مړي د کلي سپين ږيرو د ارباب حسن خان له کلا څخه راوړ.

یوه بل تن چه له نوموړو پېښو روغ رمټ خلاص شوي و د خپل زوي د مړي د راوړلو لپاره د ارباب حسن کلا ته تللي و او وويل چه د نوموړی د زوي لاسونه شاته تړل شوي و او څلور مرمي ويشتل شوي و .
یوه مور چه دري تنه زامن يې د طالبانو لخوا وژل شوي و داسي وايي چه ډالبانو د هغي دوه زامن او يو لمسي ونيول او وروسته يې ووژل .
يو بل شاهد ويلي دي چه د نوموړي زوي يې د كور څخه ونيوه او وروسته يې وواژه.
دري تنه وسله وال طالبان د ۱۲۲ كور ته ورننوتي و او د هغه د زوي لاسونه يې شاته تړلي و او هغه يې د وژلو ځاي ته بيولي و .
يو بل عيني شاهد وايي چه طالبان د هغوي سيمي ته د ورځي په دريو بجو ورننوتل او دري تنه ونيول او له ځانه سره يي بوتلل چه وروسته د هغوي مړي د حسن خان په كلا كي وموندل شول .

قومي يو بل ژغورل شوي وايي چه د نوموړي كاكا طالبانو ونيو او وروسته يې وواژه .
د يوي مزدوكاري ښځي ميړه چه د خپل مالك د څارويو لپاره په وښو ميده كولو بوخت و د طالبانو لخوا ونيول شو او د حسن خان كلا بيول شو چه هلته ووژل شو .
يوه ښځه وايي چه خاوند يي د دره علي له سيمي ونيول شو او د حسن خان كلا كي ووژل شو .
يوه ښځه وايي چه د نوموړی زوي طالبانو ونيوه او له ځانه سره يي بوته چه وروسته د هغه مړي وموندل شو چه په ګوليو سوري سوري شوي و .
يوه ښځه وايي چه خاوند د طالبانو لخوا ونيول شو او ډير وهل ټكول يي وركړل چه وروسته يې بيا د ارباب حسن خان په كلا كي وواژه .
يوه بله ښځۀ وايي چه د نوموړی خاوند په هغه مهال چه واښه يي ريبل د طالبانو لخوا ونيول شو او د وهلو ټكولو وروسته د حسن خان په كلا كي ووژل شو .
يوه بله ښځۀ وايي چه د نوموړی خاوند د لاري له سر څخه طالبانو ونيو او وروسته يي د دره علي له اسيرانو سره يو ځاي وواژه .
يوه تن چه ژغورل شوي دي وويل چه هغه د كشكك دكلي سيد سرور – طآلب – او سيد حسين ليدلي دي چه طالبانو د وژلو ځاي ته بيووړل .
د مړو شويو كسانو پر سر ، ټټر ، او نور ځايونه دپه مرميو ويشتل شوي وه د ځينو مړيو لاسونه شاته تړل شوي و او د ځينو يي خلاص و .
يو عيني شاهد د حسن خان په كلا كي وژني د كته خاني د كلي نڅخه چه د حسن خان د كلا په جنوب كي پروت دي ليدلي دي . هغه دا خبره تايد كه چه د جنوري په ۸ نيټه په پنځو بجو په يوه موټر كي د دره علي دسيمي اسيران د وژلو ځاي ته روستل شول .

## وژل شوي كسان

لاندني لست هغه لست دي چه په هغه كي د هغو كسانو مختصره پيپژندنه شوي چه د دره علي له سيمي اسيران نيول شوي و او وروسته بيا وژل شوي دي . او نوموړی لست د متضررينو او شاهدانو د اظهاراتو سره سمون خوري .

| مسلسل نمبر | نوم | د پلار نوم | د نيولـــو ځاي | د اسيدلو ځاي | عمر | شغل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲۲ | سيد علي ظفر | سيد حاجي علي اكبر | دره علي | بوم | ۲۷ | بزگر |
| ۱۲۴ | سيد حسن | سيد اسحاق | دره علي | بوم | ۳۰ | مـــزدور كار |
| ۱۲۳ | سيد محمد | سيد حاجي علي اكبر | دره علي | بوم | ۲۵ | بزگر |
| ۱۴۷ | شيخ محمد علي عرفاني | خـــــادم كربلايي | دره علي | ده نو | ۵۰ | |
| ۹۹ | سيد علي | سـيد كلبـي حسين | ني يك | گنبدي | ۴۷ | مزدوركار |
| ۱۳۳ | سيد احمد | سيد اسحاق | دره علي | جمك | ۴۰ | بزگر |
| ۱۳۱ | ابراهيم زوار | مراد علي | دره علي | جمك | ۳۸ | بزگر |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۵ | سید محمد | محمد حسین | دره علي | جمك | ۳۶ | بزگر |
| ۷۷ | شیر | علي داد | دره علي | جمك | ۴۵ | بزگر |
| ۱۳۲ | سید اقبال | سید محمد | دره علي | جمك | ۵۵ | بزگر |
| ۸۹ | سید سرور | حاجي سید اسحق | ني يك | كشكك | ۳۲ | دوكاندار |
| ۸۸ | سید طالب | حاجي سید اسحق | ني يك | كشكك | ۳۵ | دوكاندار |
| ۱۱۸ | ابراهیم | سخي داد | ني يك | منديك | ۱۸ | مزدور كار |
| ۱۰۹ | نادر نانباي | ابراهیم زوار نانباي | ني يك | ني يك | ۴۰ | ډوډوي پخونكي |
| ۱۴۶ | سید اسدالله اخلاقي | شاه یعقوب زوار | دره علي | قلعه پاره | ۳۰ | زده كونكي |
| ۱۴۵ | بایق نوروز | ملا سرخ | دره علي | قلعه پاره | ۵۲ | مزدور كار \ د يوي انجيو استاد |
| ۱۴۴ | سید سلطان عزیز | سید محمد حسین | دره علي | قلعه پاره | ۳۵ | كارگر |
| ۱۴۲ | عباس | حاجي غلام محمد | دره علي | شاه نهنگ | ۳۰ | بزگر |
| ۱۳۰ | حسین علي | خداداد | دره علي | شاه نهنگ | ۴۰ | دوكاندار |
| ۱۴۰ | سید جواد | سید رضا كربلايي | دره علي | شاه نهنگ | ۲۷ | بزگر |
| ۱۴۱ | حاجي محمد | حاجي غلام محمد | دره علي | شاه نهنگ | ۳۰ | ډوډي پخونكي |
| ۱۳۷ | محمد علي | جعفر | دره علي | شاه نهنگ | ۳۰ | بزگر |
| ۱۴۳ | سید محمد علي | سید عبدالفاضل شاه | دره علي | شاه نهنگ | ۲۶ | بزگر |
| ۱۳۸ | سید محمد پیمان | علي اكبر شاه | دره علي | شاه نهنگ | ۴۰ | تركاڼ |
| ۱۳۹ | رجب زوار | علي حسین | دره علي | شاهنهنگ | ۴۵ | بزگر |
| ۱۵۰ | عبدالله | احمد زوار | دره علي | قاشغوله | ۳۷ | بزگر |
| ۱۵۹ | اسدالله | غلام علي | دره علي | قاشغوله | ۲۷ | بزگر |
| ۱۵۱ | محمد حسین | داراب | دره علي | قاشغوله | ۲۲ | بزگر |
| ۱۰۸ | قربان | علي اكبر | ني يك | سر آسياب | ۲۰ | دوكاندار |
| ۱۲۹ | باقر | محمدنبي | دره علي | شاه ميرك | ۱۹ | مزدور كار |
| ۱۲۶ | محمد | محمد علي | دره علي | شاه ميرك | ۳۵ | بزگر |
| ۱۲۸ | محمد | محمد نبي | دره علي | شاه ميرك | ۳۰ | بزگر |
| ۱۲۷ | نبي | حسین | دره علي | شاه | ۴۷ | بزگر |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | بخش | | ميرك | | |
| ۱۶۰ | حسين بخش | عوض | دره علي | تي نو | ۳۰ | بزگر |
| ۱۶۲ | عباس | گـــــــردي حسين | دره علي | زهرآب | ۴۰ | بزگر |
| ۱۶۹ | عظيم | كاظم | ني يك | كته خانه | ۲۸ | مـــــزدور كار |
| ۱۴۹ | چمن | اسحق | دره علي | ديوالك | ۳۵ | دوكاندار |
| | | | | | | |
| | | | | | | |

الف(۲) د منديك په كلي كي نيوني اود ني يك په كلي كي وژني د جنوري په ۸ نيټه

طالبانو د اسيرانو نيول د منديك په كلي كي او بيا وروسته د هغوي ډله ايزه وژنه د ني يك په كلي كي پر عاړه اخيستي .
د نوموړو اسيرانو له ډلي څخه ځيني د منديك د كلي د سرك له سره او ځيني يي د گنبدي د كلي څخه چه د منديك كلي ته نږدي پروت دي نيول شوي و. نوموړوي اسيران د خراسان په هوټل كي له نورو نيول شويو اسيرانو سره چه د كته خاني له كلي څخه نيول شوي و يو ځاي كړاي شول او په هماغو شيبو كي ۱۲ تنو د منديك او گنبدي د كليو اسيران د مرگ په انتظار كي و چه وروسته طالبانو دغه ۱۲ تنه په يوه موټر كي بار كړل او د ارباب حسن خان كلا ته يووړل او هلته يي د خپلو وسله والو په ذريعه په گوليو وويشتل

## ژغورل شوي كسان

دوه تنو د نوموړو اسيران له ډله څخه چه يويي سيد طاهر۳۱۹ نمبر شاهد او بل يي احمد حسين د استاد حسين زوي له دغي ډله ايزي وژني څخه خلاصون وموند .هغوي وكولاي شول چه د سيند خواته وتښتي چه طالبانو پر دوي ډيري ډزي وكړي . د نوموړو له ډله څخه يو تن چه ۲۰۴ نمبرشاهداو د كته خاني د كلي خخه دي واي چهد گنبدي او منديك د كلي د اسيرانو وژنه نوموړي پخپلو سترگو ليدلي ده.
يو عيني شاهد ويلي د ي چه د نوموړی وراره چه د ني يك له كلي خخه د دره علي خواته روان و د لاری په اوږدو كي د طالبانولخوا ونيول شو . وروسته د نوموړی هلك كورني دهغه لټون پيل كړ او د نوموړي مړي يي د ارباب حسن خان په كلا كي پداسي حال كي وموند چه په سر او بدن كي په ډيرو گوليو ويشتل شوي و .
يو بل شاهد چه د يوه مقتول له دوه زامنو سره چه د منديك دكلي و د مړيو د ټولو او خاورته سپارلو په مقصد تللي و وويل چه نوموړی دري مړي چه د منديك د كلي اوسيدونكي و منديك د كلي د جومات په غسل خانه كي موندل او بيا يي خاورو ته وسپارل.

| مسلسل نمبر | د متضرر نوم | د پلار نوم | د وژلـــــو ځاي | د ژونـــد كولو ټته | عمر | شغل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۰ | سيد محمد عي | سيد حيدر | ني يك | گنبدي | ۳۵ | بزگر |
| ۱۱۵ | احمد ميرزاي | محمد | ني يك | منديك | ۴۵ | بزگر |
| ۱۱۹ | اكبر | موسي | ني يك | منديك | | كارگر |
| ۱۱۶ | داود | حاجي باقر | ني يك | منديك | ۲۶ | دوكاندار |
| ۱۱۴ | حكيم | قاسم | ني يك | منديك | ۳۰ | كارگر |
| ۱۱۱ | اربـــاب محمـــد علي نوري | نـــور علـــي زوار | ني يك | منديك | ۵۰ | كارگر |
| ۱۲۰ | رضا | دولت زوار | ني يك | منديك | ۱۷ | كارگر |
| ۱۰۲ | سيد اكبر | سيد رضا | ني يك | منديك | ۳۴ | بزگر |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱۲ | یاسین | اربــــــاب محمد علـي نوري | ني يك | منديك | | |

الف(۳) هغه اسيران چه د كته خاني د كلي په جومات كي د جنوري په ۷ نيټه ونيول شول او د جنوري په ۸ نيټه د ني يك په كلي كي د طالبانو لخوا ووژل شول

هغه ډله ايزه وژنه چه د كته خاني د كلي خلكو د نوموړي كلي جومات ته پناه وړي و او هلته د طالبانو لخوا ونيول شول او بيا وروسته ووژل شول په يكاولنګ كي د طالبانو لخوا د ډيرو لويو وژنو په ډله كي راځي ځكه چه نوموړي اسيران د جنوري په ۷ نيټه ونيول شول او هغوي يي يوه شپه وساتل او بيا يي د جنوري په ۸ نيټه ووژل.
د پيښي په اړه نور معلومات د Aلخوا وړاندي شوي دي چه نوموړي له دغو ډله ايزو وژنو څخه ژغورل شويدي نوموړي وايي چه:
د جنوري په ۷ مازديګر د متحدي جبهي ځواكونه د يكاولنګ څخه په شا ولاړل او ۲۵ تنه خپل سرتيري د محافظت لپاره د كته خاني په كلي كي پريښودل . نوموړو سرتيرو د همدي ورځي تر ماښام پوري د ډزو كولو په حال كي په نوموړي كلي كه پاتي و چه د همدغو ډزو له عمله طالبان پوه شول چه په نوموړي كلي كي د دښمن ځواكونه شته او دا چه د ني يك د كلي مركز طالبانو نيولي و نو دي خواته يي هم پام شو .
د نوموړو پيښو له عمله د كلي خلك كه نارينه و او كه ښځينه ټول د يوه مصون ځاي د لټون په فكر كي شول . ځيني كوچنيان ،ښځي او نارينه چه شميره يي ۲۳ تنه رسيده د كته خاني د كلي جامع جومات ته راغلل او ځانونه يي هلته خوندي كړل .
د ورځي له دري بجو وروسته د طالبان يو ګروپ چه د متحدي جبهي د سرتيرو د لټون په حال كي و د كته خاني جومات ته ننوتل چه د هغوي په ډله كي ۷ تنه ډير په قار او خطرناكه وه . هغوي امر وكړ چه ټول نارينه دي له جومات څخه ووځي . هغوي ښځي او كوچنيان ووهل . طالبانو نارينه و ته وويل چه په يوه لين كي ودريږي چه هغوي يي په ګوليو وولي خو وروسته يي دا كار ونكړ . نوموړو طالبانود هغو خلكو قيمتي څيزونه او پيسي ځيني واخيستي او هغه خلك يي ولټول . او بيا ټول هغه نارينه چه په لين درولي و له ځانه سره يوتلل نوموړي خلك يي د عرفاني د كتابتون چه د اكسفام دفتر ته خوا كي پورت دي ورسول او نورو طالبانو ته يي تسليم كړل . نوموړٍ اسيران د جنوري د مياشتي په ۷ نيټه د مازديګر په پنځو بجو هلته ورسيدل او د يوي لنډي وقفي نه ورسته د خراسان هوتل ته يوتلل شو.
طالبانو د كته خاني د كلي اوسيدونكي د ۱۵ ساعتونو په مخ په خراسان هوتل كي وساتل او هغو ۷ تنو طالبانو چه پر هغوي پيره كوله پښتانه طالبان و خو هلته يوه بله ډله طالبان چه په يوه بله ژبه يي اسيرانو ته ښكنځل كولي موجود و چه ويلاي شم چه عربان و چه هر شيبه هوتل ته راتلل او اسيران وهل ټكول.

د جنوري په ۸ نيټه د سهار په اته نيموبجو طالبانو ۲۳ تنه د كته خاني د كلي اسيرانو او ۱۲ تنه د منديك د كلي اسيرانو ته امر وكړ چه په يوه ولاړ ترپالي موټر كي پورته شي او وروسته دغه موټر د حسن خان كلا ته ولاړ. طالبانو هلته نوموړٍ اسيران له موټر څخه كوز كړل او په دو ګروپونو يي تقسيم كړل او وروسته يي دواړه ګروپونه د يوه پاڼ خواته يوتلل خو د نوموړو اسيرانو لاسونه يي نه وتړلي تر وروستيو شيبو اسيران نه و پوه چه هغوي وژني . څلور تنو پيره دارانو ۱۸ تنه اسيران له ځانه سره پاڼ ته ورښكته كړل او ګمان كيږي چه نور اسيران هم په همدي ډول او د محلي طالبانو يوه ډله چه پښتانه و او په پيكا او دري كلاشنيكوفونوسره سمبال و پر اسيرانو ډزي وكړي تر هغه پوري چه اسيران پر ځمكه ولويدل او داسي په ډاګه شوه چه ټول مړه شوي دي . د نوموړی ډلي څخه يوه طالب د وژل شويو كسانو پر سر وګرځيد او د هغوي تفتيش وكړ او په پښتو ژبه يي وويل چه دا هزارګان ټول كافران دي او وروسته په موټر كي سپاره شول او ولاړل.

يوه عيني شاهد وويل چه د اسيرانو په ډله كي د وژلو څخه مخكي فقی د ۱۳ تنو لاسونه شاته نه و تړل شوي او د نورو ټولو لاسونه تړل شوي وه اووژل شول . د نوموړو وژنو امر يوه سړي چه جګ قد يي درلود او سپينه لنګي پر سر وه وركړ .

ابراهيم د ځمكي پر سر حان د مړو شويو كسانو پخ منځ كي اچولي و او وروسته يي د انور غږ واوريده چه ويل يي وګوره چه نور څوك ژوندي ندي او وروسته دواړو له سيمي څخه تيښته وكړه.

يوه شاهد چه د بيد مشکين د کلي په غونډي کي پټ و په ښه توگه يې له هغه ځايه څخه د وژلو ځاي د حسن خان په کلا کي ليدلو . هغه دا ليدلي و چه يو لويه لاري د اسيرانو څخه ډکه وه او سيمه ته راغله او وروسته طلبانو اسيرانو د لاري څخه راکوز کړل او په صفونو کي ودرول او په گوليو يې وويشتل . همدغه موټر وروسته د ني يك خواته ولاړل او وروسته له يوه ساعته يې د هغو مړو شويو چه طالبانو په ني يك کي وژلي و مړي دغي سيمي ته راوړل( د هغو کسانو مړي چه په هماغه ورځ سهار طالبانو له کته خاني او منديك کليو څخه نيولي و او بيا يې وژلي و ).

يو عيني شاهد چه د وژلو څخه معاف شوي و او د مړيو د ټولو لپاره د ارباب حسن خان کلا پيول شوي و واي چه د حويلي په داخل کي د مړيو د شميري څخه برعلاوه د حويلي څخه باندي هم د ۳۰ تنو جسدونه پراته و لکه څرنگه چه پورته وويل شول دغه جسدونه د منديك او کته خاني د کليو د اسيرانو و چه طالبانو وروسته له وژلو هلته پريښي و .

## د پيښي څخه ژغورل شوي کسان

هغه دوه تنه چه د وژني د ځاي څخه ژوندي خلص شوي دي :

۲۰۴ شاهد چه د کته خاني د کلي و خلور مرمي خوړلي وي او ټپي شوي و خو کولاي شول چه په لاره ولاړ شي . يو تن د منديك د کلي اوسيدونکي هيڅ ټپي شوي هم نه وه او دواړو دغه کسان د مړيو تر منځ پراته و او وروسته له دغه ځايه وتښتيدل او په سيمه کي د يوي غونډي شاته پټ شول .

۲۰۵ نمبر شاهد سيد د سيد E زوي د کته خاني د کلي اوسيدونکي د اسيرانو په ډله کي و خو د ډير عمر د درلودو په خاطر طالبانو عفو کړ نوموړي دا ليدلي و چه د نوموړو اسيرانود وژني فرمان د ملا شهزاده له خوا ورکړ شوي و .

## قومانده او کنترول

ټول اسيران يو ځل بيا د قوماندي مرکز ته راوړل شول . يو عيني شاهد ۲۰۴ ليدو و چه طالبان ټول خپلي مرکزي قرار گاه ته داخل شول او وروسته په يوه مخابري پيغام که ورته وويل شول چه هغوي به ټول اسيران له ځانه سره وساتي او بيا يې ټول اسيران په يوه هوټل کي بنديان کړل خو د هغي دمخه يې د ۱۵ ساعتونو لپاره ټول اسيران د خپلي قرار گاه خواته وساتل . وروسته نور اسيران هم دغه ځاي ته راوړل کيدل چه د طالبانو د قرار گاه نږدي کليو څخه را ټول شوي و . په نوموړي وخت کي د ني يك مرکز کاملا د طالبان لاس کي و او په کامله توگه ارام و .او طالبان خپل منځ کي قوي مخابروي تکاس درلوده .

دکته خاني دپيښي څخه ژغورل شويو اسيرانو وويل چه د نوموړو د لنډ مهاله اوسيدو په وخت کي د ني يك په کلي کي د کله چه هغوي د زړي ولسوالي په تعمير کي و د سهار په ۸ بجو يې وليدل چه هليکوپترونه راتلل او له هغو خخه طالبان د تورو او سپينو لنگيو سره را کوزيدل . يو طالب د سيدعبدالرحمن په نامه چه ملا ستار معرفي کړي و سيمي ته راغي او د اسيرانو د نوموړي سره د اسيران د وژل کيدو په برخه کي ورسره خبري وکړي او کله چه هغه د ملا شهزاده سره پدي هکله خبري وکړي نو هغه خلکو ته اجازه ورکړه چه د اسيرانو مړي له نوموړی سيمي څخه يوسي . او ملا شهزاده پدي هکله يو مکتوب هم ورکړ . د طالبانو پيره دارانو په هغه سيمه کي دا خبره تايد کړي ده چه هغه څوك چه په کتابتون کي ناست و مل شهزاده د هغوي عمومي قوماندان و . د حسن خان په کلا کي د هغه دوو ځاينو عکسونه موجود دي چه په هغوي ځايو کي ډله ايزي وژني تر سره شوي وي . چه په نوموړي ځاي کي په گوليو ويشتل شوي او سوري سوري شوي کالي ، خولي ، بوټونه په دواړو ځايونو کي عکاسي شوي دي . د شاهدانو په وينا چه په نوموړي کي ډير د گوليو پوچکونه او شاجورونه هم لاس ته راغلي دي . چه د هغو لاس راغلو څيزونه په دقيقه توگه معلوم شوي دي .

| گڼه | نوم | د پلار نوم | د قتـــــل ځاي | د ژونـــد کولـــــو ځاي | عمر | شغل |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۷۰ | سيد موسي | شـــاه غـــلام حسين | ني يك | آخندان | ۴۵ | بزگر |
| ۵۲ | سيد داود | سيد اسحاق | ني يك | بيـــــــد | ۵۰ | جوالي |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | مشكين | | |
| ۵۰ | سيد حسن | سيد حسين شهيد | ني يك | بيد مشكين | ۴۰ | جوالي |
| ۱۵۳ | احمد زوار | حسن زوار | ني يك | كته خانه | | مزدوركار |
| ۳۴ | سيد علي خرم | سيد احمد حسين | ني يك | كته خانه | ۱۷ | زده كونكي |
| ۶۶ | سيد امير زوار | سيد ميرزا حسين پهلوان | ني يك | كته خانه | ۲۳ | مزدور كار |
| ۳۷ | سيد ايوب | شاه محمد حسين | ني يك | كته خانه | ۷۸ | جوالي |
| ۱۵۷ | بينوا | غلام علي | ني يك | كته خانه | | مزدور كار |
| ۶۳ | سيد عوض | سيد محمد | ني يك | كته خانه | ۴۷ | استاد |
| ۱۵۲ | عوض علي | غلام محمد | ني يك | كته خانه | ۴۵ | بزگر |
| ۱۵۴ | اسحاق | غلام علي | ني يك | كته خانه | | مزدور كار |
| ۱۵۶ | محمد علي | محمد اسحاق | ني يك | كته خانه | | مزدور كار |
| ۳۸ | سيد ناصر | شاه محمد حسين | ني يك | كته خانه | ۴۵ | مزدور كار |
| ۱۵۵ | تقي زوار | محمد علي | ني يك | كته خانه | | مزدور كار |

الف (۴) د خلكو هغه يوه ډله چه د كته خاني د كلي د ارباب حسن خان په كلا كي طالبانو ته د تسايميدو په موخه راټول شوي و د جنوري په ۸ نيټه د ني يك په كلي كه د طالبانو لخوا په ډله ايزه توګه ووژل شول .

د هغو خلكو چه د كته خاني له كلي څخه را ټول شوي و او غوښتل يي چه طالبانو ته ور تسليم شي طالبانو لخوا د اكسفام موسسي ته نږدي ټول ووژل شول چه نوموړي پيښه په يكاولنګ كي د ډله ايزو وژنو لويه پيښه بلل كيږي . نوموړي پيښه د سيمي خلكو ته ډيره جالبه پيښه وه ولي چه ارباب احمد هغه سړي و چه هميشه د طالبانو او مخالفينو تر د سولي په خبرو كي يي فعاله ونډه درلوده او نوموړي په سيمه كي د سولي په راوستو كي ډير لوي اهميت درلود . يو ځل ارباب د استازي په توګه د صوفي ګرديزي لخوا د حزب وحدت خليلي قوماندانانو ته ورليږل چه هغوي د سولي لاري ته تشويق كړي چه په يكاولنګ باندي بريد ونكړي . خو طالبانو كله چه نوموړي سيمي كي د ارباب احمد طرفداران ونيول د هغوي په منځ كي د نوموړي دوه زامن هم شامل و چه د نورو اسيرانو سره يو ځاي ووژل شول چه دا سيمي خلكو ته يو ګواښ و چه طالبان په هيچا رحم نكوي حتي په هغو خلكو چه له دوي سره يي مرسته هم كړي وي .
د جنوري په ۸ د سهار په اته نيمو بجو ۲۰۵ نمبرشاهد له نورو مخورو او سپين ږيرو سره چه شمير يي ۱۹ تنو ته رسيده د ارباب احمد په كوركي په يوه غونډه كي ناست و . كله چه هغوي واوريدل چه طالبان سيمي را ننوتل نو سپين بيرغون يي پورته كړل او د طالبانو په لور د تسليميدو په منظور روان شول . چه د طالبانو د يوه ۷ نفري ګروپ سره مخامخ شول . هغو كسانو چه غوښتل طالبانو ته تسليم شي د طالبانو له خوا د هغوي ټولو لاسونه وتړل شول او په وهلو ټكولو يي پيل وشو . له دي پيښي څخه دمخه طالبان يو پلار او زوي هم نيولي و . شاهدان داخبره تايد كړي چه طالبانو خلك چه ډير يي سپين ږيري و په څاپيرو ، لګدو او نورو ځيزونو وهل . د وهلو ټكولو په لومړي پړاو كي يو طالب د لنګي په ذريعه چه سپين رنګ درلود سيد انور د نوموړي د پلار په مخ كي وتاړه او شپږ تنو هغه واهه او وسله يي ترينه غوښته ولي هغه وسله ندرلوده وروسته نوموړي مړ كړ او بيا يي د نوموړي مړي په لګدو واهه .

طالبانو پنځه تنه اسيران چه سپين ږيري و خوشي كړل او نور ټول اسيران يي د ني يك مركز ته وليږل . هلته يي لس تنه د نوموړو اسيرانو له ډلي څخه د اكسفام دفتر شاته لين ودرول او وي وژل. د اسيرانو له ډلي هغو

کسانو چه عمر له ۶۰ کلونو ځخه ډیر و خوشي شول او او هغو کسانو چه عمر د ۵۰-۴۰ کلونو ځخه ټیټ و ټول ووژل شول .

## قومانده او کنترول

د نوموړو عملیاتو سرته رسول او د هغو په ترڅ کي د وګړو نیول ، هغوي مرکزي قرار ګاه ته بیول، بندیانول او په پاي کي وژل د منظم پلان له مخي تر سره شوي دي . ولي چه نوموړي وژنـي د قوماندان د ناستي ځـاي خواکي تر سره شوي او له هغه ځایه طالبانو ته ویل شویدي چه زاړه او سپینږیري ټول د اسیرانو لـه ډلـي ځخـه وباسي . یوه ورځ وروسته چه نوموړي سپین ږیري ازاد شول طالبـانو هغوي تـه امر وکړ چـه د خپلو وژل شویو دوستانو مړي ټول کړي . خلکو پدي اړه دیوه سند غوښتنه وکړه او بیا د قوماندان لخوا ورتـه مکتوب ورکړل شو چه خپل مړي کورونو تـه یوسي . یوه پیره دار نوموړي مکتوب سپین ږیرو تـه را وړ چـه د ملا شهزاده د عملیاتود عمومي قوماندان امضا پکښي شوي وه .نوموړي وژنو پـه واضـح توګه وښوده چه ځرنګه هغه له پخوا پلان شوي وي او د عمومي قوماندان ملا شهزاده لخوا اداره کیدلي ولـي چه نوموړي پـه سند کـي امضا کړي وه .

مستنطقینو وکولاي شول چه له هغي سیمي ځخه کتنه وکړي چه شاهدانو د وژنو د ځـایونو پـه ډول ښودلي و او په نوموړوي ځاي کي هغوي د انسانانو د جامو ، خولي او د مرمیو پوچکونه له خالي شاژورنو سره پیدا کړل . د نوموړي ځاي او د هغو موجودو علایم عکسونه اخیستل شوي دي او زمونږ سره موجود دي .

د وژل شویو کسانو لنډه پیژندنه

| ګڼه | نوم | د پلارنوم | د وژلـو ځاي | د اوسـیدلو ځاي | عمر | شغل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸۴ | سید حاجي محمد | سید محمد | ني یك | بید مشکین | ۵۰ | استاد |
| ۵۶ | سید عبدالرحیم | سـید میـرزا حسین | ني یك | کته خانه | ۴۶ | بزګر |
| ۴۹ | سید اکبر | سـید حـسین شهید | ني یك | بید مشکین | ۳۵ | جوالي |
| ۵۱ | سید انور | سـید حـسین شهید | ني یك | بید مشکین | ۲۰ | جوالي |
| ۶۲ | سید اسماعیل | سید احمد | ني یك | کته خانه | ۴۵ | بزګر |
| ۶۱ | سید سرور | سـید محمـد امیر | ني یك | کته خانه | ۲۷ | مزدورکار |
| ۶۵ | سید اسدالله | سید عطا | ني یك | کته خانه | ۴۳ | د موسسي کارکونکي |
| ۴۳ | سید حبیب | سـید احمـد ارباب | ني یك | کته خانه | ۳۳ | استاد |
| ۵۷ | سید هاشم | سـید محمـد بخش | ني یك | کته خانه | ۵۵ | بزګر |
| ۴۲ | سید ابراهیم | سـید حـسین ارباب | ني یك | کته خانه | ۳۷ | مـــزدور کار |
| ۳۹ | سید موسي | شاه حیدر | ني یك | کته خانه | ۵۰ | بزګر |
| ۶۸ | سید نبي | سـید محمـد حسن | ني یك | کته خانه | ۴۵ | بزګر |
| ۹۴ | سید داود | سید کاظم | ني یك | کشکك | ۳۰ | مزدورکار |
| ۴۵ | سید قاسم طبیبي | سید حسن | ني یك | کته خانه | ۴۵ | داکتر |
| | | | | | | |

الف(۵) د جنوري په ۸ نیته د بید مشکین د کلي د سپین ږیرو نیول او وژنه

د جنوري په ۸ نیټه د بید مشکین د کلي د سپین ږیرو وژنه د اکسفام دفتر شاته په یکاولنګ کي یوه لویه پیښه شمیر ل کیږي . نوموړي کسان د ډله ایزو وژنو په دریم دور کي ووژل شول . دا وژنیپ هغو وژنو ته ورته وي چه د ارباب حسن خان په کلا کي واقع شوي وي ولي چه دغو خلکو هم داسي فکر کاوه چه د سیاسي حالاتو سره سم باید ځانونه عیار کړي او غوښتل یي چه طالبانو ته بیعت وکړي .
یو شاهد وایي چه د جنوري په ۸ د سهار په اته نیمو بجود بید مشکین د کلي ۹ تنه سپین ږیري سره راټول شول او غوښتل یي چه طالبانو ته تسلیم شي هغوي د ني یك د مرکز خواته ولاړل ز د لاري په اوږدو کي هغوي د ډزو غږونه واوریدل چه په کته خاني کي تر سره کیدل خو دوي راونګرځیدل . کانکریتي پله سره چه د ني یك د مرکز نه ۵۰۰ متره واټن لري د هغوي مخي ته څو تنه طالبان ورغلل او هغوي په مرګ تهدید کړل . کله چه هغوي د ني یك مرکز ته داخل شول . هلته یي ولیدل چه د کته خاني د کلي احمد ارباب د پنځو تنو نورو سره چه طالبانو ته د تسلیمي لپاره راغلي و لاس تړلي په لڅو پښو د واورو پر سر ولاړ دي . احمد ارباب هغو څوك و چه خلکو له هغه څخه د طالبانو سره د روغي جوړي هیله درلوده چه خلکو ته دا زمینه برابره کړي چه طالبانو ته تسلیم شي خو دا ډول د هغوي تړل او په واورو کي درول ټولو ته ډیر وحشتناك و .
د زړي ولسوالي په انګړ کي یوي طالبانو چه پاکستانیان و د بید مشکین خلك ونیول او نوموړي ګروپ هغوي د اکسفام موسسي ته بوتلل . یو عیني شاهد چه د ني یك په مرکز کي یي مړي شمیرلي دي وایي چه په نوموړي مرکز کي د پاکستانیانو یو شپږ کسیزه ګروپ موجود و چه اسیران یي په ګروپونو ویشل او نوموړي قومانده له مرکز څخه تر لاسه کوله . هغوي سپین ګیري جلا کول او د خراسان هوتل ته بیول او ځوانان یید اکسفام موسسي کي ساتل . د لاري په اوږدو کي چه سپین ږیري د خراسان هوتل خواته روان و د ډزو غږونه یي تر غوږو شوي و . چه وروسته له نیم ساعته طالبانو نوموړي سپین ږیري د اکسفام مرکز ته وغوښتل کله چه هغوي هلته ورسیدل ویلیدل چه د نوموړو د عزیزانو او دوستانو مړي پراته و . او طالبانو هغوي ته وویل چه د موتر په راتګ سره ټول مړي په موتر کي بار کړي او هغوي نوموړي مړي په موتر کي بار کړل او له هغي څخه مخکي چه هوتل ته ولاړ شي مړي یي د حسن خان په کلا کي ښکته کړل . په هوتل کي ۸۰ تنه د مندیك ، ګنبي او د نور کلیو خلك پراته و او یوه طالب چه پښتون و خو په دري ژبه یي خبري کولي نوموړي بندیان د جنوري په ۲۰ نیټه ازا د کړل . او خلکو ته یي وویل چه عمومي قوماندان تاسي عفو کړي او خداي تاسو ته دوباره ژوند درکړ .

یو عیني شاهد چه د عفو شویو کسانو په ډله کي و په دي خبره تاکید کړي چه طالبانو هغوي د مړیو د ټولو په حال کي وهلي ټکولي دي . نوموړي دا هم وویل چه د هغوي د ازادي امر د طالبان مشر یا عمومي قوماندان ملا شهزاده ورکړي و . د نوموړي پیښي له ځاي څخه داسي عکسونه اخیستل شوي دي چه په هغو کي د وینو ځاینونه چه توي شوي ، د وژل شویو خولي ګاني او تش شاژورونه لیدل کیږي او زمونږ سره موجود دي . او له هغه ځایه شاژورونه او خولي ګاني هم را ټولي شوي دي .

د وژل شویو کسانو پیژندنه

| ګڼه | نوم | د پلار نوم | د وژلو ځاي | د اوسیدولو ځاي | عمر | شغل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | سیداکبر | سید محمد علي | ني یك | بید مشکین | ۴۵ | بزګر |
| ۹ | سید اکبر اکبري | سید اکبري | ني یك | بید مشکین | ۵۵ | استاد |
| ۱۶۸ | سید علي | سید قاسم | ني یك | بید مشکین | ۳۰ | درایور |
| ۲۳ | سید علي حسین | سید محمد بخش | ني یك | بید مشکین | ۳۳ | مزدورکار |
| ۱۵ | سید امین | سید حسن | ني یك | بید مشکین | ۳۰ | بزګر |
| ۲۱ | سید امین | سید شاه خاني | ني یك | بید مشکین | ۴۰ | بزګر |
| ۲۸ | سید عوض | سید نور | ني یك | بید مشکین | ۳۷ | مزدورکار |
| ۵۳ | سید عوض | سید شاه انور | ني یك | بید مشکین | ۴۵ | استاد |
| ۱۷ | سید محمد | سید سکندر | ني یك | بید مشکین | ۴۵ | بزګر |
| ۳ | سید محسن | سید شمعون | ني یك | بید مشکین | ۴۰ | حلبي جوړونکي |
| ۴ | سید قاسم | سید علي | ني یك | بید مشکین | ۵۵ | رسمي |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | جان | | | | کارکونکي |
| ۱۰ | سید صفدر | سید عسکر | ني يك | بید مشکین | ۴۸ | بزگر |
| ۱۴ | سید شاه ظفر | سید شاه عوض | ني يك | بید مشکین | ۴۷ | بزگر |
| ۱۰۵ | سید محمد تسلي | سید اسماعیل | ني يك | سر آسیاب | ۴۵ | د انجیو کارکونکي |

## الف (۶) د جنوري په ۸ نیټه د بید مشکین په کلي کي کورپه کور تلاشي او د خلکو نیول او وروسته بیا د نوموړو خلکو ډله ایزه وژنه د ني يك په کلي کي

د بید مشکین کلي د جنوري په ۸ نیټه د ډیرو سختو نیونو او ستونزو لاندي راغي. داسي معلومیږي چه اسیران په نوموړي کلي کي په انفرادي ډول د تلاشیو په ترڅ کي نیول شوي و لکه چه د دره علي په کلي کي بیش شوي و . اګر چه نوموړي قربانیان د ولسوالي په مرکز کي ووژل شول . هغه کسان چه د تلاشي په وخت کي د شپي له مخي نیول شوي و د یوه ګروپ نه پرته نور ټول د قرغان په څلور لاري که اعدام شول او دا یوه جلا پیښه بلل کیږي .
در جنوري تر ۸ نیټي پوري دبید مشکین کلي د مهاجرینو لپاره د امن ځاي و ځکه چه نوموړي کلي د ني کي څخه لږ لري پورت و . او په همدي و رځ باتي کسان ټول د کلي په پټ ځایو نو کي خوندي شوي و . د مثال په ډول ۲۱۶ شاهد ګذارش ورکړي چه د نوموړی زامن د وښو لاندي پټ و خو طالبانو هغوي وموندل او د ني يك مرکز ته یي انتقال کړل . د ۲۱۳ نمبر شاهد په وینا چه د ورٰځي په دوو بجو د طالبانو دوه داتسون موتر د بید مشکین کلي ته راننوتل او ټول هغه خلك چه ددوي مخي ته ورغلل ، هغه یي ټول کړل او ځیني نارینه یي دکورنو خخه ویستل او د ني يك مرکز ته یي واستول.
یو شاهد وویل چه هغه وخت چه طالبانو د کلي څخه نارینه ټول او له ځانه سره پوتلل بیا نو هغوي هغه کسان ونه لیدل چه څه شول . خو وروسته سپین ږیري او ښځي د مړیو د راوړلو لپاره د ني يك کلي ته ولاړل . او هغه کسان چه هلته د طالبانو لخوا وژل شوي و ټول په سر او وچپیلي کي په ګولیو ویشتل شوي و . او تنه چه یویي دوکاندار او بل یي استاد و له نوموړي پیښي څخه را خلاص شوي و .
نوموړي دوکاندار ویلي دي چه تقریبا ۲۵ کسان له د سره نیول شوي و او د یو ګروپ طالبانو لخوا چه باندني طالبان هم پکښي و د ني يك مرکز ته پول شوي و او نوموړو طالبانو دري داتسون موتر درلودل او هغه وایي چه کله هغه طالبانو ته وویل چه دوکاندار دي نو طالبانو خوشي کړ ( خو نوموړي ته یي ویلي و که چیري هغه دروغ ویلي یي نو دوي به یي دیرش مرمي وولي )
وروسته طالبانو نوموړي اسیران د وژلو ځاي ته د اکسفام موسسي ته یووړل .
یو بل شاهد وایي چه کله طالبانو د بید مشکین په کلي برید وکړ او د کورونو لټون یي پیل کړ نو دي یي ونیو او له هغه څخه یي وسله غوښته ، نوموړي وایي چه د طالبانو سره د خبرو په حال کي وم چه یوه بل طالب پر ما ډزي وکړي او زه یي ټپي کړم . او بیا په دري تنو نور کسانو چه هغو یي اسیران نیولي و ډزي وکړي او هغوي یي ووژل . طالپانو نوموړي د ورځي تر ۴ بجو پوري ځان سره وساته او وروسته یي د ني يك مرکز ته ولیږه . اوهلته د راز محمد د اکبر خواجه مرد د زوي په ضمانت چه له طالبانو سره یي همکاري درلوده ازاد شو .

د بید مشکین د کلي د اسیرانو او وژل شویو کسان شهرت

| ګڼه | نوم | د پلار نوم | د قتل ځاي | د اوسیدو ځاي | عمر | شغل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | سید عبدالله | سید جهانګیر | ني يك | بید مشکین | ۲۵ | مزدورکار |
| ۲۶ | سید احمد شاه | سید جهانګیر | ني يك | بید مشکین | ۳۰ | مزدورکار |
| ۲۹ | سید امیر زوار | سید عبدالحسن | ني يك | بید مشکین | ۴۵ | مزدورکار |
| ۲۲ | سید جواد | سید خدا بخش | ني يك | بید مشکین | ۲۵ | مزدورکار |
| ۳۱ | سید خادم | سید شاه میرزا | ني يك | بید مشکین | ۳۰ | مزدورکار |
| ۱۱ | سید مهر علي | سید صفر | ني يك | بید مشکین | ۱۹ | بزگر |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | سید رضا | سید عبدالحسن | ني يك | بید مشکین | ۲۵ | مزدورکار |

## الف(۷) د جنوري په ۸ نیټه د بید مشکین د کلي د خلکو نیول او د هغوي ډله ایزه وژنه د سرك پر سر

د یوي سختي تلاشي په ترڅ کي چه طالبانو د بید مشکین په کلي کي تر سره کړه ډیر د کلي خلك یې ونیول او د جنوري په ۸ نیټه دغو طالبانو په هغو عامه وګړو ډزي وکړي چه د یکاولنګ خواته روان و او وي وژل . دا بیښه هغه وخت منځ ته راغله چه طالبان خپل کار خلاص کړي و او د خپلي قرار ګاه خواته روان و او دا در ك نشته چه له نوموړی ډله ایزي وژني څخه به څوك ژوندي پاتي وي .

د جنوري په ۸ نیټه د غرمي په ۱۲ بجو طالبان د بید مشکین کلي ته ورننوتل او د کورونو په تلاشي یې پیل وکړ یو عیني شاهد وایي چه نوموړي په کور کي و چه طالبان کور ته ورننوتل او د نوموړی زوي وتاړه او له ځانه سره یې بوتله دغو طالبانو ۲۱۱ شاهد هم سره له نورو پنځو کسانو نیولي و. په لومړي سر کي یې هغوي له ۱۲ بجو څخه تر ۲ بجو پوري په یوه غوجل کي بندیان کړي و او وروسته یې د ۲ بجو څخه تر ۴ بجو پوري لوڅي بښي د یوه بام پر سر درولي و . طالبانو ځیني خلك د قرغان له لاري څخه هم نیولي و ( د زارین څخه د چمن خواته لار چه د یکاولنګله پاي څخه تیریږي ) او هغوي یې په کتار درولي و او په ګولیو یې ویشتلي و او وروسته له هغه څخه خپلو موټرو کي سپاره شول او د ني يك خواته ولاړل. د یوه کس چه څو ګولي یې په ټتر او پښو لګیدلي وي او د خلکو لخوا کور ته راوړل شو یوه ورځ وروسته نوموړي هغي څلور لاري ته ولاړ او د خپل زوي مړي یې پداسي حال کي وموند چه په ګولیو سوري سوري شوي و .
سید باقر چه د نوموړی پیښي څخه ژوندي بچ شوي دي واي چه کله د قرغان په څلور لاري کي طالبانو په خلکو ډزي وکړي نوموړي ځان د مړو شویو کسان په منځ کي پټ کړي و تر هغو چه طالبان له نوموړي ځاي څخه ولاړل.

| ګڼه | نوم | د پلار نوم | د قتـــل ځاي | د اوســـیدو ځاي | عمر | شغل |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷۲ | سید یعقوب | سید اسماعیل | نـــي یــك ته نږدي | آخندان | ۳۰ | بزګر |
| ۱۳ | سید عبدل | شاه ظفر | نـــي یــك ته نږدي | بید مشکین | ۲۵ | مزدورکار |
| ۱ | سید محمد | سید علي تبر | نـــي یــك ته نږدي | بید مشکین | ۳۵ | بزګر |

## ۷،۷په یکاولنګ کي تر سره شوي جنایات او پي سببه وراني د ۲۰۰۱ کال د فبروي څخه تر سپتمبر پوري

د غیر پوځي خلکو پر ضد لاندي تجاوزات او تیري د جګړي په نهه میاشتني دوري کي د اسلامي امارت او د متحدي جبهه د پوځیانو لخوا تر سره شویدي . دو دواړو خوا د جنګیالو تر منځ جګړي په مخامخ ډول لږ او کم دوامه وي . په نوموړي وخت کي د طالبانو دري لوي بریدونه په سیمه کي تر سره شول چه په مقابل کي د متحدي جبههي پوځیانو هم ځیني بریدونه د آسونو څخه په استفادي تر سره کړي دي . په نوموړو بریدونو کي طالبانو وکولاي شول چه هغه دري سیمي چه ډیري مهمي وي د متحدي جبهي څخه ونیسي او د متحدي جبهي ځواکونه په شا وتمبوي او د خلکو نه ډکي سیمي تر خپلي ولکي لاندي راولي . د جګړو په ترڅ کي طالبانو ونشوکولاي چه د مخالفینو وسله وال ونیسي خو په مقابل کي ډیر غیر پو ځي خلك اسیران کړل . د متحدي جبهي ځواکونو نوي ستراتیژي غوره کړه او د خلکو د هستوګني سیمي یي ډیر ژر خوشي کولي او خلك یې د طالبانو د ظلم په مقابل کي یواځي پریښودل . طالپانو هم د خپلو ټولو بریدونو په ترڅ کي د غیر پوځي خلکو په مقابل کي ډیره ناوړه رویه پر مخ پیوله . چه د ۲۰۰۱ کال د یکاولنګ په سیمه کي د غیر پوځي خلکو هغه ډله ایزي وژني چه د طالبانو لخوا تر سره شوي د هغوي دغه شوم نیت ثابت کړ او داسي وښوده چه طالبان پدي قسم سره خلکو ته سزا ورکوي. پورتنیو پیښو وښودل چه طالبانو ډیري ډله ایزي وژني وکړي چه دپه

يكاولنګ كي د عامه خلكو ډله ايزي وژني ددي موضوع يو لوي ثبوت دي.د عامه وژنو څخه سر بيره طالبانو د ملا داد الله تر قوماندي لاندي د جنوري په مياشت كه د خلكو كورنو او داريي ته هم اور واچاوه .
د نوموړو پيښو تكرار او په غير پو ځي خلكو باندي بريدون دا په ډاګه كوي چه د طالبانو دا يوه ستراتيژي وه چه د نوموړو د قوماندانو له خوا تر سره كيده چه په هغوړ كي د طالبانو ټولو لوړ پوړو قوماندانانو لاس درلود .

## جګړه

په يكاولنك كي د لومړی ډله ايزي وژني څخه وروسته طالبانو ډيره هڅه وكړه چه د خلكو اعتماد جلب كړي او هغوي له مخالفت څخه تير باسي . د متحدي جبهي د ځواكونو له شاتګ څخه د جنوري په ۷ نيټه وروسته طالبانو د يكاولنګ په ولسوالي كي د شيعه د يوي ډلي دوستاچه د بهسودو د سيمي وي په نامه غړي او د ځايي پښتنو ډلي د ملا عبدالستار په مشري په سيمه كي ځاي پر ځاي كړي . همداراز هغوي هغه شيعه مشران چه له طلبانو سره يي اړيكي درلودي لكه استاد اكبري ، استاد فكوري او حاجي سيد عارف هم په سيمه كي وټاكل او كوشش وكړ چه د خلكو او امنيتي مسولينو يوه مشتركه كميته جوړه كړي چه ( د خلكو او طالبانو تر منځ رابطه تينګه كړي ) خو دا كار دومره بري سره پر نه ولاړ . كله چه د متحدي جبهي ځواكونو په يكاولنګ خپل بريد شروع كړ په پايله كي يي د طالبانو ځواكونه د باميانو خواته په شا ولاړل.

كله چه د متحدي جبهي ځواكونو د يكاولنګ ولسوالي ونيوله نو د يكاولنګ او باميانو تر منځ يي يو دفاعي خط جوړ كړ . او له هغي وروسته د فبروري په لومړی نيټه د متحدي جبهي ځواكونو د باميانو پخوا خپل پرمختګ پيل كړ او ويكولاي شول چه د يوي وړي جګړي په ترڅ كي د شيبرتو او قرغنه تو سيمي له طالبانو څخه بيرته ونيسي خو د شهيدانو سيمه د جګړي مركز وګرځيده ولي چه طالبانو خپلي لومړي ليكي هلته ځاي پر ځاي كړي وي . د فبروري په ۱۲ نيټه د متحدي جبهي ځواكونو وكولاي شول چه د طالبانو لومړي ليكي په شهيدانو كي ماتي كړي او دښمن ته لوي ځيانونه ورسوي . په نوموړی جګړه كي د دوستم سواره ا ېرهي ځواكونو د لعل قوماندان او د عبدل چريك د ورور په مشري هم ګډون درلود چه نوموړو ځواكونو د طآلبانو روحيه خرابه كړي وه .

كله چه طالبان د شهيدانو په سيمه كي مات شول نو د متحدي جبهي ځواكونو د باميانو پخوا پر مختګ ته دوام وركړ او د طالبانو هغو ځواكونو چه شيعه ګان و د باميان څخه د سيغان او كهمرد پخوا يعني خپلو سيمو ته په شاتګ وكړ خو د طالبانو اصلي ځواكونو د شش پل په لوري په شاتګ وكړ او د متحدي جبهي ځواكونو دا فرصت مساعد شو چه كومي درني جګړي څخه پرته د باميانو مركزونيسي . خو طالبانو بيا هم خپل ځواكونه د باميانو د نيولو لپاره سمبال كړل او د متحدي جبهي ځواكون د باميان له مركز څخه په شاولاړل او د ښار ته څيرمه يي خپل ځواكونه په لويديځ كي د شهرسرخ دره او د ښار په لويديځ كي د فولادي په دره كي او خپله قرار ګاه يي د شهيدانو په سيمه كي جوړه كړه .

د متحدي جبهي ځواكونو كولاي شول چه د باميانو ښار د پورتنيو سيمو څخه تر بريد لاندي ونيسي خصوصا هغه شمير چه د فولادي په دره كي ځاپير ځاي و كوم چه هغوي د راكتي بريدونه په ترڅ كي د باميانو هوايي ډګر او ښار تر بريدونو لاندي راوستي و.
پداسي حال كه چه باميان د روسانو له دور څخه د ماينونو له شتوالي څخه پي غمه و خو په نوموړي جكړه كي د جكړي دواړو خواوو په سيمه كي يو د بل پر ضد د پر سونل ضد او تانك ضد ماينونه ښخ كړل . دا پيښه هغه وشوه چه د متحدي جبهي ځواكونه د باميانو څخه په شاولاړل او طالبانو نوموړي ښار ونيو او په همدغه كال د مارچ په مياشت كي طالبانو د بودا مجسمي ړنګي كړي .

د مي په مياشت كي طالبانو په يو لړ نويو بريدونو پيل وكړ او ددي جكړو اصلي عامل د شيبرتو د هوايي ډګر نيونه وه ځكه چه د متحدي جبهي ځواكونو ته له هغه ځايه مرستي رسيدلي طالبانو پنځه ورځي وروسته د يوه يرغل په ترڅ كي د شيدانو ، شيبرتو او يكاولنك مركز او د يكاولنګ يوه بله ولسوالي چه ډكه نوميده ونيول او نوموړي هوايي ډګر يي وران كړ. او پدي توګه متحدي جبهي خپلي تولي تر لاس لاندي سيمي بايلودي .

د يوي مياشت په موده كي د طالبانو قوماندان د يكاولنګ په ولسوالي كي جهاديار و او له هغه ځايه يي پر نورو سيمو بريدون كول . تولو غير پوځي وګړو له سيمه څخه تيښته وكړه او طالبانو غوښتل چه هغوي ونيسي . له هغي څخه دمخه د يكاولنګ د ولسوالي وګړي د پنجاب ولسوالي او د يكاولنګ د ولسوالي ځيني لري سيمو ته تښتيدلي و .

طالبانو بيا هم وغوښتل چه په يكاولنګ كي امنيت ټينګ كړي ددي لپاره دا ځل د شيعه طرفدارو ځواكونو څخه ګټه وانخسته خو د هزاره ځواكونو چه سنګر دوست يي مشري كوله د امنيتي ځواكونو يو ه برخه يي تشكيلوله چه هغوي د متحدي جبهي د بريدونو په مقابل كي ځاي پر ځاي شوي و . د جګړي دواړو خوا د يكاولنګ په شمال ختيځ كي يو پر بل بريدونه كول . كله چه د متحدي جبهي ځواكونه د ني يك ولسوالي ته نږدي شول نو د طالبانو قوماندان جهادوال ددي له ويري چه ځواكونه يي محاصره نشي د يكاولنګ څخه په شا ولاړ .

په دي ځل د طالبانو د ځواكونو په شاتګ يو ي غلونكي ستراتيژي سره تړلي وه ولي چه د هغوي لومړي جزايي ځواب د يكاولنګ پر مركز د هوايي بمباردمان و چه د طالبانو هوايي ځواك وكولاي شول چه د يكاولنك شفاخانه اود اكسفام دفتر له منځ يوسي چه دواړه دغه ځايونه د ولسوالي په مركز كي واقع و .

وروسته طالبانو يو لوي ځواك چه په هغو كي داخلي او خارجي طالبانو و د يكاولنګ د بيا نيولو په منظور را ټول كړل . نوموړو ځواكونو دا امر له لوړپوړو چارواكو درلود چه د يكاولنګ د سيمي خلكو ته بايد جزا وركړي چه د هغوي په سر كي د طالبانو ډير مشهور قوماندانان موجود و او پدي منظور د ملل متحد لخوا په يوه بيانيه كي مخكي له مخكي ويل شوي و چه ممكنه ده په سيمه كي يو بشري ناورين را منځ ته شسي .

ملا داد الله د نوموړو ضربتي ځواكونو قوماندان وټاكي شو . نوموړو ځواكونو د جنوري په ۸ نيټه د باميانو څخه حركت وكړ او د لاري په اوږدو كي له ډير لږ مقاومت سره مخ شول او ځان يي يكاولنګ ته راورساوه . هغوي خپله مركزي قرارګاه د ني يك په سيمه كي جوړه كړه او ځلورورځي ي د سيمي په شاوخوا كي په ورانيو او وژنو لاس پوري كړ د خلكو كورونه ، كروندي د خوړو ذخيرو ته يي اور واچاوه . وروسته له ځلورو ورځو ملا داد الله خپل ځواكونه له يكاولنګ څخه ويستل . او د ولسوالي د امنيت لپاره يي هيڅ ګام پورته نكړ او نوموړي بريدون صرف د سيمي خلكو ته د سزا وركول په مقصد و .

د يكاولنګ څخه د شاتګ څخه وروسته د ملا داد الله ځواكونه د باميانو لويديځ خواته ولاړل او د شيبرتو ، قرغنتو او شهيدانو سيمي يي وراني كړي خو پدي وخت كي په نوموړو سيمو كي خلك نه و ولي چه يوه مياشت دمخه له هغه ځايه څخه خلك كډه شوي و . د څو ورځو څخه وروسته اصلي ځواكونه باميانو ته راغلل . پدي ډول ويلي شو چه طالبانو د جون په مياشت كي د شيدانو څخه تر ني يك پوري خپله يوه بوګنه ونكي ستراتيژي چه د خلكو د كورونو سوځول او د خلكو شړل له سيمي څخه و په عمل كي پياده كړه .

يو ځل بيا د متحدي جبهي ځواكونو د يكاولنګ ښار ونيوه او خپل نور ځواكونه يي د باميان په سرحد كي ځاي پر ځاي كړل چه د ۲۰۰۱ كال د جولاي ، اګست او سپتمبر په مياشتو كي هلته پاتي شول .

په يكاولنګ كي د شويو جناياتو مفصل حال (۲۰۰۱ كال)

- د ۲۰۰۰ كال د نوامبر په مياشت كي چه د ۱۳۷۸ كال د لړم د مياشتي سره سمون خوري خليلي دره صوف ته راغي.
- د ۲۰۰۰ كال د دسامبر په ۳۰ نيټه چه د ۱۳۷۹ كال د مرغومي مياشت سره سمون خوري د خليلي تر قوماندي لاندي ځواكونو يكاولنګ ونيوه.
- د ۲۰۰۱ كال د جون په ۷ نيټه طالبانو د ملا داد الله په رهبري يكاولنګ د متحدي جبهي څخه ونيو .
- د ۲۰۰۱ كال د جون له ۸ څخه تر ۱۰ پوري طالبانو په يكاولنګ كي لومړي ډله ايزي وژني تر سره كړي .
- د ۲۰۰۱ كال د جون په ۲۰ نيټه د متحدي جبهي ځواكونو وكلاي شول چه طالبان د يكاولنګ څخه په شا وتمبوي.
- د ۲۰۰۱ كال د فبروري په ۱۲ نيټه د متحدي جبهي ځواكونو د طالبانو ځواكونو ته د شهيدانو په سيمه كي ماته وركړه .
- د ۲۰۰۱ كال د فبروري په ۱۳ نيټه د متحدي جبهي ځواكونو د باميان ښار ونيو او خپل دفاعي خط يي د فولادي په دره كي جوړ كړ .
- د ۲۰۰۱ كال د فبروري په ۱۷ نيټه طالبانو د باميان ښر يو ځل بيا ونيوه .
- د ۲۰۰۱ كال د فبروري په ۱۸ نيټه طالبانو خپل بريدونه د شهيدانو په سيمه كي شروع كړل .

- د ۲۰۰۱ کال د مارچ د میاشتي په ۹ نیټه طالبانود بودا مجسمي ونړولي .
- د ۲۰۰۱ کال د مارچ د میاشتي په ۱۴ نیټه د بي بي سي دفتر په کابل کي وتړل شو او د نوموړی دفتر یوه ژورنالیسته د کیت کلارك په نامه له کابل څخه وشړل شوه.
- د ۲۰۰۱ کال د مارچ د میاشتي په ۲۳ نیټه د متحدي جبهي ځواکونو د فولادي دره څخه پر بامیانو برید وکړ.
- د ۲۰۰۱ کال د مارچ د میاشتي په ۳۰ نیټه طالبانو د فولادي دري اوسیدونکو ته د نوموړي سیمه څخه د وتلو امر وکړ .
- د ۲۰۰۱ کال د اپریل د میاشتي په لوموړی اوني کي د IDP دفتر خبر ورکړ چه د فولادي دري ټول اوسیدونکي له سیمي څخه وتلو ته مجبور شول .
- د ۲۰۰۱ کال د اپریل له ۱۹ نیټي څخه د مي تر ۳ نیټي پوري د طالبانو او متحدي جبهي تر منځ د دره فولادي په سیمه کي جګړي رواني وي . متحدي جبهي پر بامیانو برید وکړ په ځواب کي د طالبانو ځواکونو پر سرخ دري او شهیدانو برید وکړ چه د متحدي جبهي له مقاومت سره مخ شول .
- د ۲۰۰۱ کال د اپریل ۲۹ نیټي د متحدي جبهي ځواکونه د هوا له طریقه د شیبرتو په هوایي ډګر کي اکمال شول .
- د ۲۰۰۱ کال د مي د میاشتي په ۴ نیټه طالبانو د شبرتو هوایي ډګر او د شهیدانو سیمه ونیوله او د خلکو کورونه ته یي اور واچاوه او ډله ایزي وژني یي تر سر ه کړي .
- د ۲۰۰۱ کال د مي د میاشتي په ۵ نیټه طالبانو د ني يك پخوا پر مخ ولاړل او متحدي جبهي د فولادي دره پریښوده . طالبانو د داګا په سیمه برید وکړ او د متحدي جبهي ځواکونو د کیلګان خواته په شا ولاړل.
- د ۲۰۰۱ کال د مي په ۵ نیټه د دوستم ځواکونو د زارع ولسوالي تر خپلي ولکي لاندي راوسته .
- د ۲۰۰۱ کال د مي په ۹ نیټه ملا عبذالرزاق د طالبانو د کورنیو چارو وزیر په یکاولنګ کي ولیدل شو .
- د ۲۰۰۱ کال د مي د میاشتي په ۳۰ نیټه طالبانو اعلان وکړ چه د یکاولنګ په ولسوالي کي ي خپل ۱۰۰۰ تنه پو ځیان ځاي پر ځاي کړي دي .
- د ۲۰۰۱ کال د جون د میاشتي په ۴ نیټه د متحدي جبهي ځواکونو د طالبانو یو قوماندان د جهادیار په نامه محاصره کړ او د ني يك سیمه یي تر خپلي ولکي لاندي راوسته .
- د ۲۰۰۱ کال د جون د میاشتي په ۶ نیټه د طالبانو هوایي ځواك د یکاولنك په ولسوالي که د ولسوالي په مرکز ، د اکسفام په دفتر ، د یکاولنك په روغتون او بازار باندي بمباري وکړه او هغه ځایونه یي وران کړل .
- د ۲۰۰۱ کال د جون د میاشتي په ۸ نیټه د طالبانو ځواکون د ملا داد الله په مشري د یکاولنګ د نیولو په مقصد له بامیانو څخه روان شول .
- د ۲۰۰۱ کال د جون په ۹ نیټه د طالبانو ځواکونو د ملا دادالله په مشري د متحدي جبهي څخه د فیروز بهار سیمه ونیوله او د کوه کینك په سیمه یي برید وکړ .
- د ۲۰۰۱ کال د جون په ۱۰ نیټه طالبانو د ملا داد الله په مشري د دریم ځل لپاره د یکاولنګ ولسوالي ونیوله او په همدي ورځ یي د یکاولنګ زاړه بازار ته اور واچاوه او ملا برار د شریعت رادیو لخوا اعلان وکړ چه په یکاولنګ کي امنیت تامین شو .
- د ۲۰۰۱ کال د جون د میاشتي په ۱۵ نیټه د متحدي جبهي ځواکونو د یکاولنګ ولسوالي د بامیانو تر سرحده پوري ونیوله . او طالبانو د شهیدان او شیبر تو په سیمه کي ټولو کورونو ته اور واچاوه او طالبانو د شاتګ په وخت کي ډیر عام قتلونه وکړ او ملا دادالله د یکولنګ سیمه د جګړي سیمه ونموله چه د شریعت رادیو لخوا د نوري غږ خپور شو .
- د ۲۰۰۱ کال د جولاي په ۲۲ نیټه طالبانو د ملازوي قوماندان تر رهبري لاندي د کوه کنك په سیمه برید وکړ او د نوموړي سیمي ټولو هستوګن ځایونو ته یي اور واچاوه .
- د ۲۰۰۱ د نوامبر دمیاشتي په ۱۱ نیټه د متحدي جبهي ځواکونو د بامیانو ولایت ونیو او طالبان له سیمي وتښتیدل .

په یکاولنګ کي د طالبانو د لوړ پوړی قوماندان د ټولو عملیاتو په ترڅ کي

ملا شهزاده ( دجګړي دلومړیو لیکو قوماندان)

نوموړي د طالبانو عملياتي قوماندان و د يکاولنګ په بيا نيونـه کـي او د ۲۰۰۱ کـال د جون د مياشـتي لـه ۷نيټـي څخه يي تر ۱۰ نيټي پوري په دله ايزو وژنو کي فعاله برخه درلوده .

ملا عبدالستار ) په لومړيو ليکو کي قوماندان)

ديکاولنګ په بيا نيونه کي او په هغو دله ايزو وژنو کي چه د ۲۰۰۱ کال د جون د مياشتي له ۷ – ۱۰ نيټـي کـي ګډون درلود . د جون د مياشتي په ۱۲-۱۱ نوموړئ د ملا شهزاده په ځاي د يکاولنګ مسول تعين شو .

ملا عبدالرزاق ( د کورنيو چارو وزير)
په هغوي عملياتو کي چه د مي د مياشتي په ۴ نيټه او د جون د مياشتي په ۴ نيټه په يکاولنګ کـي تر سـره شـول نوموړي ېکښي شريك و .

جهاديار( د لومړيو ليکو قوماندان )
د مـي او مـارچ پـه مياشـتو کـي پـه باميـانو کـي و او د مـي د مياشـتي پـه ۴ او د جـون د مياشـتي پـه ۴ نيټـه يـي د يکاولنګ عمليات رهبري کول.

ملا داد الله(د لومړيو ليکو قوماندان )
د مي په ۸ او د جون په ۱۹ نيټه يي د باميانو او يکاولنګ عمليات رهبري کول.

ملا فاضل (د طالبانو د وسله وال پوځ لوي درستيز )
د جګړو د ستراتيژي د جوړولو مسوليت يي درلود او کله ناکله به يي په ټولو عملياتو کي برخه اخيسته.

قاري احمد الله( د استخباراتو ريس)
د جګړي په دوران کي د استخباراتي کارونو دنده درلوده . د ډيرو عملياتو په جريان کي ليدل شوي دي .

د عيني شاهدانو ويناوي د اوراچولو په مورد کي

عيني شاهدانو دا ويلي دي چه څرنګه طالبانو د خلکو کورونو او ميشت ځايونو ته اور اچولو.

A . د قول دولق د سيمي يوه اوسيدونکي په دي اړه داسي وويل :
زه د زاړه بازار يو دوکاندار يم . کله چه طالبانو په لومړي ځل يکاولنګ ونيولـو نـو بـي ګنـاه او بـي دفـاع خلـګ يي ووژل او چه کله بيا حزب وحدت بيرته يکاولنګ ونيو نو خلکو بيرتـه پـر خپلـو کـارونو بوخـت شـول. او کلـه چه طالبانو د يکاولنـګ کنترول پـه لاس کـي درلـود لـه دي املـه چـه پـه خلکـو يـي راز راز ظلمونـه کـول د خلکـو ورڅخه نفرت کيده ز د ۱۳۸۰ کال د جوزا په ۱۹ نيټه چه د ۲۰۰۱ کال د جون لـه نهمـي سـره سـمون خـوري ما د خپل دوکان لپاره يو څه سوداچه بوتونه او ټوکر په کي شامل د پنجـاب لـه ولسـوالي څخـه روا‌ړي وه . زه د سهار په لس نيموبجو خپل دوکان ته ولاړم او هغه سودا مي په دوکتن کي ځاي پر ځاي کوله . د فيروز بهار پـه سيمه سخته جګړه روانـه وه . د ورځـي پـه يولسو بجو طالبـانو د وحدت د ګونـد د مدافعـه خط مـات کـړ او پـدي وخت کي ما هيڅ وخت پيدا نکړ چه خپل خلور خره کورته ورسوم او مجبوره شوم چه په بازار کي يـي خوشـي کړم او خپله د کته خانيد کلي خواته غذه ته وتښتيدم او له هغه ځايه څخه مي د سيمي ننداره کوله ما وليدل چـه د طالبانو جنګيالي پـه ۷۵ داتسون موترو ، ۴ هغـه موتر چـه زيـو بانـدي بـار وي ، او اتـه کامـاز موترونـو کـي د يکاولنګ بازار ته ننوتل . وروسته ليدي چه په سيمه کـي پـه امنيت يقينـي شـول نـو د دوکـانونو مالونـه يـي خپلـو موټرو کي بار کړل او دوکانونو ته يي پټرول وروشيندل او بيا اور ورتـه کـړ . ټول نـوي ښـار تـه يـي پـه څلـور بجو اور واچاوه او د زاړه بازار د دوکانونه يي په خپلو موترو کي بار کړل . ما دا پيښي د شپي تر ۹ بجو تـر هغه پوري چه خپل کور ته ولاړم په سترګو ليدلي .

يو بل شاهد د T په نامه وويل :
د طالبـانو پـه وروسـتي بريد کـي چـه کلـه هغـوي د يکاولنـګ بـازار ونيـو عامـه خلـك هـم د خپلـو کورونـو څخـه غرونوکي پټن ځايونو ته وتښتيدل. مونږ له غرونو ليدل چـه طالبـانو پـه لومړي ورځ د دره علـي سيمه پـه اور کي وسوزوله او په دوهمه ورځ يي فيروز بهار سيمه وسوزوله ، په دريمه ورځ يي د سرقل سيمه پـه څلورمـه

ورځ يي د بيد مشكين كلي په پنځمه ورځ يي سر كينك كلي يي د اور په لمبو كي وسوزول او ما دا ټول واقعات په خپلو سترګو له هغه ځايه ننداره كول.

د كته خاني د كلي يو اوسيدونكي چه S نوميږي داسي وايي :

دوه ورځي مخكي د وروستي جګړي څخه كله چه خليلي د ني يك د سيمي كنترول په لاس كي درلود زه بازار ته ولاړم او هلته مي وليدل چه څو محدود دوكانونه د بم په ذريعي وران شوي و او اكثرو دوكانونو دروازي ندرلودي او اجناس يي د سر ك پر مخ پراته و . د بازار نږدي كورونو هم لاس نه و خوړلي او زه له هغي وروسته شيدق ته ولاړم. يو ورځ وروسته مي واوريدل چه طالبانو د ني يك په سيمي د بريد نيت لري او په هغي ورځي تر غرمي پوري د ډزو غږونه اوريدل كيدل . زه په ټولو دغو ورځو كي په شيدق كي وم . يوه ورځ وروسته مي وغوښتل چه د ني يك سيمي ته ولاړ شم او ووينم چه هلته څه واقع شوزي دي ولي چه مونږ له لري د غره له سره ليدل چه نوموړی سيمه په دودو نو او لوګيو كي وركه وه . ما چه وضعيت پدي ډول وليد او ومي ليدل چه طالبان د ني يك په مركز كي په خپلو داتسونو كي ګرځي نو خپل زوي مي له ځانه كړ او دواړه وتښتيدو . ځكه چه زه په زضعيت پوه شوم چه د خليلي ځواكونه تښتيدلي دي او د ني يك مركز طالبانو نيولي دي . له هغه ځايه چه ما كتل خپل كور مي په كته خاني كي پيدا نشواي كړاي خو د دره علي او سر قل د كليو دودونه مي ليدل چه پورته و .

د دره سرخ د كلي يوه اوسيدونكي د A داسي وويل:
د دغي جګړي په وخت كي زه شاهد وم چه طالبانو د ني يك مركز ونيو او هلته يي ډير خلك اسيران كړل چه د نوموړو له ډلي څخه يي ډير كسان ووژل . د خلكو كورونه او بازار يي وسوځاوه .
د متحدي جبهي ځواكونو كلي په خپله ولكه كي درلودل چه د خلكو د كورونو قفلونه مات شوي و . كله چه طالانو د كورونو ته اور اچاوه زه د دره سرخ د كلي شاته په غره كي وم هغوي له دوه ځايونو څخه د خلكو د كورونو په سوخولو پيل وكړ . لومړي يي د لاره، دهن كنك او تاجكانو څخه شروع وكړه او په دوهمه ورځ يي د قرغان ، زارين او سر كنك سيمو ته اور واچاوه او وروسته له دغو سيمو څخه ولاړل ولي چه د متحدي جبهي ځواكونه هغوي ته لند په په چهارده كي پراته و ه .د طالبانو ۲۵ موټر د زارين سيمي ته او ۱۵ موټرو يي د غندي سنګ سيمي ته ولاړل . چه د يكاولنګ خلك پدي موده كي په غرونو كي و . له هغي ورځي چه په فيروز بهاي باندي جګړه پيل شوه زه د سر پرچوبك په غره كي پټ وم او له هغه ځايه څخه مي ټول حادثات ليدل چه څرنګه د متحدي جبهي ځواكونو ماته وكړه او طالبان څرنګه سيمه ته داخل شول او د يكاولنګ نوي بازار ته يي اور واچاوه .

محمد Z د دره علي د كنر شاه د كلي څخه د خپلو د سترګو ليدلي حال داسي وايي :
زه د سيه نو په كوتل كي چه د پنجاب او يكاولنګ تر منځ سرحدي وم او د ورځي ۱۱ بجي وي چه د يكاولنګ له مركز څخه دود پورته شو هغه سيمه كي چه زه وم خلور ساعته ليري وه د ني يك ده مركز څخه خو مونږ په يوه لوړ ځاي كي و چه دود له هغه ځايه دير ښه معلوميده خوا دا توپير مونږ له هغه ځايه نشواي كولاي چه دود د بازار دي او يا د خلكو د كورونو . يوه ورځ وروسته يو كس راغي او وويل چه طالبانو بازار ته اور اچاوه او هغه يي وسوځاوه . د دره علي په سيمه كي سوځول او اور اچول د منديك له كلي شروع شول او د سبز جوي تر سيمي يي دوام پيدا كړ او د دغو دوه سيمو تر منځ تقريبا ۶۰۰ كورونو ، دفترونو ، جوماتونو او دفترونه ته اور واچول شو او وسوځول شول د اور اچوني په موده كي هغوي په خلكو ډزي كولي او هغوي يي تهديدول هغه خلك چه غرونو ته تښتيدلي و هغوي يي د ټانكونو او توپونو په ذريعه ويشتل . او تاسي كولي شي چه اوس هم د هغو درندو وسلو د ويشتلو نښي زمونږ په كورونو او كر ځايونو كي ووينی چه طالبانو ويشتلي دي . مونږ په هيڅ كومي يوي سياسي نظامي ډلي پوري تړلي نه وه او په خپلي خواري كي اخته و .
د باميانو نقشه په راتلونكو مخونو كي ده.

## ۸ . هغه سبق چه تر اوسه هم زده نكړاي شو

### ۸.۱ د پخواني افغانستان رابطه له اوسني سره

د عدالت د پروژې اصلي كار د ۲۰۰۱ كال په اخركي وده ومونده . په نوموړي ګذارش كي د هغو جناياتو څيرنه شامله ده چه د بشريت پر ضد د مختلفو ډلو لخوا چه په جګړه كي شامل تر سره شويدي .
تر ۲۰۰۵ كال پوري هم جګړه پاي ته نه د رسيدلي بلكه طالبانو بيا خپل ګروپونه د جګړي لپاره سمبال كړي او د هغو په غير نوريي داسي ډلي هم شته چه د دولت پر ضد اقدامات كوي . چه پدي لړ كي امريكايي قواوي د

متحدو دولتي ځواکونو په مرسته د هغوي پر ضد عمليات پر مخ بيايي . په نتيجه کي د طالبانو د حملو پر ترڅ کي يو ډير شمير عام وګړي وژل کيږي چه د ځوابي کارروايیو چه امريکايان يي تر سره کوي هم ډير بيګنه خلك وژل کيږي . طالبانو سره د جګړي په ورستيو ورځي کي ډير جنايات تر سره شويدي چه په هغو کي قتلونه ، بنديانول، شکنجه کول ، او ورکيدني ډيري په سترګو شويدي او تر اوسه پوري لا ادامه لري .

د نوموړو پيښنو مسوليت د مليشه ګروپونو او ځينو پخوانيو مجاهدينو په غاړه دي چه هغوي په خپلو سيمو کي د مخدرو مواد د قاچاق لپاره هم ډير تلاش کوي . خو اوس ددغو قوماندانانو له ډلي ډير يي د امريکايانو تر څنګ ولاړ دي او هغوي ورڅخه حمايت کوي[1].

پورتني ګذارش ته په کتنه سره افغاني سرانو د کمونيستانو له وخت څخه را پديخوا دايما د په دغو مليشي قوماندانانو اعتماد درلود ولي چه هغوي د دوي له منافعو څخه دفاع کوله . د نوموړي ډلو او مليشو تر منځ يوالي ممکنه خبره نو خو هر قوماندان او ګروپ د خپلي سيمي د ساتلو لپاره هر څه ته حاضر و . لکه په شمال کي د ګاز لرونکو سيمو د ساتلو له برکته مليشه قوماندانانو ته ډيري ګټي ورسيدي او دي کبله يي وروسته ځان ازاد او خود مختاره باله.

د تنظيمونو رهبرانو غوښتل چه خپل ډير يا لږ کنترول په نوموړو قوماندانانو ولري او غوښتل چه له هغوي سره عادي روابط برقراره کړي خو له نوموړي فرصت څخه قوماندانانو داسي ګټه پورته کړه چه ګواکي د جناياتو د کولو په وخت کي هم له مجازتو معاف و او پدي توګه يي د محلي خلکو په مقابل کي په ديرو زشتو اعمالو لاس پوري کړ.

کله چه د ۲۰۰۱ کال په روستيو دامريکا د متحده ايالاتو لخوا د طالبانو پر ضد د يو ترون کار جاري شو نو هغوي دغه مخالف قوماندان سره را ټول کړ . چه پدي کي د امريکايانو مهم هدف د القاعده ماته وه .
امريکايانوددغو خلکو په راټولو سره غوښتل په افغانستان کي د القاعده ضد جګړه کي د خپلو سرتيرو ير کم تلفات ولري .
لدي معلوميږي چه د امريکايانو دغه نوي متحدين په افغانستان د پخوا څخه هم په بشري ضد اعمالو تورن دي او همداراز د مخدرو موادو په قاچاق کي لوي لاس لري .
امريکايانو هغو طالب ضد قوماندانانو ته پيسي ، او وسلي ورکړي چه
ګواکي هغوي به دالقاعده په ماتي کي فعال رول ولري خو امريکايان پدي کار ناکام شول . او طالبان بيا هم د يوي خطرناکه او وحشتناکي ډله په حيث چه احتمالا د پاکستان لخوا حمايه کيږي پاته شوه .
له دغو قوماندانو يو شمير يي ځان د مخالفينو په مقابل کي ټينګ کړ اود امريکايانو حمايت يي تر لاسه کړاو ځان يي د سياسي پلوه ډير مهم وښود او له دي طريقه يي په جناياتو لاس پوري کړ.
کله چه بين المللي جامعه پدي لړ کي تحقيقات شروع کړل نو معلومه شوه چه نوموړي لوړپوړي رهبران او قوماندان اوس هم په ډير احترام سره ژوند لري او نوموړو ټول جنايات د هغو قوماندانانو په ذريعه تر سره کړي چه دوي به ورته امر کوه او هغوي به ددوي تر حمايت لاندي نوموړي جنايات مخ ته بيول .
او همداراز د متحده ايالت دا سترتيژي چه د دموکراسي د تامين لپاره هڅي بايد وشي او د بن د کنفرانس جوړه ونه په افغانستان کي د يوه با ثباته عبوري حکومت جوړول د نوموړو ځواکوننو څخه او بيا د اضطراري لويي جرګي جوړيدل او د هغي کابيني جوړول چه لا پخوا نومول شوي و د امريکايانو لاس ته راوړني وي چه ملل متحد وروسته دا تاييد کړه چه نوموړو طرحو په دوه موردو کي جدي اشتباهات او تيروتني شوي وي .
د افغانستان په قضيه کي ډيري نړيوالي دخيلي خواوي ددي خبري تصديق کوي چه هغوي په سر کي په افغانستان کي دجنګي جنايتکارانو د واك رسيدولو په برخه کي هيڅ فکر نه وکړي بلکه د هغوي ټول زيار په افغانستان کي د يوه باثباته عبوري حکومت جوړوني ته و او هغوي غوښتل چه هغه شمير افغانانان چه په جګړو کي يي لاس ندرلود د هيواد د سياسي مشارکت په پروسه کي ګډون وکړي . خو په ډير تاسف سره چه هغو کسانو چه په پخوا کي يي يو له جناياتو ډك عمر تير کړي و اوس يي ځانته د هيواد په سياسي او نظامي ژوند کي يو داسي ځاي موندلي او نيولي دي چه په کامل امن و امان کي ژوند کوي او ډير واك ورسره دي . د ۲۰۰۴ کال د جنوری په مياشت کي په نيويارك کي د آسيا د ټولني په يوه غونډه کي د افغانستان د مالي وزير وويل چه د افغانستان رهبران سوله د عدالت په سيوري کي غواړي .
د ۲۰۰۲ کال د فبروري په مياشت کي د انګلستان د باندنيو چارو وزير کابل راغلي و او وويل چه کيداي شي تير جنايتکاران اصلاح شي ، او په افغانستان کي د يوه ځواکمن حکومت جوړول نړيوالو ته دا ښيي چه واقعا افغانانان ځواکمن خلك دي .او د لدي سېر بيره بايد مونږ هغو کسانو سره چه اوس يي ډيريسيمي تر واك لاندي دي او پوځي ځواکونه لري او په پخوا کي هم ځواکمن و په خبرو او اترو پيل وکړو . خو هغو کسانو چه په پخوا کي جنګي جنايات سرته رسولي او اوس په سياسي پروسه کي ځان شامل بولي بايد وخت ورنکړو چه بيا هم واك ته ورسيږي او بيا خپل تير ظلمونه تکرار کړي ، چه دا افغانستان سياسي آيندي ته ډير ګټور کار

بلل کیږي . د ملل متحد خاص استازي لخدر ابراهیمي ویلي دي چه د افغانستان په اوسني حکومت کي جنګي جنایتکارانو او جنګسالارانو ډیر ځوکي تر لاسه کړي دي او نوموړي زروځواکي د هغو کسانو په مقابل کي دسیسي کوي کوم چه غواړي ددوي جنایات بربنډ کړي چه دا به په افغانستان کي د دموکراسي د ودي پروسه ډیر کمزوري کړي .

پدي وخت کي د امریکا د متحده ایالاتو له خوا فشار اچول کیږي چه د جنګي جنایاتو په هکله چه پخوا او په اوس وخت کي تر سره شوي افشاګري ونشي . چه په ۲۰۰۵ کال کي د ملل متحد د هڅو مخه بنده کړه او پري یي نه ښودل چه په افغانستان کي د امریکایانو زندانونه ووینې .

له هغي سر بیره امریکایانو داسي جنایات تر سره کړي چه خپلو کمونیستي همقطارانو ، مجاهدینو او د طالبان د رژیم په دور کي نه و تر سره شوي ، او ځیني زندانیانو ته یي داسي سزاوي ورکړي چه د نوموړو د مړیني باعث ګرځیدلي دي او هم داسي زندانونه یي جوړ کړي چه له هغو څخه هیڅوك خبر ندي او نیول شوي خلك نوموړو ځایونو کي لادرکه شوي او مړه شویدي .

د بوش اداري دا ادعا کړیده چه نوموړی پټي نیوني د امنیت د راوستول په موخه تر سره شویدي خو په یقین سره چه د امنیت وضع یي پدي ډول لا هم خرابه کړیده . د مثال په ډول ملا شهزاده د طالبانو یو لوړ پوړي قوماندان چه په دله ایزو وژنو کي یي لاس درلود او زمونږ په رپوټ کي د نوموړي په هکله ډیر څه راغلي دي په ۲۰۰۳ کال د ګوانتینامو له زندان څخه خوشي کیږي چه بیا د طالبانو له لیکو سره یو ځاي شو او وسله یي واخیسته او د امریکایانو پر ضد یي مبارزه پیل کړه چه ورروسته بیا د ۲۰۰۴ کال د مي په میاشت کي په یوه مخامخ جګړه کي د امریکایانو لخوا ووژل شو .دلته داسي سوالونه پیدا کیږي :

آیا د امریکا د متحده ایالاتو چارواکي د نوموړی په جنایاتو خبر و او هغه یي پریښود ؟ آیا امریکایان د هغو کسانو چه ددوي په زندان کي دي په باره کي معلومات نلري ؟

د متحده ایالاتو ځواکونو د طالبانو لوړپوړي قوماندانان نیولي دي چه ملا فاضل هغه څوك دي چه د نوموړي د جنګي جنایاتو په برخه کي په دغه رپوټ کي ډیر اسناد او مدارك ښودل شویدي .

## ۸.۲ شکنجه ورکول او وژني په توقیف ځایونو کي

په امریکایي زندانونو کي د افغان بندیانو وژنه د لویو تخطیانو په دله کي راځي ، د بشر د حقوقو د څارنکو په وینا لږ تر لږه ۶ تنه بندیان د ۲۰۰۲ کال په اوږدو کي د امریسکایانو لخوا د تحقیقاتو په جریان کي وژل شوي دي چه پدي ډله کي یوتن د سي اي اي ( سیاCIA) لخوا نیول شوي و . د نوموړو پیښو څخه تر دوو کلونو د متحده ایالاتو هیڅ کوم سر تیري د قتل په تور ندي متهم شوي پداسي حال کي چه د امریکي د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ښیي چه پنځه تنه د هغو مړو شویو زندانیانو له ډلي په واضحه توګه وژل شوي دي .

د شکنجي هغه ډولونه چه امریکایي ځواکونوپر افغاني زندانیانو کارولي دي ، هغو روشونو ته پاتي کیږي چه یووخت د مختلفو ډلو امنیتي چارواکو ، د استخباراتو چارواکو او د نوموړو ډلو قوماندانانو د جګړي په بیلا بیلو دورو کي څو رژیمونو ورڅخه کار اخیتي و . د ثور انقلاب په لومړیو دوه نیمو کلنو کي خلکو ته داسي شکنجي ورکول کیدي چه په پاي کي یي زندانیان مړه کیدل . د بشر د حقوقو رپوټ ورکونکي په افغانستان کي په تیره موده کي د امریکایانو لخوا داسي شکنجه کول لیدلي او تصدیق کړي دي .

یو شمیر ډیرو کسانو د بشر د حقوقو څارونکي ته ویلي دي چه د بند په وخت کي هغوي سره بدرفتاری ، آزاراو اذیتول ، بیخوبي ورکول ، د نوکانو ایستل ، سوځول په مختلفو څیزونو ، برقي شوکونه ، چه په بعضي مواردو کي د جنراتو څخه کار اخیستل کیده خبر ورکړي دي . یوه رسمي مقام د بشر د حقوقو څارونکي ته وویل چه د پلچرخي په زندان کي داسي انفرادي اتاقونه هم موجود و چه هلته به ډیر خطرناکه زندانیان ساتل کیدل او د هغو اتاقونو ارتفاع ډیره ټیټه وه چه انسان پکښي نشواي دریدلي . نوموړي وایي چه زه په نوموړي زندان کي قوماندان وم خو د تره کي د حکومت په وخت هلته زنداني شوم او زه هلته اته میاشتي زنداني پاتي شوم . زما د زنداني کیدو علت دا و چه ما به زندانیانوته اجازه ورکوله چه د ورځي په اوږدو کي د لمر څخه ګټه واخلي . په هغه وخت کي د پلچرخي د زندان د ساختمان کار لا نه و خلاص شوي خو اوس مکمل شویدي . په هغه ځاي کي نه اوس او نه هم په هغه وخت کي د تودولو لپاره مرکزګرمي نه وي موجودي ، دا ویل شم چه مقاماتو نه غوښتل چه بندیان تاوده وساتي او غوښتل یي چه هغوي د یخني په ذریعه هم اذیت کړي .

د روسانو او کمونیستانو په وخت کي لاندي روشونه په بندیانو تطبیق کیدل : د نړیوالي عفوي د سازمان او د هلسینکي واچ ( د بشر د حقوقو د سازمان یوه برخه ) هم داسي وایي :

زندانیان د خپلو کورنیو سره له لیدلو څخه منع کیدل . د مدافع وکیل نیول زنداني ته اجازه نه وه ، داکتر ته د تګ اجازه یي ندرلوه ، د بند په وخت زنداني مجرد او ممنوع الملاقات شمیرل کیده ، زندانیان تهدیدل او د خوړو څخه محرومیدل ، د شکنجي ځیني نور ډولونه دا و :

د برقي شوكونو وركول ، وهل ټكول . د سګرټو په فلتر باندي سوځول ، په اوبو لمدول . همداراز يو ډير شمير زندانيان د اوږدي مودي لپاره په زنجيرونو تړل كيدل .
د داكتر نجيب الله د حكومت د سقوط څخه ورسته په ۱۹۹۲ كال كي قوماندانانو هغه پوځي او غير پوځي اسيران چه نيول په وحشيانه توګه شكنجه كول ، وهل ټكول يوه عادي خبره وه خو ديرو وړو او نامناسبه اتاقونو كي د بنديان اچول هم دهغي يو ه دنده وه . چه زمونږ په رپوټ كي د وحدت دګوند د قوماندانانو لخوا په كال ۱۹۹۳ كي د زندانيانو سره د غير انساني سلوك يوه قضيه راغلي ده .
يوه پخواني د وحدت ګوند سره زندني ويلي دي چه نوموړو سوله والو دي په لرګيو وهلي ټكولي دي او وروسته به يي د نوموړي د ډارولو لپاره د تفنګچي په واسطه د نوموړي غوږ ته نږدي ډزي كولي ، نوموړي وايي چه د وحدت ګوند وسله والو د نوموړي سترګي تړلي او وروسته يي هغه په سر باندي دراوه او بيا هغه ته يو سپي ورپريښوده چه نوموړي سپي په هغه باندي بريد كولو او د هغه جامي يي شكولي او وجود يي ورټپي كولو
بل زنداني وايي چه د وحدت ګوند پوځيانو نوموړي په يوه تشناب كي چه له كثافاتو او اوبو څخه ډك و د يوي اونۍ لپاره بندي كړي و .
طالبانو هم په همدي ډول زندانيانو ته شكنجي وركولي او زندانيانو ته يي د كورنيو سره د ملاقات اجازه نه وركوله او وهل ټكول د زندانيانو يو معمول كار شميرل كيده .
په يوه رپوټ كي ويل شوي دي چه زندانيان د ګوانتنامو په زندان كي د FBI لخوا په زنجيرونو او زولانو تړل شوي او داسي پيښي هم تكرار شوي دي چه كله زندانيان تشناب ته بيول شوي دي هلته بيا نوموړي زندانيان د هغوي پر غايته موادو باندي كښينول شوي دي . له دي څخه زيات په نوموړي زندان كي پخواني زندانيان وايي چه امريكايانو په هغوي ډير فشارونه راوړل د مثال په ډول : تعليمي سپي به يي د بنديانو د اذيت او ويرولو لپاره خوشي كول ، تهديدات او شكنجه كول ، په ډيره يخني او يا ګرمي كي ساتل ، د شور او ځوګ څخه ډكه كوټه كي اچول .
د سره صليب نړيوال سازمان ICRC په خپل يوه رپوټ كي چه د امريكايانو د يوه محرم رپوټ څخه اخيستل شوي دا په ډاګه كړيده چه د امريكايانو لخوا زندانيانو سره ډيره بده رويه كيږي او نوموړي زندانيان د دايمي روحي او فزيكي شكنجي لاندي دي .
پورتني توضحات دا په ډاګه كوي چه څرنګه امريكايانو د خلق د ګونداود روسانو ددوري ، او همدارازد د قوماندانانو د اعمال چه په ۱۹۸۰ – ۱۹۹۰ لسيزه كي خلك شكنجه كول دوي هم له همغو ډوله شكنجو څخه كار واخيست او د هغوي څخه يي عملي تقليد وكړ .
ويل كيږي چه امريكايانو نيول شوي زندانيان په زنځيرونو او زولانو تړل او هغوي ته يي دا اجازه نه وركوله چه د خپلو كورنيو سره وګوري او يا دا چه د ځان لپاره مدافع وكيل ونيسي او همداراز نوموړو زندانيانو ته د ناروغي په وخت كي درمل هم نه وركول كيدل .
د بشر د حقوقود سازمان څارونكو دا ويلي دي چه سيا CIA د افغانستان په شمال كي د زندانيانو په شكنجه كولو پوره لاس درلود ، د سي د قضايي چارو يوه كاركونكي ( سالت پټي ) د يوه موقتي زندان پيره دارانو ته داسي امر كړي و چه يوه بندي ځوان لوڅ كړي او بيا هغه د زنځيرونو په واسطه په كانكريټو باندي وتړي او د شپه نوموړي ځوان هلته د كمبلي او برستني پرته پريږدي . پدي اړه د واشنګټن پوست په ورځپانه كي د مارچ دمياشتي په دريمه نيټه د ځلورو تنو د امريكا رسمي قاضيانو سره مركه كړي وه او پدي مركه كي ويل شوي دي چه افغان ساتونكو ته د CIA لخوا پيسي وركول كيدلي او هغوي دا اعمال د امريكايانو په امر كول ، په رپوټ كي دا هم راغلي چه زندانيان به دمخه تردي چه په لوڅ او د هرڅه څخه تش زندان ته وراچول كيدل نو لومړي به هغوي په كانكريټي پايو كي ځوړنديدل ، په څاپيړو وهل كيدل ، او هغوي ته به ډير نور تكلفونه وركول كيدل .
يوه كالبد ځيرونكي ويلي دي چه اكثريت زندانيان د سړو له كپله مړه شوي و او په يوه نامعلومه هديره كي ښخ شوي دي ، چه د نوموړي مړي په برخه كي په واشنګټن پوست كي راغلي و چه نوموړي مړي له هغه ځايه غيب شويدي .

## ۸.۳ پټ زندانونه

په افغانستان كي د جګړي په مختلفو پړاونو كي امنيتي او استخباراتي ځواكونو ځيني پټ زنانونه درلودل چه په پټه توګه به يي خلګ نيول او هلته به يي د يوه نامعلوم وخت لپاره بنديانول . د خلق د حكومت په وروستيو ورځو كي يو ډير شمير خلك د حكومت لخوا ونيول شول او په ناڅرګندو ځايونو كي بنديان شول چه بيا وروسته د هغو هيڅ پته ونشوه . چه د نوموړو شميره له زرهاو څخهتر لس هاوزره پوري رسيږي چه په لومړي سر كي هغوي ټول پټو زنانونو ته بيول شوي و او وروسته بيا وژل شوي و .

کله چه شورویانو د استخباراتو نوم په خاد بدل کړ نو پدې وخت کې هم د نوموړي ارګان لخوا په افغانستان کې دیر پټي نیوني او وژني تر سره شوي دي ، د بشر د حقوقو د څارونکو په وینا چه په هغه وخت کې خلك په کورنیو چارو وزارت او د خاد په ریاست کې بندیانیدل او ټول زندانونه د همدې دوه ارګانونو تر لاس لاندې و چه وروسته یې په مشخصه توګه ښودلې دي چه خاد په کابل کې ۸ زندانونه درلودل چه د خاد له خوا کنترولیدل او د کابل په ښار کې یې ۲۰۰ کورونه درلودل چه له هغو څخه هم د زندانونو په ډول کار اخیستل کیده . مجاهدینو او طالبانو هم د پټو زندانونو په جوړولو اقدام وکړ چه په نوموړو زندانونو کې یو ډیر شمیر خلك شکنجه کړل شول او یا ووژل شول .

د امریکا متحده ایالاتو په افغانستان کې د پټو زندانونو په جوړولو لاس پورې کړ او په همدې لړ کې یې د ملل متحد د خاص استازې د بشر د حقوقو په برخه کې بسیوني د هڅو څنډ وګرځیدل تر څو چه نوموړي ونشي کړاي د امریکا پټ زندنونه په افغانستان کې افشا کړي او نوموړي دا هم څرګنده کړه چه امریکایان په افغانستان په خپلو پوځي پایګاو کې پټ زندانونه لري او دا چه امریکایانو د سره صلیب استازو ته اجازه ورنکړه چه د نوموړو زندانونو څخه کتنه وکړي دا یې د ژینو د معاهدو خلاف عمل وګانه .

متحده ایالاتو په افغانستان کې د هغو پخوانیو تجربو څخه چه د جګړي په مختلفو پړاونو کې ترسره شوي وي تقلید وکړ او د سیاسي مصلحتونو له مخې یې له هغو قوماندانانو سره اتفاق وکړو چه هغوي هر یوه د شکنجو او وژنو په اعمالو ککړ و . چه پدې ډول امریکایانو په افغانستان کې د یوه سالم سیستیم په جوړونه کې د افغانستان خلکو تر منځ خپل اعتبار له لاسه ورکړ او د اوسني رژیم مشروعیت ته یې ډیر زیان وررورساوه .

۱ . په ۱۹۷۳ کال کې کله چه ظاهر شاه له هیواد څخه بهر تللی و د داود خان له خوا کودتا وشوه او سیاسي قدرت یې په لاس کې ونیو ، په پیل کې داود خان د خلق د ګوند ډیر]م له ځانګي سره ښې اړیکې درلودې ولې چه هغوي د کودتا په بریالي توب کې ورسره مرسته کړې وه خو وروسته له یوه لنډ وخت څخه یې له هغوي څخه فاصله ونیوله او بیا یې د خلق د ګوند مشران ونیول او په زندان کې یې واچول چه د خلق د ګوند د نوموړو مشران نیول ددې باعث شول چه د ثور کودتا سرته ورسیږي .
روبین په خپل کتب د افغانستان تجزیه او ټوټې ټوټې کیدل د مرکزي حکومت تشکیلات او سقوط د نړیوال سیستم ( د پالي پوهنتون د خپرونو ځانګه ۱۹۹۶ کال ۱۰۵-۱۰۴-۹۳ مخونه .

۲ . د خلقیانو د استخباراتو نوم چه ( اکسا ) ویل کیده د پښتو کلماتو څخه جوړ شوي یو نوم و چه د افغانان د علاقي وړ د دفاعي چارو د یوه ارګان لپاره غوره شو . وروسته لدې چه نور محمد تره کې په ۱۹۷۹ کال کې ووژل شو او حفیظ الله امین واك ته ورسید . نوموړی ددې ارګان نوم په کام بدل کړلو چه کارکړي استخباراتني اداره ورته ویل کیدل . د روبین له کتاب څخه د افغانستان تجزیه او ټوټې ټوټې کیدل ۱۱۴ مخ .

۳ . د جیوستوزي په وینا چه د خلق ګوند له هغو ۱۸۰۰۰ غړو چه د ثور کودتا څخه دمخه یې د نوموړي ګوند غړیتوب درلود او ۲۸۰۰۰ کسانو چه بیا وروسته یې د نوموړي ګوند غړیتوب تر لاسه کړ د پورتني شمیریې څخه نیمایي غړي یې وژل شوي دي او یا دا چه د شورویان د تهاجم په وخت کې تصفیه شول .
د انتونیو جیو ستوزي کتاب ( جګړه ، سیاست او افغاني ټولنه ) ۱۹۷۸ څخه تر ۱۹۹۲ پوري واشنګتن دي سي د جیورګیتاون پوهنتون د خپریدوکال ۲۰۰۰ مخ ۴

۴ . د ۱۹۷۹ کال په سپتمبر کې امیت _ تره ووژلو او خپله جمهور ریس شو .
۵ . د نړیوالي محکمې قوانین ۷ (۱) (۱) (۲) (!) .

۶ . د روبین لیکنه ( د افغانستان تجزیه او ټوټې ټوټې کیدل ۱۱۴ او ۱۲۲ مخ .)
۷ . هرډول تهدید چه دملکي یهني غیر پوځي وګړو تر منځ د وحشت او ډار فضا رامنځ ته کړي منع شویدي ........ کورکورانه بریدونه منع شویدي . کورکورانه بریدون هغو بریدونو ته ویل کیږي چه :

- هغه بریدونه چه پکښې په مشخصه توګه پوځي اهدافو باندي ډزي ونشي .
- هغه بریدونه چه د خلکو میشتو سیمو کي د ځان د خوندي توب لپاره تر سره کیږي .
- هغه بمباردمانونه چه د دښمن د تاثیر لاندي راوستولو په مقصد په داسي سیمو کي تر سره کیږي چه هلته د غیر پوځي خلکو شتون وي او یا دا چه د ملکي خلکو کورونه او یا شتمني وي .
- په هغو بریدونو کي چه عیر پوځي وګړي ټپیان او یا ووژل شي او هغوي ته مالي تاوانونه ورپیښ شي . وروستي ماده د نسبي قانون په ډول راغلي ده .

د ۱۹۷۷ کال د ژینیو په معاهي کي په لومړي پروتوکول کي په ۱۱ فصل او ۵۱ مادي کي پدي اړه ویل شوي دي .

۸ . له یاد تللي جګړیی ، د بشري حقونو څخه تیري ، د جګړي د قوانینو څخه تیري د شوزرویانو د وتلو څخه وروسته ( د نیویارك چاپ : د بشر د حقوقو موسسه ۱۹۹۱ کال )

۹ . دوه د اصلاحاتو لویي سیمي ، په کلیوالو سیمو کي بریدونه ، د ځمکو نوي ویش او د خلکو مجبورول چه خپلي نجوني ښونځیو ته ولیږي او میرمني د سوا زدکړي کورسونو ته .

۱۰ . ۱۹۷۹ کال د سپتمبر په میاشت کي تره کي د حفیر الله امین لخوا ووژل شو او نوموړي خپله جمهور ریس شو .

۱۱ .اکسا یوه پښتو کلمه او کام د استخبارات لپاره یونوم و . روبین په خپل کتاب کي په ۱۱۴ مخ کي لیکلي دي .

۱۲ . د ۱۹۷۹ کال د مارچ د میاشتي څخه اسلم وطنجار د کورنیو چارو وزیر او شیر جان مزدور یار د دفاع وزیر وټاکل شول .
۱۳ . د روبین کتاب د فروپاشی په نامه ۱۱۴ مخ .
۱۴ . د نبي عظیمي په کتاب کي چه اردو او سیاست نومیږي په ۱۶۷ مخ کي .
۱۵ . د نړیوالي عفو د سازمان نشریه چه ( AIASA ) په نامه یادیږي ۹۷.۰۴.۱۱ په ۸ – ۹ مخ کي .
۱۶ . افغانستان د روسانو تر سلطي لاندي د انتوني هیمن لیکنه د ۱۹۶۴ څخه تر ۱۹۸۳ پوري . نیوریاك د ماتین چاپ ۱۰۹ _ ۱۸۴ مخونه کي .
۱۷ . ایِضاء
۱۸ . د عدالت د پروژي مرکي .
۱۹ . د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر د میاشتي د ۲۰ نیټي د عدالت د پروژي مرکي .
۲۰ . په ۲۰۰۵ کال کي د عدالت د پروژي مرکي .
۲۱ . شاهد ویلي دي چه پیښه ۱۵ ورځي مخکي د کارمل د واك ته د رسیدو څخه وه . حفیظ الله امین په ۲۷ د ذسمبر ووژل شو اود جمهورذ ریس ثبت شوي ویانا یو ورځ ورسته خبره شوه . د هیمن په کتاب کي ۱۶۵ مخ .

۲۲ . په ۲۰۰۵ کال کي د عدالت د پروژي مرکي .
۲۳ . د ۲۰۰۳ کال د دسمبر دمیاشتي د ۲۷ نیټي د عدالت د پروژي مرکي .
۲۴ . علاقه یوه عربي کلمه ده چه د سیمي او ځاي په برخه کي استعمالیږي او علاقداري د ولسوالي څخه وړي محلي اداري ته ویل کیږي . او علاقدار د علاقداري ریس ته ویل کیږي او علاقدار په هغه وخت کي د حکومت لخوا مقررید او امین له دغه پست څخه د پولیسو او استخباراتو په ګټه کار اخیسته .
۲۵ . په ۲۰۰۵ کال کي د عدالت د پروژي مرکي .
۲۶ . په ۲۰۰۳ کال کي د عدالت د پروژي مرکي ۱۲. ۰۷.۱۳۸۲
۲۷ . ۱۸ رپوټونه په هغي عفو پوري مربوط و چه د کارمل د عفوي په وخت کي تر سره شوي و . ببرك کارمل هغه څوك و چه په ۱۹۷۹ کال کي د روسانو د جمهور ریس په توګه تعین شو او روسانو په هماغه وخت کي پر افغانستان تیري وکړ .
۲۸ . هغو شاهدانو چه مرکي کړیدي ویلي دي چه نیوني ټولي د تره کي او امین په وخت کي تر سره شویدي . یو شاهد چه حاجي ږ. نومیږي وایي چه حتي ټولي ورکیدني د هغي څخه وروسته منځ ته راغلي چه امین واك ته ورسید . خو ځیني شاهدان بیا وایي چه نوموړي پیښي په ۱۳۵۹ ( ۱۹۸۰ ) پیښي شویدي لدي همدي کبله

ویلي شو چه د نیټو ویل ممکن د شاهدانو لخوا دقیق نه وي .خو بیا هم د ځینو هغو شاهدانو په وینا چه خپل خپلوان يي په نوموړو پیښو کي له لاسه ورکړي دي وایي چه ډیر هغه زمینداران او مشهور خلك چه په ۱۹۷۸ ــ ۱۹۷۹ کال کي د رژیم له خوا ووژل شول او یا دا چه ورك شول .
۲۹ . په ۲۰۰۳ کال کي د عدالت د پروژي مرکي .
۳۰ . ایضاء.
۳۱ . ایضاء .
۳۲ . ایضاء .
۳۳ . ایضاء .
۳۴ . د۲۰۰۴ کال د چنرري د میاشتي د عدالت دپروژي مرکی .
۳۵ . د ملل متحد د خاص استاژي رپوټ د افغانستان په دننه کي د بشر د حقوقو په اړوند . 21/1985/4 E/CN ۱۸ مخ.
۳۶ . د عدالت د پروژي مرکي په پاکستان کي د میشتو افغان مهاجرینو سره .
۳۷ . گرادت ( Giradet ) ویلي دي چه روسي جیت الوتکو د دوشنبه څخه پروازونه کول چه دا کار د روسي پیلوتان لپاره خورا گران کار و .
۳۸ . یوه له ډیرو مفصلو گذارشونو څخه دا و چه گیلیس دارنو سرو Gilles Dorronosoro په La revolution afghan د پاریس چاپ CERI کارتاله ۲۰۰۰ کال کي نشر شوه .
۳۹ . گیلیس دارنو سرو پدي خبره تاکید کړي دي چه په هغه وخت کي د بزگرانو ، زمین دارانو او ښاریانو تر منځ همبستگي موجوده وه ۱۱۴ ــ ۱۱۵ مخونو کي .
۴۰ . ایضا ء ۱۱۵ مخ .
۴۱ . همداراز د ځینو رپوټونو پر اساس پداسي خلکو چه هغوي په ماویستانو او یا غیر مذهبي خلك و هم برْیدونه شوي دي . د گیلیس د کتاب ۱۱۹ مخ کي .
۴۲ . د گیلیس په وینا چه اسماعیل خان او علاوالدین خان د هرات په شورش کي چندن قوي رول ندرلود . ۱۱۶ ږخ کي .
۴۳ . په ۲۰۰۳ کال کي د عدالت د پروژي مرکي .
۴۴ . د ملل متحد خاص گذارشگر د افغانستان په دننه کي د بشر د حقوقو په برخه کي رپوټ ورکړي دي . 72 .para. 21 /1985/4 E/CN
۴۵ . د عدالت د پروژي مرکي په ۲۰۰۴ کال کي .
۴۶ . د عدالت د پروژي مرکي په ۲۰۰۴ کال کي .
۴۷ . د عدالت دپروژي مرکي په ۲۰۰۴ کال کي .
۴۸ . د عدالت د پروژي مرکي په ۲۰۰۴ کال کي .
۴۹ . ایضا ء گیلیس دارنو سرو .
۵۰ . د عدالت د پروژي مرکي په بامیانو کي د ۲۰۰۴ کال په سپتمبر کي .
۵۱ . د عدالت د پروژي مرکي په بامیانو کي د ۲۰۰۴ کال په سپتمبر کي .
۵۲ .د عدالت دپروژي مرکي په بامیانو کي د ۲۰۰۴ کال په سپتمبر کي.
۵۳ . د عدالت د پروژي مرکي په بامیانو کي د ۲۰۰۴ کال په سپتمبر کي .
۵۴ . د عدالت د پروژي مرکي په کابل کي ۲۰۰۵ کال .
۵۵ . د عدالت دپروژي مرکي په کابل کي ۲۰۰۵ کال .
۵۶ . گیرادیت ۱۱۷ مخ .
۵۷ . نبي عظیمي اردو او سیاست .
۵۸ . ایضاء .
۵۹ . بریښنا لیکونه د AIHRC څخه د ۲۰۰۴ کال د اگست په ۴ نیټه .
۶۰ . د عدالت د پروژي مرکي په کابل کي ۲۰۰۴ کال .
۶۱ . په هغه وخت کي په کلیو او بانډو کي د خلکو څخه د خلکو د استازو شورا گاني جوړ شوي وي چه هرکله خلك او یا حکومت د کومي ستونزي سره مخ کیدل نو بیا به يي نوموړو شورا گانو ته مراجعه کوله ، په احتمالي توگه په هغه وخت کي به چه نوموړو شورا گانو څوك د ضد انقلاب او یا جنایتکار په نامه یاد کړ دولت به د هغوي فیصلو باندي اعتماد او باور کاوه .
۶۲ .د عدالت دپروژي مرکي په کابل کي ۲۰۰۴ کال .
۶۳ . گیرادیت ۱۱۸ مخ .
۶۴ . د ملل متحد خاص گذارشگر په افغانستان کي د بشري حقونو د وضعیت په برخه کي ویلي دي . E/CN 4/1985/21

۶۵ . د ملل متحد خاص گذارشگر په افغانستان کي د بشري حقونو د وضعيت په برخه کي ويلي دي . E/CN 4/1985/21
۶۶. د اساسي ازاديو او د بشر د حقونو څخه تيري . د عفو نړيوال سازمان .
۶۷ . روبين ۱۱۸ مخ .
۶۸ . روبين ۱۲۵ مخ .
۶۹ . د دولتي جوړښت او واك او د ډل بندي د عميقي مطالعي په خاطر د روبين كتاب ته مراجعه وكړي ( نيو هاون د يالي پوهنتون ۲۲۰۲ كال . لومړي چاپ ۱۹۹۵ كال كي . او د انتونيو گيوستوزي كتاب ( په افغانستان كي سياسي او ټولنيز ي جگړي ۱۹۷۸ – ۱۹۹۲ ) د جورج واشنگټن پوهنتون جورج ټاون ۲۰۰۰ .
۷۰ . په نوموړي دور كي د حكومت رسمي تشكيلاتي سيستيم تغير وموند۱۹۸۷ - ۱۹۸۰ او دخلق گوند د انقلابي شورا ريس ، جمهور ريس گڼل كيده او په ۱۹۸۷ كال كي د اساسي قانون د تصويب څخه وروسته نوموړي مقام د جمهوري رياست په نامه ونومول شو . د ۱۹۹۰ كال په جريان كي د اساسي قانون له مخي د افغانستان هيواد د افغانستان د جمهوري دولت په نامه ياد شو .او په يوه عمومي غونډه كي د خلق دموكراتيك گوند نوم د وطن د گوند په نامه ونومول شو
۷۱ . انتوني هايمن په خپل كتاب كي افغانستان د روسانو تر سلطه لاندي ۱۹۶۳ – ۱۹۸۳ ( د مارتين د مطبعي چاپ نيويارك ۱۹۸۴ ) ۱۱۷ مخ .
۷۲ . روبين په ۱۱۴ – ۱۲۲ مخ كي .
۷۳ ز د هلسينكي واچ څخه يو كتاب د وينه ، اوښكي او فرياد په نامه په ۱۹۹۷ كال كي . د انور شاهدي په شيكاگو كي ، ايليانيس د اپريل ۱۵ نيټه ۱۹۹۸۴ كال .
۷۴ . د ملل متحد د خاص گذارشگر په افغانستان كي د بشري حقونو د وضعيت په برخه كي E/CN/4/1986/24para.86.87
۷۵ . د ملل متحد د خاص گذارشگر په افغانستان كي د بشري حقونو د وضعيت په برخه كي E/CN/4/1986/24para.87
۷۶ . د صودارت معني لومړي وزير دي له هغه څخه مخكي چه خاد وزارت شي د صدرات اعظمي يو رياست و او د هغوي له خوا اداره كيده ، او د خاد مركزي دفتر د سلطنتي ودانيو چه د كابل په مركز كگي د ايران سفارت خوا ته پرته ده موقعيت درلود .
۷۷ . پير سيد احمد گيلاني د عبدالقادر جيلاني له نسل څخه دي اود قادريي طريقي اساس ايښودونكي و . د ډيرو معلوماتو لپاره د روبين كتاب په ۲۰۳ مخ وگوري .
۷۸ . د روبين كتاب ۱۲۷ مخ .
۷۹ . په كابل كي د عدالت د پروژي مركي د ۲۰۰۵ كال د مي په مياشت كي .
۸۰ . ايضاء
۸۱ . د ۲۰۰۵ كال مركي .
۸۲ . اصلي هدف چه د لري پرتو سيمو په تهديولو كي پروت و د هغو ځايونو نيول او د دولتي حاكميت لاندي راوستل و او بيا وروسته هلته د تغيراتو راستل و . د روبين كتاب ته دي مراجعه وشي ۱۴۲ مخ .
۸۳ . ايضاء ۱۴۳ مخ د همدغه كتاب .
۸۴ . هر ډول تهديدات او تجاوزات چه د عامو وگړو په منځ كي د وحشت او ډار فضا خپره كړي منع دي .......... همدارا ړ كوركورانه بريدونه هم منع شويدي . كوركورانه بريدونه هغه بريدونه دي :

- هغه بريدونه چه مشخص پوځي اهداف په نښه نششي .
- هغه جگړي چه په پوځي سيمو كي نوي منځ ته راغلي او د خلكو د استوگني په سيمو كي تر سره شوي وي .
- هغه د بمباردمان عمليات چه په هر روش او طريقي سره اجرا شي چه د پوځي اهدافو د تهديد په منظور په غير پوځي اهدافو باندي هم تاثير واچوي او په پايله كي يي غير پوځي خلكو او سيمو ته زيان ورسيږي او يا چه په غير پوځي وگړو كي ډار خپور كړي .
- هغه بريدونه چه د غير پوځي خلكو د مرگ ژوبلي باعث وگرځي او همداراز هغوي ته مالي زيانونه ورسوي . اخره ماده د نسبي قانون په ډول بيان شوي ده .

د ژينيو د معاهدي په ۱۹۷۷ كال كي د ۱۱ فصل په ۵۱ ماده كي چه په لومړي پرتوكول كي ليكل شويدي تصويب شويدي . خو افغانستان دا لومړي پروتوكول ندي تائيد كړي . خو د داخلي جگړو ټول معيارونه يي منلي دي چه د رايجو جگړو يو جز گڼل كيږي .
۸۵ . د ملل متحد د عمومي اجلاس رپوټ او د اقتصادي او ټولنيزي برخي او د بشر د حقونو رپوټ په افغانستان كي A/40/843.1985para77
۸۶ . ايضاء A/40/843.1985 para92

۸۷ . د ملل متحد د بشر د حقونو خاص گذارشگر په رپوټ کي E/CN.4/1986/24para 86
۸۸ . اسيا واچ ، افغانستان . د بشري حقونو څخه ناوړه گټه اخيستني او له ياده وړل شوي جگړه د روسانو د شاتگ څخه راوروسته ( د نيويارك چاپ ۱۹۹۱ کال) ۲۹ مخ .
۸۹ . د ملل متحد د عمومي غونډي رپوټ او د اقتصادي ، تولنيزي برخي او په افغانستان د بشر د حقوقو د بررسي A/40/843.1985 para.81
۹۰ . ايضاء A/41/778.1986 para.29
۹۱ . ايضاءA/41/778.1986.para.63
۹۲ . هيلسنگي د د اوښکو ، وينواو فريادونو په نام کتاب ۳۲ مخ .
۹۳ . د ملل متحد گذارش E/CN.4/1985/24para.87
۹۴ . اسيا واچ او هلسنگي واچ . مرگ په افغانستان کي E/CN.4/1986/24 para.29
۹۵ . د ملل متحد خاص رپوټ د پشري حقونو د وضعيت په برخه کي .
۹۶ . د ملل متحد د اقتصادي ، تولنيز او د بشر د حقونو رپوټ A/41 /778. 1986.para.59
۹۷ . د عدالت د پروژي مرکي په ننگرهر ولايت کي ۲۰۰۳ کال .
۹۸ . د نجيب الله د حکومت له سقوط څخه وروسته مجاهدينو کوشش وکړ چه په جلا ل اباد کي عبدالملك د هغه له کورڅخه ونيسي خو نوموړي يي ونه مون او د هغه ورور بريالي يي د هغه په ځاي ووژلو .
۹۹ . د عدالت د پروژي مرکي په ۲۰۰۴ کال کي .
۱۰۰ . د عدالت د پروژي مرکي د ۲۰۰۳ کال د نوامبرد مياشتي ۸ .
۱۰۱ . د عدالت د پروژي مرکي د ۲۰۰۳ کال د اکتوبرد مياشتي ۷ .
۱۰۲ . د عدالت د پروژي مرکي د ۲۰۰۳ کال د اکتوبر مياشت .
۱۰۳ . صرف يوه شاهد د عدالت پروژي سره پهمرکه کي د پيښي دقيق نيټه ښودلي ده چه دا هخم ممکن د يو سلسلي هغو ډله ايزو وژنو څخه وي چه پروفيسور ارماکورا په خپل رپوټ کي راوستي دي .
۱۰۴ . A/40/843/1985.para.79 لومړي ضميمه .
۱۰۵ . روبين ۱۴۸ مخ .
۱۰۶ . د معلوماتو په خاطر د روبين کتاب ته مراجعه وکړي .
۱۰۷ . د روبين کتاب ۱۴۸ مخ .
۱۰۸ . د روبين کتاب ۱۴۴ مخ .
۱۰۹ . گيوتو زي ۲۲۶ مخ .
۱۱۰ . اسيا واچ . له ياده وړل شوي جگړه ( نيويارك . د بشر د حقونو سازمان ۱۹۹۱ ) ۳۹ مخ .
۱۱۱ . د روبين له يادداشتونو څخه د غو مليشو په ډيرو ځواکمنو قومي جگړو کي برخه واخيسته . روبين ۱۴۸ مخ .
۱۱۲ . گيوتوزي ۲۲۶ مخ .
۱۱۳ . اسيا واچ ۴۰ ړخ ز
۱۱۴ . روبين ( د معاصرو مطبوعاتو څخه اخيستل شوي ) ۱۴۸ مخ .
۱۱۵ . گيوتوزي ۲۲۲ مخ . روبين ۱۶۱ مخ .
۱۱۶ . د دولت د ظرفدارو ځواکونو جوړونه د لويو قوماندانانو کار و او هغوي به خپل مادونان دي ته هڅول چه په جناياتو لاس پوري کړي او بيا به يي وروسته له هغوي دفاع کوله اود مخالفينو څخه به يي ساتل د مثال په ډول دوستم يو قوماندان چه اکه ياسين نوميده له زندان څخه د نجيب د حکومت په اخرو کي را خلاص . او همدارازد۵۳ فرقي د ۶۳۰ کندك قوماندان يي د غفار پهلوان څخه راخلاص کړ . همداراز د نجيب الله په دوران کي رسول پهلوان دهمراه پهلوان په ذريعه د ميمني له زندان څخه را خلاص کړاي شو . نوموړي هغه ځوك و چه بيا وروسته د اندخوي په جگړه کي د رسول پهلوان پلوي شو . د يوه سياسي تحليلگر وينا .
۱۱۷ . د گليم جم مليشو په جنوب کي د پښتنو مجاهدينو پر ضد جنگيدل خو د پښتنود سياسي شخصيتونو سره يي خورا ښي اړيکي ټينگي کړي وي . نوموړي او دهغه تره پدي خوشاله و چه د دولت د ځواکونو رهبري په لاس کي لري . په همدي ډول يو بل قوماندان يعني رسول پهلوان په فارياب کي مجاهد و او د ښتنو پر ضد يي د دفاع خودي ځواك د دولت په مرسته جوړ کړ خو وروسته نوموړي هم پښتنو خلقيانو ته ورتسليم شو او له گلاب زوي سره يي اړيکي ټينگي کړي . د يوه سياسي تحليل گر سره مرکه .
۱۱۸ . ايضاء روبين .
۱۱۹ . ايضا ۱۴۹ ـــ ۱۴۸ په همدي قطار کي .
۱۲۰ . E/CN.4/1990/25 para.68
۱۲۱ . د عدالت د پروژي مرکي د ۲۰۰۳ کال د دسمبر مياشت .
۱۲۲ . ايضا ء .

۱۲۳ . ایضاء .
۱۲۴ . ایضاء .
۱۲۵ . ایضاء .
۱۲۶ . آسیا واچ ۱۰۱ څخه ۱۰۸ مخ پوري .
۱۲۷ . ایضاء ۱۰۱ مخ .
۱۲۸ . ایضاء ۱۰۲ ړخ .
۱۲۹ . د CIA او ISI د استخباراتي سازمانونو تر منځ مرستي او د اي اس اي اوچت والي ددي لپاره چه نوموړئ سازمان د افغاني جهادي ګوندونو سره نږدې
اړیکي درلودې د مثال په توګه دي د ستیف کول او غاست وار اثارو ته مراجعه وشي ( د نیویارك : د پینچوین چاپ ۲۰۰۴ کال ) د بشر د حقوقو څارندويي ( له یاده وتلي جګړه ) ۱۳۹-۱۲۵ مخونه او د روبین کتاب ۱۹۶ ۲۱۵- مخ پوري .
۱۳۰ . ټولو ویلي دي چه د خلق دموکراتیك ګوند لخوا اذیت شوي دي او له همدي کبله پاکستان ته مهاجر شویدي . آسیا واچ ۱۱۲ ۱۲۳- مخونه .
۱۳۱ . ایضاء
۱۳۲ . کول ، غاست وار ۱۸۱ مخ .
۱۳۳ . روبین ۲۴۹ مخ .
۱۳۴ . د افغانستان اسلامي دولت غوښتل چه خپل قانونیت ته دوام ورکړي حتي تر هغي وروسته چه طالبانو کابل په ۲۶ د سپتمبر د ۱۹۹۷ کي ونیو. او ۱۹۹۷ کال کي طالبانو د خپل حکومت نوم د افغانستان اسلامي امارت کښیښود . د طالبانو پر ضد بیلابیل ګروپونه او ډلي جنګیدلي چه د دولت متحدین شمیرل کیدل او د اتحاد شمال په نامه یادیدل او رسمي نوم یي متحده اسلامي جبهه د افغانستان د خلاصون لپاره کیښودل شوي و . او دي کار تر ۱۹۹۸ کال پوري تر هغو دوام وکړ چه طالبانو وروسته له هغي د افغانستان اکثریت سیمي تر خپل واك لاندي راوستي او د شمال اتحاد ځواکونه یي له هغه ځایونو څخه وشړل .
۱۳۵ . د افغانستان ټولو ګاونډیو د خپلو طرفدارانو سره د وسلو مرسته کوله پداسي حال کي چه په افغانستان کي یي د جګړي پاي هم غوښته .
۱۳۶ . د پخوانیو قوماندانانو سره د عدالت د پروژي مرکی .
۱۳۷ . په صحنه کي د حاضرو قوماندانانو سره د عدالت د پروژي مرکی .
۱۳۸ . د جینوا د تړون لومړي پروتوکول ، ۱۱ فصل ۵۱ ماده چه افغانستان نوموړي ماده نه ده تایید کړي . اګر چه د نوموړي موادات د کورنیو جګړو په عملي کیدو کي د نړیوالو قوانینو یو جز د نوموړو جګړو په رهبري کي منل شوي دي .
۱۳۹ . افغانستان د جینیوا د پیمان یو جز دي . چه د نوموړي پیمان د قانون دریمه ماده په اتوماتیکه توګه په کورنیو جګړو کي د بیلابیلو ګوندونو د شمولیت په مورد کي غور کوي . نوموړي ماه د جګړو شاملو ډلو ته دا حکم کوي چه د حکړو په وخت باید ملکي خلکو او اسیرانو او جنګي بندیانو حفاظت وشي . نوموړي ماده لاندي موارد ممنوع کوي :

- د شخص په ژوند باندي تیري ، هر اړخیز قتلونه ، زشته رویه او شکنجه کول .
- ګروګان نیوني .
- تعدي ، ظلم ، د خلکو په حیثیت تیري ، تحقیر او توهینول .
- قتل کول او وژني د کوم قاضي او محکمي څخه پرته.

۱۴۰ . جنسي تیري د جینیوا د تړون پریکړه په ۱۹۴۹ کال کي . نسل وژني او قوم وژني د ۱۹۴۸ کال تړون . شکنجه کول د ۱۹۸۴ کال تړون . او د بشریت پر ضد جنایت د المان د تړون له مخي ممنوع وګڼل شو . د ۱۹۹۶ کال د جون په میاشت کي د ملل متحد جنایي محکمي اته تنه هغه یوګسلاوي پولیس اوپوځیان یوګسلاویایي مسلمانوښځ، یي تیري کړي و د بوسني په جګړه نوموړو ته د سزا ورکولو درخواست وکړ . چه د نوموړو لومړي جرم جنسي تیري و چه د جنګي جنایاتو په ډله کي شمیرل کیږي .
۱۴۱ . رهبرانو د اتحا او یوالي لپاره قسم کړي و . د نیویارك تایمز ورځپانه د ۱۹۹۴ د جنوري ۳ نیټه .
۱۴۲ . د پخوانیو قوماندانانو سره مرکی .
۱۴۳ . د افغانستان د پایتخت په جګړو کي لي ډلي خلك ووژل شول . د نیویارك تایمز ورځپانه د ۱۹۹۴ کال د جنوري ۳ نیټه .
۱۴۴ . افغاني ځواکونو دښمن له پایتخت څخه په شا کړلو ( نیویارك تایمز ۲۷ جون ۱۹۹۴)
۱۴۵ . نوموړي پیښي د انتوني داویس په کتاب کي ( څرنګه طالبان پوځي شول ) او د ویلیام میلي په کتب کي بنیادګرایي وځیږیده ؟ افغانستان او طالبان د لاهور چاپ وانګارد ۱۹۸۸ – ۵۳-۵۰ مخ پوري .
۱۴۶ .د متحده ایالاتو ریاست ( افغانستان د بشر د حقوقو تجربه ) ۱۹۹۵ کال .

۱۴۷ . مركي د رهبرانو او پوځيانو سره .
۱۴۸ . د جينوا لومړي پروتوكول ۱۱فصل ۵۱ ماده .
E/CN.4/1994/53.para.16. ۱۴۹
۱۵۰ . قوماندان وويل چه په شمال كي تي – ۶۲ ، تي _ ۵۵ تانكونه او د صحرا په نامه ۷۶ ملمتري ، دي سي ، پي ام ۱۶ ، بي ام ۱۳ ، او مختلف هاوزانه لكه وسط هاوان ، غرني هاوان هغوي كشف كړل چه بعضي يي په لوړو كي او ځيني يي د جلا ل اباد د لاري په اوږدو كي ، د بي بي مهرو په تپه كي ، د خواجه رواش د هوايېډگر په شاوخوا غونډيو كي او په حربي پوهنتون كي ځايپر ځاي و .همداراز د زرهدارو قوا او ۶۰ فرقه د مولوي صديق الله چه د مولوي محمد نبي له تنظيم څخه و اداره كيدل .
۱۵۱ . د پخوانيو قوماندانو سره د عدالت د پروژي مركی په ۲۰۰۵ كال كي .
۱۵۲ . د عدالت د پروژي مركی د استخباراتو له پخوانيو افسرانو سره په ۲۰۰۵ كال كي .
۱۵۳ . د عدالت د پروژي مركی په ۲۰۰۵ كال كي .
۱۵۴ . د عدالت دپروژي مركی د سياسي تحليل گرانو سره په ۲۰۰۵ كال كي .
۱۵۵ . د عدالت د پروژي مركی د ۲۰۰۵ كال د مي په مياشت كي .
۱۵۶ . د پوځي ځواكونوارزيابي د عدالت د پروژي لخوا .
۱۵۷ . د متحده ايالاتو رياست ( افغانستان د بشر د حقوقو تجربه ) ۱۹۹۳ . واشنگتن دي سي ۱۹۹۴ .
۱۵۸ . د سره صليب په وينا ۲۰۰۰ كسان د مياشتي تر اخره پوري وژل شوي دي ( نيويارك ټايمز د ۱۹۹۲ د سپتمبرد مياشتي ۶ نيټه .
۱۵۹ . د عدالت د پروژي مركی د استخبارات له پخوانيو افسرانو سره .
۱۶۰ . د عدالت د پروژي مركه د يوه پخواني د كند ك د قوماندان سره د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۶۱ . د عدالت د پروژي مركی د ۲۰۰۵ كال د مي په مياشت كي .
۱۶۲ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركی ۲۰۰۴ كال .
۱۶۳ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركی په كابل كي ۲۰۰۵ كال .
۱۶۴ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركی په كابل كي ۲۰۰۵ كال .
۱۶۵ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركی د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۶۶ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركی په كابل كي د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۶۷ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركی په كابل كي د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۶۸ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركی د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۶۹ . افغان ځواكونو دښمنان له پايتخت څخه ويستل . نيويارك تايمز د ۱۹۹۴ د جون ۲۷ .
۱۷۰ . مركی د پخوانيو قوماندانانو او د افشارو له اوسيدونكو سره .
۱۷۱ . عبدالله شاه د ۲۰۰۲ كال د اپريل په مياشت كي په كابل كي ونيول شو او په يو شمير جناياتو چه جنگي جنايت هم پكښي شامل دي نومو‌ړي متهم دي او ۲۰۰۴ كال د اپريل په ۱۹ نيټ اعدام شو . نوموړي د بشر د حقوقو پښتونكو ته ويلي و چه سياف خپلو ټولو لوړ پوړو قوماندانانو سره د عملياتو په جريان كي په مستقيم تماس كي و . او همداراز هغه غوښتل چه د بشر د حقوقو پلټونكو ته د افشارو د سيمي د خلكو ډله ايز قبرون وروښيي .
۱۷۲ . د استخباراتو له قوماندانانو او عملياتي څانگي سره مركی .۲۰۰۳،۴
۱۷۳ . د افغانستان د عدالت د پروژي د پخوانيو قوماندانانو سره ۲۰۰۴ كال .
۱۷۴ . د استخباراتو له قوماندانانو او عملياتي څانگي سره مركی ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ كلونه .
۱۷۵ . ايضاء .
۱۷۶ . هغه مشرح اظهارات چه د عدالت پروژي لاس ته راوړي دي .
۱۷۷ . د قوماندانانو او نورو شاهدانو سره مركی ۲۰۰۳ كال ۴ مياشت . پر دي باور دي چه پهرامي په ۱۹۹۵ كال كي د طالبانولخوا نيول شوي و او وروسته لدي چه هغه طالبانو ته ويلي و چه آشپز دي هغوي ايله كړي و . اگرچه ويل كيږي چه نوموړي څو ځلي د طالبانو له خوا ونيول شو او د باميانو تر سقوط پوري ورك و .
۱۷۸ . د عدالت پروژي لخوا د ساحوي تحقيقاتو پلټني .
۱۷۹ . ټول نومونه د محرميت لپاره په بل نوم تغير شوي دي .
۱۸۰ . د عدالت د پروژي مركه د ۲۰۰۵ د مي په مياشت كي .
۱۸۱ . د استاد شفق ورور چه د مركزي شورا غړي و اوس احتمالا په استراليا كي دي .
۱۸۲ . د افغانستان د عدالت د پربوژي مركی د ۲۰۰۵ كال د مي په مياشت كي
۱۸۳ . وروسته د حركت د گوند يو قوماندان او د وزير مرستيال د رباني په كابينه كي او پدي وروستيو كي د امور د چارو مرستيال .

۱۸۴ . خو ويل كيږي چه د هغه نيونكو غوښتل چه هغه اصلي زندان ته په دريم زون كي يوسي . مگر مونږ چه هلته ورسيدو د زندا مسول ما او هغه خلكو ته چه زه يي نيولي وم وويل چه زه هيڅوك زنداني كولاي نشم تر هغو چه مزاري امر نوي كړي .
۱۸۵ . خو بيا د دوهم ځل لپاره راوغوښتل شول او دغه كسان پكښي شامل و : خداداد عرفاني ، د شيعه گانو لوړ پوړپ چارواكي . قوماندان واحد چه پخوا د وحدت حزب سره و خو ويل كيدل چه د نظار شورا او اتحاد سره همكاري لرله غوښتل يي چه د افشارو سيمي ته د داخليدو اجازه واخلي . جنرال غرجي چه د نجيب د حكومت پر ضد يي جگړه كوله . تابش د رباني منشي . سميع مصلح وزير ( خو وروسته بيا ووژل شو ) خداداد عرفاني ، صابر د حركت اسلايم غړي ، او قوماندان طاهر توفان .
۱۸۶ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركى د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۸۷ . نوموړي تر اوسه په مزار شريف كي ژوند كاوه .
۱۸۸ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركى د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۸۹ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركى د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۹۰ . يوه نورشمير چه نصير ديوانه د غند قوماندان هم پكښي و ، داود ديوانه د حاجي اميني مرستيال چه د ۰۹۶ فرقي قوماندان و . او همداسي ځيني نور القاب چه قانون شكنو قوماندانانو پر ځان ايښي و لكه آدم خور ، شيشه خور ، گاو ، او گنگس او داسي نور .
۱۹۱ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركي د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۹۲ . ايضاء
۱۹۳ . ايضاء
۱۹۴ . ايضاء
۱۹۵ . ايضاء
۱۹۶ . ايضاء
۱۹۷ . اندرو روچ ( Andrew Roche ) د اوربند په خلاف د جگړي بيا پيل په رويتر ورځپانه كي د ۱۹۹۲ كال د جون۴ نيټه . شارون هيربوغ ( Sharon Herbaugh ) . ملكي وگړي د ياغيان له خولي د زندان خبري كوي اسوشتيد پريس د ۱۹۹۲ كال د جون ۶ نيټه .
۱۹۸ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركى د ۲۰۰۵ كال د مي مياشت .
۱۹۹ . ايضاء
۲۰۰ . ايضاء
۲۰۱ . د افغانستان د عدالت پروژي مركى په ۲۰۰۵ كال كي .
۲۰۲ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركي په كابل كي د ۲۰۰۵ كال په ترڅ كي .
۲۰۳ . روبين ۱۶۰ مخ .
۲۰۴ . ايضاء
۲۰۵ . د گليم جم كلمه د لومړي ی ځل لپاره د بلخي قوماندان مامور امان الله لپاره وكاروزل شوه ولي چه د نوموړي كورنۍ د مجاهدينو لخوا وژل شوي وه ( نوموړي ته ويل شوي و چه ستا گيلم جمع شو ) وروسته نوموړي د امنيت د وزارت لخوا استخدام شو او د خپلو مهاجرو خپلوانو يي ورته پوسته وركړه د نوموړي پوستي ډير ژر پرمختگ وكړ خو بدنامه هم شوه او د گليم جم كلمه د ډيرو افغانانو لپاره د تجاوز او د بشر د حقوقو څخه د تيري په معني وپيژاندل شوه .
۲۰۶ . د مثال په ډول په كندهار كي اڅكزي عصمت مسلم .
۲۰۷ . د روبين كتاب ته دي رجوع وشي . ۲۷۰ مخ .
۲۰۸ . د افغانستان د عدالت پروژي سره مركه .
۲۰۹ . د هغي څخه وروسته له مجاهدينو څخه جلا شوي قوماندانان ځان خواته راكاږي . يو لږ شمير مسلكي كادرونه د ازبك د قوم او د تاجك د قوم د اردو مسلكي افسر مجيد روزسي ، د ازبكو جنرال جوره بيگ د پلي پوځ افسر هم په جوزجان كي ۵۳ فرقي سره يوځاي شول . چه د نوموړي فرقي د پياوړتيا باعث شول خصوصا په توپچي او زرهي برخه كي . هغه افسران چه د دوستم خواته واوښتل له نوموړي سره يي ډيري ښي اړيكي درلودي او اكثريت يي د پرچم د گوند غړي و او داسي فكر كيده چه دوستم هم نوموړي گوند ته په عقيدتي لحاظ متمايل و . د شبرغان په ښار كي ډير پرچميان و او دوستم د نوموړو پرچميانو لخوا په شبرغان كي حمايه كيده ، يو واړه اقليت چه په خلقيانو پوري يي اړه لرله لكه سخي فيضي نوموړي موضوع دومره اساسي نه كڼله . د عدالت پروژي له ځينو تحليلگرانو سره د ايميل په ذريعه مركي كړيدي .
۲۱۰ . د افغانستان د عدالت د پروژي مركى په ۲۰۰۵ كال كي .
۲۱۱ . ايضاء
۲۱۲ . ايضا ء .

۲۱۳ . ایضاء .
۲۱۴ . ایضاء .
۲۱۵ . ایضاء .
۲۱۶ . ایضاء .
۲۱۷ . ایضاء .
۲۱۸ . ایضاء .
۲۱۹ . د افغانستان د عدالت دپروژي مرکي د عيني شاهدانو سره په ۲۰۰۳ کال کي او د تحليل گرانو سره په ۲۰۰۴ کال کي .
۲۲۰ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکي د سياسي تحليل گرانو سره په ۲۰۰۴ کال کي .
۲۲۱ . د جنبش ځيني قوماندانان له ملك سره يو ځاي شول او ځينو يي ونه غوښتل . د رهبرانو او قوماندانانو په وينا چه هغوي پر خپلو لاس لاندي قوماندانانو باندي چندان کنترول نه درلود او د هغوي وفاداري د پيسو په ورکړه کي وه ، چه پدي اساس قوماندانانو د خپلي وفاداري په بدل کي پاداش غوښته او يوه اندازه آزادي هم چه ( د چور وتالان ، ارعاب او تهديد ، او ناوړي کټي اخيستني يي کولي ) او لدي کار څخه يي خوند اخيسته .
۲۲۲ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکي په ۲۰۰۵ کال کي .
۲۲۳ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکی د ۲۰۰۳ کال پخ اکتوبر کي .
۲۲۴ . د ريپوټونو مطابق چه يو شمير اسيران په کندز کي د متحدي جبهي لخوا ووژل شول . د بي بي سي د اسيا څانگه . انتقام اخيستونکی ډله ايزي وژني په کندز کي د ۲۰۰۱ کال د نوامبر په ۲۷ نيټه
http:/news.bbc.co.uk/2/hi/south asia /1678723.stm""
۲۲۵ . هغه پيښه چه د بشر د حقوقو د څارنکو په دوسيه کي ثبت شوي ده ( په مزار شريف کي ډله ايزي وژني د ۱۹۹۸ کال د نوامبر لومړي نيټه .) ضميمه c1007
۲۲۶ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکی د عيني شاهدانو سره د ۲۰۰۲ کال د فبروري په مياشت کي .
۲۲۷ . د عدالت د پروژي مرکی په ۲۰۰۲ کال کي . د بي بي سي اخبار د آسيا په جنوب کي . ملل متحد د طالبانو د مړيو په تحقيق کي د ۲۰۰۲ کال د سپتمبر په لومړي نيټه .
" http:/news.bbc.co.uk/2/hi/south asia /2228754.stm"
د ۲۰۰۱ کال د دسامبر په ۱۲ نيټه د سره صليب لخوا د طالبانو د مړو شويو اسيرانو په دقت سره څيړل .
http/news.bbc.co.uk/2/hi/south asia/1705708.stm
د افغاني شاهدانو تهديد ول په قتل سره د ۲۰۰۲ کال د نوامبر د مياشتي ۱۴ نيټه
"http/news.bbc.co.u/2/hi/south asia/2476383.stm".
۲۲۸ . پټ روابط د افغانستان د عدالت له پروژي سره .
۲۲۹ . د ۲۰۰۵ کال د مي په مياشت کي مرکی .
۲۳۰ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکی په ۲۰۰۵ کال کي .
۲۳۱ . اتيضاء .
۲۳۲ . ایضاء .
۲۳۳ . ایضاء .
۲۳۴ . ایضاء .
۲۳۵ . ایضاء .
په همدي وخت کي افغانانو د ۱۷۰۰۰ څخه تر ۲۵۰۰۰ دالرو پوري تجارت کاوه .
۲۳۷ . د ۲۰۰۵ کال د مي په مياشت کي مرکی .
۲۳۸ . ایضاء .
۲۳۹ . ملك پر دوستم ادعا کړيده چه دوستم د هغه ورور رسول پهلوان د ۱۹۹۶ کال د جون په مياشت کي وژلي دي .
۲۴۰ . د افغانستان د عدالت پروژي مرکی په ۲۰۰۴ کال کي .
۲۴۱ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکي د عيني شاهدانو سره په ۲۰۰۴ کال کي .
۲۴۲ . د اسلامي انقلاب د برياليتوب څخه ، د مزار سقوط د طالبانو په لاس په ذري ليکل شوي د جنرال روف بيگي ليکنه .
۲۴۳ . د جنرال عبدالملك پهلوان سره مرکه د ۲۰۰۴ کال د اپريل په مياشت کي .
۲۴۴ . د محلي قوماندانانو سره چه د طالبانو څخه خلاص شويدي مرکی .
۲۴۵ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکی د طالبانو د پخوانيو رسمي چارواکو سره .
۲۴۶ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکی په ۲۰۰۱ کال کي .
۲۴۷ . د افغانستان د عدالت د پروژي مرکی په ۲۰۰۴ کال کي .

۲۴۸ . د افغانستان د عدالت د پروژې مرکه د یوه خلاص شوي سره د ۲۰۰۳ کال په دسمبر کې .
۲۴۹ . د ۲۰۰۱ کال په دسمبر کې مرکې .
۲۵۰ . له هغې وروسته چه طالبانو په ۱۹۹۶ کال کې کابل ونیوه د خپل حکومت نوم یې د افغانستان اسلامي امارت کیښود. د دغې تاریخچه د طالبانو په مورد کې چه په یوه یوځي ځواك بدل شول ډیر معلومات ورکړي دي .
۲۵۱ . د طالبانو کلمه د شاګردانو په معنې ده او پدې متن کې هغو مذهبي شاګردانو ته ویل کیږي چه د افغانستان او یا پاکستان په دیني مدرسو کې یې لوست کړي وي . په ۱۹۸۰ کال کې دغو طالبانو د مجاهدینو له شمیر ګوندونو سره په جګړه پیل وکړ چه وروسته له همدې طالبنو څخه هماغه ملیشې جوړې شوې چه په ۱۹۹۴ کې یې د کندهار ښار ونیو چه بیا وروسته په ۱۹۹۶ کال کې یې د کابل ښار ونیو او اسلامي امارت یې تاسیس کړ .
۲۵۲ . د برنیت آر روبین کتاب ته مراجعه وکړي چه عنوان دې د سولې په لټون کې په افغانستان کې . د حائل د ایالت څخه ناکام تر ایالت پورې ( نیویارك هاون : د پالې د پهنتون چاپ ۱۹۹۵ کال ) ۱۳۹ – ۱۴۰ مخ کې مشخصا په کندهار کې د امنیتي چارو په برخه کې .
۲۵۳ . روبین یاداشت کړیدي چه ټولو خلکو د طالبانود پرمختګ قصې کولې د رشید کتاب ته دې مراجعه وشي ۲۵ مخ .
۲۵۴ . د پاکستان صدراعظمه بینظیر بوټو او د کورنیو چارو وزیرجنرال نصیر الله بابر د خپل هیواد لپاره د یوې ښې تجارتي لارې د موندل د منځنی آسیا هیوادو ته و . د ۱۹۹۴ کال په نوامبر کې ډګروال امام د اي اس اي افسر د یوه سوداګریز قطار سره د کویټې څخه د کندهار پر لار د ترکمنستان خواته وخوځید . نوموړي پدې سفر کې دا هم سروې کوله چه څرنګه کولای شي د نوموړې لارې د ریل پاټلي وغزوي . ډګروال امام یو شیطان سړی خو په اي اس اي کې لوړ پوړي چارواکي دي چه د طالبانو عملیات به یې سازماندهي کول . د ۱۹۹۴ کال د نوامبر په ۱ یا ۲ د یوشمیر قبیلوي کسانو لخوا نوموړي قطار ودرول شو چه د نوامبر په ۳ نیټه نوموړي قطار د طالبانو په واسطه ازارد شو . د انتوني داویس کتاب د ( څرنګه طالبان پیدا شول او بنیادګرایي ظهور وکړ ) . د میلي په کتاب کې ۴۵ – ۴۶ مخونه . د روبین په کتاب کې ۱۳۹ مخ . په همدې توګه طالبانو وکولای شول چه د اسلامي حزب څخه دسپین بولدك د اکتوبر په میاشت کې ونیسي او داسې امکان شته چه د مهماتو یو لوی لنبار یې هلته په لاس ورغلي وي ، نوموړي پیښه د داویس لخوا توضیح شوې ۴۵-۴۶ مخ کې ، خو پدې کې شك شته چه ایا هغه انبار تر دې دمه هلته پاتې و او یا دا چه لا پخوا چورشوی و . داویس پدې خبره تاکید کوي چه طالبانو نوموړي انبار د اي اس اي په مرسته ونیوه .
۲۵۵ . د دښکنیو ځینې نمونې د بشر د حقونو څارونکي ( NY د بشر د حقونو څارونکي د ۲۰۰۱ کال د جولای میاشت ) .
۲۵۶ . داویس ۶۱ او رشید ۳۹ .
۲۵۷ . رشید ۱۹۱ ، مخصوصا ن ۱۲ نوموړي د پاکستان نقش د طالپانو په منځ ته راوستولو کې مکمل بیان کړیدي .
۲۵۸ . داویس ۴۷ – ۴۸ .
۲۵۹ . د طالبانو لخوا ښځوته د احترام په برخه کې د ډیرو متعددو خپرونو چه د خاص ګذارشګر ریوټ هم په ۱۹۹۴ کې تایید کړیدي . د مثال په ډول د ملل متحد اقتصادي ، او ټولنیزه غونډه ، د بشر د حقونو د کمسیون ، د بشر د حقونو د وضعیت په افغانستان کې کتلاي شي .(E/CN.4/1996/64 )
۲۶۰ .داویس ۵۳ .
۲۶۱ . د ۱۹۹۸ کال په اګست کې چه متحده ایالاتو اسامه بن لادن په دوه لویو بم ایښودنو په کینیا او تانزانیا کې تورن کړ . امریکایانو په خوست باندې د توغندیو بریدووکړ چه په پایله کې یې یو شمیر دحرکت الا نصارپاکستاني غړي ووژل شول . او بیا متحده ایالاتو د ۱۹۹۹ کال په جنوری کې پر طالبانو اقتصادي تحریمونه ولګول ، د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر په میاشت امریکایانو اعلان وکړ چه طالبانو افغانستان د تروریزم ځاله جوړه کړیده او اسامه باید تسلیم کړي . د امنیت شورا د ۱۲۶۷ مادې له مخې پر طالبانو یوڅه تحریمات ولګول ، د طالبانو ځینې دارایانې او د آریانا الوتنې یې بهر ته بندې کړې ، د امنیت شورا د ۱۳۳۳ مادې له مخې د ۲۰۰۰ کال د دسمبر په میاشت خپل تحریمونه اعلان کړل . دا دوهمه پریکړه طالبانو ته د سزا ورکولو او د وسلو د تحریمولو په معنې وه . په عمومې ډول د طالبانو پر مشرانو پهر هیوادو ته الوتنې بند کړاي شوې او د طالبان نمایندګې په بهر کې وتړل شوې . خو ډیر لږ توجه د وسلو تحریم ته واړول شوه . د ۱۹۹۸ څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې په وسلو ډك کاماز موټر د پاکستان له سرحد څخه ورته رارسیدل . د ۲۰۰۱ کال د اپریل په میاشت کې د بشر د حقونو څارونکې ویلې دي چه هر ه ورځ ۳۰ بار کاماز موټرونه د پاکستان لخوا ، افغانستان ته رسیدل . او د شاهدانو په وینا په نوموړو موټرو کې د توب او هاوانونو مرمې او راکټونه راوړل کیدل .چه دا راز انتقالات د ملل متحد د تحریم پر ضد یو عمل و . د بشر د حقوقو څارونکې نوموړي معلومات

له افغانستان او پاکستان څخه په لاس راوړي دي . په هغه رپوټ کي چه د ملل متحد د سر منشي لخوا په ۱۹۹۷ کي خپور شو د نوموړو پيښو لوي تايد او تصديق پکښي شوي دي ، د افغانستان وضعيت اود هغه اثرات او خطرناك عوارض په نړيوال امنيت باندي . د ملل متحد د سر منشي د رپوټ څخه (S/1997/894.Novemer 14 .1997) para.18.

۲۶۲ . E/CN.4/1998/71.PARA.1

۲۶۳ E/CN.4/1998/71.para.2.

۲۶۴ . په عين حال کي ميرمن پاتريشا گاسمن د عدالت پروژي ريسه او د بشر د حقوقو يوه لوړ پوړي مدافع په جنوبي آسيا کي شميرل کيږي . د بشر د حقوقو د سازمان رپوټ د ۱۹۹۸ د نوامبر په مياشت کي د مزار شريف د ډله ايزو وژنو په برخه کي چاپ شويدي ( د بشر د حقوقو څارونکي جلد ۱۰ شميره ۷ سي .

۲۶۵ . د ملل له کارکونکو سره مرکي چه د ۲۰۰۴ کال په اگست کي په مزار شريف کي و .

۲۶۶ . پټي مرکي دunhcr له کارکونکو سره .

۲۶۷ . د بشر د حقوقو څارونکي د مزار شريف ډله ايزي وژني .

۲۶۸ . دپټي مرکي د UNHCR له کارکونکو سره .

۲۶۹ . ايضاء

۲۷۰ . ايضاۍ

۲۷۱ . E/CN.4/1999/40.para.10

۲۷۲ . پټي مرکي د UNHCR له کارکونکوسره .

۲۷۳ . د بشر د حقوقو څارونکي ، د هزاره گانو ډله ايزي وژني په افغانستان کي . د بشرد حقونو څارنکي د ( ۲۰۰۱ کال د فبروري مياشت ) ټوك ۱۳ ، گڼه ۱ سي .

۲۷۴ . ايضاء

۲۷۵ .ايضاء

۲۷۶ . ايضاء

۲۷۷ . ايضاء

۲۷۸ . ايضا ء

۲۷۹ . ايضاء

۲۸۰ . ايضاء

۲۸۱ . ايضاء

۲۸۲ . اسماعيليه د آغا خان پيروان دي . د ځيني سنيانو لخوا هغوي مرتد شيعه گان شميرل کيږي . هغو ي د سالنگ په شمال کي د دوشي په سيمه کي ژوند کوي او د داکتر نجيب الله د حکومت په دور کي يو غند درلود چه د سالنگ د لويي لاري د امنيت پخاطر د سالنك په شمال کي پروت و . نوړي قبيله د يوه بداي کس چه سيد منصور نادري نوميږي لخوا رهبري کيږي . نوموړي په ۱۹۹۲ کال کي د دوستم سره يوځاي شو او د جنبش په نامه يو گوند يي جوړ کړ . هغه وخت چه طالبانو د نوموړي سيمي ونيولي سيد منصور نادري د خپلي کورني سره له سيمه څخه وتښتيد . د روبڼ سره د ايميل ارتباط لري .

۲۸۳ . د هزاره گانو وژنی په افغانستان کي د بشر د حقوقو څارونکي .

۲۸۴ . ايضاء .

۲۸۵ . ايضاء .

۲۸۶ . ايضاء .

۲۸۷ . ايفاء ...............د روبين په وينا د افغانستان په کليو او بنډو کي دا يوه رواجي سزا ورکونه ده . د روبين سره په ۲۰۰۴ کال کي د ايميل ارتباط .

۲۸۸ . د هزاره گانو د وژلو ځيني عکسونه د بشر د حقوقو د څارنکو سره په لاس کي دي .

۲۸۹ . د هزاره گانو وژني په افغانستان کي ، د بشر د حقوقو څارونکي .

۲۹۰ . سيميل د بشر د حقوقو څخه د سر غړونو په برخه کي اسناد او شواهد .

۲۹۱ . هغه چا چه د ني يك په سيمه کي د طالبانو لخوا د هزاره گانو د وژنو د تحقيق کولو مسول و پدي بريالي شوي دي چه د طالبانو مخابروي آرتباط د خلکو د نيولو په وخت کي کشف کړي .

۲۹۲ . لاندي رپوټونه د مايکل سيمپل څخه اخيستل شوي : ډله ايزي او مستبدانه وژني ، شکنجه کول ، اسير نيول ی، کورکورانه راکت ويشتني او د خلکو د کورونو او څارويو چور تالان په يکاولنگ کي د ۲۰۰۱ کال د فبروري څخه تر سپتمبر پوري .( تر اوسه پوري ندي خپور شوي ) .

۲۹۳ . د ملل متحد يو لوړ پوړي مقام د عدالت پروژي ته ويلي دي چه د راکتونو د چاودونو غږونه اوريديل کيدل .

۲۹۴ . د بي بي سي سره مرکه د ۲۰۰۲ کال د فبروري مياشت ۱۵ نيټه .

۲۹۵ . د بشر د حقوقو څارونکي ( په افغانستان او ابو غريب زندان کي ډله ايزي وژني او شکنجي د امريکايي ځواکونو لخوا ) يو مطبوعاتي کنفرانس د ۲۰۰۲ کال د مي په ۲۰نيټه.
E/CN.4/1985/21.para.76. ۲۹۶

۲۹۷ . آسيا واچ او هلسنګي واچ ( مرګ په افغانستان کي ۶۷ او۶۸ مخونه . د يوه رسمي مقام وينـاوي د پلچرخي په زندان کي ، د مرکي ځاي پشاور د ۱۹۸۵ کال د اګست ۲۵ نيټه .
۲۹۸ . د بشر د حقوقو د څارنکو مطبوعاتي کنفرانس ( د امريکايي ځواکونو اعمال د ابوغريب په زندان کي د لومړيو پيښو په وخت کي د ۲۰۰۵ کال د اپريل ۲۷ نيټه .
۲۹۹ . د بشر د حقوقو څارونکي ( په افغانستان او د ابو غريب په زندان کي د امريکايانو لخوا ډله ايزي وژني او شکنجه کول ) مطبوعاتي کنفرانس د ۲۰۰۵ کال د مي ۲۰ نيټه .

ژباړونکي : نقيب الله ستانکزي
پيښور د ۲۰۰۶ کال د جنوري د مياشتي ۷ نيټه .